په مختلفو موضوع ګانو باندې

دتقريرونو يوه مفصله، معتمده، علمي، او تحقيقي مجموعه:

# دتقريرونو
# مُدلله ذخيره

4
څلورم جلد

تاليف

## ابوالشمس مولانا نورالهدى عفي عنه


فاضل جامعه امداد العلوم پشاور صدر، ووفاق المدارس العربيه ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان

مدرس دار العلوم فيض القرآن اکاخيل کالونی مردان





مكتبه اعزازيه محله جنگی پشاور

جاده ميوند پخته فروشی کابل

زير اهتمام
کفايت الله ازمانی
0344-9995990



Scanned with CamScanner

دا کتاب د لیکوال په اجازه پی ډی ایف شوي
دی، الله تعالیٰ دې ابو شمس مولانا نور الهدي
صاحب ته اجر عظیم ورکړي.
ډیرو علماء کرام او طلباء ترې ګټه پورته کړه

📚کفایت دینی کتب خانہ📚

کفایت الله ابن صدیق
ټیلی ګرام نمبر۔ +923247442395
واټس ایپ نمبر
+923052488551

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

په مختلفو موضوع ګانو بأندې

د تقريرونو يوه مُفَصّله، مُعتَمَده، عِلمي ،او تحقيقي مجموعه :

# د تقريرونو مُدَلَّلــه ذَخيره

جلد ۴

تاليف


ابُوالشَّمس مولانا نُورُالهُدیٰ عُفِيَ عَنهُ

فاضلِ جامعه امدادُ العلوم پشاور صدر ، و وفاق المدارس العربية ملتان

ايم اے عبدالولی خان يونيورسٹی مردان


Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

جلد 4 1

**د کتاب نوم:** د تقريرونو مُدَلَّلَــــهْ ذَخيره جلد ٤


**مؤلف:** اَبُوالشَّمْس مولانا نُوْرُالْهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

فون نمبر ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴


**كمپوزر:** مؤلف پخپله


**د چاپ كال:** ۱۴۴۲هـ ق ، ۱۳۹۹ هـ ش، مطابق ۲۰۲۱ ء

# مكتبه اعزازيه

محله جنګي پشاور

**زير اهتمام:** كفايت الله ارماني ۰۳۴۴-۹۹۹۵۹۹۰



**نوټ:** د كتاب ټول حقوق د مكتبه اعزازيه سره محفوظ دي

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# سریزه ( د ځلورم جلد )

نَحْمَدُهٗ وَنُصَلِّيْ عَلٰى رَسُوْلِهِ الْكَرِيْمِ ، اَمَّابَعْدُ !

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ ، اَلشُّكْرُ لِلّٰهِ . ددې کتاب ځلورم جلد هم د الله ﷻ په فضل و کرم سره پوره شو ، په دې کې مې هم اهمې موضوع ګانې راجمع کړې .

خاصکر په دې کې مې د ختمِ نبوّت موضوع په ډير تفصيل سره ذکر کړې ، ورسره مې د هغه مشهورو خلقو احوال هم ذکر کړي چې هغوی د نبي عليه السلام د زمانې نه راپه ديخوا د نبوّت دعوی کړې ، همدارنګې د ګستاخِ رسول د مرتد کيدو او دده د سزا متعلق مې هم تفصيلي بيان ليکلی ، او په آخر کې مې د قرآن کريم او احاديثو په رڼا کې دا موضوع په تفصيل سره ذکر کړې چې نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې افضل دی .

چونکه نن صبا دې موضوع ګانو ته ډير ضرورت دٔ نو ځکه مې هره موضوع د قرآن په آيتونو ، صحيح احاديثو ، د مُفسّرينو او فقهاؤ په اَقوالو ، او معتمدو واقعاتو سره مُزيّن کړې .

**خوشخبري** : اِنْ شَاءَ الله ددې پسې به پنځم جلد وي . او دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره همداسې تريو وخته پورې جاري وي .

الله تعالی دې دا ټول کتابونه په خپل دربار کې قبول کړي ، او پَروَردِګار عالم دې دا کتابونه زما ، زما د والدينو ، اُستاذانو او ټول اُمتِ مُسلمه د پاره د مغفرت او نِجات ذريعه اوګرځوي .

آمِيْن يَارَبَّ الْعَالَمِيْن .

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ

**نوټ** : که د کتاب متعلق يا بله څه مفيده مشوره وي نو په دې ۰۳۰۶ ۵۴۴۷۱۷۴ نمبر راسره رابطه کولې شی .

ابوالشمس نُورُالهُدٰی عفی عنه

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# اجمالي فهرست



| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه | ت |
| ۲. | ۱. د ختم نبوت تفصیلي بیان | ۱ |
| ۳. | ۲. په دروغه د نبوت دعوی کوونکو خلقو احوال | ۸۲ |
| ۴. | ۳. گستاخِ رسول مرتد او کافر دی او سزا یې صرف مرگ دی | ۱۷۰ |
| ۵. | ٤. نبي علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کې افضل دی | ۲۶۳ |
| ٦. | خوشخبري | ۳۲۵ |



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# تفصيلي فهرست


| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سريزه | ت |
| | **۱. د ختمِ نبوت تفصيلي بيان** | ۱ |
| ۲. | د ختمِ نبوّت عقيدې اهميت | ۳ |
| ۳. | د " ختمِ نبوّت " موضوع بيانولو ضرورت | ۴ |
| ۴. | نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی | ۵ |
| ۵. | د قرآن كريم د نورو آيتونو نه د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن معنٰی معلومول | ۵ |
| ۶. | نبي عليه السلام پخپله د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن تشريح كړې | ۶ |
| ۷. | د صحابه كرامو او تابعينو په نزد د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن تشريح | ۷ |
| ۸. | د اهلِ لغت او مُفسّرينو په نزد د لفظِ " خَاتَمُ " تحقيق | ۸ |
| ۹. | د مُفسّرِينو تحقيق | ۱۰ |
| ۱۰. | په آخِره زمانه كې د حضرت عيسٰی عليه السلام د آسمان نه راښكته كيدل د نبي عليه السلام د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن كيدو خلاف ندي | ۱۳ |
| ۱۱. | د نبي عليه السلام دِين به په نورو دِينونو غالب وي | ۱۴ |
| ۱۲. | نبي عليه السلام تر قيامته پورې د ټولو خلقو د پاره رسول دی | ۱۵ |
| ۱۳. | اسلام كامِل دِين دی ، ددې د پاره د بل نوي نبي ضرورت نشته | ۱۷ |
| ۱۴. | د نبوّت تكميل په نبي عليه السلام سره شوی | ۱۸ |
| ۱۵. | د قيامت نه مخكې د نورو دروغجنو خلقو ظهور | ۲۰ |


Scanned with CamScanner

| نمبر شمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۶. | د یو سوال جواب | ۲۲ |
| ۱۷. | د نبوّت سلسله په نبي علیه السلام ختمه شوې | ۲۳ |
| ۱۸. | وَحي ختمه شوې | ۲۷ |
| ۱۹. | د حَجّة الوَداع په موقع باندې د ختمِ نبوّت اعلان | ۲۸ |
| ۲۱. | نبي علیه السلام پخپله فرمایلي چې : أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ | ۲۸ |
| ۲۲. | نبي علیه السلام آخري نبي دی ، او دا اُمت آخري اُمت دی | ۳۲ |
| ۲۳. | د حضرت آدم علیه السلام د پیدائش نه مخکې نبي علیه السلام په لوحِ محفوظ کې خَاتَمُ النَّبِيِّيْن لیکل شوې وُ | ۳۷ |
| ۲۴. | که د نبي علیه السلام نه پس بل څوک نبي جوړیدی نو حضرت عُمر ﷺ به نبي وُ (خو بل نبي نه پیدا کیږي) | ۴۰ |
| ۲۵. | تر قیامته پورې به بل نوې نبي نه پیدا کیږي | ۴۱ |
| ۲۶. | پیغمبر علیه السلام تر قیامته پورې انسانانو او جِنّاتو ټولو د پاره نبي رالیږلې شوی | ۴۲ |
| ۲۷. | په مخکیني آسماني کتابونو کې هم نبي علیه السلام ته خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ویل شوې وُ | ۴۴ |
| ۲۸. | په اسلام سره مخکیني دِینونه منسوخ شوي | ۴۹ |
| ۲۹. | د ختمِ نبوّت نه مُنکِر کافر او مُرتد دی | ۵۱ |
| ۳۰. | په دروغه باندې د نبوّت دعویٰ کوونکي "تصدیق کوونکی" هم مرتد دی | ۵۸ |
| ۳۱. | د دې اُمت اوّلنی اجماع د ختمِ نبوت په مسئلې مُنعقد شوی | ۵۹ |
| ۳۲. | د ختمِ نبوت نه مُنکِر د اجماع نه هم منکِر دی | ۶۰ |
| ۳۳. | اِجماع حُجّتِ شرعیه دی | ۶۱ |
| | په دروغه باندې د نبوّت دعویٰ کوونکي نه مُعجزه غوښتل کُفر دی | ۶۲ |
| ۳۵. | د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰه فتویٰ | ۶۴ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۳۶. | د یو مثال په ذریعه وضاحت | ۶۵ |
| ۳۷. | په دروغه د نبوّت دعولی کوونکي سره د اُمتِ مسلمه عمل | ۶۶ |
| ۳۸. | د ختمِ نبوّت عقیدې د دِفاع د پاره د صحابه کرامو قرباني | ۷۲ |
| ۳۹. | د حضرت حبیب بن زید انصاري رضي الله عنه قرباني | ۷۲ |
| ۴۰. | ابومُسلم خَولاني رَحمَهُ اللهُ د ختمِ نبوّت عقیدې د دِفاع د پاره اُور ته غورځیدل برداشت کړل | ۷۳ |
| ۴۱. | حضرت زید بن خارجه رضي الله عنه د وفات کیدو نه پس هم د ختمِ نبوّت ګواهي ورکړه | ۷۷ |
| ۰. | د نبي عليه السلام په باره کې د توهین او سپکاوي کلمات ویل د کُفر او اِرتداد سبب دی | ۷۷ |
| ۴۳. | د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په ذات او صفاتو باندې تنقید کول د اِیمان منافي خبره ده | ۷۸ |
| ۴۴. | د نبي علیه السلام په خَاتَمُ النَّبِیِّیْن کیدو باندې اِجمالي غټ دلائل | ۷۹ |
| ۴۵. | د ټول تقریر خلاصه | ۸۱ |
| ۴۶. | دُعا | ۸۱ |
| ۴۷. | **۲ په دروغه د نبوت دعوی کوونکو خلقو احوال** | ۸۲ |
| ۴۸. | د ختمِ نبوّت عقیده د اسلام په بُنیاد عقائدو کې شامل ده | ۸۳ |
| ۴۹. | د هغه خلقو احوال کومو چې په دروغه د نبوّت دعولی کړې وه | ۸۴ |
| ۵۰. | د مخکې نه نبي علیه السلام ته په خُوب کې د دوه دروغجنو پیشن ګوئي | ۸۵ |
| ۵۱. | ۱. اَسوَد عَنسِي | ۸۶ |
| ۵۲. | د یمن واله خلقو ته د نبي علیه السّلام خط | ۸۷ |
| ۵۳. | ۲. طُلَیحه اَسَدي | ۹۲ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۵۴. | ۳. مُسَيْلَمَةُ الْكَذَّابُ | ۹۸ |
| ۵۵. | په نبوّت کې د شرکت درخواست | ۹۸ |
| ۵۶. | د نبوّت دعوىٰ کول | ۹۹ |
| ۵۷. | د مُسَيلمه کذّاب خط او د نبي عليه السلام د طرفه جواب | ۱۰۰ |
| ۵۷. | د مُسَيلمه کذّاب خرافات | ۱۰۲ |
| ۵۸. | د مُسَيلمه کذّاب دُهوکه | ۱۰۳ |
| ۵۹. | الله تعالى مُسَيلمه کذّاب لره رَسواء کړو | ۱۰۴ |
| ۶۰. | حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مُسيلمه کذّاب د ختمولو د پاره حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه اُوليږل | ۱۰۶ |
| ۶۱. | د مُسَيلمه کذاب د واقعې نه حاصل شوي نتائج | ۱۱۱ |
| ۶۲. | اوس د مُسَيلمه کذاب يو مَنونکى هم نشته | ۱۱۳ |
| ۶۳. | ۴. دروغجَنه پيغمبره "سجاح بنت حارث" | ۱۱۴ |
| ۶۴. | په يَمامه باندې د حملې د پاره تلل | ۱۱۵ |
| ۶۵. | مُسَيلمه کذّاب سجاح لره په خپل عِشق کې راګيره کړه | ۱۱۶ |
| ۶۶. | سجاح ته مَهر | ۱۱۸ |
| ۶۷. | د حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د لښکر سره مخامخ کيدل، او تختيدل | ۱۲۰ |
| ۶۸. | د سجاح اسلام قبول | ۱۲۱ |
| ۶۹. | نور د نبوّت دعويدار | ۱۲۱ |
| ۷۰. | ۵. ميرزا غلام احمد قادياني کذّاب | ۱۲۲ |
| ۷۱. | ميرزا قادياني د نبوّت دعوىٰ کړې وه | ۱۲۳ |
| ۷۲. | ميرزا قادياني د نبوّت دعوىٰ کولو سره سره د نبي عليه السلام اِهانت هم کولو | ۱۲۴ |
| ۷۳. | ميرزا قادياني د انګريزانو غلام او جاسوس ؤ | ۱۲۵ |


Scanned with CamScanner

| صفحه | موضوع | نمبرشمار |
|---|---|---|
| ١٢٧ | د ختمِ نبوّت نه منکِر کافِر دی | ٧۴. |
| ١٢٧ | د ختمِ نبوّت عقيده لرل د ايمان جزءدی | ٧۵. |
| ١٢٨ | نبي عليه السلام اَوّلين او آخرين پيغمبر دی | ٧۵. |
| ١٢٨ | ميرزا قادياني او د هغه مُتبِعين بغير د شک و شبهې نه کافر او مرتد دي | ٧٦. |
| ١٣٠ | ميرزا قادياني د کلمې ويلو باوجود کافر دی | ٧٧. |
| ١٣١ | د ميرزايانو دواړه ډلې کافران دي | ٧٨. |
| ١٣١ | ميرزا قادياني په ليټرين کې د ذِلت په مرګ باندې مردار شو | ٧٩. |
| ١٣٢ | علامه انورشاه کشيمري رَحِمَهُ اللّٰهُ د ميرزا قادياني او د هغه د مُتبِعينو د کُفر شپږ (٦) وُجوهات ذکر کړي | ٨٠. |
| ١٣٣ | **د ميرزا قادياني پيشن ګوياني الله تعالی غلطې ثابتې کړې** | ٨١. |
| ١٣٣ | ١. د خپل مرګ متعلق پيشن ګوئي، او بيا غلطه ثابتيدل - | ٨٢. |
| ١٣٣ | ٢. د هلک پيدا کيدو متعلق پيشن ګوئي، او بيا غلطه ثابتيدل | ٨٣. |
| ١٣۴ | ٣. په درې کالو کې په مکه معظمه کې د ريل ګاډي د چليدو پيشن ګوئي ورکول، او بيا غلطه ثابتيدل | ٨۴. |
| ١٣۴ | ۴. د محمدي بيګم په نکاح کې د راتلو پيشن ګوئي، او بيا غلطه ثابتيدل | ٨۵. |
| ١٣۵ | د ميرزا قادياني ملګرو غلط تاويلات | ٨٦. |
| ١٣٦ | د خپلې مُباهلې کولو په وجه دروغجن ثابتيدل | ٨٧. |
| ١٣٦ | قاديانان ولې د ځان د پاره د ميرزا غلام احمد قادياني په شان مرګ نه غواړي؟ | ٨٨. |
| ١٣٨ | ميرزا قادياني هيڅ کله مَسيح مَوعود (يعنی حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَامُ) نه وُ | ٨٩. |
| ١۴٠ | نور فرقونه | ٩٠. |
| ١۴١ | **د قاديانانو شُبهات او د هغې جوابات** | ٩١. |
|  | د قاديانانو اول اعتراض: چې کله نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی | ٩٢. |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| | نو بيا په آخره زمانه کې حضرت عيسىٰ عليه السلام ولې دُنيا ته راځي ؟ | ۱۴۲ |
| ۹۳. | د قاديانانو دويم اعتراض : د خَاتَمُ النَّبِيِّين نه مجازي معنٰى مراد ده يا په مبالغه باندې محمول دی | ۱۴۳ |
| ۹۴. | د قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ قول | ۱۴۴ |
| ۹۵. | د امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ قول | ۱۴۵ |
| ۹۶. | ميرزا قادياني خلقو ته د دهوکې ورکولو د پاره نوي اِصطلاحات اِيجاد کړي | ۱۴۶ |
| ۹۷. | ميرزا قادياني زمونږ د نبي عليه السلام او صحابه کرامو ګستاخ وُ | ۱۴۸ |
| ۹۸. | **د قاديانانو متعلق د يو څو مسئلو وضاحت** | ۱۴۹ |
| ۹۹. | په قادياني کيدو سره سړې مرتد کيږي ، او نکاح يې ختميږي | ۱۴۹ |
| ۱۰۰ | د قاديانانو سره نکاح ناجائز ده | ۱۵۰ |
| ۱۰۱ | مرتد به قتلولې شي | ۱۵۱ |
| ۱۰۲ | د قاديانانو سره روابط او تعلقات ساتل ناجائز دي | ۱۵۲ |
| ۱۰۴ | په قاديانانو باندې سلام اچول ندي په کار | ۱۵۴ |
| ۱۰۵ | د مريض قادياني بيمارپُرسی له تلل | ۱۵۵ |
| ۱۰۶ | د قاديانانو سره تجارت کول حرام دي | ۱۵۶ |
| ۱۰۷ | قاديانان د عامو کافرانو په شان ندي | ۱۵۷ |
| ۱۰۸ | د مسلمان د پاره په قادياني باندې جنازه کول ناجائز ده | ۱۵۸ |
| ۱۰۹ | چې ځوي قادياني وي نو د مسلمان پلار نه ميراث نشي ورلی | ۱۵۹ |
| ۱۱۰ | قاديانان جُمات ته راپريخودل ندي پکار | ۱۵۹ |
| ۱۱۱ | قاديانانو ته د جُمات جوړولو اجازت ورکول ندي په کار | ۱۵۹ |
| ۱۱۲ | د قاديانيت خلاف د علماء ديوبند قرباني | ۱۶۰ |
| ۱۱۳ | د ختمِ نبوّت عقيدې د تحفظ د پاره د مولانا غلام غوث هزاروي رَحِمَهُ اللهُ قرباني | ۱۶۱ |
| ۱۱۴ | د علماؤ په خدمت کې درخواست | ۱۶۳ |
| ۱۱۵ | ميرزا قادياني د عام درجې ښه انسان هم نه وُ | ۱۶۳ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۱۶ | د مكمل تقرير خلاصه | ۱۶۳ |
| ۱۱۷ | دُعا | ۱۶۵ |
| ۱۱۸ | د هغه خلقو اجمالي فهرست چې هغوئ د نبوّت يا رِسالت يا مسيح مَوعود كيدو ، يا اُلوهيت دعوىٰ كړې | ۱۶۶ |
| ۱۱۹ | ۳. گستاخِ رسول مرتد او كافر دى او سزا يې صرف مرگ دى | ۱۷۰ |
| ۱۲۰ | نبي عليه السلام ته ضَرَر رسوُونكو د پاره په قرآن كريم كې سخته سزا | ۱۷۲ |
| ۱۲۱ | نبي عليه السلام ته ضَرَر رسوونكې او د دوى گستاخي كوونكى كس كافر او مرتد دى | ۱۷۵ |
| ۱۲۲ | د گستاخِ رسول سزا صرف قتل ده | ۱۷۷ |
| ۱۲۳ | مرتد به كله قتلولې شي | ۱۷۸ |
| ۱۲۴ | د گستاخِ رسول په قتلولو باندې د ټولو ائمهٔ اتفاق او د ټول اُمت اجماع ده | ۱۷۹ |
| ۱۲۵ | د نبي عليه السلام په گستاخۍ راضي كيدل هم كُفر دى | ۱۸۲ |
| ۱۲۶ | د گستاخۍ مطلب | ۱۸۲ |
| ۱۲۷ | نبي عليه السّلام د گستاخِ رسول د وژلو د پاره صحابه كرام ليږلي وو | ۱۸۴ |
| ۱۲۸ | نبي عليه السلام د كعب بن اشرف يهودي د وژلو د پاره صحابه كرام وراُوليږل | ۱۸۴ |
| ۱۲۹ | نبي عليه السلام د اَبو رافِع يهودي د وژلو د پاره صحابه كرام وراُوليږل | ۱۸۹ |
| ۱۳۰ | ابن خطل د خانه كعبې پَرده نيولې وه خو نبي عليه السلام بيا هم د هغه د قتلولو حكم وركړو | ۱۹۳ |
| ۱۳۱ | نبي عليه السلام د گستاخِ رسول د وژلو د پاره حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه وَراُوليږل | ۱۹۵ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۳۲ | نبي عليه السلام د ګستاخِ رسول د وژلو د پاره حضرت زبير ﷺ وراوليږل | ۱۹۶ |
| ۱۳۳ | په نبي عليه السلام باندې دروغ جوړونکي د وژلو د پاره حضرت علي ﷺ او حضرت زبير ﷺ ليږل | ۱۹۷ |
| ۱۳۴ | د نورو ګستاخانو وژل | ۱۰۷ |
| ۱۳۵ | د نبي عليه السلام ګستاخي كوونكې زَنانه قتلول | ۱۹۸ |
| ۱۳۶ | د نبي عليه السلام په ګستاخي كولو سره يو سړي خپل پلار اُووژل ، نو پيغمبر عليه السلام هغه ته هيڅ اُو نه ويل | ۲۰۳ |
| ۱۳۷ | د نبي عليه السلام په ګستاخي كولو سره يو كس خپله اُمِّ وَلده اُو وژله | ۲۰۳ |
| ۱۳۸ | دوه كشرانو صحابه كرامو ګستاخِ رسول " ابوجهل " لره قتل كړو | ۲۰۵ |
| ۱۳۹ | د لاس غوڅيدو نه پس بيا ترآخره پورې جنګيدل | ۲۰۹ |
| ۱۴۰ | د عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ په سَمدست نه قتل كولو سره نبي عليه السلام صحابه كرامو ته تَنبيه وركړه | ۲۱۰ |
| ۱۴۱ | د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په نزد هم د ګستاخِ رسول سزا قتل وه | ۲۱۲ |
| ۱۴۲ | د عُمر بن عبد العزيز رَحِمَهُ الله په نزد هم د ګستاخِ رسول سزا قتل وه | ۲۱۴ |
| ۱۴۳ | د امام مالک رَحِمَهُ الله په نزد هم د ګستاخِ رسول سزا قتل ده | ۲۱۵ |
| ۱۴۴ | په هره زمانه كې چې چا د نبي عليه السلام ګستاخي كړې نو د هغه وَخت فقهاؤ د هغه په قتل باندې فتوىٰ وركړې | ۲۱۶ |
| ۱۴۵ | حاجي مانک رَحِمَهُ الله يو ګستاخِ رسول قادياني مردار كړو نو بيا ورته په هره شپه په خُوب كې د نبي عليه السلام زيارت نصيب كيدو | ۲۱۷ |
| ۱۴۶ | غازي عِلم الدين شهيد رَحِمَهُ الله يو ګستاخِ رسول هندو مُردار كړو نو بيا په خُوب كې ورته بار بار د نبي عليه السلام زيارت نصيب كيدو | ۲۱۸ |
| ۱۴۷ | عقل او قياس هم دا وايي چې "ګستاخِ رسول دې قتل كړې شي" | ۲۲۰ |
| ۱۴۸ | حضرت عمر ﷺ هغه كس قتل كړو چې د نبي عليه السلام په فيصله باندې راضي نه وُ | ۲۲۱ |

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۴۹ | د نبي عليه السلام عاشقان د خپل سَر قربانولو ته تيار وو خو پيغمبر عليه السلام ته يې معمولي تکليف رسيدل نه برداشت کول | ۲۲۲ |
| ۱۵۰ | د حضرت زيد بن دَثِنه ﷺ واقعه | ۲۲۲ |
| ۱۵۲ | د نبي عليه السلام په دِفاع کې د خپل ځان پرواه نه کول | ۲۲۴ |
| ۱۵۳ | حضرت عَمرو بن العاص ﷺ چې د عيسايانو نه د نبي عليه السلام په باره کې معمولي د بې اَدبۍ خبره واوريده نو سخت غصه شو | ۲۲۵ |
| ۱۵۴ | **چې چا د نبي عليه السلام په شان کې گستاخي کړې نو الله تعالى پخپله د هغې دفاع کړې** | ۲۲۶ |
| ۱۵۵ | الله تعالى ابولهب لره تر قيامته پورې ذليل کړو | ۲۲۶ |
| ۱۵۶ | مشرکينِ مکه الله تعالى ذليل کړل | ۲۲۸ |
| ۱۵۷ | د سورة الضّحٰى په نازليدو سره نبي عليه السلام ته تسلّي | ۲۲۹ |
| ۱۵۸ | عبدالله بن اُبَيّ بن سَلول او دده منافِقين ملگري الله تعالى ذليل کړل | ۲۳۰ |
| ۱۵۹ | د نبي ﷺ په شان کې د گستاخي کوونکو پنځو کافرانو بَدترين انجام | ۲۳۲ |
| ۱۶۰ | عُتَيبه ته د نبي عليه السلام په گستاخۍ سره سخته سزا ملاؤ شوه | ۲۳۴ |
| ۱۶۱ | حَکَم بن ابي العاص ته د گستاخۍ په وجه سزا | ۲۳۸ |
| ۱۶۲ | د نبي عليه السلام د شهيد کولو سازش کوونکي الله تعالى ذليل مردار کړل | ۲۳۸ |
| ۱۶۳ | د نبي عليه السلام د رَوضې گستاخي کوونکي باندې د الله ﷻ عذاب | ۲۴۰ |
| ۱۶۴ | په پټه باندې د نبي عليه السلام روضې مبارکې ته سُرنگ ويستونکي کسان الله تعالى ذليل کړل | ۲۴۰ |
| ۱۶۵ | د نبي عليه السلام د گستاخۍ په وجه د ميرزا قادياني او د هغه د ملگرو بَدترين اَنجام | ۲۴۳ |
| ۱۶۶ | د ميرزا قادياني خطرناک مرگ | ۲۴۴ |
| ۱۶۷ | د ظفرالله قادياني خطرناک مرگ | ۲۴۴ |
| ۱۶۸ | د حکيم نورالدين قادياني خطرناک مرگ | ۲۴۴ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۶۹ | د يو قادياني په قبر کې اور لرېدل | ۲۴۴ |
| ۱۷۰ | د يو قادياني مړي نه سخته بَدبوئي تلل | ۲۴۵ |
| ۱۷۱ | په قبر کې د يو قادياني مړي مخ د قبلې نه اوړيدل | ۲۴۵ |
| ۱۷۲ | د احاديثو نه منکر کافر دی | ۲۴۶ |
| ۱۷۳ | د نبي عليه السلام د سُنتو توهين کول کُفر دی | ۲۴۷ |
| ۱۷۴ | د نبي ﷺ د احاديثو توهين کوونکي کس بدترين اَنجام | ۲۴۸ |
| ۱۷۵ | د احاديثو د اِستهزاء په وجه دوارِه خپې اُوچيدل او شليدل | ۲۴۸ |
| ۱۷۶ | د حديث د اِستهزاء په وجه بدترين انجام | ۲۴۹ |
| ۱۷۷ | د مسواک د اِستهزاء په وجه بدترين انجام | ۲۵۰ |
| ۱۷۸ | په حديث کې د شک کوونکي کس بدترين اَنجام | ۲۵۲ |
| ۱۷۹ | په مؤمن باندې د ټولو نه زيات حق د نبي عليه السلام دی | ۲۵۳ |
| ۱۸۰ | په ګستاخِ رسول باندې يو سپي حمله اوکړه او مرداريې کړو | ۲۵۴ |
| ۱۸۱ | افسوس، چې د اسلامي ملکونو حاکمان نن د غفلت په خوب اُوده دي | ۲۵۵ |
| ۱۸۲ | د يو اعتراض جواب | ۲۵۶ |
| ۱۸۳ | د الله ﷻ په شان کې ګستاخي کوونکې کس کافر او مرتد دی | ۲۵۸ |
| ۱۸۴ | د الله ﷻ په شان کې ګستاخي کوونکي باندې آسماني تَندر رااُوغورځيد | ۲۵۸ |
| ۱۸۵ | د غونډ تقرير خلاصه | ۲۶۰ |
| ۱۸۶ | دُعا | ۲۶۲ |
| | **٤. نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې افضل دی** | ۲۶۳ |
| ۱۸۷ | نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې افضل دی | ۲۶۵ |
| ۱۸۸ | د اِمام رازي رَحِمَهُ الله قول | ۲۶۵ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۹۰ | **اول دليل** : نبي عليه السلام رَحْمَةٌ لِلْعَالَمِيْن دی | ۲۶٦ |
| ۱۹۲ | د کائناتو هر څيز ته د نبي عليه السلام د رحمت نه فائده رسيدلی | ۲٦٦ |
| ۱۹۳ | حضرت جبريل عليه السلام ته د نبي عليه السلام د رحمت نه فائده | ۲٦٧ |
| ۱۹۴ | د نبي عليه السلام په وفات کيدو سره د يو ځوان په عبادت کې کوشش شروع کول | ۲٦٨ |
| ۱۹۵ | **دويم دليل** : الله تعالی د نبي عليه السلام نوم اُوچت کړی | ۲٦٩ |
| ۱۹٦ | **دريم دليل** : الله ﷻ د نبي ﷺ اطاعت د خپل اِطاعت سره پيوست کړی | ۲۷۰ |
| ۱۹۷ | **څلورم دليل** : نبي ﷺ ته غټه معجزه قرآن کريم ورکړل شوی | ۲۷۲ |
| ۱۹۸ | **پنځم دليل** : نبي عليه السلام ته افضل معجزې ورکړل شوي | ۲۷۳ |
| ۱۹۹ | **شپږم دليل** : د نبي عليه السلام معجزه اوس هم باقي پاتې ده | ۲۷۴ |
| ۲۰۰ | **اووم دليل** : په نبي ﷺ کې د ټولو پيغمبرانو صفات موجود وو | ۲۷۴ |
| ۲۰۱ | د ټولو پيغمبرانو اَخلاق او صفات په نبي عليه السلام کې په کامِلې طريقې سره جَمع وو . | ۲۷۵ |
| ۲۰۲ | د يو تعليم يافته هندو اِقرار | ۲۷۸ |
| ۲۰۳ | **اَتم دليل** : نبي ﷺ تر قيامته پورې ټولو انسانانو او پيريانو د پاره پيغمبر دی | ۲۸۰ |
| ۲۰۴ | **نهم دليل** : د نبي عليه السلام دِين په ټولو دِينونو کې افضل دی | ۲۸۳ |
| ۲۰۵ | **لسم دليل** : د نبي ﷺ اُمت د مخکيني ټولو اُمتونو نه افضل دی | ۲۸۳ |
| ۲۰٦ | **يوولسم دليل** : نبي عليه السلام خَاتَمُ الرُّسُل دی | ۲۸۴ |


Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۰۷ | **دولسم دليل** : د نبي عليه السلام معجزې د مخکينيو ټولو پيغمبرانو نه زياتې دي | ۲۸۵ |
| ۲۰۸ | نبي عليه السلام ته د وَرکړل شوو مُعجزو تعداد | ۲۸۶ |
| ۲۰۹ | **ديارلسم دليل** : د نورو وُجوهاتو په بِناء افضليت | ۲۸۷ |
| ۲۱۰ | **څوارلسم دليل** : نبي عليه السلام سَيِّدُ الْعَالَمِيْنَ دی | ۲۸۹ |
| ۲۱۱ | **پنځلسم دليل** : نبي عليه السلام ته په شپږو خصوصي شيانو سره فضيلت | ۲۹۰ |
| ۲۱۲ | **شپاړسم دليل** : نبي ﷺ ته د معرفت او علومو ډيرې خزانې ورکړل شوې وی | ۲۹۱ |
| ۲۱۳ | **أوولسم دليل** : الله تعالى نبي ﷺ خپل " حبيب " جوړ کړی | ۲۹۳ |
| ۲۱۴ | **اتلسم دليل** : په نبي ﷺ سره د ختمِ نبوّت تکميل شوی | ۲۹۴ |
| ۲۱۵ | **نولسم دليل** : نبي ﷺ ته په قرآن کريم کې د تعظيم په وجه په نوم سره خطاب نه دې شوی | ۲۹۵ |
| ۲۱۶ | د يو اعتراض جواب | ۲۹۶ |
| ۲۱۷ | الله تعالى د نبي عليه السلام په عُمر قسَم خوړلی | ۳۰۲ |
| ۲۱۸ | الله تعالى د نبي عليه السلام مخکيني او روستني ټول لغزشونه معاف کړي | ۳۰۳ |
| ۲۱۹ | ټول أنبياء قبلَ النّبوّة او بَعد النبوّة معصوم دي | ۳۰۴ |
| ۲۲۰ | حضرت عُمر رضي الله عنه د نبي عليه السلام فضائل ذکر کړي | ۳۰۶ |
| ۲۲۱ | په نبي عليه السلام باندې زمکه هم فخر کوي | ۳۰۹ |
| ۲۲۲ | مسئله : د نبي عليه السلام د بدن مبارک سره لګيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده | ۳۱۰ |
| ۲۲۳ | که يو سړی د الله جل جلاله عبادت کوي خو د نبي عليه السلام د رِسالت تصديق نه کوي نو دا کافر دی | ۳۱۱ |

Scanned with CamScanner

| نمبرشمار | موضوع | صفحه |
| --- | --- | --- |
| ۲۲۳ | د نبي عليه السلام تعظيم کول، او د دوی مرتبه په ټولو مخلوقاتو اُوچته ګنړل | ۳۱۲ |
| ۲۲۴ | د پيغمبر عليه السلام تعظيم کوونکي کامياب دي | ۳۱۲ |
| ۲۲۵ | صحابه کرام به د نبي عليه السلام په مجلس کې ډير په اَدب سره ناست وو | ۳۱۳ |
| ۲۲۶ | الله تعالى مؤمنان منع کړي وو چې د نبي عليه السلام په مجلس کې په اُوچت آواز سره خبرې اوکړي | ۳۱۴ |
| ۲۲۷ | امام مالک رَحِمَهُ اللهُ امیرالمؤمنین "ابوجعفر منصور" ته په مسجدِ نبوي کې په اُوچت آواز باندې خبرو کولو سره تَنبِيه ورکړه | ۳۱۶ |
| ۲۲۸ | اوس هم د نبي عليه السلام د روضې سره په اُوچت آواز سره خبرې کول يا د احاديثو بيانيدو په وخت شور کول منع دي | ۳۱۸ |
| ۲۳۰ | مؤمنانو ته د نبي عليه السلام د اَدب په باره کې تربيت ورکول | ۳۲۰ |
| ۲۳۱ | باندېچيانو ته د اَدب تربيت ورکول | ۳۲۰ |
| ۲۳۲ | الله تعالى د نبي عليه السلام د اَدب په خاطر مسلمانان د "رَاعِنَا" لفظ ويلو نه منع کړل | ۳۲۲ |
| ۲۳۳ | د غونډ تقرير خلاصه | ۳۲۳ |
| ۲۳۴ | دعا | ۳۲۴ |
| ۲۳۵ | خوشخبري | ۳۲۵ |
| ۲۳۶ | د غونډ کتاب اجمالي فهرست | |


Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَا اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴾

الاحزاب آية ۴۰ .

# د ختمِ نبوّت تفصيلي بيان

تاليف

اَبُوالشَّمس مولانا نُوْرُالهُدٰى عُفِيَ عَنْهُ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# د ختمِ نبوّت تفصيلي بيان

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ الْأَنْبِيَاءِ وَأَشْرَفِ الْمُرْسَلِيْنَ، وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ.

اَمَّا بَعْدُ فَأَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا﴾.(١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ كَذَّابُوْنَ ثَلَاثُوْنَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ.(٢)

وَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ: إِنَّ مَثَلِيْ وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنٰى بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوْفُوْنَ بِهٖ، وَيَعْجَبُوْنَ لَهُ وَيَقُوْلُوْنَ هَلَّا وُضِعَتْ هٰذِهِ اللَّبِنَةُ؟ قَالَ: فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ.(٣)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْمُ.

---

(١) الاحزاب آية ٤٠.

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْفِتَنِ وَالْمَلَاحِمِ بَابُ ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلَائِلِهَا رقم الحديث ٤٢٥٢ قال الالباني: صحيح. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْفِتَنِ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَخْرُجَ كَذَّابُوْنَ رقم الحديث ٢٢١٩ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٢٣٩٥.

(٣) صحيح البخاري كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ خَاتِمِ النَّبِيِّيْنَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٣٥٣٥. صحيح مسلم كتاب الْفَضَائِلِ بَابُ ذِكْرِ كَوْنِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ رقم الحديث ٢٢ (٢٢٨٦)، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٩١٦٧. صحيح ابن حبان بَابُ مِنْ صِفَتِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَخْبَارِهٖ ذِكْرُ تَمْثِيْلِ الْمُصْطَفٰى صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّبِيِّيْنَ قَبْلَهُ مَعَهُ بِمَا مَثَّلَ بِهٖ رقم الحديث ٦٤٠٥. شعب الايمان رقم الحديث ١٤٠٣.

Scanned with CamScanner

# د ختمِ نبوّت عقيدې اَهميت

زما خوږو قدرمنو او عزت منډو مسلمانانو ورونو ! د قرآن کريم د صريحو آيتونو ، او بې شماره متواترو احاديثو نه صراحةً دا خبره ثابته ده چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، يعنی د حضرت آدم عليه السلام نه چې د انبياء کرامو کومه سلسله شروع شوې وه هغه په نبي عليه السلام باندې ختمه شوی .

محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی آخِري نبي او رسول دی .

د ختمِ نبوّت عقيده د اسلام په بُنيادي عقائدو کې شامل ده ، لکه څرنګې چې الله تعالی واحِدٌ لَاشريک منل فرض دي او د دينه بغير سړې مسلمان نشي کيدی نو همدغه شان نبي کريم صلی الله عليه وسلم آخِري نبي او آخري رسول منل هم فرض دي ، د دينه بغير هم سړی مسلمان نشي کيدی .

د قرآن کريم د سلو ( ۱۰۰ ) آيتونو ، او تقريبًا د دوه سوه لس ( ۲۱۰ ) صحيح احاديثو نه د ختمِ نبوّت عقيده ثابت ده .

د صحابه کرامو د دَور نه نيولی تر دې وخته پورې ټول اُمتِ مُسلِمه په دې مّتّفِق دی چې د رسولُ الله ﷺ نه پس تر قيامته پورې بل نوې نبي يا رسول نه پيدا کيږی .

او س چې بل څوک په دروغه باندې د نبوّت دعولی کوي نو داسې کس بِالاتفاق کافِر او مُرتد دی ، د اِرتداد په وجه دده قتلولو واجب دي .

د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم په آخري دَور کې اَسْوَد عَنْسِي د نبوّت دعولی اوکړه نو نبي عليه السلام د هغه د قتلولو حکم اوکړو .

همدارنګې د پيغمبر عليه السلام د دُنيا نه تشريف وړلو نه پس صحابه کرامو اوّلنی اجماع د ختمِ نبوّت په مسئله باندې کړې وه .

"يعنی چې د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه پس بل څوک نبي نشي پيدا کيدی" او ټولو صحابه کرامو د مُسَيلمۀ کذّاب په قتلولو باندې اجماع اوکړه کوم چې په دروغه د نبوّت دعولی کړې وه ، بيا حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د مُسَيلمه کذّاب سره د جهاد اعلان اوکړو .

Scanned with CamScanner

ډيرو صحابه کرامو ددې عقيدې د دِفاع د پاره سخته قرباني ورکړه . ددې اندازه تاسو ددينه هم لږولې شئ چې د نبي عليه السلام په زمانه کې د اسلام د سَرلُندی ، تحفّظ ، او دِفاع د پاره څومره جهادونه شوي وو ( که هغه غزوه بدر وه ، غزوه اُحد وه ، غزوه خيبر وه ، غزوه حُنين وه ، فتحِ مکه وه ، غزوه موته وه ، غزوه اَحزاب وه ، او يا غزوه تبوک وه ) په دې ټولو کې مجموعه دوه سوه او نهه پنځوس ( ۲۵۹ ) صحابه کرام شهيدان شوي (۱)

خو د حضرت ابوبکر صديق ﷺ په دورِ خلافت کې چې د مُسَليمه کذّاب خلاف د يمامه په ميدان کې کوم جهاد شوي ؤ په هغې کې د ختمِ نبوّت عقيدې د تحفّظ د پاره دولس سوه ( ۱۲۰۰ ) صحابه کرام او تابعين شهيدان شو ، چې په دې کې اُووه سوه ( ۷۰۰ ) د قرآن کريم حافظان او عالمان وو ، او دا هغه حافظان وو چې د نبي عليه السلام په خدمت کې يې قرآن کريم حفظ کړې ؤ . ددينه معلومه شوه چې د صحابه کرامو په نزد باندې ددې مسئلې ډير آهميت ؤ ، او ددې د تحفّظ د پاره يې ډيره قرباني ورکړې . (۲)

بلکه په دې څوارلس سوه ( ۱۴۰۰ ) کاله کې د ټول اُمتِ مسلمه دا اتفاقي عقيده راروانه ده چې د نبي عليه السلام نه پس بل څوک په دروغه باندې د نبوّت يا رسالت دعوی کوي نو داسې کس د اسلام نه خارِج ، مُرتد ، او واجبُ القتل دی .

## د " ختمِ نبوّت " موضوع بيانولو ضرورت

د ختمِ نبوّت عقيده دومره بديهي او اِتفاقي ده چې ددې د ثبوت د پاره دلائل بيانول داسې دي لکه د نمر د ثبوت د پاره دلائل بيانول .

ليکن نن صبا بعضې خلق د اسلامي تعليماتو نه غافله دي ، او ورځ په ورځ نوې نوې فِتنې راپيدا کيږي ، کافران هم د مسلمانانو د بې اِتفاقه کولو کوشش کوي ، د مغربي تهذيب نه مُتأثره خلق ددې عقيدې په باره کې د مسلمانانو په زړونو کې شکوک او شبهات

(۱) رحمة للعالمين ج۲ ص۲۱۳ قاضي سليمان منصورپوري رحمه الله، آئينۂ قاديانيت ص۳۰ .

(۲) ختمِ نبوت کامل ص۳۰۴ حصه سوم از مفتي محمد شفيع رحمه الله ، مرقاة المفاتيح ج۵ ص۲۴ ، آئينۂ قاديانيت ص۳۰ . وخطبات شاہين ختمِ نبوت ص۲۵۲ .

په تاريخ الکامل . تاريخ طبري . او تاريخ ابن جرير کې دا خبره صراحةً ذکر ده .

Scanned with CamScanner

اچوي ، بيا خاصکر په دې دَور کې د ميرزا غلام احمد قاديانی لعين ملګري د مسلمانانو په زړونو کې شبهات اچوي او دا ورته وايي چې " ميرزا غلام احمد قادياني هم نبي وُ " حالانکه ميرزا غلام احمد قادياني کافر ، مرتد او کذّاب وُ . ( ددې خبرې تفصيل روستو په مستقله موضوع کې راروان دی ) .

نو په همدې خاطر درته زه اِن شاء الله په نن موضوع کې د ختمِ نبوّت دا عقيده په پوره تفصيل او وضاحت سره بيانوم :

## نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی

په قرآن کريم کې صراحةً دا ذکر دي چې نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د دوی نه پس بل نبي نشي پيدا کيدی . الله تعالی فرمايي :

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ؕ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا ﴾ . (١)

ترجمه : محمد ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) په تاسو سړو کې د هيچا ( نسَبي ) پلار ندی ، ليکن د الله تعالی رسول او خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ( يعنی په ټولو انبياء کرامو آخري نبي ) دی ، او الله تعالی په هر څيز باندې ( ډير ښه ) پوهه دی .

## د قرآن کريم د نورو آيتونو نه د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن معنٰی معلومول

په قرآن کريم کې چې چيرته " ختم " ماده استعمال شوی نو هلته په معنی د " مُهر " سره دی ، يعنی يو څيز په داسې اندازې سره بندول چې د بهر نه څه څيز په دې کې داخل نشي ، او د دننه څه څيز ددينه رابهر نشي .

مثلاً الله تعالی فرمايي : ﴿ خَتَمَ اللّٰهُ عَلٰى قُلُوْبِهِمْ ﴾ . (٢)

ترجمه : الله تعالی ددې کافرانو په زړونو باندې مُهر لګولي دی .

---

(١) الاحزاب آية ۴٠ .

(٢) البقرة آية ٧ .

Scanned with CamScanner

يعنی د بهرنه ايمان د دوی زړونو ته نه ننوځي او کفر د دوی د زړونو نه بهر نه راأوځي.

ددينه علاوه چې په نورو آيتونو کې هم چيرته د " ختم " ماده استعمال شوی نو معنی يې همدا " مُهر " ده. (۱)

اوس د خَاتَمُ النَّبِيِّين مطلب دا شو چې: د نبي عليه السلام په راتلو سره الله تعالی په نبوّت باندې داسې مُهر اُولږول چې بل هيڅوک د نبوّت په دې سلسله کې نشي داخليدی، او کوم انبياء چې په دې سلسله کې داخل دي هغه څوک ورنه نشي ويستلی.

## نبي عليه السلام پخپله د خَاتَمُ النَّبِيِّين تشريح کړی

نبي عليه السلام پخپله هم د خَاتَمُ النَّبِيِّين تشريح کړی چې د مانه پس به بل نبي نه پيدا کيږي، فرمايي:

... أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي. (۲)

زه خَاتَمُ النَّبِيِّين (په ټولو انبياوو کې آخري نبي) يم، د مانه پس بل نبي نشته.

په دې حديث کې پيغمبر ﷺ د خَاتَمُ النَّبِيِّين تشريح پخپله اوکړه په لَا نَبِيَّ بَعْدِي سره. (۳)

---

(۱) يو څو نور آيتونه درته ذکر کوم چې په هغې کې " ختم " په معنی د " مُهر " سره استعمال شوی:

﴿ وَخَتَمَ عَلَى قُلُوبِكُمْ ﴾. الانعام آية ۴۶. / ﴿ وَخَتَمَ عَلَى سَمْعِهِ وَقَلْبِهِ ﴾ الجاثية آية ۲۳.

﴿ الْيَوْمَ نَخْتِمُ عَلَى أَفْوَاهِهِمْ ﴾. يس آية ۶۵. / ﴿ فَإِنْ يَشَإِ اللَّهُ يَخْتِمْ عَلَى قَلْبِكَ ﴾. الشورى آية ۲۴.

﴿ يُسْقَوْنَ مِنْ رَحِيقٍ مَخْتُومٍ ۝ خِتَامُهُ مِسْكٌ ﴾. المطففين آية ۲۵.

په مذکوره ټولو آيتونو کې د " ختم " ماده د مُهر په معنی سره استعمال شوی.

(۲) قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ. كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ. وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي. سنن ابي داؤد كِتَاب الْفِتَنِ وَالْمَلَاحِمِ بَاب ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلَائِلِهَا رقم الحديث ۴۲۵۲ قال الالباني: صحيح. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْفِتَنِ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ كَذَّابُونَ رقم الحديث ۲۲۱۹ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۲۲۳۹۵.

(۳) (أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ) بِكَسْرِ التَّاءِ وَفَتْحِهَا وَقَوْلُهُ: (لَا نَبِيَّ بَعْدِي) تَفْسِيرٌ لِمَا قَبْلَهُ. مرقاة ج۸ ص ۳۴۰۱.

Scanned with CamScanner

په يو بل حديث کې ذکر دي : وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ . (١)
او په ما باندې انبياء کرام ختم کړې شوي دي.

## د صحابه کرامو او تابعينو په نزد د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن تشريح

ډيرو صحابه کرامو او تابعينو د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن تفسير په "آخري نبي" سره کړی.

1 . حضرت عبد الله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فرمايي :

إِنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ .

نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) وُ ؛ ځکه الله تعالى فرمايي :

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا ﴾.(٢)

ترجمه : محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) په تاسو سړو کې د هيچا (نسبي) پلار ندی ، ليکن د الله تعالى .رسول او خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (يعنی په ټولو انبياء کرامو آخري نبي) دی ، او الله تعالى په هر څيز باندې (ډير ښه) پوهه دی.

بيا ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پخپله د " خاتَم " تشريح اوکړه :

وَالْخَاتَمُ: اَلَّذِيْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ كَمَا لَيْسَ بَعْدَ خَاتِمَةِ الْأَمْرِ مِنْهُ شَيْءٌ . وَلَيْسَ بَعْدَ خَتْمِ الْكِتَابِ نَشْرٌ . وَلَيْسَ بَعْدَ خَتْمِ الْكِيْسِ إِخْرَاجُ شَيْءٍ مِنْهُ .

" خَاتَم " هغه ته وايي چې د هغه نه پس بل نبي نه وي ، لکه څرنګې چې د يو کار د خاتمې نه پس بل څيز نه وي ، او لکه څرنګې چې په خط باندې د مُهر لګولو نه پس ددې

---

(١) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : فُضِّلْتُ عَلَى الْأَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ : أُعْطِيْتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ ، وَنُصِرْتُ بِالرُّعْبِ ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ طَهُوْرًا وَمَسْجِدًا ، وَأُرْسِلْتُ إِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً ، وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّوْنَ . صحيح مسلم كِتَابُ الْمَسَاجِدِ وَمَوَاضِعِ الصَّلَاةِ رقم الحديث ٥ (٥٢٣).
(٢) الاحزاب آية ٤٠.

Scanned with CamScanner

کلاوُول نه وي ، او لکه څرنګې چې په لفافه ( تېلی ) باندې د مُهر ( لاک ) لږولو نه پس د دينه څه څيز نشي راويستلی . (١)

٢ . مشهور تابعي " حضرت قتادة رَحِمَهُ اللهُ " د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ترجمه داسې کوي :

أَيْ آخِرُهُمْ .

يعنی آخِر د انبياؤ . (٢)

٣ . يو بل مشهور تابعي حضرت حسن رَحِمَهُ اللهُ د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن په تشريح کې فرمايي :

خَتَمَ اللهُ النَّبِيِّيْنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ آخِرُ مَنْ بَعَثَ .

الله تعالی ټول انبياء په محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې ختم کړي ، او الله ﷻ چې څومره رسولان راليږلي په هغې ټولو کې آخري رسول " محمد صلى الله عليه وسلم " دی . (٣)

## د اهلِ لغت او مُفسّرينو په نزد د لفظ " خَاتَمُ " تحقيق

" خَاتَمُ " په فتحې د " ت " سره ، او " خَاتِمُ " په کسرې د " ت " دواړه صحيح دي . يعنی د نبي عليه السلام نه دواړه قرأته آوريدل شوي .

په قاريانو کې امام حسن رَحِمَهُ اللهُ او امام عاصم رَحِمَهُ اللهُ دا " خَاتَمُ " په فتحې د " تا " سره لوستلې دی ، او د دوی نه علاوه نورو قاريانو " خَاتِمُ " په کسرې د " تا " سره

---

(١) وَمِنْهَا : أَنَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: {مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ، وَلَكِنْ رَسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ} [ الأحزاب آية ٤٠ ] وَالْخَاتَمُ: الَّذِيْ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ كَمَا لَيْسَ بَعْدَ خَاتِمَةِ الْأَمْرِ مِنْهُ شَيْءٌ . وَلَيْسَ بَعْدَ خَتْمِ الْكِتَابِ نَشْرٌ . وَلَيْسَ بَعْدَ خَتْمِ الْكِيْسِ إِخْرَاجُ شَيْءٍ مِنْهُ . شعب الايمان ج ٣ ص ٦٨ .

(٢) عَنْ قَتَادَةَ رَحِمَهُ اللهُ . قَوْلُهُ .... {وَلَكِنْ رَسُولَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ} أَيْ آخِرُهُمْ . تفسير الطبري ( جامع البيان عن تأويل آي القرآن ) ج ١٩ ص ١٢٢ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

(٣) عَنِ الْحَسَنِ فِيْ قَوْلِهِ { وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ } قَالَ: خَتَمَ اللهُ النَّبِيِّيْنَ بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ آخِرَ مَنْ بَعَثَ . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٦ ص ٦١٧ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

Scanned with CamScanner

لوستلې دی . (١)

په دې دواړو قرأتونو سره ددې معنی داده : "آخِر" او "مُهر" .

مُهر هم د يو شيز د بندولو په آخِر کې لږي .

اوس د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن معنی دا شوه چې : آخِر د انبياؤ ، يا مُهر د انبياؤ .

د خَاتَم دا معنی د لغتو په ټولو کتابونو کې هم ذکر ده ، لکه په : قاموس ، صحاح ، لسان العرب ، تاج العروس . (٢)

امام راغب اصفهاني رَحِمَهُ اللهُ په مفردات القرآن کې فرمايي :

( وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ ) لِأَنَّهُ خَتَمَ النُّبُوَّةَ ، أَيْ : تَمَّمَهَا بِمَجِيئِهِ .

نبي عليه السلام ته خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ځکه ويلې شي چې دوی نبوّت ختم کړو ، يعنی په راتلو سره يې نبوّت تمام کړو . (٣)

ددينه علاوه د لغتو په نورو کتابونو کې هم د خَاتَم معنی دا ذکر شوی چې : آخِر او ختموونکی .

---

(١) تفسير معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ .

وَاخْتَلَفَتِ الْقُرَّاءُ فِي قِرَاءَةِ قَوْلِهِ: {وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ} [ الاحزاب آية ٤٠ ] فَقَرَأَ ذَلِكَ قُرَّاءُ الْأَمْصَارِ سِوَى الْحَسَنِ وَعَاصِمٍ بِكَسْرِ التَّاءِ مِنْ خَاتِمِ النَّبِيِّينَ، بِمَعْنَى أَنَّهُ خَتَمَ النَّبِيِّينَ. ذُكِرَ أَنَّ ذَلِكَ فِي قِرَاءَةِ عَبْدِ اللَّهِ: «وَلَكِنْ نَبِيًّا خَتَمَ النَّبِيِّينَ» فَذَلِكَ دَلِيلٌ عَلَى صِحَّةِ قِرَاءَةِ مَنْ قَرَأَهُ بِكَسْرِ التَّاءِ ، بِمَعْنَى أَنَّهُ الَّذِي خَتَمَ الْأَنْبِيَاءَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلَيْهِمْ؛ وَقَرَأَ ذَلِكَ فِيمَا يُذْكَرُ الْحَسَنُ وَعَاصِمٌ: {خَاتَمَ النَّبِيِّينَ} [ الاحزاب : ٤٠] بِفَتْحِ التَّاءِ، بِمَعْنَى أَنَّهُ آخِرُ النَّبِيِّينَ، كَمَا قَرَأَ: «مَخْتُومٌ خَاتَمُهُ مِسْكٌ» بِمَعْنَى: آخِرُهُ مِسْكٌ مَنْ قَرَأَ ذَلِكَ كَذَلِكَ . تفسير الطبري ( جامع البيان عن تأويل آي القرآن) ج ١٩ ص ١٢٢ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

(أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ ) بِكَسْرِ التَّاءِ وَفَتْحِهَا . مرقاة ج٨ ص ٣٣٠١ .

(٢) تفسير معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ .

(٣) المفردات في غريب القرآن ص ٢٧٥ ختم .

Scanned with CamScanner

نو د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن معنی دا شوه چې : آخِر د اَنبياوٌ . (١)

## د مُفسّرِينو تحقيق

مُفسّرينو هم د خَاتَم تفسير په "آخِر" او "مُهر" سره کړی ، نو د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن مطلب دا شو چې : آخِر د انبياوٌ .

د يو څو مُفسّرِينو اَقوال درته رانقل کوم :

**تفسير روحُ المعاني :** په تفسير رُوح المعاني کې د خَاتَم معنی په "مُهر" سره کړې شوی ، خو حاصل يې همدا رااُوځي چې "آخِرالنَّبِيِّيْن" .

د تفسيرِ رُوح المعاني الفاظ دادي :

وَالْخَاتَمُ اِسْمُ آلَةٍ لِمَا يُخْتَمُ بِهِ كَالطَّابِعِ لِمَا يُطْبَعُ بِهِ . فَمَعْنَى خَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ الَّذِيْ خُتِمَ النَّبِيُّوْنَ بِهِ ، وَمَآلُهُ آخِرُ النَّبِيِّيْنَ . (٢)

---

(١) وَخَاتِمُ كُلِّ شَيْءٍ وَخَاتِمَتُهُ : عَاقِبَتُهُ وَآخِرُه ..... وخِتامُ القَوْمِ وخاتِمُهم وخاتَمُهم: آخرُهم؛ عَنِ اللِّحْيَانِيِّ؛ وَمُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خاتِمُ الأَنبياء عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمُ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ. التَّهْذِيبُ : وَالْخَاتِمُ والخَاتَم مِنْ أَسماء النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي التَّنْزِيلِ الْعَزِيزِ: ﴿ مَاكَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجالِكُمْ وَلكِنْ رَسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ ﴾ أَي آخِرَهُمْ. لسان العرب ج ١٢ ص ١٦٤ فصل الخاء المعجمة ختم.

(و) الخاتَم (من كُلِّ شَيْءٍ: عاقِبَتُه، وآخِرتُه خاتِمته ) . (و) الخَاتَم: (آخِرُ القَوْمِ كالخاتِم) . وَمِنْه قَوْله تَعَالَى: {وَخَاتَم النَّبِيين} أَي: آخِرهم . تاج العروس من جواهر القاموس ج ٣٢ ص ٤٥ خ ت م .

والخاتم بِكَسْر التَّاء: فَاعل الخَتْم وَهُوَ الإِتْمَام وَالْبُلُوغ. وَبِفَتْحِهَا : بِمَعْنى الطابِع. وَتَسْمِيَة نَبِيِّنَا خَاتَمُ الأَنْبِيَاء لِأَنَّ الْخَاتم آخر الْقَوْم قَالَ الله تَعَالَى: {مَاكَانَ مُحَمَّد أَبَا أحد من رجالكم وَلَكِن رَسُول الله وَخَاتم النَّبِيين} . الكليات ( الكليات معجم في المصطلحات والفروق اللغوية ) أبو البقاء الحنفي ج١ ص ٤٣١ فصل الخاء .

والخاتَمُ والخاتِمُ، بكسر التاء وفتحها. والخَيْتامُ والخاتامُ كلُّه بمعنىً. والجمع الخَواتيمُ. وتَخَتَّمْتُ، إذا لبستُه. وخاتِمة الشئ: آخره. ومحمد صلى الله عليه وسلم خاتِمُ الأنبياء عليهم الصلاة والسلام. الصحاح تاج اللغة وصحاح العربية ج ٥ ص ١٩٠٨ فصل الخاء .

(٢) روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ١١ ص ٢١٣ سورة الاحزاب آية ٤٠ ..

Scanned with CamScanner

خاتَم ( په فتحې د تا سره ) د هغې آلې نوم دی چې په هغې سره مُهر لږولې شي ، نو د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن معنی دا شوه : هغه کس چې په هغه باندې انبياء کرام ختم شوي وي ، ددې مطلب هم همدا " آخِرُ النَّبِيِّيْن " (آخِري نبي کيدل) دی .

علامه آلوسي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دا هم ذکر کړي :

وَكَوْنُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ مِمَّا نَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ وَصَدَعَتْ بِهِ السُّنَّةُ وَأَجْمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ فَيُكَفَّرُ مُدَّعِيْ خِلَافِهِ وَيُقْتَلُ إِنْ أَصَرَّ . (١)

او نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري پيغمبر) کيدل داسې مسئله ده چې په دې باندې قرآن کريم ناطِق (ګويا) دی ، احاديثو دا مسئله صفا صفا بيان کړې ، او په دې باندې د ټول اُمتِ مسلمه اجماع ده ، پس اوس چې څوک ددې خلاف دعوٰی کوي نو هغه به کافر ګنړلې شي ، او که په دې خپله خبره باندې مضبوط پاتې شي ( توبه نه اُوباسي) نو بيا به قتلولې شي .

**تفسير احمدي** : ملا جيون رَحِمَهُ ٱللَّهُ په تفسير احمدي کې هم دا ذکر کړي چې که خاتم په فتحې د تاء سره وي يا کسرې د تاء سره د دواړو مطلب همدا يو دی چې :

" آخِرُ النَّبِيِّيْن " (يعنی آخِري نبي کيدل) . (٢)

**تفسير ابن جرير طبري** : ابن جرير رَحِمَهُ ٱللَّهُ په خپل تفسير کې فرمايي :

وَلَكِنَّهُ رَسُوْلُ اللهِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، الَّذِيْ خَتَمَ النُّبُوَّةَ فَطَبَعَ عَلَيْهَا ، فَلَا تُفْتَحُ لِأَحَدٍ بَعْدَهُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ .... وَبِنَحْوِ الَّذِيْ قُلْنَا فِيْ ذَلِكَ قَالَ أَهْلُ التَّأْوِيْلِ . (٣)

ليکن محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله جَلَّ جَلَالُهُ رسول او آخري نبي دی ، کوم چې نبوّت ختم کړی او په نبوت باندې يې مهر لږولی ، نو تر د قيامت قائميدو پورې به د ختم نبوت دا دَروازه بل

(١) روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ١١ ص ٢١٩ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

(٢) وَالْمَآلُ عَلى كلّ توجيه هو المعنى الآخِرُ . ولذلك فَسَّرَ صاحبُ المدارك قراءة عاصم بِالْآخِرِ . وصاحب البيضاوي كلّ القراءتين بِالْآخِرِ . تفسير احمدي . ختم نبوت کامل ص ٧٧ .

(٣) التفسير الطبري ( جامع البيان عن تأويل آي القرآن ) ج ١٩ ص ١٢١ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

Scanned with CamScanner

هیڅ ته نه کلاویږي ..... او دا مونږه چې دلته دا څنګه قول اوکړو نو دا ائمهؤ د تفسیر (صحابه کرامو او تابعینو) همدغه شان فرمایلي دي .

**تفسیر ابن کثیر** : علامه ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ د سورة الاحزاب د مذکوره آیت په باره کې فرمایي : فَهٰذِهِ الْآيَةُ نَصٌّ فِيْ أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ . وَإِذَا كَانَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ فَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلٰى وَالْأَحْرٰى ؛ لِأَنَّ مَقَامَ الرِّسَالَةِ أَخَصُّ مِنْ مَقَامِ النُّبُوَّةِ . فَإِنَّ كُلَّ رَسُوْلٍ نَبِيٌّ . وَلَا يَنْعَكِسُ . وَبِذٰلِكَ وَرَدَتِ الْأَحَادِيْثُ الْمُتَوَاتِرَةُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيْثِ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ. (١)

پس دا آیت په دې باره کې صریح دی چې د نبي علیه السلام نه پس بل هیڅ نبي نشته ، او کله چې بل نبي نه پیدا کیږي نو رسول خو به په طریقِ اولی سره نه پیدا کیږي ، ځکه د رِسالت مرتبه د نبوت نه خاص ده (٢) وجه داده چې هر رسول نبي وي خو هر نبي رسول نشي کیدی ، او په همدې خبره (یعنی چې د نبي علیه السلام نه پس بل نبي نه پیدا کیږي ، په دې) باندې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه ډیر احادیثِ متواتره هم راغلي دي چې هغه د صحابه کرامو یو لوي جماعت د دوی نه رانقل کړي دي .

**تفسیر خازن** : په تفسیر خازن کې ذکر دي :

(وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ) خَتَمَ اللهُ بِهِ النُّبُوَّةَ فَلَا نُبُوَّةَ بَعْدَهُ أَيْ وَلَا مَعَهُ .

---

(١) تفسیر ابن کثیر (تفسیر القرآن العظیم) ج ٦ ص ٤٢٨ سورة الاحزاب آیة ٤٠ .

همداسې خبره علامه آلوسي رحمه الله هم کړې : والمراد بالنبي ما هو أعم من الرسول فيلزم من كونه صلى الله عليه وسلم خاتم النبيين كونه خاتم المرسلين والمراد بكونه عليه الصلاة والسلام خاتمهم انقطاع حدوث وصف النبوة في أحد من الثقلين بعد تحليه عليه الصلاة والسلام بها في هذه النشأة . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ١١ ص ٢١٣ سورة الاحزاب آیة ٤٠ .

(٢) یعنی رسول خاص وي چې دده سره به نوې کتاب وي ، او نبي عام دی که دده سره نوې کتاب وي او که نه. نو چې کله د آیت نه دا معلومه شوه چې د پیغمبر علیه السلام نه پس بل نبي نشته ، نو په دې سره نفي د عام راغله ، او دا قاعده ده چې په نفي د عام سره نفي د خاص راځي . نو دا ورنه په طریقِ اولی سره معلومه شوه چې د دوی نه پس به بل رسول هم نه وي . ابوالشمس عفي عنه

Scanned with CamScanner

خَاتَمُ النَّبِيِّيْن يعنی الله تعالی په نبي عليه السلام باندې نبوّت ختم کړې دی ، پس اوس د دوی نه پس بل نبي نشته ، او د دوی سره يو ځای هم نشته . (١)

د دينه علاوه په نورو تفاسيرو کې هم دا مضمون صراحةً ذکر دی چې محمد رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم آخري نبي دی ، د دوی نه پس بل نبي نه پيدا کيږي . (٢)

## په آخِره زمانه کې د حضرت عيسیٰ ﷺ د آسمان نه راښکته کيدل د نبي ﷺ د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو خلاف ندي

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو مطلب دادی چې د دوی نه پس به په دُنيا کې بل نوې نبي نه پيدا کيږي ، حضرت عيسیٰ عليه السلام ته خو نبوت د پيغمبر عليه السلام نه مخکې ورکړې شوې وُ ، هغه خو نوې نبي ندی ، هغه خو الله تعالی آسمانونو ته ژوندې پورته کړی (٣) او په آخره زمانه کې به د دجّال او نورو فِتنو ختمولو د پاره دوباره دُنيا ته راښکته کيږي . او هغه به د يو حاکم او يو اُمّتي په حيثيت سره د نبي عليه السلام د شريعت موافق فيصلې کوي ، اګر چې خپل مخکينې نبوّت به يې برقرار وي خو بيا به هم د نبي عليه السلام د شريعت مطابقت فيصلې کوي .

خلاصه دا چې د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو مطلب دادی چې د دوی نه پس به بل چا ته نوې نبوت نشي ورکولی او حضرت عيسیٰ عليه السلام ته خو د نبي عليه السلام نه مخکې نبوّت ورکړې شوې وُ ، که هغه په آخِره زمانه کې راښکته کيږي نو دا د نبي عليه

---

(١) تفسير الخازن ( لباب التاويل في معاني التنزيل ) ج ٣ ص ٤٢٩ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

(٢) په تفسير مدارک کې ذکر دي : {وَخَاتَمَ النَّبِيِّيْن } بفتح التاء عاصمٌ بمعنى الطَّابَعِ أي آخرُهم يعني لا يُنَبَّأُ أحدٌ بعده . وعيسى عليه السلام مِمَّنْ نُبِّئَ قبله وحين ينزل عاملا على شريعة محمد صلى الله عليه وسلم كأنه بعض أمته . وغيره بكسر التاء بمعنى الطَّابِعِ وفَاعِلُ الخَتْمِ وَتُقَوِّيْهِ قراءة ابن مسعود ﷺ . تفسير النسفي (مدارک التنزيل وحقائق التاويل) ج ٣ ص ٣٤ سورة الاحزاب آية ٤٠ .

(٣) ﴿ وَمَا قَتَلُوْهُ وَمَا صَلَبُوْهُ وَلٰكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَاِنَّ الَّذِيْنَ اخْتَلَفُوْا فِيْهِ لَفِيْ شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُمْ بِهٖ مِنْ عِلْمٍ اِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوْهُ يَقِيْنًا ۞ بَلْ رَّفَعَهُ اللّٰهُ اِلَيْهِ وَكَانَ اللّٰهُ عَزِيْزًا حَكِيْمًا ﴾ . النساء آية ١٥٧ ، ١٥٨ .

Scanned with CamScanner

السلام د خَاتَمُ النَّبِيِّينَ كيدو خلاف ندي . (١)

## د نبي عليه السلام دِين به په نورو دِينونو غالب وي

د قرآن كريم د نورو آيتونو نه هم دا صراحةً معلوميږي چې نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّينَ (آخري نبي) دى . په سورة التوبة کې ذکر دي : ﴿هُوَ الَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُۥ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُۥ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِۦ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾ . (٢)

ترجمه : الله تعالى هغه ذات دى چې خپل رسول (محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) يې په هدايت او حق دِين سره راليږلى ، ددې د پاره چې دا په نورو ټولو دِينونو باندې غالِب کړي اګر چې مشركان دا خبره بده ګڼړي .

---

(١) ختم نبوت كامل لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ١٢١ ، تفسير معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ . فتاوى حقانيه ج ١ ص ٢٢٨ كتاب العقائد والايمانيات .

قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمْ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا...». صحيح البخاري . قال ابن حجر رحمه الله : قَوْلُهُ حَكَمًا أَيْ حَاكِمًا وَالْمَعْنَى أَنَّهُ يَنْزِلُ حَاكِمًا بِهَذِهِ الشَّرِيعَةِ فَإِنَّ هَذِهِ الشَّرِيعَةَ بَاقِيَةٌ لَا تُنْسَخُ بَلْ يَكُونُ عِيسَى حَاكِمًا مِنْ حُكَّامِ هَذِهِ الْأُمَّةِ .... وَلِلطَّبَرَانِيِّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ يَنْزِلُ عِيسَى بن مَرْيَمَ مُصَدِّقًا بِمُحَمَّدٍ عَلَى مِلَّتِهِ . فتح الباري شرح صحيح البخاري ج ٦ ص ٤٩١ قوله نزول عِيسَى بن مَرْيَمَ . فتاوى عثمانيه ج ١ ص ١٠٣ العقائد .

والمرادُ بكونه عليه الصلاة والسّلام خاتَمهم انقطاعُ حدوث وصف النّبوّة في أحد من الثقلين بعد تحليه عليه الصلاة والسّلام بها في هذه النشأة . ولا يقدح في ذلك ما أجمعت الأمة عليه واشتهرت فيه الأخبار ولعلها بلغت مبلغ التواتر المعنوي ونطق به الكتاب على قول ووجب الإيمان به وأكفر منكره كالفلاسفة من نزول عيسى عليه السّلام آخر الزمان لأنه كان نبيا قبل تحلي نبينا صلّى الله عليه وسلم بالنبوة في هذه النشأة ومثل هذا يقال في بقاء الخضر عليه السّلام على القول بنبوته وبقائه . ثم إنه عليه السّلام حين ينزل باق على نبوته السابق لم يعزل عنها قال لكنه لا يتعبد بها لنسخها في حقه وحق غيره وتكليفه بأحكام هذه الشريعة أصلا وفرعا فلا يكون إليه عليه السّلام وحي ولا نصب أحكام بل يكون خليفة لرسول الله صلّى الله عليه وسلم وحاكما من حكام ملته بين أمته . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ١١ ص ٢١٣ سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠

(٢) التوبة آية ٣٣ .

Scanned with CamScanner

( همدغه شان آيت په سورة الفتح او سورة الصف کې هم ذکر دی ).(١)

**د مذکوره آيت نه استدلال** : په دې آيت کې ذکر شو چې الله تعالى نبي عليه السلام هدايتِ عامه او ريښتيني دِين سره ددې د پاره راليږلی چې دا دِين په نورو ټولو دِينونو او مذاهبو باندې غالب کړي.

او دا ظاهره خبره ده چې په نورو دِينونو باندې غلبه هله راځي چې کله نبي عليه السلام د ټولو دِينونو او ټولو پيغمبرانو په آخر کې اُومنل شي ، او د دوی نه پس بل آسماني دِين دُنيا ته رانشي ؛ ځکه که بِالفرض د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم نه پس بل نبي اُومنل شي نو بيا خو د نبي عليه السلام دِين په نورو دِينونو باندې غالِب نه شو ، حالانکه الله تعالى فرمايلي چې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دِين به په نورو دِينونو غالِب کوم.

لهذا ددې آيت نه هم دا معلومه شوه چې پيغمبر عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د دوی نه پس بل نوې نبي نشي پيدا کيدی.

## نبي عليه السلام تر قيامته پورې د ټولو خلقو د پاره رسول دی

رسولُ الله ﷺ تر قيامته پورې د ټولو خلقو د پاره رسول او رحمت دی ، دا مضمون د قرآن کريم په مختلفو آيتونو کې ذکر دی :

په سورة الاعراف کې ذکر دي ، الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ قُلْ يَٰٓأَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾.(٢)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته دوی ته اُووايه چې : اې خلقو ! بيشکه زه تاسو ټولو طرف ته د الله رسول يم.

بل ځای الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنَٰكَ إِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾.

---

(١) ﴿ هُوَ الَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴾. الفتح آية ٢٨.

﴿ هُوَ الَّذِيٓ أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴾. الصف آية ٩.

(٢) الاعراف آية ١٥٨.

Scanned with CamScanner

ترجمه: او (اې پيغمبره!) مونږ ته ټولو خلقو ته زيرې ورکوونکی او ويروُونکی ليږلې يې، ليکن اکثر خلق (په دې خبره) نه پوهيږي. (١)

بل ځای الله تعالی پيغمبر عليه السلام ته فرمايي:

﴿ وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾. (٢)

ترجمه: او مونږ ته د ټولو عالمونو د پاره رحمت ليږلې يې.

ددينه علاوه په نورو آيتونو کې هم همدغه شان مضمون ذکر شوی. (٣)

**د مذکوره آيتونو نه استدلال**: په مذکوره آيتونو کې الله تعالی دا صفا اِعلان اوکړو چې نبي عليه السلام تر قيامته پورې مخلوقاتو د پاره رسول، زيرې ورکوونکی او ويروُونکی دی، او د ټولو عالمونو د پاره رحمت دی.

او دا هغه وخت کيدې شي چې کله نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّينَ (آخري نبي) اُومنل شي او تر قيامته پورې انسانان دده اُمّتيان شي؛ ځکه که بِالفرض بل نبي پيدا شي نو بيا خو د پيغمبر عليه السلام دا اِمتيازي شرافت باقي نه پاتې کيږي، حالانکه الله تعالی دوی ته دا اِمتيازي شان ورکړی چې تر قيامته پورې ټولو انسانانو د پاره يې رسول او رَحمت راليږلې دی.

---

(١) سبا آية ٢٨.

(٢) الانبياء آية ١٠٧.

(٣) الله تعالی فرمايي: ﴿ وَأَرۡسَلۡنَٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ شَهِيدٗا ﴾. النساء آية ٧٩.
ترجمه: او (اې پيغمبره!) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول راليږلې يې، او په دې خبره باندې الله تعالی د گواهۍ د پاره کافي دی.

بل ځای فرمايي: ﴿ تَبَارَكَ ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡفُرۡقَانَ عَلَىٰ عَبۡدِهِۦ لِيَكُونَ لِلۡعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ﴾. الفرقان آية ١.
ترجمه: ډير بابرکت دی هغه ذات چې هغه په خپل بنده (محمد صلی الله عليه وسلم) باندې د حق او باطل په مينځ کې فرق کوونکی (قرآن) نازل کړې دی؛ ددې د پاره چې دا د ټولو عالمونو د پاره (د الله جل جلاله د عذاب نه) ويروُونکی شي.

د قرآن کريم متعلق هم ذکر دي: ﴿ وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴾. القلم آية ٥٢.
ترجمه: او دا قرآن کريم د ټولو عالمونو د پاره نصيحت دی.

Scanned with CamScanner

(حافظ ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ هم همدا خبره واضح کړې) .(۱)

## اسلام کامل دِین دی ، ددې د پاره د بل نوي نبي ضرورت نشته

الله تعالی فرمايي :

﴿ اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا ﴾ (۲)

ترجمه : نن ورځ ما تاسو د پاره ستاسو دِين کامل کړو ، او په تاسو باندې مې خپل نعمتونه پوره کړل ، او تاسو له مې د اِسلام دِين خوښ کړو .

**د مذکوره آیت نه اِستدلال :** په دې آیت کې الله تعالی ددې اُمت خصوصي فضیلت او شرافت ذکر کړی " چې ما تاسو د پاره دِین کامل کړی " نو چې کله دِین کامِل دی نو بیا د بل نوي نبي پیدا کیدو یا بل دِین ته هیڅ ضرورت نشته .

حافظ ابن کثیر رَحِمَهُ اللهُ ددې آیت په تفسیر کې فرمايي :

۳ . چونکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم رُوح مبارک د ټولو رُوحونو نه اول پیدا شوی ، او جسم مبارک یې د ټولو انبیاء کرامو نه روستو په آخِر کې پیدا شوی نو ځکه ورته اَوّلین او آخِرین پیغمبر وایي .(۱) .

٤ . د معراج په اُوږده واقعه کې دا هم ذکر دي چې فرښتو د حضرت جبریل علیه السلام نه پوښتنه اوکړه :

یَا جِبْرِیْلُ ! مَنْ هٰذَا مَعَكَ ؟

اې جبریل ! دا د تاسره څوک دی ؟

حضرت جبریل علیه السلام ورته اوفرمایل :

هٰذَا مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ .

دا محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله رسول ، او خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی .(۲)

---

←←← وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، قَالَ: قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ! مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ ؟ قَالَ: وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوْحِ وَالْجَسَدِ . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي فَضْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۳٦۰۹ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ . وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كتاب الفضائل والشمائل بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ الفصل الثاني رقم الحديث ۵۷۵۸(۲۰) .

(وَآدَمُ) أَيْ: وَجَبَتْ لِي النُّبُوَّةُ وَالْحَالُ أَنَّ آدَمَ (بَيْنَ الرُّوْحِ وَالْجَسَدِ) يَعْنِي وَأَنَّهُ مَطْرُوْحٌ عَلَى الْأَرْضِ صُوْرَةً بِلَا رُوْحٍ، وَالْمَعْنَى أَنَّهُ قَبْلَ تَعَلُّقِ رُوْحِهِ بِجَسَدِهِ . قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : هَذَا هُوَ جَوَابٌ لِقَوْلِهِمْ: مَتَى وَجَبَتْ أَيْ: وَجَبَتْ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ۹ ص ۳٦۸۴ كِتَابُ الْفَضَائِلِ بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ في تشريح حديث ۵۷۵۸ .

(۱) فتاوی فریدیه ج۱ ص۴۵۳ .

(۲) ... ثُمَّ سَارَ حَتَّى أَتَى بَيْتَ الْمَقْدِسِ، فَنَزَلَ فَرَبَطَ فَرَسَهُ إِلَى صَخْرَةٍ، فَصَلَّى مَعَ الْمَلَائِكَةِ، فَلَمَّا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ قَالُوْا: يَا جِبْرِيْلُ ! مَنْ هَذَا مَعَكَ ؟ قَالَ : هَذَا مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ... مجمع الزوائد رقم الحديث ۲۳۵ بَابٌ مِنْهُ فِي الْإِسْرَاءِ . مسند البزار ج ۱۷ ص ۷ .

Scanned with CamScanner

## که د نبي علیه السلام نه پس بل څوک نبي جوړیدی نو حضرت عُمر ﷺ به نبي وُ (خو بل نبي نه پیدا کیږي)

که چیرته بِالفرضِ والمحال د پیغمبر علیه السلام نه پس بل څوک نبي جوړیدی نو حضرت عُمر ﷺ به نبي وُ؛ ځکه په ده کې ډیر کمالات جمع وو، خو چونکه د پیغمبر علیه السلام نه پس د نبوت دروازه بنده ده نو ځکه حضرت عُمر ﷺ ته نبوّت ملاوُ نه شو.

نو چې کله حضرت عُمر ﷺ ته نبوّت ملاوُ نه شو نو بیا بل چاته خو په طریقِ اولی سره نه ملاوېږي.

رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

لَوْ كَانَ بَعْدِيْ نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ. (١)

که چیرته د ما نه پس بل نبي وی نو حضرت عُمر ﷺ به نبي وُ.

**د حدیث تشریح**: په دې حدیث کې دا "لَوْ" د "اِنْ" په شان د شرط د پاره دی، او د عربي قاعده ده چې په اِنتفاء د شرط سره اِنتفاء د مشروط راځي. اوس د حدیث مطلب دا شو چې که بِالفرض والتّقدیر د ما نه پس بل نبي وی نو حضرت عُمر ﷺ به وُ خو چونکه د ما نه پس د نبوت سلسله ختمه شوې ده او بل نبي نشته نو ځکه حضرت عُمر ﷺ هم نبي ندی.

په دې حدیث کې حضور ﷺ د حضرت عُمر ﷺ مَنقَبَت هم بیان کړو، خو ورسره

---

(١) المستدرک علی الصحیحین للحاکم کِتَابُ مَعْرِفَةِ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَمِنْ مَنَاقِبِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحدیث ٤٤٩٥ وقال الحاکم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ"، ووافقه الذهبي. مسند احمد مخرجا رقم الحدیث ١٧٤٠٥، مشکاة المصابیح كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ بَابُ مَنَاقِبِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحدیث ٦٠٣٧(١٣)، کنز العمال رقم الحدیث ٣٢٧٤٥، معجم ابن عساکر رقم الحدیث ١١٦٧.

وفي رواية: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ كَانَ نَبِيٌّ بَعْدِي لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي مَنَاقِبِ أَبِي حَفْصٍ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحدیث ٣٦٨٦ وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. قال الالباني: حسنٌ. المعجم الکبیر للطبراني رقم الحدیث ٤٧٥.

Scanned with CamScanner

ورسره يې د ختمِ نبوّت اعلان هم اوکړو چې د ما نه پس بل نبي نشته. (۱)

## تر قیامته پورې به بل نوې نبي نه پیدا کیږي

د بخاري شريف او مسلم شريف حديث دی، رسول الله ﷺ فرمايي:

بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ.

زه او قيامت داسې رالیږلې شوي يو لکه دا دوه ګوتې.

بيا نبي عليه السلام مسواکې او مینځنۍ ګوتې دواړه اوچتې کړې او په اِشارې سره يې صحابه کرامو ته اُوخوده. (۲)

د نبي عليه السلام مقصد دا وُ چې: زه آخري نبي يم د ما نه پس بل نبي نشته. او بيا يې صحابه کرامو ته په اشارې سره اُوخوده چې لکه څرنګې د مینځنۍ او مسواکۍ ګوتې په مينځ کې بله ګته نشته نو همدغه شان زما او د قيامت په مينځ کې هم بل نبي نشته. (۳)

---

(۱) ( لَوْ كَانَ بَعْدِيْ نَبِيٌّ لَكَانَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضی الله عنه ) فَلَوْ فِي هَذَا الْحَدِيثِ بِمَنْزِلَةِ إِنْ عَلَى سَبِيلِ الْفَرْضِ وَالتَّقْدِيرِ. مرقاة المفاتيح ج ۹ ص ۳۸۹۳ كِتَابُ الْمَنَاقِبِ وَالْفَضَائِلِ بَابُ مَنَاقِبِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. شرح المشكاة للطيبي ج ۱۲ ص ۳۸۵۵.

(۲) عَنْ أَنَسٍ رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ ». صحيح البخاري. كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ » رقم ۶۵۰۴، صحيح مسلم كِتَابُ الْجُمُعَةِ بَابُ تَخْفِيفِ الصَّلَاةِ وَالْخُطْبَةِ رقم ۴۳ (۸۶۷). سنن الترمذي رقم ۲۲۱۳، مشكاة المصابيح رقم ۱۴۰۷(۷).

وفي رواية: عَنْ سَهْلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ هَكَذَا » وَيُشِيرُ بِإِصْبَعَيْهِ فَيَمُدُّ بِهِمَا. صحيح البخاري كِتَابُ الرِّقَاقِ بَابُ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ » رقم الحديث ۶۵۰۳. صحيح مسلم كتاب الْفِتَنِ وَأَشْرَاطِ السَّاعَةِ بَابُ قُرْبِ السَّاعَةِ رقم الحديث ۱۳۲ (۲۹۵۰)

(۳) وَأَمَّا قَوْلُهُ « بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةَ كَهَاتَيْنِ » فَمَعْنَاهُ أَنَا النَّبِيُّ الْأَخِيرُ فَلَا يَلِيْنِي نَبِيٌّ آخر. وَإِنَّمَا تَلِيْنِي الْقِيَامَةُ كَمَا تَلِي السَّبَّابَةُ الْوُسْطَى وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا أُصْبُعٌ أُخْرَى. التذكرة باحوال الموتى وامور الآخرة ص ۱۲۱۹ باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: "بعثت انا والساعة كهاتين".

(كَهَاتَيْنِ) التَّشْبِيهُ فِي الْمُقَارَنَةِ بينهما أَيْ لَيْسَ بَيْنَهُمَا أُصْبُعٌ أُخْرَى كَمَا أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَيْنَهُ صَلَّى اللهُ تَعَالَى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَيْنَ السَّاعَةِ... حاشية السندي على سنن النسائي ج ۳ ص ۱۸۹ كتاب الْعِيدَيْنِ.

Scanned with CamScanner

# پيغمبر عليه السلام تر قيامته پورې انسانانو او جِنّاتو ټولو د پاره نبي راليږلې شوی

۱ . د بخاري شريف حديث دی ، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

... وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً .(۱)

مخکې به نبي يو خاص قوم ته ليږلې شو او زه ټولو خلقو ته نبي راليږلې شوې يم .

په يو روايت کې راځي ، پيغمبر عليه السلام فرمايي :

...كَانَ كُلُّ نَبِيٍّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى كُلِّ أَحْمَرَ وَأَسْوَدَ .(۲)

مخکې به هر نبي يو خاص قوم ته ليږلې شو او زه هر سُور او تور ( يعنی ټولو جِنّاتو او انسانانو ) طرف ته راليږلې شوې يم .

۲ . رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي :

بُعِثْتُ إِلَى الْجِنِّ وَالْإِنْسِ .(۳)

زه جِنّاتو او انسانانو ټول طرف ته راليږلې شوې يم .

۳ . په مسند البزار او مجمع الزوائد کې اُوږد حديث ذکر دی ، په هغې کې دا هم دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی حمد و ثناء بيان کړه ، وې وفرمايل :

---

(۱) پوره حديث داسې دی : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي : نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ، وَجُعِلَتْ لِيَ الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا، فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ، وَأُحِلَّتْ لِيَ الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي ، وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ، وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً . صحيح البخاري كِتَابُ التَّيَمُّمِ رقم الحديث ۳۳۵ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۴۲۶۴ ، صحيح ابن حبان مخرجا رقم الحديث ۶۳۹۸ ، مشكاة المصابيح رقم الحديث ۵۷۴۷(۹).

(۲) .... وَرُوِّينَا عَنْ مُجَاهِدٍ، أَنَّهُ قَالَ: الْأَسْوَدُ، وَالْأَحْمَرُ يَعْنِي: الْجِنَّ وَالْإِنْسَ . شعب الايمان ج ۳ ص ۶۷ رقم الحديث ۱۴۰۳ .

(۳) شعب الايمان ج ۳ ص ۶۸ بعد رقم الحديث ۱۴۰۳ .

Scanned with CamScanner

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ أَرْسَلَنِيْ رَحْمَةً لِلْعَالَمِيْنَ ، وَكَافَّةً لِلنَّاسِ ، بَشِيْرًا وَنَذِيْرًا .

ټولو تعریفونه هغه الله لره دي چې هغه زه ټولو عالمونو ته رحمت رالیږلی یم ، او ټولو خلقو ته یې زیري ورکوونکی او ېرووُنکی رالیږلی یم .

د همدې حدیث په آخر کې دا هم دي چې الله تعالی نبي علیه السلام ته اُوفرمایل :

وَجَعَلْتُكَ فَاتِحًا وَخَاتِمًا .

ما ته فاتِح او خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ( آخري نبي ) گرځولې یې . (۱)

٤ . رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

أَنَا رَسُوْلُ مَنْ أَدْرَكْتُ حَيًّا وَمَنْ يُوْلَدُ بَعْدِيْ . (۲)

زه رسول د ټولو هغه خلقو یم کوم چې زه ژوندي اُومومم او کوم چې د مانه پس پیدا کیږي .

۵ . په قرآن کریم کې لکه څرنگې چې الله تعالی ته رَبُّ الْعَالَمِيْنَ ویل شوی ، بیتُ الله ته هُدًى لِّلْعَالَمِيْنَ ویل شوی ، قرآن مجید ته ذِكْرٌ لِّلْعَالَمِيْنَ ویل شوی نو همدغه شان محمّدُ رّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته رَحْمَةٌ لِّلْعَالَمِيْنَ ویل شوی .

ددینه هم دا ښکاره معلومیږي چې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر قیامته پورې د ټولو انسانانو او پیریانو د پاره نبي دی . (۳)

---

(۱) مجمع الزوائد كِتَابُ الْإِيْمَانِ بَابٌ مِنْهُ فِي الْإِسْرَاءِ ج۱ ص۶۹ رقم الحديث ۲۳۵ . مسند البزار ج۱۷ ص۸ رقم الحديث ۹۵۱۸ .

(۲) الطبقات الكبرى لابن سعد ج۱ ص ۱۵۰ ذكر مبعث رسول الله صلى الله عليه وسلم ومابعث به . كنزالعمال كتاب الفضائل بالفصل الثالث في فضائل متفرقة تنبيء عن التحدث بالنعم رقم الحديث ۳۱۱۸۸۵ .

(۳) الله تعالی ته رَبُّ الْعَالَمِيْنَ په بې شماره آیتونو کې ویل شوی ، لکه ؛

﴿ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ سورة الفاتحة آية ۱ . / ﴿ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴾ . الاعراف آية ۵۴ .

د بیتُ الله په باره کې ذکر دي ؛ ←←←←←←

# په مخکيني آسماني کتابونو کې هم نبي عليه السلام ته

# خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ويل شوي وُ

د قرآن کريم نه مخکې چې څومره آسماني کتابونه تير شوي په هغې ټولو کې دا تذکره وه چې محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د دوی نه پس به بل نبي نه پيدا کيږي .

(په مخکيني کتابونو کې د نبي عليه السلام نوم أحمد ذکر شوی)

يهوديانو او عيسايانو خو په دې موجوده توراة او انجنيل کې ډيرې ګوتې وهلي ، ډير مضمونه يې ورنه ويستلي او ډيريې په کې د ځان نه داخل کړي ، او وخت په وخت په کې اوس هم تبديلي کوي خو زه به درته د صحابه کرامو ، تابعينو ، او مُفسّرينو هغه مستنَد اقوال رانقل کړم چې هغوی د توراة او اِنجيل نه رانقل کړي .

**١** . ابن جرير طبري رحمه الله ددې آيت ﴿وَ أَخَذَ الْأَلْوَاحَ﴾ په تفسير کې ذکر کړي چې حضرت موسٰی عليه السلام الله ﷻ ته عرض اوکړو :

رَبِّ إِنِّيْ أَجِدُ فِي الْأَلْوَاحِ أُمَّةً هُمُ الْآخِرُوْنَ السَّابِقُوْنَ: أَيْ: آخِرُوْنَ فِي الْخَلْقِ، سَابِقُوْنَ فِي دُخُوْلِ الْجَنَّةِ، رَبِّ اجْعَلْهُمْ أُمَّتِيْ.

اې ربه ! زه د تورات په دې تختو کې دداسې اُمت تذکره مُومم چې دوی به په پيدائش کې د ټولو نه آخري وي خو جنت ته داخليدلو کې به د ټولو نه اول وي . نو اې ربه ! دا خلق زما اُمت جوړ کړه .

---

←←← ﴿إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ مُبٰرَكًا وَّهُدًى لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ . آل عمران آية ٩٦ .

پخپله د قرآن کريم په باره کې ذکر دي : ﴿إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ . ص آية ٨٧ ، التكوير آية ٢٧ .

﴿وَمَا هُوَ إِلَّا ذِكْرٌ لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ . القلم آية ٥٢ .

د نبي عليه السلام په باره کې ذکر دي : ﴿وَمَا أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ﴾ . الانبياء آية ١٠٧ .

Scanned with CamScanner

الله تعالى ورته اوفرمايل: تِلْكَ أُمَّةُ أَحْمَدَ. دا د احمد (صلى الله عليه وسلم) أمت دى. (١)

۲. حضرت كعب احبار رحمه الله فرمايي چې زما پلار د توراة لوي عالِمۏ، هغه د وفات كيدو په وخت ماته وويل چې ما په دې ځاخته كې د توراة دوه پاڼې محفوظې ايخي دي ته هغه راواخله، نو ما چې هغه راواخيستى په هغې كې ليكلې شوي وو:

مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ.

محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى رسول دى او په ټولو انبياء كرامو كې آخري نبي دى، د هغوى نه پس به بل نبي نه پيدا كيږي. (٢)

۳. حضرت شعيب عليه السلام ته چې كومه وَحي شوې وه په هغې كې دا هم وو چې: د آخِرې زمانې د پيغمبر اُمت به آخري اُمت وي، د هغه په كتاب او شريعت سره به د

---

(١) عَنْ قَتَادَةَ، قَوْلُهُ: "{أَخَذَ الْأَلْوَاحَ} [الأعراف: ١٥٤] قَالَ: رَبِّ إِنِّي أَجِدُ فِي الْأَلْوَاحِ أُمَّةً، خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ، يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ، فَاجْعَلْهُمْ أُمَّتِي. قَالَ: تِلْكَ أُمَّةُ أَحْمَدَ. قَالَ: رَبِّ إِنِّي أَجِدُ فِي الْأَلْوَاحِ أُمَّةً هُمُ الْآخِرُونَ السَّابِقُونَ: أَيْ: آخِرُونَ فِي الْخَلْقِ، سَابِقُونَ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ، رَبِّ اجْعَلْهُمْ أُمَّتِي. قَالَ: تِلْكَ أُمَّةُ أَحْمَدَ... تفسير الطبري (جامع البيان عن تأويل آي القرآن) ج ١٠ ص ٤٥٢ سُورَةُ الْأَعْرَافِ الْقَوْلُ فِي تَأْوِيلِ قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَأَلْقَى الْأَلْوَاحَ....

(٢) وَأخرج أَبُو نعيم عَن كَعْب رحمه الله قَالَ: إِن أبي كَانَ من أعلم النَّاس بِمَا أنزل الله على مُوسَى وَكَانَ لم يدّخر عَليّ شَيْئا مِمَّا كَانَ يعلم فَلَمَّا حَضَره الْمَوْت دَعَاني فَقَالَ لي: يَا بنيّ! إِنَّك قد علمت أَنِّي لم أدخر عَنْك شَيْئا مِمَّا كنت أعلمهُ إِلَّا أَنِّي قد حبست عَنْك ورقتين فيهمَا: نَبِي يبْعَث قد أظل زَمَانه فَكرِهت أَن أخْبرك بذلك فَلَا آمن عَلَيْك أَن يخرج بعض هَؤُلَاءِ الْكَذَّابين فتطيعه وَقد جعلتهما فِي هَذِه الكوة الَّتِي ترى وطينت عَلَيْهِمَا فَلَا تعرضن لَهما وَلَا تنظرن فيهمَا حينك هَذَا فَإِن الله أَن يرد ذَلِك خيرا وَيخرج ذَلِك النَّبِي تتبعه ثمَّ أَنه مَاتَ فدفناه فَلم يكن شَيْء أحب إِلَيّ من أَن أنظر فِي الورقتين ففتحت الكوة ثمَّ استخرجت الورقتين فَإِذا فيهمَا: مُحَمَّد رَسُول الله خَاتم النَّبِيين لَا نَبِي بعده مولده بِمَكَّة وَمُهَاجره بطيبة لَا فظ وَلَا غليظ وَلَا صخاب فِي الْأَسْوَاق وَيجْزِي بالسيئة الْحَسَنَة وَيَعْفُو ويصفح... الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج ٣ ص ٥٧٧ سورة الاعراف في تفسير آية ٥٧.

آسماني كتابونو او آسماني شريعت اِختتام كوم . (١)

٤ . حضرت مغيرة بن شعبه ﷺ خپله اوريده واقعه ذكر كړي په هغې كې دا هم دي چې ما په اسكندريه كې د يو مشهور پادري نه پوښتنه اوكړه چې آيا ستاسو په كتابونو كې د محمّد رّسولُ اللّٰه صلى الله عليه وسلم څه صفات ذكر دي ؟ نو هغه ووېل :

نَعَمْ، وَهُوَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ أَحَدٌ، وَهُوَ نَبِيٌّ قَدْ أَمَرَنَا عِيسَى بِاتِّبَاعِهِ، وَهُوَ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ الْعَرَبِيُّ، اِسْمُهُ أَحْمَدُ . (٢)

---

(١) وَأخرج ابْن أَبِي حَاتِم وَأَبُو نعيم فِي الدَّلَائِل عَن وهب بن مُنَبه رَضِي الله عَنهُ قَالَ : أوحى الله تعالى إِلَى شُعَيْب إِنِّي باعث نَبيا أُمِّيا أفتح بِهِ آذانا صمًّا وَقُلُوبًا غلفًا وَأَعْيُنًا عميا مولده بِمَكَّة وَمُهَاجره بطيبَة وَملكه الشَّام عَبدِي المتوَكل الْمُصْطَفى الْمَرْفُوع الحبيب المتحبب الْمُخْتَار لَا يَجْزِي بِالسَّيِّئَةِ السَّيئَة وَلَكِن يعْفُو ويصفح رحِيما بِالْمُؤمنِينَ ... وَأَجْعَل أمته خير أمة .... اختم بكتبهم الْكتب وشريعتهم الشَّرَائِع وبدينهم الْأَدْيَان من أدركهم فَلم يُؤمن بِكِتَابِهِمْ وَيدخل فِي دينهم وشريعتهم فَلَيْسَ مني وَهُوَ مني بَرِيء واجعلهم أفضل الْأُمَم . الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج٣ ص ٥٨٠ سورة الاعراف في تفسير آية ٥٧ .

(٢) ... قَالَ الْمُغِيرَةُ ﷺ : فَرَجَعْنَا إِلَى مَنَازِلِنَا، فَأَقَمْتُ بِالْإِسْكَنْدَرِيَّةِ، لَا أَدَعُ كَنِيسَةً إِلَّا دَخَلْتُهَا ، وَسَأَلْتُ أَسَاقِفَهَا مِنْ قِبْطِهَا، وَرُومِهَا، عَمَّا يَجِدُونَ مِنْ صِفَةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ أُسْقُفٌ مِنَ الْقِبْطِ هُوَ رَأْسُ كَنِيسَةِ أَبِي عَنِّي، كَانُوا يَأْتُونَهُ بِمَرْضَاهُمْ، فَيَدْعُو لَهُمْ، لَمْ أَرَ أَحَدًا قَطُّ يُصَلِّي الصَّلَوَاتِ الْخَمْسَ أَشَدَّ اجْتِهَادًا مِنْهُ، فَقُلْتُ: أَخْبِرْنِي هَلْ بَقِيَ أَحَدٌ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ؟ قَالَ: نَعَمْ، وَهُوَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ، لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ أَحَدٌ، وَهُوَ نَبِيٌّ قَدْ أَمَرَنَا عِيسَى بِاتِّبَاعِهِ، وَهُوَ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ الْعَرَبِيُّ، اسْمُهُ أَحْمَدُ، لَيْسَ بِالطَّوِيلِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ، فِي عَيْنَيْهِ حُمْرَةٌ، لَيْسَ بِالْأَبْيَضِ، وَلَا بِالْآدَمِ، يُعْفِي شَعْرَهُ، وَيَلْبَسُ مَا غَلُظَ مِنَ الثِّيَابِ، وَيَجْتَزِئُ بِمَا لَقِيَ مِنَ الطَّعَامِ، سَيْفُهُ عَلَى عَاتِقِهِ، وَلَا يُبَالِي مَنْ لَاقَى، يُبَاشِرُ الْقِتَالَ بِنَفْسِهِ، وَمَعَ أَصْحَابِهِ، يَفْدُونَهُ بِأَنْفُسِهِمْ، هُمْ لَهُ أَشَدُّ حُبًّا مِنْ أَوْلَادِهِمْ وَآبَائِهِمْ، يَخْرُجُ مِنْ أَرْضِ الْقَرَظِ، وَمِنْ حَرَمٍ يَأْتِي إِلَى حَرَمٍ، يُهَاجِرُ إِلَى أَرْضٍ سِبَاخٍ وَنَخْلٍ، يَدِينُ بِدِينِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ ... قَالَ الْمُغِيرَةُ: فَوَعَيْتُ ذَلِكَ كُلَّهُ مِنْ قَوْلِهِ، وَقَوْلِ غَيْرِهِ، فَرَجَعْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَسْلَمْتُ ... دلائل النبوة لأبي نعيم الأصبهاني ج١ ص ٨٥ الفَصْلُ الخَامِسُ. هَذَا يَجْمَعُ فُصُولًا ثَلَاثَةً ذِكْرُهُ فِي الْكُتُبِ الْمُتَقَدِّمَةِ

آو ، هغه په ټولو انبیاء کرامو کې آخري نبي دی ، د هغه او د حضرت عیسٰی علیه السلام په مینځ کې بل هیڅ نبي نشته ، هغه داسې نبي دی چې حضرت عیسی علیه السلام مونږ ته د هغه د اِتباع حکم کړی ، هغه نبي اُمّي عربي دی ، د هغه نوم احمد دی .

۵ . حضرت جُبَیر بن مُطعِم ﷺ فرمایي چې زه یو ځل د جاهلیت په زمانه کې شام ته د تجارت د پاره لاړم ، کله چې زه د شام اطرافو ته اُورسیدم نو د اهلِ کتابو یو کس راسره ملاو شو ، هغه د مانه پوښتنه اوکړه : هَلْ عِنْدَكُمْ رَجُلٌ تَنَبَّأَ ؟

آیا په تاسو (عربو) کې کوم سړي د نبوّت دعوٰی کړی ؟

ما ورته وویل : آو ، کړې یې ده .

هغه راته وویل : آیا ته چې د هغه صورت اوګوری نو پیژنې یې ؟ ما ورته وویل : آو .

نو هغه زه یو کور ته داخل کړم چې په هغې کې ډیر تصویرونه وو خو ما په کې د نبي علیه السلام تصویر اُو نه لید ، په دې دوران کې یو بل کس راننوت ، هغه زه خپل کور ته بوتلم ، کله چې زه د هغه کور ته داخل شوم نو ما د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم تصویر اُولید خو د دوی شاته یو بل کس هم ولاړ وُ ، ما د دې کور مالک نه پوښتنه اوکړه :

مَنْ هَذَا الرَّجُلُ الْقَائِمُ عَلَى عَقِبِهِ؟

دا د نبي علیه السلام د تصویر شاته چې کوم کس ولاړ دی دا څوک دی ؟

نو هغه راته وویل :

إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ إِلَّا كَانَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ إِلَّا هَذَا، فَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَهَذَا الْخَلِيفَةُ بَعْدَهُ.

خبره داده چې مخکې هر یو نبي راغلی نو د هغه نه روستو به بل نبي وُ خو صرف دا محمد ﷺ داسې نبي دی چې دده نه پس بل نبي نشته ، او دده دا شاته چې کوم کس ولاړ دی نو دا دده خلیفه دی .

حضرت جُبَیر بن مُطعِم ﷺ فرمایي چې کله ما هغه شاته کس ته په غور سره اُوکتل نو هغه د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ تصویر وُ . (۱)

---

(۱) عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ﷺ ، قَالَ: خَرَجْتُ تَاجِرًا إِلَى الشَّامِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ، فَلَمَّا كُنْتُ بِأَدْنَى الشَّامِ، ←←←

۶ . حضرت زیاد بن لبید ﷺ فرمايي چې یو ځل زه د مدینې منورې په یوه غونډۍ باندې ولاړ وُوم نو ناڅاپه مې دا آواز واورید :

يَا أَهْلَ يَثْرِبَ ! قَدْ ذَهَبَتْ وَاللهِ نُبُوَّةُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ هَذَا نَجْمٌ قَدْ طَلَعَ بِمَوْلِدِ أَحْمَدَ ، وَهُوَ نَبِيُّ آخِرِ الْأَنْبِيَاءِ ، مُهَاجِرُهُ إِلَى يَثْرِبَ .

اې اهلِ یثرب ! په الله قسَم چې د بني اسرائیلو نبوّت ختم شو ، دا ستورې د احمد ( ﷺ ) د پیدائش سره راختلې دی ، هغه په ټولو انبیاء کرامو کې آخري نبي دی ، د هغه د هجرت ځای به یَثرب ( مدینه منوّره ) وي . (۱)

۷ . د حضرت ابراهیم علیه السلام په صحیفو کې دا لیکل شوي وو :

إِنَّهُ كَائِنٌ مِنْ وُلْدِكَ شُعُوْبٌ وَشُعُوْبٌ حَتَّى يَأْتِيَ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ الَّذِيْ يَكُوْنُ خَاتَمَ الْأَنْبِيَاءِ .

ستاسو په اَولاد کې به مسلسل مختلفې قبیلې راځي تر دې چې نبي اُمّي راشي کوم چې په ټولو انبیاؤ کې آخري نبي دی . (۲)

---

←←← "لَقِيَنِي رَجُلٌ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ. فَقَالَ: هَلْ عِنْدَكُمْ رَجُلٌ تَنَبَّأَ ؟ قُلْتُ : نَعَمْ. قَالَ: هَلْ تَعْرِفُ صُوْرَتَهُ إِذَا رَأَيْتَهَا ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. فَأَدْخَلَنِي بَيْتًا فِيْهِ صُوَرٌ. فَلَمْ أَرَ صُوْرَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَبَيْنَا أَنَا كَذَلِكَ. إِذْ دَخَلَ رَجُلٌ مِنْهُمْ عَلَيْنَا. فَقَالَ: فِيْمَ أَنْتُمْ ؟ فَأَخْبَرْنَاهُ . فَذَهَبَ بِنَا إِلَى مَنْزِلِهِ. فَسَاعَةَ مَا دَخَلْتُ نَظَرْتُ إِلَى صُوْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَإِذَا رَجُلٌ آخِذٌ بِعَقِبِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قُلْتُ: مَنْ هَذَا الرَّجُلُ الْقَائِمُ عَلَى عَقِبِهِ؟ قَالَ: إِنَّهُ لَمْ يَكُنْ نَبِيٌّ إِلَّا كَانَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ إِلَّا هَذَا. فَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَهَذَا الْخَلِيفَةُ بَعْدَهُ. وَإِذَا صِفَةُ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ". المعجم الكبير للطبراني ج۲ ص ۱۲۵ رقم الحديث ۱۵۳۷ بَابُ الْجِيمِ

**نوټ** : په کنزالعمال کې د جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ ﷺ په ځای بلال بن الحارث ﷺ ذکر شوی . کنزالعمال رقم الحديث ۳۵۳۷۱ كتاب الفضائل باب فضائل النبي صلى الله عليه وسلم وفيه معجزاته وإخباره بالغيب المعجزات ودلائل النبوة .

(۱) وَأخرج أَبُو نعيم عَن زِيَاد بن لبيد انه حدث انه كَانَ على أُطم من آطام الْمَدِينَة سمع : يَا أَهْلَ يَثْرِبَ ! قَدْ ذَهَبَتْ وَاللهِ نُبُوَّةُ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ هَذَا نَجْمٌ قَدْ طَلَعَ بِمَوْلِدِ أَحْمَدَ ، وَهُوَ نَبِيُّ آخِرِ الْأَنْبِيَاءِ ، مُهَاجِرُهُ إِلَى يَثْرِبَ . الخصائص الكبرى لجلال الدين السيوطي رحمه الله ج ۱ ص ۴۸ .

(۲) وَأخرج عَن الشّعبِيّ قَالَ فِي مجلة ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام أَنَّهُ كَائِنٌ مِنْ وُلْدِكَ شُعُوْبٌ وَشُعُوْبٌ ←←←

۸ . الله تعالى چې په حضرت يعقوب عليه السلام باندې کومه وَحي نازله کړې وه په هغې کې دا هم وو : زه به ستا په اولاده کې بادشاهان او انبياء کرام پيدا کوم تر دې چې زه د حرَم واله نبي را اُوليږم د کوم نبي اُمت چې به هيکل بيت المقدس جوړوي ،

وَهُوَ خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِسْمُهُ أَحْمَدُ .

او هغه به په ټولو انبياؤ کې آخري نبي وي ، او د هغه نوم به احمد وي . (۱)

## په اسلام سره مخکيني دِينونه منسوخ شوي

په اسلام سره مخکيني ټول دِينونه منسوخ شوي .

حضرت عبد الله بن ثابت ﷺ فرمايي چې يوه ورځ حضرت عُمر ﷺ د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شو او عرض يې اوکړو :

اې د الله رسوله ! زه د بنو قريظه قبيلې په يو ورور باندې راتيريدم ، هغه ماته د توراة يو څو جامع خبرې اوليکلې ، آيا زه تاسو ته هغه پيش کړم ؟

نبي عليه السلام چې دا خبره واوريده نو د مخ مبارک رنګ يې ( د خفګان نه ) بدل شو .

حضرت عبد الله بن ثابت ﷺ فرمايي چې ما حضرت عُمر ﷺ ته او فرمايل :

آيا ته د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم مخ مبارک رنګ ته نه ګورې ؟

حضرت عُمر ﷺ سمدست اوويل :

رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا ، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا ، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا .

مونږ په دې باندې راضي يو چې الله تعالى زمونږ رَب دى ، اسلام زمونږ دِين دى ، او محمد ﷺ زمونږ رسول دى .

نو پيغمبر عليه السلام ( دې آوريدو سره ) خوشحال شو . بيا يې اوفرمايل :

←←← حَتَّى يَأْتِي النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ الَّذِي يَكُونُ خَاتَمَ الْأَنْبِيَاءِ . الخصائص الكبرى لجلال الدين السيوطي رحمه الله ج ۱ ص ۱۷ لطيفة أخرى في أن اخذ الميثاق من النبيين لنبينا صلى الله عَلَيْهِ وسلم وَعَلَيْهِم كإيمان البيعة الّتي تؤخذ للخلفاء.

(۱) أَوْحَى اللهُ إِلَى يَعْقُوبَ : أَنِّي أَبْعَثُ مِنْ ذُرِّيَّتِكَ مُلُوكًا وَأَنْبِيَاءَ حَتَّى أَبْعَثَ النَّبِيَّ الْحَرَمِيَّ الَّذِي تَبْنِي أُمَّتُهُ هَيْكَلَ بَيْتِ الْمَقْدِسِ وَهُوَ خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَإِسْمُهُ أَحْمَدُ . الخصائص الكبرى لجلال الدين السيوطي رحمه الله ج ۱ ص ۱۷

Scanned with CamScanner

وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَصْبَحَ فِيكُمْ مُوسَى عليه السلام ثُمَّ اتَّبَعْتُمُوهُ وَتَرَكْتُمُونِي لَضَلَلْتُمْ. إِنَّكُمْ حَظِّي مِنَ الْأُمَمِ، وَأَنَا حَظُّكُمْ مِنَ النَّبِيِّينَ .

قسَم په هغه ذات چې د هغه په قبضهٔ قدرت کې زما ساه ده که چیرته پخپله حضرت موسی علیه السلام په تاسو کې موجود وی او تاسو د هغه د تابعداري کړې وی او زه مو پریخې وی نو تاسو به ضرور گمراه شوي وَی ، بیشکه په ټولو اُمتونو کې تاسو زما حصه یَی او په ټولو انبیاؤ کې زه ستاسو حصه یم.(۱)

**فائده** : ددې حديث نه دا معلومه شوه چې په اسلام سره مخکيني ټول دِينونه منسوخ شوي. دويم دا چې پيغمبر عليه السلام په طريقې د حصر سره دا اُوفرمايل : تاسو صرف زما اُمت یَی د تاسو د پارهٔ بل نبي نشي کيدی همدا زه ستاسو نبي يم.

دريم دا چې حضرت موسی علیه السلام اگر چې د الله ﷻ نبي او رسول دی خو بيا هم پيغمبر عليه السلام د نبوّت په موجودگی کې د حضرت موسی علیه السلام تابعداري صحيح نده ، نو چې کله اوس د حضرت موسیٰ عليه السلام تابعداري صحيح نده نو بيا به د ميرزا غلام احمد قادياني ملعون يا بل دروغجن کس نبي جوړيدل او هغه تابعداري څنگه صحيح شي ؟

(۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ ثَابِتٍ رضي الله عنه ، قَالَ : جَاءَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! إِنِّي مَرَرْتُ بِأَخٍ لِي مِنْ قُرَيْظَةَ، فَكَتَبَ لِي جَوَامِعَ مِنَ التَّوْرَاةِ أَلَا أَعْرِضُهَا عَلَيْكَ ؟ قَالَ: فَتَغَيَّرَ وَجْهُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَقُلْتُ لَهُ: أَلَا تَرَى مَا بِوَجْهِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه : رَضِينَا بِاللهِ رَبًّا ، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولًا . قَالَ: فَسُرِّيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ قَالَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ أَصْبَحَ فِيكُمْ مُوسَى ثُمَّ اتَّبَعْتُمُوهُ وَتَرَكْتُمُونِي لَضَلَلْتُمْ. إِنَّكُمْ حَظِّي مِنَ الْأُمَمِ. وَأَنَا حَظُّكُمْ مِنَ النَّبِيِّينَ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ۱۵۸۶۴ حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ ثَابِتٍ ، و رقم الحديث ۱۸۳۳۵ ، مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ۱۰۱۶۴ ، و رقم الحديث ۱۹۲۱۳ ، مجمع الزوائد كِتَابُ الْعِلْمِ بَابُ لَيْسَ لِأَحَدٍ قَوْلٌ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۸۰۶ ، و رقم الحديث ۸۱۰، تفسير ابن كثير ج۲ ص ۶۸ ، الدر المنثور في التفسير بالمأثور ج۲ ص ۲۵۳ .

# د ختمِ نبوّت نه مُنکِر کافر او مُرتد دی

د ختمِ نبوّت عقیده د قرآن کریم د نصوصِ قطعیهؤ او احادیثو متواترهؤ نه ثابت ده، او په دې باندې د اُمت اجماع هم ده. (۱)

لهذا اوس چې څوک رسول الله ﷺ خَاتَمُ النَّبِيّٖن (آخري نبي) نه مني یا د دوی نه پس د نبوّت دعوی کوي نو داسې کس کافر او مُرتد دی، که دا په دې خپله خبره ټینګ وي نو د اِرتداد په وجه به قتلولې شي.

ددې په باره کې درته د علماؤ او فقهاؤ یو څو عبارتونه رانقل کوم:

۱. ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمایي:

وَدَعْوَى النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ بِالْإِجْمَاعِ. (۲)

زمونږ د پیغمبر " محمد رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " نه پس د نبوّت دعوی کول په اِجماع سره کفر ده.

۲. علامه ابن حبان رَحِمَهُ اللهُ فرمایي:

مَنْ ذَهَبَ إِلَى أَنَّ النُّبُوَّةَ مُكْتَسَبَةٌ لَا تَنْقَطِعُ، أَوْ إِلَى أَنَّ الْوَلِيَّ أَفْضَلُ مِنَ النَّبِيِّ فَهُوَ زِنْدِيقٌ يَجِبُ قَتْلُهُ. (۳)

د چا چې دا عقیده وي چې نبوّت په کسب سره حاصلیږي او تر اوسه نبوّت ختم شوې نه

---

(۱) وَقَوْلُهُ: { وَلَكِنْ رَسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ } ... فَهٰذِهِ الْآيَةُ نَصٌّ فِيْ أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ، وَإِذَا كَانَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ فَلَا رَسُوْلَ بَعْدَهُ بِالطَّرِيْقِ الْأَوْلَى وَالْأَحْرٰى، لِأَنَّ مَقَامَ الرِّسَالَةِ أَخَصُّ مِنْ مَقَامِ النُّبُوَّةِ. فَإِنَّ كُلَّ رَسُوْلٍ نَبِيٌّ، وَلَا يَنْعَكِسُ. وَبِذٰلِكَ وَرَدَتِ الْأَحَادِيْثُ الْمُتَوَاتِرَةُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَدِيْثِ جَمَاعَةٍ مِنَ الصَّحَابَةِ. تفسیر ابن کثیر (تفسیر القرآن العظیم) ج ٦ ص ۴۲۸ سورة الاحزاب آیة ۴۰.

(۲) شرح فقه اکبر ص ۲۰۲ فصل والکفر صریحا وکنایة، فتاوی حقانیه ج ۱ ص ۱۴۸، آئینه قادیانیت ص ۵۵، ختم نبوت کامل ص ۳۸۱.

(۳) شرح الزرقاني على المواهب اللدنية بالمنح المحمدية ج ۸ ص ۳۹۹ النوع الثالث: في وصفه تعالى له بالشهادة وشهادته له بالرسالة.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

دی ، يا يې دا عقيده وي چې ولي د نبي نه افضل دی نو دداسې عقيدې واله کس زِنديق دی ، دده قتلولو واجب دي .

۳ . علامه آلوسي رَحِمَهُ اللَّهُ په تفسير رُوح المعاني کې ليکلي :

وَكَوْنُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ مِمَّا نَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ وَصَدَعَتْ بِهِ السُّنَّةُ وَأَجْمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ . فَيُكَفَّرُ مُدَّعِي خِلَافِهِ ، وَيُقْتَلُ إِنْ أَصَرَّ . (١)

د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدل داسې مسئله ده چې په دې باندې قرآن کريم صراحت کړی ، او احاديثو هم په صراحت سره دا خبره واضح کړی ، او په دې باندې د اُمت اِجماع هم ده ، لهذا څوک چې ددې خلاف دعوی کوي نو هغه به کافر ګڼرلې شي ، او که څوک په دې باندې اِصرار کوي ( او توبه نه اُوباسي ) نو هغه به قتلولې شي .

٤ . علامه ابن حجر مکي رَحِمَهُ اللَّهُ په خپله فتاوی کې ليکلي :

مَنِ اعْتَقَدَ وَحْيًا بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفَرَ بِإِجْمَاعِ الْمُسْلِمِيْنَ . (٢)

څوک چې د محمد صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس د وَحي راتلو عقيده لري نو دا سړی د مسلمانانو په اِجماع سره کافر دی .

٥ . علامه احمد بن علي قاهري رَحِمَهُ اللَّهُ د څه کُفري دَلو تذکره کولو نه پس فرمايلي :

وَهَاتَانِ الْمَقَالَتَانِ مِنْ جُمْلَةِ مَا كُفِّرُوْا بِهِ : بِتَجْوِيْزِ النُّبُوَّةِ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّذِيْ أَخْبَرَ تَعَالَى أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ ، وَقَوْلِهِمْ إِنَّهَا تَنَالُ بِالْكَسْبِ . (٣)

دا دوه خبرې داسې دي چې ددې په وجه دوی کافر شوي دي ، په هغه دوه خبرو کې يوه

---

(١) روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج١١ ص ٢٢٠ سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ .

(٢) ختم نبوت کامل ص ٣٨١ .

(٣) صبح الأعشى في صناعة الإنشاء ج١٣ ص ٣٠٦ الضرب الثاني المتأخرون منهم؛ وهم أصحاب أرسطاطاليس؛ وهم ثلاث طوائف .

Scanned with CamScanner

خبره داده چې دوی د نبي علیه السلام نه پس نبوّت جائز ګڼړي حالانکه الله تعالی په قرآن کریم کې دا خبر ورکړی چې رسولُ الله صلی الله علیه وسلم خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) دی (د دوی نه پس بل نبي نه پیدا کیږي).

ددې کُفري ډلو دویمه خبره داده چې دوی وایي: نبوّت کسبي څیز دی (دا هرچاته په کوشش سره حاصلیدې شي).

حالانکه دا کفري خبره ده، ځکه د نبي علیه السلام نه پس د نبوّت دروازه مکمل بنده شوی، اوس نوې نبي نه پیدا کیږي.

٦. قاضي عیاض رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب "الشفاء" کې لیکلي:

څوک چې د نبوّت دعوی اوکړي یا دا اُووایي چې ماته وَحي کیږي ... نو داسې کس کافر دی؛ ځکه نبي علیه السلام (خپل اُمت ته) دا خبر ورکړی چې زه خَاتَمُ النَّبِيِّيْن یم د مانه پس بل نبي نشته، او پیغمبر علیه السلام په دې باندې د الله تعالی قول هم پیش کړی چې زه خَاتَمُ النَّبِيِّيْن یم؛ او په دې باندې اِجماع هم ده چې د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن همدا ظاهري معنی مراد ده، په دې کې د څه تأویل او تخصیص هیڅ ګنجائش نشته،

فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ كُلِّهَا قَطْعًا إِجْمَاعًا وَسَمْعًا.

لهذا د هغه خلقو په کُفر کې هیڅ شک نشته څوک چې د نبوّت دعوی کوي، یا څوک د دوی تابعداري کوي. او ددې خلقو کُفر په قطعي دَول، اجماعِ اُمت، او نقل (یعنی کتاب و سنت) نه ثابت دی. (١)

(١) وَكَذٰلِكَ مَنِ ادَّعَى مِنْهُمْ أَنَّهُ يُوْحَى إِلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَدَّعِ النُّبُوَّةَ أو أنه يصعد إلى السماء. ويدخل الْجَنَّةَ، وَيَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا، وَيُعَانِقُ الْحُوْرَ الْعِيْنَ فَهٰؤُلَاءِ كُلُّهُمْ كُفَّارٌ مُكَذِّبُوْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ أَخْبَرَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ. وَأَخْبَرَ عَنِ اللهِ تَعَالَى أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَأَنَّهُ أُرْسِلَ كَافَّةً لِلنَّاسِ، وَأَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى حَمْلِ هٰذَا الْكَلَامِ على ظاهره، وأن مفهومه المراد به دُوْنَ تَأْوِيْلٍ وَلَا تَخْصِيْصٍ فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ كُلِّهَا قَطْعًا إِجْمَاعًا وَسَمْعًا. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٦١٠ ←←←← ←←←←

۷ . ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ په شرح الشفا کې فرمايي :

(وَهُوَ) أَيْ مَنْ زَعَمَ أَنَّهُ نَبِيٌّ (كَالْمُرْتَدِّ لِأَنَّهُ قَدْ كَفَرَ بِكِتَابِ اللهِ تَعَالَى) حَيْثُ قَالَ تَعَالَى فِي حَقِّ نَبِيِّنَا عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ (مَعَ الْفِرِيَةِ) بكسر الفاء أَيِ الْإِفْتِرَاءِ (عَلَى اللهِ تَعَالَى) . (۱)

څوک چې د نبي عليه السلام نه پس دا ګمان کوي چې " زه نبي يم " نو داسې کس په احکاماتو کې د مُرتد په شان دی (يعنی د مُرتد په شان معامله به ورسره کولې شي) ، ځکه ده د قرآن کريم نه اِنکار اوکړو ؛ ځکه الله تعالی زمونږ د پيغمبر عليه السلام په باره کې فرمايلي دي چې دا خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) دی . بل دا چې دې سړي (څوک چې د نبي عليه السلام نه پس د نبوت دعوی کوي ، ده) په الله تعالی باندې هم دروغ اُوتړل .

همداسې خبره علامه خفاجي رَحِمَهُ اللهُ هم په شرح الشفاء کې کړې ده ، هغه يا دداسې کس د کُفر او مرتد والي وجه دا بيان کړې :

لِأَنَّهُ مُكَذِّبٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي قَوْلِهِ الَّذِي نَقَلَهُ عَنْهُ الثِّقَاتُ : " لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ " أَيْ لَا يُنَبَّأُ أَحَدٌ بَعْدَ نُبُوَّتِيْ . (۲)

ځکه دې کس (کوم چې په دروغه د نبوّت دعوی کړې ، ده) د نبي عليه السلام په دې قول کې تکذيب اوکړو کوم چې ورنه ثِقه (مُعتمدو) صحابه کرامو رانقل کړی چې " د مانه پس بل نبي نشته " ، يعنی زما د نبوّت نه پس به بل چاته نوې نبوّت نشي ورکولی .

۸ . علامه ابن نُجيم مصري رَحِمَهُ اللهُ په اَلْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِر کې تردې پورې ليکلي :

---

←←← البَابُ الثَّالِثُ فِي حُكْمِ مَنْ سَبَّ اللهَ تعالى وملائكته وأنبياء وَكُتُبَهُ وَآلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وأزواجه وصحبه الفَصْلُ الرَّابِعُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ مِنَ الْمَقَالَاتِ كُفْرٌ .....

(۱) شرح الشفا لملا علي قاري رحمه الله ج۲ ص ۴۳۰ فصل [ ان يقصد إلى تكذيبه فيما قاله إلى آخره ] .

(۲) خفاجي شرح شفاء ج۴ ص ۴۳۰ . ختم نبوت کامل ص ۳۹۵ .

Scanned with CamScanner

... إِذَا لَمْ يَعْرِفْ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ فَلَيْسَ بِمُسْلِمٍ؛ لِأَنَّهُ مِنَ الضَّرُورِيَّاتِ. (١)

که يو سړي ته دا معلومه نه وي چې " نبي عليه السلام آخري نبي دی " نو دا سړی مسلمان ندی؛ ځکه د ختمِ نبوّت دا عقيده ساتل د دِين په ضروري عقائدو کې داخل ده.

۹ . همداسې عبارت په فتاوی هنديه (عالمګيري) کې هم شته، هغه فرمايي:

إِذَا لَمْ يَعْرِفِ الرَّجُلُ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمْ وَعَلَى نَبِيِّنَا السَّلَامُ فَلَيْسَ بِمُسْلِمٍ... وَكَذَلِكَ لَوْ قَالَ: أَنَا رَسُوْلُ اللهِ. أَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ: من پيغمبرم. يُرِيْدُ بِهِ " من پيغام مى برم " يَكْفُرُ. (٢)

کله چې يو سړی دا عقيده نه ساتي چې " محمد صلی الله عليه وسلم په ټولو انبياؤ کې آخري نبي دی " نو داسې کس مسلمان ندی. همدارنګې که يو سړی دا اُووايي چې "زه د الله ﷺ رسول يم ". يا په فارسی کې دا اُووايي چې: من پيغمبرم. زه پيغمبر يم. او اِراده يې په دې سره دا وي چې زه خلقو ته د الله ﷻ پيغام رارسوم (يعنی نبي يم) نو په دې سره هم دا سړی کافر کيږي.

۱۰ . علامه ابن نجيم مصري په البحرالرائق کې ليکلي:

وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ " أَنَا رَسُوْلُ اللهِ " (٣)

يو سړی په دې هم کافر کيږي چې دا اووايي: چې زه د الله رسول يم.

---

(١) اَلْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِي حَنِيْفَةَ النُّعْمَانِ لابن نجيم المصري ج١ ص ١٦١ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ الرِّدَّةِ.

(٢) الفتاوى الهندية كِتَابُ السِّيَرِ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ مطلب فِي مُوجِبَاتِ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ ج٢ ص ٢٦٣.

(٣) وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ إِنْ كَانَ مَا قَالَ الْأَنْبِيَاءُ حَقًّا أَوْ صِدْقًا، وَبِقَوْلِهِ: أَنَا رَسُوْلُ اللهِ، وَبِطَلَبِهِ الْمُعْجِزَةَ حِيْنَ ادَّعَى رَجُلٌ الرِّسَالَةَ. وَقِيْلَ إِذَا أَرَادَ إِظْهَارَ عَجْزِهِ لَا يَكْفُرُ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ ج ٥ ص ١٣٠ .

Scanned with CamScanner

۱۱ . علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللَّهُ په تحفة المحتاج في شرح المنهاج کې هغه الفاظ او صورتونه ذکر کړي چې په هغې سره سړی کافر کيږي ، په هغې کې يې دا هم ذکر کړي :

.أَوْ جَوَّزَ نُبُوَّةَ أَحَدٍ بَعْدَ وُجُودِ نَبِيِّنَا . (۱)

يا زمونږ د نبي عليه السلام نه پس د بل چا د پاره نبوّت جائز اوګڼي ( نو په دې سره هم دا کافر کيږي ) .

۱۲ . حافظ ابن حزم اندلسي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمايي :

وَصَحَّ أَنَّ وُجُودَ النُّبُوَّةِ بَعْدَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بَاطِلٌ لَا يَكُونُ الْبَتَّةَ . (۲)

دا خبره صحيح ده چې د نبي عليه السلام نه پس د بل نبي وجود باطل دی ، او هرګز بل نبي نشي موجوديدی .

۱۳ . په لوامع الأنوار کې ذکر دي :

وَمَنْ زَعَمَ أَنَّهَا مُكْتَسَبَةٌ فَهُوَ زِنْدِيقٌ يَجِبُ قَتْلُهُ ؛ لِأَنَّهُ يَقْتَضِي كَلَامُهُ وَاعْتِقَادُهُ أَنْ لَا تَنْقَطِعَ، وَهُوَ مُخَالِفٌ لِلنَّصِّ الْقُرْآنِيِّ، وَالْأَحَادِيثِ الْمُتَوَاتِرَةِ بِأَنَّ نَبِيَّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . (۳)

څوک چې دا ګمان کوي چې نبوت په کوشش سره حاصليږي ، داسې کس زنديق دی

---

(۱) ... (أَوْ كَذَّبَ رَسُولًا ) أَوْ نَبِيًّا أَوْ نَقَصَهُ بِأَيِّ مُنَقِّصٍ كَأَنْ صَغَّرَ اسْمَهُ مُرِيدًا تَحْقِيرَهُ ، أَوْ جَوَّزَ نُبُوَّةَ أَحَدٍ بَعْدَ وُجُودِ نَبِيِّنَا . وَعِيسَى نَبِيٌّ قَبْلُ فَلَا يَرِدُ . وَمِنْهُ تَمَنِّي النُّبُوَّةِ بَعْدَ وُجُودِ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَتَمَنِّي كُفْرِ مُسْلِمٍ بِقَصْدِ الرِّضَا بِهِ لَا التَّشْدِيدِ عَلَيْهِ . وَمِنْهُ أَيْضًا لَوْ كَانَ فُلَانٌ نَبِيًّا آمَنْتُ أَوْ مَا آمَنْتُ بِهِ إِنْ جَوَّزَ ذَلِكَ عَلَى الْأَوْجَهِ . تحفة المحتاج في شرح المنهاج ج۹ ص۸۷ كِتَابُ الرِّدَّةِ

(۲) الفصل في الملل والأهواء والنحل لابن حزم الاندلسي ج۱ ص۶۸ الْكَلَامُ عَلَى مَنْ يُنْكِرُ النُّبُوَّةَ وَالْمَلَائِكَةَ .

(۳) لوامع الأنوار البهية وسواطع الأسرار الأثرية لشرح الدرة المضية في عقد الفرقة المرضية لشمس الدين، أبو العون محمد بن احمد بن سالم السفاريني الحنبلي ج۲ ص۲۶۸ اَلْبَابُ الْخَامِسُ ذِكْرُ سيدنا مُحَمَّدٍ وَبَعْضِ الْأَنْبِيَاءِ وَفَضْلِهِ وَفَضْلِ أَصْحَابِهِ وَأُمَّتِهِ النبوة غير مكتسبة

Scanned with CamScanner

دده قتلول واجب دي، ځکه دده دا کلام او دده دا عقیده دا تقاضا کوي چې ګني نبوّت ختم شوې ندی، حالانکه دا عقیده د قرآن کریم او احادیثو متواتره وُ د هغه نص مخالف ده په کوم کې چې ذکر شوي چې نبي علیه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) دی.

١٤. علماؤ تر دې پورې لیکلي: کوم روافض چې دا عقیده لري چې "حضرت علي ﷛ د نبي علیه السلام سره په نبوت کې شریک وُ" نو دا هم کُفري عقیده ده. (١)

١٥. حافظ ابن کثیر رحمه الله "د نبي علیه السلام نه پس په دروغه د نبوّت دعوٰی کوونکي ته" بدترین کذّاب، دجّال او ګمراه ویلی:

قَدْ أَخْبَرَاللهُ تَعَالَى فِيْ كِتَابِهٖ، وَرَسُوْلُهُ فِي السُّنَّةِ الْمُتَوَاتِرَةِ عَنْهُ: أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ ؛ لِيَعْلَمُوْا أَنَّ كُلَّ مَنِ ادَّعَى هٰذَا الْمَقَامَ بَعْدَهُ فَهُوَ كَذَّابٌ أَفَّاكٌ. دَجَّالٌ ضَالٌّ مُضِلٌّ. وَلَوْ تَخَرَّقَ وَشَعْبَذَ. وَأَتَى بِأَنْوَاعِ السِّحْرِ وَالطَّلَاسِمِ وَالنَّيْرَجِيَّاتِ. فَكُلُّهَا مُحَالٌ وَضَلَالٌ عِنْدَ أُولِي الْأَلْبَابِ. (٢)

---

(١) ويجب الاعتقاد بأنه ما كان لأحد شركة في النبوة لمحمد صلى الله عليه وسلم، بخلاف ما قالت الروافض أن عليًا رضي الله عنه كان شريكًا لمحمد صلى الله عليه وسلم في النبوة، وهذا منهم كفر. تمهيد ابي الشكور السالمي. إكفار الملحدين في ضروريات الدّين لمولانا محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي ج١ ص ٥٦ النقل فيه عن المحدثين والفقهاء والمتكلمين وكبار المحققين وجم غفير من المصنفين.

(٢) پوره عبارت داسې دی: وَالْأَحَادِيْثُ فِيْ هٰذَا كَثِيْرَةٌ فَمِنْ رَحْمَةِ اللهِ تَعَالَى بِالْعِبَادِ إِرْسَالُ مُحَمَّدٍ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ إِلَيْهِمْ. ثُمَّ مِنْ تَشْرِيْفِهٖ لَهُمْ خَتْمُ الْأَنْبِيَاءِ وَالْمُرْسَلِيْنَ بِهٖ. وَإِكْمَالُ الدِّيْنِ الْحَنِيْفِ لَهُ. وَقَدْ أَخْبَرَاللهُ تَعَالَى فِيْ كِتَابِهٖ، وَرَسُوْلُهُ فِي السُّنَّةِ الْمُتَوَاتِرَةِ عَنْهُ: أَنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ ؛ لِيَعْلَمُوْا أَنَّ كُلَّ مَنِ ادَّعَى هٰذَا الْمَقَامَ بَعْدَهُ فَهُوَ كَذَّابٌ أَفَّاكٌ. دَجَّالٌ ضَالٌّ مُضِلٌّ. وَلَوْ تَخَرَّقَ وَشَعْبَذَ. وَأَتَى بِأَنْوَاعِ السِّحْرِ وَالطَّلَاسِمِ وَالنَّيْرَجِيَّاتِ. فَكُلُّهَا مُحَالٌ وَضَلَالٌ عِنْدَ أُولِي الْأَلْبَابِ. كَمَا أَجْرَى اللهُ. سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَلَى يَدِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ بِالْيَمَنِ. وَمُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ بِالْيَمَامَةِ. مِنَ الْأَحْوَالِ الْفَاسِدَةِ وَالْأَقْوَالِ الْبَارِدَةِ. مَا عَلِمَ كُلُّ ذِيْ لُبٍّ وَفَهْمٍ وَحِجًى أَنَّهُمَا كَاذِبَانِ ضَالَّانِ. لَعَنَهُمَا اللهُ. وَكَذٰلِكَ كُلُّ مُدَّعٍ لِذٰلِكَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ حَتّٰى يُخْتَمُوْا بِالْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ. فَكُلُّ وَاحِدٍ مِنْ هٰؤُلَاءِ الْكَذَّابِيْنَ يَخْلُقُ اللهُ مَعَهُ مِنَ الْأُمُوْرِ مَا يَشْهَدُ الْعُلَمَاءُ وَالْمُؤْمِنُوْنَ بِكَذِبِ مَنْ جَاءَ بِهَا. تفسير ابن كثير ج٦ ص ٤٣٠ سورة الاحزاب آية ٤٠.

Scanned with CamScanner

په تحقیق سره الله تعالی په خپل کتاب کې ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په احادیثو متواترهٔ کې دا خبر ورکړی "چې د پیغمبر علیه السلام نه پس بل نبي نشته" دا ددې د پاره چې دا خلق پوهه شي چې د نبي علیه السلام نه پس هر څوک د نبوّت دعوی کوي نو هغه سخت ترین دروغجن ، د ځان نه خبرې جوړوونکی ، دجّال ، ګمراه ، او نور خلق ګمراه کوونکی دی ، اګر چې داسې دروغجن هر څومره خارِقُ العادة کارونه اوکړي او نظربندي اوکړي ، یا قِسماقِسم جادوګري او د لاس چالاکي اوکړي ، دا ټول څیزونه محال او د عقلمندو په نزد ګمراهي ده .

## په دروغه باندې د نبوّت دعوی کوونکي "تصدیق کوونکی" هم مرتد دی

څوک چې په دروغه د نبوّت اوکړي نو لکه څرنګې چې دا کس مرتد او کافر دی نو همدغه شان چې څوک دداسې دروغجن کس تصدیق اوکړي او دده پیغمبرۍ اُومني نو هغه هم مُرتد او کافر دی ، او په دې باندې د ټولو مذاهبو فقهاؤ اتفاق دی .

۱ . علامه ابن قدامة رَحِمَهُ اللَّهُ په المغني کې لیکلي :

وَمَنِ ادَّعَى النُّبُوَّةَ أَوْ صَدَّقَ مَنِ ادَّعَاهُ فَقَدْ ارْتَدَّ ؛ لِأَنَّ مُسَيْلِمَةَ لَمَّا ادَّعَى النُّبُوَّةَ فَصَدَّقَهُ قَوْمُهُ صَارُوا بِذَلِكَ مُرْتَدِّينَ . وَكَذَلِكَ طُلَيْحَةُ الْأَسَدِيُّ وَمُصَدِّقُوهُ . (۱)

څوک چې د نبوّت دعوی اوکړي یا دداسې کس تصدیق اوکړي نو په دې سره دا مُرتد کیږي ؛ ځکه مُسلیمة کذّاب چې کله د نبوّت دعوی اوکړه او دده قوم دده تصدیق اوکړو نو په دې سره دوی ټول مُرتد اوګرځیدل ، همدارنګې طلیحه اسدي چې کله په دروغه د نبوت دعوی نو دا او چا چې دده تصدیق اوکړو دوی ټول مرتد شو .

۲ . د شوافعو په معتد کتاب " مغني المحتاج " کې هغه خبرې ذکر دي چې د هغې په وجه سړی کافر کیږي ، په هغې کې څه خبرې دا هم دي :

---

(۱) المغني لابن قدامة ج ۹ ص ۲۸ کِتَابُ الْمُرْتَدِّ فَصْلٌ ادَّعَى النُّبُوَّةَ أَوْ صَدَّقَ مَنْ ادَّعَاهُ .

Scanned with CamScanner

أَوْ نَفَى نُبُوَّةَ نَبِيٍّ، أَوِ ادَّعَى نُبُوَّةً بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ صَدَّقَ مُدَّعِيهَا. (١)

يا د يو خاص نبي د نبوّت نه انكار اوكړي، يا زمونږ د نبي عليه السلام نه پس په دروغه د نبوّت دعوىٰ اوكړي، يا د دروغجن نبي تصديق اوكړي (نو په دې سره دا كس كافر كيږي)

## ددې اُمت اوّلنى اجماع د ختمِ نبوت په مسئلې مُنعقد شوى

١. علامه انورشاه كشميري رَحِمَهُ اللهُ په خپل آخري كتاب "خَاتَمُ النَّبِيِّيْن" كې ليكلي دي: ددې اُمت (د صحابه كرامو) اوّلنى اجماع په دې باندې منعقد شوى چې مُسَيلِمه كذّاب دې قتل كړې شي؛ دا ځكه چې هغه د نبوت دعوىٰ كړې وه .... بلكه علامه ابن خلدون رَحِمَهُ اللهُ ليكلي چې د نبي عليه السلام نه پس په هره زمانه كې چا د نبوّت دعوىٰ كړې نو د هغه په كافروالي او مرتدوالي باندې ددې اُمت اجماع شوې ده. (٢)

---

(١) پوره عبارت داسې دى: (فَمَنْ نَفَى الصَّانِعَ أَوِ الرُّسُلَ أَوْ كَذَّبَ رَسُولًا أَوْ حَلَّلَ مُحَرَّمًا بِالْإِجْمَاعِ كَالزِّنَا وَعَكْسُهُ. أَوْ نَفَى وُجُوبَ مُجْمَعٍ عَلَيْهِ أَوْ عَكْسَهُ. أَوْ عَزَمَ عَلَى الْكُفْرِ غَدًا أَوْ تَرَدَّدَ فِيهِ كَفَرَ).
(أَوْ نَفَى (الرُّسُلَ) بِأَنْ قَالَ: لَمْ يُرْسِلْهُمُ اللهُ، أَوْ نَفَى نُبُوَّةَ نَبِيٍّ، أَوِ ادَّعَى نُبُوَّةً بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ صَدَّقَ مُدَّعِيهَا. أَوْ قَالَ: النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَدُ أَوْ أَمْرَدُ أَوْ غَيْرُ قُرَشِيٍّ. أَوْ قَالَ النُّبُوَّةُ مُكْتَسَبَةٌ أَوْ تُنَالُ رُتْبَتُهَا بِصَفَاءِ الْقُلُوبِ أَوْ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يَدَّعِ نُبُوَّةً (أَوْ كَذَّبَ رَسُولًا) أَوْ نَبِيًّا أَوْ سَبَّهُ أَوِ اسْتَخَفَّ بِهِ أَوْ بِاسْمِهِ أَوْ بِاسْمِ اللهِ أَوْ أَمْرِهِ أَوْ وَعْدِهِ أَوْ وَعِيدِهِ. أَوْ جَحَدَ آيَةً مِنَ الْقُرْآنِ مُجْمَعًا عَلَى ثُبُوتِهَا. أَوْ زَادَ فِيهِ آيَةً مُعْتَقِدًا أَنَّهَا مِنْهُ. أَوِ اسْتَخَفَّ بِسُنَّةٍ كَمَا لَوْ قِيلَ لَهُ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَكَلَ لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَةَ. فَقَالَ لَيْسَ هَذَا بِأَدَبٍ. أَوْ قِيلَ لَهُ: قَلِّمْ أَظْفَارَكَ فَإِنَّهُ سُنَّةٌ. فَقَالَ لَا أَفْعَلُ وَإِنْ كَانَ سُنَّةً وَقَصَدَ الْإِسْتِهْزَاءَ بِذَلِكَ كَمَا صَوَّبَهُ الْمُصَنِّفُ. أَوْ قَالَ: لَوْ أَمَرَنِي اللهُ وَرَسُولُهُ بِكَذَا لَمْ أَفْعَلْ. أَوْ لَوْ جَعَلَ اللهُ الْقِبْلَةَ هُنَا لَمْ أُصَلِّ إِلَيْهَا. أَوْ لَوِ اتَّخَذَ اللهُ فُلَانًا نَبِيًّا لَمْ أُصَدِّقْهُ. أَوْ لَوْ شَهِدَ عِنْدِي نَبِيٌّ بِكَذَا أَوْ مَلَكٌ لَمْ أَقْبَلْهُ. أَوْ قَالَ: إِنْ كَانَ مَا قَالَهُ الْأَنْبِيَاءُ صِدْقًا نَجَوْنَا. أَوْ لَا أَدْرِي النَّبِيُّ إِنْسِيٌّ أَوْ جِنِّيٌّ. أَوْ قَالَ: إِنَّهُ جِنٌّ. أَوْ صَغَّرَ عُضْوًا مِنْ أَعْضَائِهِ احْتِقَارًا. أَوْ صَغَّرَ اسْمَ اللهِ تَعَالَى. أَوْ قَالَ: لَا أَدْرِي مَا الْإِيمَانُ؟ إِحْتِقَارًا...... (كَفَرَ) جَوَابٌ لِجَمِيعِ مَا مَرَّ مِنَ الْمَسَائِلِ الْمَذْكُورَةِ. مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج  شمس الدين، محمد بن احمد الخطيب الشربيني الشافعي ج٥ ص ٤٢٩ كِتَابُ الرِّدَّةِ.

(٢) خاتم النبيين ص ٦٧، وص ١٩٧.  آئينہ قاديانيت ص ٢٩.

Scanned with CamScanner

۲ . مولانا محمد ادریس کاندهلوي رَحِمَهُ اللهُ هم لیکلي چې ددې اُمت اوّلنی اجماع په دې منعقد شوی چې د نبي علیه السلام نه پس په دروغه څوک د نبوّت دعویٰ اوکړي هغه دې قتل کړې شي . (۱)

۳ . همداسې خبره علامه آلوسي رَحِمَهُ اللهُ هم کړې ده (کومه چې مخکې تیره شوه) . (۲)

٤ . ددینه علاوه نورو ډیرو علماؤ هم په خپلو کتابونو کې په دې باندې اجماع نقل کړی چې د نبي علیه السلام نه پس څوک په دروغه باندې د نبوّت دعویٰ اوکړي هغه مرتد او کافر دی . (۳)

## د ختمِ نبوت نه مُنکِر د اجماع نه هم منکِر دی

امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ لیکلي :

إِنَّ الْأُمَّةَ فَهِمَتْ بِالْإِجْمَاعِ مِنْ هَذَا اللَّفْظِ وَمِنْ قَرَائِنِ أَحْوَالِهِ أَنَّهُ أَفْهَمَ عَدَمَ نَبِيٍّ بَعْدَهُ أَبَدًا وَعَدَمَ رَسُوْلِ اللهِ أَبَدًا ، وَأَنَّهُ لَيْسَ فِيهِ تَأْوِيلٌ وَلَا تَخْصِيصٌ . فَمُنْكِرُ هَذَا لَا يَكُوْنُ إِلَّا مُنْكِرَ الْإِجْمَاعِ . (۴)

یقینًا چې اُمتِ مسلمه په اجماع سره ددې خَاتَمُ النَّبِيِّيْن لفظ او ددې د احوالو نه دا معلومه کړی چې د پیغمبر علیه السلام نه پس به بل نبي او بل رسول نه پیدا کیږي ، او په دې کې هیڅ تأویل او تخصیص نشي کیدی ، پس اوس چې څوک ددینه مُنکِر وي نو هغه به د اِجماع نه مُنکِر وي .

---

(۱) احتساب قادیانیت ج۲ ص۱۹۷ . آئینہ قادیانیت ص ۲۹ .

(۲) وَكَوْنُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ مِمَّا نَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ وَصَدَعَتْ بِهِ السُّنَّةُ وَأَجْمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ فَيُكَفَّرُ مُدَّعِيْ خِلَافِهِ وَيُقْتَلُ إِنْ أَصَرَّ . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ۱۱ ص ۲۱۹ سورة الاحزاب آية ۴۰ .

(۳) یو څو صفحې وړاندې د علماؤ اقوال تیر شو .

(۴) الاقتصاد في الاعتقاد للغزالي ج۱ ص ۱۳۷ الباب الرابع بیان من یجب تکفیره من الفرق.

Scanned with CamScanner

# اِجماع حُجّتِ شرعيه دى

اِجماع چونكه حُجّتِ شرعيه دى، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم فرمايي:

لَنْ تَجْتَمِعَ أُمَّتِيْ عَلَى الضَّلَالَةِ أَبَدًا. (١)

زما اُمت هرگز په گمراهى نه جمع كيږي.

ددې اُمت مجتهدين علماء چې په كوم څيز باندې اجماع اوكړي د هغې منل واجب دي، او د اِجماع حُجّت كيدل ددې اُمت خصوصيت دى. (٢)

---

(١) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ تَجْتَمِعَ أُمَّتِيْ عَلَى الضَّلَالَةِ أَبَدًا، فَعَلَيْكُمْ بِالْجَمَاعَةِ فَإِنَّ يَدَ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ». المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١٣٦٢٣ عَمْرُو بْنُ دِيْنَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٣٩١ كتاب العلم. تبيين الحقائق ج٤ ص ١٢٣، المحيط البرهاني ج٨ ص ١٠، مرقاة المفاتيح ج١ ص٢٢٣.

وفي رواية: عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَنْ يَجْمَعَ اللهُ أُمَّتِيْ عَلَى ضَلَالَةٍ أَبَدًا، وَيَدُ اللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ هٰكَذَا ـ وَرَفَعَ يَدَيْهِ ـ فَإِنَّهُ مَنْ شَذَّ شَذَّ فِي النَّارِ». المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٣٩٤ كتاب العلم، ورقم الحديث ٣٩٧.

(٢) صاحب د توضيح ليكلي: وَالثَّانِيْ: مَا اتَّفَقَ عَلَيْهِ الْمُجْتَهِدُوْنَ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فِيْ عَصْرٍ عَلَى أَمْرٍ فَهٰذَا مِنْ خَوَاصِّ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَإِنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ فَلَا وَحْيَ بَعْدَهُ، وَقَدْ قَالَ اللهُ تَعَالَى {اَلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ} [المائدة: ٣] وَلَا شَكَّ أَنَّ الْأَحْكَامَ الَّتِيْ تَثْبُتُ بِصَرِيْحِ الْوَحْيِ بِالنِّسْبَةِ إِلَى الْحَوَادِثِ الْوَاقِعَةِ قَلِيْلَةٌ غَايَةَ الْقِلَّةِ فَلَوْ لَمْ يُعْلَمْ أَحْكَامُ تِلْكَ الْحَوَادِثِ مِنَ الْوَحْيِ الصَّرِيْحِ وَبَقِيَتْ أَحْكَامُهَا مُهْمَلَةً لَا يَكُوْنُ الدِّيْنُ كَامِلًا فَلَا بُدَّ مِنْ أَنْ يَكُوْنَ لِلْمُجْتَهِدِيْنَ وِلَايَةُ اسْتِنْبَاطِ أَحْكَامِهَا مِنَ الْوَحْيِ، فَإِنِ اسْتَنْبَطَ الْمُجْتَهِدُوْنَ فِيْ عَصْرٍ حُكْمًا، وَاتَّفَقُوْا عَلَيْهِ يَجِبُ عَلَى أَهْلِ ذٰلِكَ الْعَصْرِ قَبُوْلُهُ. فَاتِّفَاقُهُمْ صَارَ بَيِّنَةً عَلَى ذٰلِكَ الْحُكْمِ فَلَا يَجُوْزُ بَعْدَ ذٰلِكَ مُخَالَفَتُهُمْ لِقَوْلِهِ تَعَالَى {وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَهُمُ الْبَيِّنَاتُ} [آل عمران: ١٠٥] وقوله تَعَالَى {وَمَا تَفَرَّقَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْكِتَابَ إِلَّا مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَةُ} [البينة: ٣] وَأَيْضًا قوله تَعَالَى {فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طَائِفَةٌ} [التوبة: ١٢٢] الْآيَةَ. يَدُلُّ عَلَى وُجُوْبِ اتِّبَاعِ كُلِّ قَوْمٍ طَائِفَتَهُ الْمُتَفَقِّهَةَ فَإِنِ اتَّفَقَ الطَّوَائِفُ عَلَى حُكْمٍ لَمْ يُوْجَدْ فِيْهِ وَحْيٌ صَرِيْحٌ وَأَمَرُوْا أَقْوَامَهُمْ بِهِ يَجِبُ قَبُوْلُهُ. فَاتِّفَاقُهُمْ صَارَ بَيِّنَةً عَلَى الْحُكْمِ فَلَا يَجُوْزُ الْمُخَالَفَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ لِمَا ذَكَرْنَا. التوضيح ج ٢ ص ١٠٠ ط مكتبة صبيح بمصر

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

د ختمِ نبوّت مسئله خو د قرآن کريم د صريحو آيتونو او د نبي عليه السلام د متواترو احاديثو نه ثابت ده، او بيا په دې باندې د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجماع هم شوی، نو بيا داسې اجماع خو په طريقِ اولیٰ سره حُجّتِ قاطعه دی، ددې منل فرض دي.

## په دروغه باندې د نبوّت دعویٰ کوونکي نه مُعجزه غوښتل کُفر دی

څوک چې د نبي عليه السلام نه پس په دروغه باندې د نبوّت دعویٰ اوکړي نو دده سزا د مُرتد کيدو په وجه قتلول دي، دده نه به معجزه نشي طلب کولی.

ددې په باره کې درته د فقهاؤ يو څو عبارتونه رانقل کوم:

١. امام عبد الرشيد بخاري په خلاصة الفتاوی کې ذکر کړي:

وَلَوْ اِدَّعَى رَجُلٌ النُّبُوَّةَ فَطَلَبَ رَجُلٌ مِنْهُ الْمُعْجِزَةَ قَالَ بَعْضُهُمْ يَكْفُرُ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ إِنْ كَانَ غَرَضُهُ إِظْهَارُ عَجْزِهِ وَافْتِضَاحُهُ لَا يَكْفُرُ. (١)

که يو کس (د نبي عليه السلام نه پس په دروغه) د نبوّت دعویٰ اوکړي او بل کس د هغه نه معجزه طلب کړي نو د بعضې فقهاء کرامو په نزد دا مُعجزه طلب کوونکی کافر کيږي، او بعضې فقهاؤ ليکلي چې که ددې معجزه طلب کوونکي مقصد د هغه دروغجن عِجز او رَسوائي مقصد وي نو بيا دا معجزه طلب کوونکی نه کافر کيږي.

٢. په فتاوی هنديه کې ذکر دي:

كَذَلِكَ لَوْ قَالَ: أَنَا رَسُوْلُ اللهِ، أَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ: من پيغمبرم. يُرِيدُ بِهِ " من پيغام مى برم " يَكْفُرُ. وَلَوْ أَنَّهُ حِيْنَ قَالَ هَذِهِ الْمَقَالَةَ طَلَبَ غَيْرُهُ مِنْهُ الْمُعْجِزَةَ قِيْلَ يَكْفُرُ الطَّالِبُ. وَالْمُتَأَخِّرُوْنَ مِنَ الْمَشَايِخِ قَالُوْا إِنْ كَانَ غَرَضُ الطَّالِبِ تَعْجِيْزَهُ وَافْتِضَاحَهُ لَا يَكْفُرُ. (٢)

---

(١) خلاصة الفتاوی كتاب الفاظ الكفر الفصل الثاني ج٤ ص ٣٨٦. آئينۂ قاديانيت ص ١٩٦. ختم نبوت كامل ص ٢٠١. لسان الحكام في معرفة الأحكام ج١ ص ٤١٥ فصل فيما يكون كفرا من المُسلم ومالا يكون.

(٢) الفتاوی الهندية كِتَابُ السِّيَرِ اَلْبَابُ التَّاسِعُ فِي أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ مطلب في مُوجِبَاتُ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيْمَانِ وَالْإِسْلَامِ ج٢ ص ٢٦٣.

Scanned with CamScanner

همدارنګې که یو سړی دا اُووایي چې "زه د الله ﷺ رسول یم" یا په فارسۍ کې دا اُووایي چې: من پیغمبرم. زه پیغمبر یم. او اِراده یې په دې سره دا وي چې زه خلقو ته د الله ﷺ پیغام رارسوم (یعنی نبي یم) نو په دې سره هم دا سړی کافر کیږي. او که یو سړي دا پاس خبره اوکړه (یعنی دنبوّت دعوی یې اوکړه) او بل کس دده نه معجزه طلب کړه نو یو قول دا دی چې په دې سره دا معجزه طلب کوونکی کافر کیږي، خو متأخرینو مشائخو ویلي چې که د معجزه طلب کوونکي مقصد د هغه دروغجن عِجز او رَسوائي وي نو بیا دا نه کافر کیږي.

همداسې مسئله په بحرالرائق کې هم ذکر ده. (۱)

۳. علامه انورشاه کشمیري رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب کې ذکر کړي:

وَمَنِ ادَّعَى النُّبُوَّةَ فِيْ زَمَانِنَا فَإِنَّهُ يَصِيْرُ كَافِرًا، وَمَنْ طَلَبَ مِنْهُ الْمُعْجِزَاتِ فَإِنَّهُ يَصِيْرُ كَافِرًا، لِأَنَّهُ شَكَّ فِي النَّصِّ. (۲)

او څوک چې زمونږ په زمانه کې د نبوّت دعوٰی اوکړي نو هغه کافر کیږي، او څوک چې دده نه معجزې طلب کړي نو دا هم ورسره کافر کیږي؛ ځکه دې معجزه طلب کوونکي کس د قرآن کریم په نصِ قطعي کې شک اوکړو.

(ځکه الله تعالی صراحةً فرمایلي چې نبي علیه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ یعنی په ټولو انبیاء کرامو آخري نبي دی). (۳)

---

(۱) وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ: إِنْ كَانَ مَا قَالَ الْأَنْبِيَاءُ حَقًّا أَوْ صِدْقًا. وَبِقَوْلِهِ: أَنَا رَسُوْلُ اللهِ. وَبِطَلَبِهِ الْمُعْجِزَةَ حِيْنَ ادَّعَى رَجُلٌ الرِّسَالَةَ. وَقِيْلَ إِذَا أَرَادَ إِظْهَارَ عَجْزِهِ لَا يَكْفُرُ. البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج٥ ص ١٣٠ بَابُ أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ.

(۲). تمهيد أبي الشكور السالمي. إكفار الملحدين في ضروريات الدِّين لمولانا محمد أنور شاه بن معظم شاه الكشميري الهندي ج۱ ص ٥٦ النقل فيه عن المحدثين والفقهاء والمتكلمين وكبار المحققين وجم غفير من المصنفين.

(۳) الله تعالی فرمایي: ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾ الاحزاب آية ٤٠.

Scanned with CamScanner

نو اوس چې څوک د یو دروغجن نه معجزه طلب کوي نو ده د قرآن مجید په دې صریحي حکم کې شک اوکړو، او په دې سره سړې کافر کیږي.

لهذا دا عقیده لرل فرض دي چې د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم نه پس بل نبي نه پیدا کیږي.

## د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ فتوی

۱ . د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په زمانه کې یو کس د نبوّت دعوی اوکړه، او وې ویل:

أَمْهِلُوْنِيْ حَتّٰى أَجِيْءَ بِالْعَلَامَاتِ.

ماته مُهلت راکړئ چې زه درته د خپل نبوّت علامات پیش کړم.

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ اوفرمایل:

مَنْ طَلَبَ مِنْهُ عَلَامَةً فَقَدْ كَفَرَ لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ: لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ.

چا چې دده نه د علامه طلب کړه نو هغه کافر شو، ځکه نبي علیه السلام فرمایي چې د مانه پس بل نبي نشته. (۱)

۲ . امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ به په چا باندې فتوی لږولو کې ډیر احتیاط کولو، خو چې چا به د نبوّت دعوی اوکړه نو سمدست به یې ورباندې د کُفر فتوی لږوله، او دا به یې فرمایل چې څوک دده نه د دلیل مطالبه اوکړه نو داسې کس هم کافر کیږي.

ددې په باره کې درته یوه واقعه رانقل کوم:

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ ته یو سړی راغی او ورته وې ویل: ما یو کس اُولید چې بغیر د ذبح کولو نه یې غوښه خوره.

امام صاحب ورباندې سمدست فتوی اُو نه لږوله بلکه ورته وې ویل: کیدې شي هغه به د ماهي غوښه خوره، او د ماهي ذبح کولو ضرورت نه وي.

---

(۱) وَتَنَبَّأَ رَجُلٌ فِيْ زَمَنِ أَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ وَقَالَ: أَمْهِلُوْنِيْ حَتّٰى أَجِيْءَ بِالْعَلَامَاتِ. فَقَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ: مَنْ طَلَبَ مِنْهُ عَلَامَةً فَقَدْ كَفَرَ لِقَوْلِهٖ عَلَيْهِ السَّلَامُ (لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ). كذا في مناقب الامام. تفسير روح البيان لعلامه اسماعيل حقي رحمه الله ج۷ ص ۱۸۸ سورة الاحزاب في تفسير آية ۴۰.

Scanned with CamScanner

هغه سړي بيا ورته وويل : هغه کس ډير شريف سړی دی خو په مانځه کې رکوع او سجده نه کوي .

امام صاحب ورته اوفرمايل : تا به هغه د جنازې په مانځه باندې ليدلې وي . او د جنازې په مانځه کې خو رکوع او سجده نشته .

هغه سړي بيا ورته وويل : هغه کس وايي چې يهود او نصاری رېښتيني دي .

امام صاحب ورته اوفرمايل : کيدې شي هغه د قرآن کريم ددې آيت په بُنياد باندې دا خبره کوي چې الله تعالی فرمايي :

﴿ وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَىْءٍ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلٰى شَىْءٍ ﴾ . (١)

ترجمه : او يهوديان وايي چې نصارٰی په هيڅ معتبر دِين باندې ندي ، او نصارٰی وايي چې يهوديان په هيڅ صحيح دِين باندې ندي .

يقيني دواړه ډلې په خپلو خبرو کې رېښتيني دي .

دې سړي به بار بار دلائل پيش کول ددې د پاره چې امام صاحب په هغه کس باندې فتوٰی اولګوي ، خو امام صاحب به ډير احتياط او کوشش کولو چې په هغه باندې بې ځايه فتوٰی اُو نه لګي او د اسلام نه خارج نشي .

همدې امام ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ ته يوه ورځ چا وويل چې : فلانکي کس د نبوّت دعوٰی کړی . امام صاحب ورته سمدست وويل چې : د هغه نبي جوړيدل خو ډيره لرې خبره ده خو که څوک دداسې دروغجَن نه د دليل مطالبه اوکړي نو دا دليل غوښتونکی هم کافر کيږي . (٢)

## د يو مثال په ذريعه وضاحت

د چا اِهانت مې مقصود ندی خو صرف ستاسو د پوهولو د پاره درته يو مثال پيش کوم : که يو کس ته د خپل پلار نه علاوه بل څوک اُو وايي چې :

زه ستا پلار يم او ته د ما نه پيدا شوې يې .

نو آيا دا سړی به د هغه نه دليل طلب کوي او که د هغه غابښونه به ماتوي ؟ د هغه غابښونه

(١) البقرة آية ١١٣ .

(٢) خطبات شاهين ختم نبوت ص ٢٢١ .

Scanned with CamScanner

به ماتوي ، هيڅوک هم ورته دليل نه طلب کوي ؛ دا ځکه چې دې کس ته په يقين سره دا معلومه ده چې زما مور پاکدامنه ده او زه د خپل پلار نه پيدا شوې يم ، د بل چا نه د پيدا کيدو په باره کې هيڅ تصوّر هم نه کوي .

نو چې کله سړی د خپل ځان په باره کې داسې خبره نشي برداشت کولی نو اوس الله تعالی هم فرمايلي چې محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم خَاتَمُ النَّبِيّيْن ( آخري نبي ) دی ، همدارنګې نبي عليه السلام هم په بې شماره احاديثو کې فرمايلي چې زه خَاتَمُ النَّبِيّيْن يم ، د ما نه پس بل هيڅ قِسمه نوې پيغمبر نه پيدا کيږي . نو اوس که څوک مُرتد يا دروغجَن د نبوّت دعوی اوکړي نو آيا مونږ به د هغه نه د دليل مطالبه کوو ؟ هرګز نه ، بلکه داسې کس کذّاب ، مُرتد او کافر دی ، دده قتلول واجب دي .

علماؤ خو تر دې پورې ليکلي چې که يو دروغجَن د نبوّت دعوی اوکړي او بل مسلمان دده په باره کې اِستخاره کوي :

چې آيا دا يقيني پيغمبر دی او که نه ؟

نو په دې اِستخارې سره هم دا کس کافر کيږي ؛ ځکه استخاره خو د هغه څيز په باره کې کيږي چې د هغې دواړه طرفونه برابر وي ، کوم شيان چې يقيني معلوم وي په هغې کې د اِستخارې ګنجائش نشته .

مثلاً که يو کس داسې اِستخاره کوي چې : زما مور زما د پارهٔ حلاله ده او که حرامه ؟ يا شراب زما د پاره حلال دي او که حرام ؟ نو په دې سره هم دا سړی کافر کيږي .

همدغه شان که څوک ددې د پارهٔ اِستخاره کوي : چې د نبي عليه السلام نه پس بل کس نوې پيغمبر پيدا کيدې شي او که نه ؟ نو په دې سره هم دا اِستخاره کوونکی کافر کيږي . (١)

## په دروغه د نبوّت دعوی کوونکي سره د اُمتِ مسلمه عمل

رسولُ الله صلی الله عليه وسلم د مخکې نه پيشن ګوئي کړې چې ډير دروغجَن به د نبوّت

---

(١) خطبات شاهين ختم نبوت ص ٢٣٧ .

دعولی کوي (١) او يقيني چې بعضې خلقو د نبي عليه السلام په زمانه کې او بعضو د صحابه کرامو په زمانه کې ، او بعضو د هغې نه روستو زمانه کې دغه شان د دروغو دعوې کړې وی.

خو اوس دا خبره چې پخپله نبي عليه السلام ، صحابه کرامو ، او نور اُمتِ مسلمه د دغه شان دروغجنو سره څه معامله کړې وه ؟

نو دا خبره أَظْهَرُ مِنَ الشَّمْس ده چې کله هم په اسلامي تاريخ کې چا دغه شان په دروغو د نبوّت دعولی کړی نو د هغه زمانې مسلمانانو ورسره د مُرتد معامله کړی يعنی د اِرتداد په وجه يې قتل کړې دی.

د يو څو کسانو اجمالي تذکره درته کوم ( اګر چې تفصيلي تذکره به يې روستو په مستقله موضوع کې راځي ) :

١ . اَسوَد عَنسي د نبي ﷺ په زمانه کې د نبوّت دعولی اوکړه نو د پيغمبر عليه السلام په حکم سره په صحابه کرامو کې د يو صحابي " فيروز " په لاس باندې قتل شو . (٢)

---

(١) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي . سنن ابي داود كِتَابُ الْفِتَنِ وَالْمَلَاحِمِ بَابُ ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلَائِلِهَا رقم الحديث ٤٢٥٢ قال الالباني: صحيح . سنن الترمذي أَبْوَابُ الْفِتَنِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ كَذَّابُونَ رقم الحديث ٢٢١٩ وقال الترمذي : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٢٣٩٥ .

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: « لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَقْتَتِلَ فِئَتَانِ فَيَكُونَ بَيْنَهُمَا مَقْتَلَةٌ عَظِيمَةٌ ، دَعْوَاهُمَا وَاحِدَةٌ ، وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُبْعَثَ دَجَّالُونَ كَذَّابُونَ قَرِيبًا مِنْ ثَلَاثِينَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ رَسُولُ اللهِ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ عَلَامَاتِ النُّبُوَّةِ فِي الْإِسْلَامِ رقم الحديث ٣٦٠٩ ، و رقم الحديث ٧١٢١ كِتَابُ الْفِتَنِ ، بَابُ خُرُوجِ النَّارِ . صحيح مسلم كتاب الْفِتَنِ وَأَشْرَاطِ السَّاعَةِ بَابُ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ بِقَبْرِ الرَّجُلِ ، فَيَتَمَنَّى أَنْ يَكُونَ مَكَانَ الْمَيِّتِ مِنَ الْبَلَاءِ رقم الحديث ٨٤ (١٥٧) .

(٢) قَالَ أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ: سمعت أَبَا حُصَيْنٍ يَقُولُ: مَا وُلِدَ بَعْدَ النَّبِيِّينَ مَوْلُودٌ أَفْضَلُ مِنْ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، لَقَدْ قَامَ مَقَامَ نَبِيٍّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فِي قِتَالِ أَهْلِ الرِّدَّةِ ، وَكَانَ قَدِ ارْتَدَّ فِي حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ فِرَقٍ : مِنْهُمْ: بَنُو مدلج ، ورئيسهم ذو الخمار عيهلة بْنُ كَعْبٍ الْعَنْسِيُّ ، وَيُلَقَّبُ بِالْأَسْوَدِ . ←←←

Scanned with CamScanner

٣ . همدارنګې مُسَیلمه کذّاب د نبي علیه السلام په زمانه کې د نبوّت دعویٰ کړې وه ، بیا حضرت ابوبکر صدیق ؓ په خپل دورِ خلافت کې حضرت خالد بن ولید ؓ د هغه د مقابلې د پاره اُولیږل ، د مسلمانانو په دې لښکر کې حضرت وَحشي ؓ هم وُ ، د مسیلمه کذّاب سره سخته مقابله اوشوه ، آخر د هغه فوج شکست اُوخوړ ، او حضرت وحشي ؓ هغه په نېزه باندې اُووهل ، او مرداریې کړو . (١)

---

←←← وَكَانَ كَاهِنًا مُشَعْبِذًا فَتَنَبَّأَ بِالْيَمَنِ وَاسْتَوْلَى عَلَى بِلَادِهَا، فَكَتَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ؓ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَحُثُّوا النَّاسَ عَلَى التَّمَسُّكِ بِدِينِهِمْ، وَعَلَى النُّهُوضِ إِلَى حَرْبِ الْأَسْوَدِ، فَقَتَلَهُ فَيْرُوزُ الدَّيْلَمِيُّ عَلَى فِرَاشِهِ، قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: فَأَتَى الْخَبَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ السَّمَاءِ اللَّيْلَةَ الَّتِي قُتِلَ فِيهَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُتِلَ الْأَسْوَدُ الْبَارِحَةَ قَتَلَهُ رَجُلٌ مُبَارَكٌ» . قِيلَ: وَمَنْ هُوَ؟ قَالَ: «فَيْرُوزُ» ، فَبَشَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ بِهَلَاكِ الْأَسْوَدِ، وَقُبِضَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَدِ وَأَتَى خَبَرُ مَقْتَلِ الْعَنْسِيِّ الْمَدِينَةَ فِي آخِرِ شَهْرِ ربيع الأول بعد ما خَرَجَ أُسَامَةُ وَكَانَ ذَلِكَ أَوَّلَ فتح، جاء أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤ .

(١) وَالْفِرْقَةُ الثَّانِيَةُ: بَنُو حَنِيفَةَ بِالْيَمَامَةِ و رئيسهم مسيلمة الكذاب، وَكَانَ قَدْ تَنَبَّأَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ سَنَةِ عَشْرٍ، وَ زَعَمَ أَنَّهُ أُشْرِكَ مَعَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النُّبُوَّةِ، وَكَتَبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ مُسَيْلِمَةَ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الْأَرْضَ نِصْفُهَا لِي وَنِصْفُهَا لَكَ. وَبَعَثَ بِذَلِكَ إِلَيْهِ مَعَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا» ، ثُمَّ أَجَابَ: «مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ» ، وَمَرِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُوُفِّيَ، فَبَعَثَ أَبُو بَكْرٍ ؓ خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ ؓ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ فِي جَيْشٍ كَثِيرٍ حَتَّى أَهْلَكَهُ اللهُ عَلَى يَدَيْ وَحْشِيٍّ ؓ ، غُلَامِ مُطْعِمِ بْنِ عَدِيٍّ الَّذِي قَتَلَ حَمْزَةَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ ؓ ، بَعْدَ حَرْبٍ شَدِيدٍ، وَكَانَ وَحْشِيٌّ ؓ يَقُولُ: قَتَلْتُ خَيْرَ النَّاسِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَشَرَّ النَّاسِ فِي الْإِسْلَامِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤ .

Scanned with CamScanner

٣ . د حضرت ابوبكر صديق ﷺ په زمانه كې يو كس " طُلَيحه أسدي " د نبوّت دعولى اوكړه ، حضرت ابوبكرصديق ﷺ د هغه د قتلولو د پاره حضرت خالد بن وليد ﷺ وراوليږل خو هغه د څه مقابلې كولو نه پس شام طرف ته اُوتختيد او بچ شو ، بيا د حضرت ابوبكر صديق ﷺ د وفات كيدو نه پس دا كس پخپله مسلمان شو .(١)

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ په فتح الباري كې هم د قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ په حواله ددې دريو كسانو تذكره كړې .(٢)

---

(١) وَالفِرقَةُ الثَّالِثَةُ : بَنُو أَسَدٍ وَرَئِيسُهُمْ طُلَيْحَةُ بن خويلد، وَكَانَ طُلَيْحَةُ آخِرَ مَنِ ارْتَدَّ، وَادَّعَى النُّبُوَّةَ فِي حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوَّلَ مَنْ قُوتِلَ بَعْدَ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ الرِّدَّةِ، فَبَعَثَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ خالد بن الوليد ﷺ فَهَزَمَهُمْ خَالِدٌ بَعْدَ قِتَالٍ شَدِيدٍ، وَأَفْلَتَ طُلَيْحَةُ فَمَرَّ عَلَى وَجْهِهِ هَارِبًا نَحْوَ الشَّامِ، ثُمَّ إِنَّهُ أَسْلَمَ بَعْدَ ذَلِكَ وَحَسُنَ إِسْلَامُهُ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤ .

(٢) قَالَ القَاضِيُّ عِيَاضٌ وَغَيْرُهُ كَانَ أَهْلُ الرِّدَّةِ ثَلَاثَةَ أَصْنَافٍ : صِنفٌ عَادُوا إِلَى عِبَادَةِ الأَوْثَانِ ، وَصِنفٌ تَبِعُوا مُسَيْلِمَةَ وَالأَسْوَدَ العَنْسِيَّ ، وَكَانَ كُلٌّ مِنْهُمَا ادَّعَى النُّبُوَّةَ قَبْلَ مَوْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَصَدَّقَ مُسَيْلِمَةَ أَهْلُ اليَمَامَةِ وَجَمَاعَةٌ غَيْرُهُمْ ، وَصَدَّقَ الأَسْوَدَ أَهْلُ صَنْعَاءَ وَجَمَاعَةٌ غَيْرُهُمْ . فَقُتِلَ الأَسْوَدُ قَبْلَ مَوْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَلِيلٍ وَبَقِيَ بَعْضُ مَنْ آمَنَ بِهِ فَقَاتَلَهُمْ عُمَّالُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ ﷺ . وَأَمَّا مُسَيْلِمَةُ فَجَهَّزَ إِلَيْهِ أَبُو بَكْرٍ ﷺ الجَيْشَ وَعَلَيْهِمْ خَالِدُ بْنُ الوَلِيدِ ﷺ فَقَتَلُوهُ. وَصِنفٌ ثَالِثٌ اسْتَمَرُّوا عَلَى الإِسْلَامِ لَكِنَّهُمْ جَحَدُوا الزَّكَاةَ وَتَأَوَّلُوا بِأَنَّهَا خَاصَّةٌ بِزَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمُ الَّذِينَ نَاظَرَ عُمَرُ ﷺ أَبَا بَكْرٍ ﷺ فِي قِتَالِهِمْ . فتح الباري شرح صحيح البخاري لابن حجر رحمه الله ج١٢ ص ٢٧٦ قَوْلُهُ بَابُ قَتْلِ مَنْ أَبَى قَبُولَ الفَرَائِضِ .

علامه ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ د يو بل حديث په تشريح كې ليكلي : وَرَوَى أَبُو يَعْلَى بِإِسْنَادٍ حَسَنٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ تَسْمِيَةَ بَعْضِ الكَذَّابِينَ المَذْكُورِينَ بِلَفْظِ لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ ثَلَاثُونَ كَذَّابًا مِنْهُمْ مُسَيْلِمَةُ وَالعَنْسِيُّ وَالمُخْتَارُ . قُلْتُ وَقَدْ ظَهَرَ مِصْدَاقُ ذَلِكَ فِي آخِرِ زَمَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ مُسَيْلِمَةُ بِاليَمَامَةِ وَالأَسْوَدُ العَنْسِيُّ بِاليَمَنِ . ثُمَّ خَرَجَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ ﷺ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ ←←←←←←←

Scanned with CamScanner

۴ . د خليفه عبدالملک بن مروان په زمانه کې يو کس " حارث " د نبوّت دعوی اوکړه ، خليفه د هغه وخت د علماؤ په فتوی سره هغه قتل کړو ، بيا يې په سُولۍ باندې اُوځيجول.

قاضي عياض رَحِمَهُ اللهُ په شفاء کې ليکلي:

وَقَدْ قَتَلَ عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ مَرْوَانَ الْحَارِثَ الْمُتَنَبِّي وَصَلَبَهُ . وَفَعَلَ ذَلِكَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْخُلَفَاءِ وَالْمُلُوكِ بِأَشْبَاهِهِمْ ، وَأَجْمَعَ عُلَمَاءُ وَقْتِهِمْ عَلَى صَوَابِ فِعْلِهِمْ . وَالْمُخَالِفُ فِي ذَلِكَ مِنْ كُفْرِهِمْ كَافِرٌ . (١)

عبدالملک بن مروان بادشاه "حارث" لره قتل کړو کوم چې د نبوّت دعوی کړې وه ، بيا يې په سُولۍ کړو ، او همدغه شان کار نورو خلفاؤ او بادشاهانو هم د هغه خلقو سره کړې وُ کومو چې د نبوّت دعوی کړې وه ، او د هغې زمانې ټولو علماؤ په دې باندې اتفاق کړې وُ چې دې بادشاهانو دا صحيح کار اوکړو ، او څوک چې ددغه شان نبوت دعوی کوونکو خلقو په کُفر کې مخالفت کوي نو داسې خلق پخپله کافران دي .

۵ . د خليفه هارون الرشيد په زمانه کې يو کس د نبوّت دعوی اوکړه نو هارون الرشيد د هغه وخت د علماؤ په فتوی سره دا کس د اِرتداد په وجه قتل کړو ، او بيا يې د عبرت د پاره رازوړند (په سُولۍ) کړو . (٢)

---

←←← فِي بَنِي أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ وَسَجَاحُ التَّمِيمِيَّةُ فِي بَنِي تَمِيمٍ ، وَفِيهَا يَقُولُ شَبِيبُ بْنُ رِبْعِيٍّ وَكَانَ مُؤَذِّنَهَا:

أَضْحَتْ نَبِيَّتُنَا أُنْثَى نُطِيفُ بِهَا ✡ وَأَصْبَحَتْ أَنْبِيَاءُ النَّاسِ ذُكْرَانَا

وَقُتِلَ الْأَسْوَدُ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَقُتِلَ مُسَيْلِمَةُ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه ، وَتَابَ طُلَيْحَةُ وَمَاتَ عَلَى الْإِسْلَامِ عَلَى الصَّحِيحِ فِي خِلَافَةِ عُمَرَ رضي الله عنه . وَنُقِلَ أَنَّ سَجَاحَ أَيْضًا تَابَتْ ؟ وَأَخْبَارُ هَؤُلَاءِ مَشْهُورَةٌ عِنْدَ الْإِخْبَارِيِّينَ . فتح الباري ج ٦ ص ٦١٧ في تشريح رقم الحديث ٣٦٠٩ .

(١) الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج ٢ ص ٦٣١ اَلْفَصْلُ السَّادِسُ حُكْمُ ادِّعَاءِ الْإِلَهِيَّةِ أَوِ الْكَذِبِ والبهتان عَلَى اللهِ .

(٢) ومنهم من تنبى بعد في أيام الرشيد رجل زعم أنه نوح، فقيل له: أنت نوح الذي كان أم نوح آخر؟ قال: أنا نوح الذي لبث في قومه ألف سنة إلا خمسين عامًا وقد بعثت إليكم لأفي الخمسين عاماً تمام الألف سنة. فأمر الرشيد بضربه وصلبه، فمر به بعض المخنثين وهو مصلوب فقال: صل الله عليك يا أبانا، ما حصل في يدك من سفينتك إلا دقلها! وهو الذي يكون في وسط السفينة كجذع طويل. المحاسن والمساوى لإبراهيم بن محمد البيهقي ج١ ص ١٥ .

Scanned with CamScanner

٦ . يو ځل په خلافتِ عباسيه کې لس کسانو د نبوّت دعوىٰ اوکړه ، د مامون الرشيد بادشاه مخې ته ټول راوستې شو ، ده تحقيق اوکړو ، بيا يې حکم اوکړو چې ټول قتل کړئ ، نو ټول يې اُووژل . (١)

بلکه د اُمتِ مسلمه څوارلس سوه (١۴٠٠) کاله تاريخ په دې باندې ګواه دی چې کله هم چا د نبي عليه السّلام نه پس د نبوّت دعوىٰ کړی نو د هغه وخت اسلامي حکومت د هغه نه هيڅ معجزه او دليل ندې غوښتی بلکه د اِرتداد په وجه يې قتل کړې دی ، او هيچا ددې مخالفت ندې کړی ، بلکه ټولو علماؤ او فقهاؤ ددې تائيد کړی چې دا يې سَم روغ کار کړی.

افسوس صَد افسوس ، چې په نزدې وخت کې ميرزا غلام احمد قادياني او د هغه په شان نورو مُرتدينو د نبوّت دعوىٰ کړې وه خو د اسلامي حکومت د نشت والي په وجه او د مسلمانانو د کمزورۍ په وجه د دوی سره د مُرتدينو په شان معامله اُونشوه ، بلکه علماؤ ورسره د مجبوريت په وجه د مناظرې لار غوره کړه . دا ځکه چې د قاديانو شاته ډير غيرمُسلم قوّتونه موجود وو چې د مسلمانانو خلاف يې مختلف سازشونه کول .

که چيرته په دُنيا کې د اسلامي حکومت غلبه وی نو هيڅ کله به دغه شان مُرتدينو د يَرې نه د نبوّت دعوىٰ نه وه کړی ؛ ځکه هغوی ته به معلومه وه چې که زه د نبوّت دعوىٰ اوکړم نو زما سزا صرف او صرف قتلول دي .

ليکن نن صبا چې هر مُرتد او لعين راپاڅي ، کله د نبوّت او کله نورې دعوې کوي لو دا ځکه چې دوی ته معلومه ده چې اسلامي نِظام نشته ، جمهوريت دی ، د بيان آزادي ده ، چې هر قِسمه دعوې اوکړی څوک درته څه نشي ويلی .

خو بيا هَم نااُميده کيدل ندي په کار ؛ ځکه الله تعالى په هره زمانه کې داسې ځوانان پيدا کوي چې د هغوی سِينې د اِيمان په رڼا باندې مُنوّرې وي ، د هغوی په زړونو کې اسلامي جذبه وي ، که هغوی ته معلومه شي چې چا د نبوّت دعوىٰ کړی نو د خپل سَر په قربانۍ سره هغه جهنم ته رسوي .

همدارنګې که چيرته يو ځل بيا په هر مُلک کې اسلامي نِظام نافذ شي نو اِن شاء الله د

---

(١) المه تلبيس ص ٧٢٣ .

دغه شان مرتدینو سره به د حضرت ابوبکر صدیق ﷺ سُنت دوباره راژوندي کولې شي، او داسې یو وخت به راشي چې بیا به څوک د قادیانانو نوم هم په خُله وانخلي. -

مولانا انورشاه کشمیري رَحِمَهُ اللهُ به فرمایل چې کله د قادیانانو فِتنه راپورته شوه نو ما به دا سوچ کولو چې " یا الله ! دا به اوس څه کیږي ؟ " نو په خُوب کې مې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم زیارت نصیب شو ، هغوی راته اوفرمایل :

انورشاه ! د پریشانه کیدو ضرورت نشته داسې یو وخت به راځي چې په ټوله دُنیا کې به د ډیر تلاش باوجود یو قادیانې هم نه پیدا کیږي . (١)

## د ختمِ نبوّت عقیدې د دِفاع د پاره د صحابه کرامو قرباني

د ختمِ نبوّت عقیدې د دِفاع د پاره صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ډیره قرباني ورکړې، د خپلو وِینو او سرونو په قربانۍ سره یې ددې عقیدې دِفاع کړې، خپل وجود یې ټوټې ټوټې کړې خو د بل دروغجَن کس پیغمبري یې نده منلې .

ددې په باره کې درته د یو صحابي واقعه ذکر کوم :

## د حضرت حبیب بن زید انصاري ﷺ قرباني

نبي کریم صلی الله علیه وسلم حضرت حبیب بن زید انصاري ﷺ لره مُسَیلمه کذّاب طرف ته اُولیږل (چې د هغه احوال معلوم کړي ، مُسَیلمه کذّاب ته چې دا معلومه شوه نو هغه دا صحابي سمدست گرفتار کړو او خپل مجلس ته یې رااُوغوښت ) .

کله به چې مُسَیلمه کذّاب حضرت حبیب بن زید ﷺ ته وویل :

أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ ؟

آیا ته دا گواهي ورکوې چې محمد ( صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) د الله رسول دی ؟

ده به ورته وویل : آو ( زه دا گواهي ورکوم ) .

خو چې کله به ورته مُسَیلمه کذّاب وویل : أَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ ؟

آیا ته دا گواهي ورکوې چې زه مسیلمه د الله رسول یم ؟

---

(١) خطبات شاهین ختم نبوت ص ٢٠٢ .

Scanned with CamScanner

نو دې صحابي به ورته ووېل: أَنَا أَصَمُّ لَا أَسْمَعُ. زه ګونګ يم، ستا خبره نه اورم.

(مقصد يې دا وُ چې زما غوږونه داسې بې هوده خبرو اورېدو ته تيار ندي).

مُسَيلمه كذّاب څو پېرې ددې صحابي نه همدا پوښتنه اوكړه، ده به ورته همدا جواب وركول.

(يعنی چې كله به مُسَيلمه كذّاب د نبي عليه السلام متعلق پوښتنه ورنه اوكړه نو دې صحابي به ويل چې زه دا ګواهي وركوم چې هغه د الله رسول دی، خو چې كله به مُسَيلمه كذّاب د خپل ځان متعلق پوښتنه ورنه اوكړه: چې آيا زه د الله رسول يم؟ نو دې صحابي به ورته ويل چې زه ګونګ يم ستا خبره نه اورم).

مُسَيلمه كذّاب به په هره پېره ددې صحابي د وجود نه يو يو اندام كټ كولو تر دې چې ددې صحابي دواړه لاسونه او دواړه خپې كټ شوی، بلكه جسم يې ټوټې ټوټې شو خو بيا يې هم د مُسَيلمه كذّاب پيغمبري او نه منله، او په همدې حالت كې دا صحابي شهيد شو. (١)

## ابو مُسلم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ د ختمِ نبوّت عقيدې د دفاع د پاره اور ته غوږ ځيدل برداشت كړل

تابعينو هم د ختمِ نبوّت عقيدې د دِفاع د پاره ډېره قرباني وركړې.

---

(١) حَبِيْبُ بْنُ زَيْدِ الْأَنْصَارِيِّ الْخَزْرَجِيُّ هُوَ الَّذِيْ أَرْسَلَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مُسَيْلَمَةِ الْكَذَّابِ الْحَنَفِيِّ صَاحِبِ الْيَمَامَةِ. فَكَانَ مُسَيْلَمَةُ إِذَا قَالَ لَهُ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. وَإِذَا قَالَ: أَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ؟ قَالَ: أَنَا أَصَمُّ لَا أَسْمَعُ. فَفَعَلَ ذٰلِكَ مِرَارًا. فَقَطَعَهُ مُسَيْلَمَةُ عُضْوًا عُضْوًا. فَمَاتَ شَهِيْدًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. اسد الغابة في معرفة الصحابة ج ١ ص ٦٧٥ حبيب بن زيد بن عاصم

دا واقعه په حلية الاولياء كې داسې ذكر ده: حَبِيْبُ بْنُ زَيْدٍ رضي الله عنه: وَذَكَرَ حَبِيْبَ بْنَ زَيْدِ بْنِ عَاصِمٍ الْأَنْصَارِيَّ الْأَزْدِيَّ، مِنْ بَنِي النَّجَّارِ، وَنَسَبَهُ إِلَى أَهْلِ الصُّفَّةِ، وَصُحِّفَ وَإِنَّمَا هُوَ مِنْ أَهْلِ الْعَقَبَةِ. أَخَذَهُ مُسَيْلَمَةُ الْكَذَّابُ فَجَعَلَ يَقُوْلُ لَهُ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ؟ فَيَقُوْلُ: «نَعَمْ» فَيَقُوْلُ: أَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ؟ فَيَقُوْلُ: «لَا أَسْمَعُ» فَقَطَعَهُ مُسَيْلَمَةُ. وَكَانَتْ أُمُّ حَبِيْبٍ اسْمُهَا نُسَيْبَةُ مِنْ أَهْلِ الْعَقَبَةِ، فَخَرَجَتْ فِيْ خِلَافَةِ أَبِيْ بَكْرٍ رضي الله عنه مَعَ الْمُسْلِمِيْنَ إِلَى مُسَيْلَمَةَ فَبَاشَرَتِ الْحَرْبَ بِنَفْسِهَا، حَتّٰى قُتِلَ مُسَيْلَمَةُ، وَرَجَعَتْ إِلَى الْمَدِيْنَةِ وَبِهَا عَشْرُ جِرَاحَاتٍ مِنْ طَعْنَةٍ وَضَرْبَةٍ. حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج ١ ص ٣٥٥ ذِكْرُ أَهْلِ الصُّفَّةِ حَبِيْبُ بْنُ زَيْدٍ

Scanned with CamScanner

ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ مشهور تابعي دی، دده خپل نوم عبدالله بن ثوب رَحِمَهُ اللهُ وُ ،ده د نبي عليه السلام په زمانه کې ايمان راوړي وُ خو د څه عُذر په وجه د پيغمبر عليه السلام په مجلس کې د حاضريدو موقع ورته ملاوُ نه شوه.

د نبي عليه السلام په زمانه کې په يمن کې يو دروغجَن کس پيدا شو ، نوم يې اَسْوَد عَنْسي وُ ، دې اَسود عَنسي د نبوّت دعوٰی اوکړه ، خلق يې په زُوره د ديته مجبور کړل چې په ده باندې ايمان راوړي .

دې اَسود عَنسي د ابومسلم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ پسې جواب وراُوليږل ، کله چې ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ ورغی نو هغه ورنه پوښتنه اوکړه :

أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُوْلُ اللهِ ؟

آيا ته دا ګواهي ورکوی چې محمّد صلی الله عليه وسلم د الله تعالی رسول دی ؟

ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل : آو ( زه دا ګواهي ورکوم ) .

اَسود عَنسي ورته بيا وويل :

فَتَشْهَدُ أَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ ؟

آيا ته دا ګواهي ورکوی چې زه (اَسود عَنسي) د الله رسول يم ؟

ده ورته وويل :

مَا أَسْمَعُ . زه ( ستا خبره ) نه اَورم.

دې اَوريدو سره اَسود عنسي په غصه شو ، حکم يې اوکړو چې ډير زيات خشاک راجمع کړئ ، (کله يې چې خشاک راجمع کړل نو ) اَور يې بل کړو ، کله چې د اَور لمبې تېزې شوې نو ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ يې په کې اُوغورځول .

( الله تعالی په ابومسلم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ باندې هم اَور د حضرت ابراهيم عليه السلام په شان ګُلِ ګُلزار کړو ) اَور په ده باندې هيڅ اَثر اونکړو ، او د اَور نه صحيح سالِم رااُووت .

اَسود عَنسي ته د حکومت مشرانو مشوره ورکړه چې ابومسلم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ د دې خپل مُلک نه اُوباسه ؛ ځکه که دا دلته پاتې شي نو دا به ستا د پاره خطره وي .

نو اَسود عَنسي ده ته د ملک نه د وتلو حکم اوکړو .

ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ د يمن نه مدينې منوّرې ته راغی ، په دې وخت کې رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفات شوې وُ او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه خليفه (اميرُالمؤمنين) وُ .

کله چې مسجدِ نبوي ته راأورسيد نو ددې دروازې سره يې خپله أوښه کينوله او په جُمات کې يې د يوې ستَنې سره مونځ کول شروع کړو .

په جُمات کې حضرت عُمر رضي الله عنه هم وُ د هغه ورباندې نظر أولږيد ، ده چې مونځ خلاص کړو نو حضرت عُمر رضي الله عنه ورته راغی او پوښتنه يې ورنه اوکړه :

مِنْ أَيْنَ الرَّجُلُ؟ ته د کوم ځای نه راغلی يې ؟

ده ورته وويل چې د يمن نه راغلې يم.

حضرت عُمر رضي الله عنه ورنه پوښتنه اوکړه :

فَمَا فَعَلَ عَدُوُّ اللهِ بِصَاحِبِنَا الَّذِيْ حَرَّقَهُ بِالنَّارِ فَلَمْ تَضُرَّهُ ؟

د الله دُشمن (اَسود عنسي) زمونږ د ملګري سره بيا څه عمل اوکړو کوم يې چې په أور کې اچولې وُ او أور په هغه اَثر اونکړو ؟ (او د هغه څه نوم وُ ؟ )

ابومُسلِم خَولاني رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل : د هغه کس نوم عبدالله بن ثوب دی.

حضرت عمر رضي الله عنه په خپل فِراست سره معلومه کړه چې هغه کس همدا دی ، نو پوښتنه يې ورنه اوکړه : نَشَدْتُكَ بِاللهِ أَنْتَ هُوَ ؟

زه تا ته د الله قسَم درکوم چې آيا هغه کس همدا ته يې ؟

ابومُسلِم رَحِمَهُ اللهُ ورته وويل : آو ، هغه زه يم.

نو حضرت عُمر رضي الله عنه (د ډيرې خوشحالۍ نه) ده ته تَندې چَپ (بُنګل) کړو ، او بيا يې حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته بوتللو .

د حضرت ابوبکر رضي الله عنه او خپل مينځ کې يې کينول ، حضرت ابوبکر رضي الله عنه او فرمايل :

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ لَمْ يُمِتْنِيْ مِنَ الدُّنْيَا حَتّٰى أَرَانِيْ فِيْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فُعِلَ بِهِ كَمَا فُعِلَ بِإِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلِ الرَّحْمٰنِ عَلَيْهِ السَّلَامُ .

ټول تعريفونه هغه الله لره دي چې زما د مرګ نه مخکې يې ما ته د محمّد رّسول الله صلی

الله علیه وسلم په امت کې داسې کس اوخود چې د هغه سره هم د حضرت ابراهیم علیه السلام په شان کار شوی.

(یعنی اسود عنسي دا اور ته اچولې ؤ خو اور په ده باندې اثر اونکړو). (۱)

---

(۱) عَنْ شُرَحْبِيلَ الْخَوْلَانِيِّ، قَالَ: بَيْنَا الْأَسْوَدُ بْنُ قَيْسِ بْنِ ذِي الْحِمَارِ الْعَنْسِيُّ بِالْيَمَنِ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبِي مُسْلِمٍ رَحِمَهُ اللهُ ، فَقَالَ لَهُ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: «نَعَمْ» قَالَ: فَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: «مَا أَسْمَعُ» قَالَ: فَأَمَرَ بِنَارٍ عَظِيمَةٍ فَأُجِّجَتْ وَطُرِحَ فِيهَا أَبُو مُسْلِمٍ رَحِمَهُ اللهُ فَلَمْ تَضُرَّهُ. فَقَالَ لَهُ أَهْلُ مَمْلَكَتِهِ: إِنْ تَرَكْتَ هَذَا فِي بَلَدِكَ أَفْسَدَهَا عَلَيْكَ. فَأَمَرَهُ بِالرَّحِيلِ فَقَدِمَ الْمَدِينَةَ وَقَدْ قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاسْتُخْلِفَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ فَعَقَلَ رَاحِلَتَهُ عَلَى بَابِ الْمَسْجِدِ وَقَامَ إِلَى سَارِيَةٍ مِنْ سَوَارِي الْمَسْجِدِ يُصَلِّي إِلَيْهَا ، فَبَصُرَ بِهِ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَأَتَاهُ فَقَالَ: مِنْ أَيْنَ الرَّجُلُ؟ قَالَ: مِنَ الْيَمَنِ. قَالَ: فَمَا فَعَلَ عَدُوُّ اللهِ بِصَاحِبِنَا الَّذِي حَرَّقَهُ بِالنَّارِ فَلَمْ تَضُرَّهُ؟ قَالَ: «ذَاكَ عَبْدُ اللهِ بْنُ ثَوْبٍ» قَالَ: نَشَدْتُكَ بِاللهِ أَنْتَ هُوَ؟ قَالَ: «اللَّهُمَّ نَعَمْ» قَالَ: فَقَبَّلَ مَا بَيْنَ عَيْنَيْهِ ثُمَّ جَاءَ بِهِ حَتَّى أَجْلَسَهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَبِي بَكْرٍ ﷺ وَقَالَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي لَمْ يُمِتْنِي مِنَ الدُّنْيَا حَتَّى أَرَانِي فِي أُمَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ فُعِلَ بِهِ كَمَا فُعِلَ بِإِبْرَاهِيمَ خَلِيلِ الرَّحْمَنِ عَلَيْهِ السَّلَامُ . حلية الأولياء وطبقات الأصفياء ج٢ ص ١٢٩ أَبُو مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ رَحِمَهُ اللهُ. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير باب معجزات النبي ﷺ تفوق معجزات الأنبياء السابقين اَلْقَوْلُ فِيمَا أُوتِيَ إِبْرَاهِيمُ الْخَلِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ ص۲۰۳.

دا واقعه په صحیح ابن حبان کې داسې ذکر ده: قَالَ أَبُو حَاتِمٍ: أَبُو مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيُّ اسْمُهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ ثَوْبٍ، يَمَانِيٌّ، تَابِعِيٌّ، مِنْ أَفَاضِلِهِمْ وَأَخْيَارِهِمْ، وَهُوَ الَّذِي قَالَ لَهُ الْعَنْسِيُّ: أَتَشْهَدُ أَنِّي رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: لَا. قَالَ: أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ؟ قَالَ: نَعَمْ. فَأَمَرَ بِنَارٍ عَظِيمَةٍ، فَأُجِّجَتْ وَخَوَّفَهُ أَنْ يَقْذِفَهُ فِيهَا إِنْ لَمْ يُوَاتِهِ عَلَى مُرَادِهِ، فَأَبَى عَلَيْهِ. فَقَذَفَهُ فِيهَا. (فَلَمْ تَضُرَّهُ) فَاسْتَعْظَمَ ذَلِكَ. وَأَمَرَ بِإِخْرَاجِهِ مِنَ الْيَمَنِ. فَأُخْرِجَ فَقَصَدَ الْمَدِينَةَ فَلَقِيَ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ فَسَأَلَهُ مِنْ أَيْنَ أَقْبَلَ؟ فَأَخْبَرَهُ. فَقَالَ لَهُ: مَا فَعَلَ الْفَتَى الَّذِي أُحْرِقَ؟ فَقَالَ: لَمْ يَحْتَرِقْ. فَتَفَرَّسَ فِيهِ عُمَرُ أَنَّهُ هُوَ. فَقَالَ: أَقْسَمْتُ عَلَيْكَ بِاللهِ، أَنْتَ أَبُو مُسْلِمٍ؟ قَالَ: نَعَمْ. فَأَخَذَ بِيَدِهِ عُمَرُ حَتَّى ذَهَبَ بِهِ إِلَى أَبِي بَكْرٍ، فَقَصَّ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ، فَسُرَّا بِذَلِكَ، وَقَالَ: أَبُو بَكْرٍ: الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَرَانَا فِي هَذِهِ الْأُمَّةِ مَنْ أُحْرِقَ فَلَمْ يَحْتَرِقْ، مِثْلَ إِبْرَاهِيمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. صحيح ابن حبان. مخرجا. ذكر ايجاب محبة الله للمتناصحين والمتباذلين فيه رقم الحديث ٥٧٧

همدارنګې حافظ ابن عساکر رحمه الله هم دا واقعه په متعددو طریقو سره رانقل کړې.

Scanned with CamScanner

## حضرت زید بن خارجه ﷺ د وفات کیدو نه پس هم د ختمِ نبوّت ګواهي ورکړه

مولانا مفتي محمد شفیع رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب " ختمِ نبوّت " کې دا واقعه رانقل کړې:

حضرت نعمان بن بشیر ﷺ فرمایي چې حضرت زید بن خارجة ﷺ د انصارو په سردارانو کې وُ ، یوه ورځ دا د مدینې منوّرې په یوه لاره تیریدو چې ناڅاپه په زمکه راأوغورځید ، او وفات شو ، انصار چې خبر شو نو راغلل ، دا یې کور ته وې ورو ، هلته یې وریاندې څادر واچول ، خلق ورته راجمع شو .

د ماښام او ماسخوتن په مینځ مینځ کې ناڅاپه یو آواز راغی :

" تاسو چُپ شئ ، تاسو چُپ شئ "

خلق حیران شو ، اخوا دیخوا یې کتل چې دا آواز د کوم ځای نه راځي ؟ د ډیر تحقیق نه پس ورته معلومه شوه چې دا آواز د هغه څادر د لاندې نه راأوځي په کوم کې چې دا مړې ایخې وُ . خلقو د حضرت زید بن خارجة ﷺ د مخ نه څادر لرې کړو نو وې کتل چې دده د خُلې نه دا آواز راوتلو :

مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ النَّبِيُّ الْأُمِّيُّ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدَهٗ .

محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی ، نبي اُمّي دی ، خَاتَمُ النَّبِيِّيْن ( د انبیاء کرامو سلسله ختموونکی ) دی ، دده نه پس بل نبي نشته . (١)

## د نبي ﷺ په باره کې د توهین او سَپکاوي کلمات ویل د کُفر او اِرتداد سبب دی

د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په باره کې د توهین او سپکاوي کلمات وِیل د کُفر سبب دی ، د داسې کس د پاره توبه ، تَجدید د اِیمان ، او تجدید دنکاح ضروري دی . (٢)

---

(١) ختم نبوت کامل لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله ص ٣٣٥ .

(٢) قال الحصکفي رَحِمَهُ اللهُ : والکافر بِسَبِّ نَبِيٍّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ .... لکن صرّح في آخر الشفاء بأنّ حُکمَه کالمرتدّ ، وَمَفَادُه قبول التوبة .... ولفظ النتف : مَنْ سَبَّ الرّسولَ صلی الله علیه وسلم فإنّه مرتدٌ ←←←

Scanned with CamScanner

او که دا توبه نهٔ وباسي او همداسې د توهين او سپکاوي کلمات وايي نو دا سړی مُرتد او کافر دی، او د مُرتد سزا قتل ده. (١)

## د رسولُ الله ﷺ په ذات او صفاتو باندې تنقيد کول د ايمان منافي خبره ده

د دواړو جهانو سردار، اِمامُ المُرسلين، سيّدُالأوّلين والآخِرين محمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم د الله ﷻ په نزد د ټولو مخلوقاتو نه مُقرّب، محبوب او بهتر دی. (٢)

حضرت آدم عليه السلام او نور ټول مخلوقات به د دوی د جَنډې د لاندې وي، او په لاس مبارک کې به ورسره "لِوَاءُ الحَمْد" وي. (٣)

د معراج په شپه "مقام ادنٰى" او "قاب قوسين" د دوی سره خاص دی. (٤)

"الوسيلة" "شفاعتِ کُبرٰی" د دوی حق دی. (٥)

د دې نه علاوه نورې بې شماره صفتونه د نبي عليه السلام سره خاص دي.

---

←←← وحكمه حكم المرتد، ويفعل به ما يفعل بالمرتد. الدر المختار ج٣ ص٣١٧، ٣١٩ مطلب مهم في حكم سباب الانبياء. فتاوى فريديه ج١ ص٩٦ فصل في كلمات الكفر.

(١) پوره تفصيل په فتاوى حقانيه ج١ کې د صفحه ٢٧٦ نه تر ٢٨٧ پورې ذکر دی، هلته دې اوکتې شي.

(٢) ووطئه مَكَانًا مَا وطئه نَبِيٌّ مُرسَلٌ وَلَا مَلَكٌ مُقَرَّبٌ. الخصائص الكبرى ج٢ ص١٨٥ باب اختصاص النبي صلى الله عليه وسلم بانه اول النبيين خلقا و تقدم نبوته. طبع دارالكتب العلمية بيروت. فتاوى محموديه ج٣ ص٢٤١ حاشيه نمبر ١ رسالت، نبوت، ختم نبوت وغيره.

(٣) بِيَدِي لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، آدمُ فَمَنْ دُوْنَهُ تَحْتَ لِوَائِي وَلَافَخْرَ. مسند احمد ج١ ص٢٨١ مسند عبدالله بن عباس طبع دارالفكر بيروت، الخصائص الكبرى ج٢ ص٢٢٤ باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بالمقام المحمود طبع دارالكتب العلمية بيروت، فتاوى محموديه ج٣ ص٢٤١ حاشيه نمبر ٢.

(٤) اختصاصه صلى الله عليه وسلم بأنه اوّلُ النبيّين و بالاسراءِ والعلو الى قَابَ قَوْسَيْنِ. الخصائص الكبرى ج٢ ص١٨٥ باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بانه اول النبيين، و راجع روح المعاني سورة النجم ص٢٧/٥٢.

(٥) إختِصَاصُهُ صلّى اللهُ عليه وسلم بِالْمَقَامِ الْمَحْمُوْدِ وبِالشَّفَاعَةِ الْعُظْمٰى في فصل القضاء. الخصائص الكبرى باب اختصاصه صلى الله عليه وسلم بالمقام المحمود طبع دارالكتب العلمية بيروت.

Scanned with CamScanner

لهذا د دوی په ذات او صفاتو کې عیبونه راویستل یا پرې تَنقید کول د ایمان منافي خبره ده.(١)

## د نبي علیه السلام په خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کیدو باندې اِجمالي غټ دلائل

١ . الله تعالی د قرآن کریم په سلو (١٠٠) آیتونو کې صراحةً او اشارةً دا خبره واضحه کړی چې نبي علیه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) دی ، او په دې آیتونو کې د هیڅ تأویل او تخصیص احتمال نشته.

د الله تعالی دا ګواهي د نبي علیه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کیدو د پاره کافي ده.

٢ . یو لک او څلیریشت زره (١٢٤٠٠٠) کم و زیات پیغمبران تیر شوي په دې کې به چې کوم پیغمبر دُنیا ته راتلو نو هغه خلقو ته ددې خبر هم ورکړی چې د آخرې زمانې پیغمبر خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د هغه نه پس به بل پیغمبر نه پیدا کیږي.

په تفسیر رُوح المعاني کې د آخذِ میثاق په تفسیر کې ذکر دي چې په آزل کې الله تعالی د انبیاء کرامو نه کومه وعده اخیستې وه په هغې کې دا هم وو چې تاسو به په دُنیا کې د محمّد رّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کیدو اعلان هم کوی.

دغه وجه ده چې هر نبي دُنیا ته راغلی نو د محمّد رّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کیدو اعلان یې هم کړی.

٣ . بیا کله چې نبي علیه السلام پخپله دُنیا ته تشریف راوړو نو د نبوّت ملاویدو نه پس یې په دوه سوه او لس (٢١٠) صحیح احادیثو کې په مختلفو عبارتونو سره خپل اُمت ته دا خبره واضحه کړه چې زه خَاتَمُ النَّبِيِّيْن یم ، د مانه پس به بل هیڅ قِسمه نبي او رسول نه پیدا کیږي.

---

(١) فتاوی محمودیه ج٣ ص ٢٤١ رسالت ، نبوت ، ختم نبوت وغیره.

Scanned with CamScanner

٤ . د نبي عليه السلام نه پس په لكونو صحابه كرام او تابعين تير شوي هغوى ټولو په اتفاق سره دا خبره كړى چې د پيغمبر عليه السلام نه پس بل هيڅوك نبي نشي پيدا كيدى.
بلكه د صحابه كرامو اوّلنى اجماع په همدې منعقد شوى چې څوك پيغمبر عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن نه مني نو هغه مُرتد او كافر دى.
او مُسَيلمه كذّاب چې په دروغه د نبوّت دعوىٰ كړې وه نو ټولو صحابه كرامو په اتفاق د هغه سره جهاد اوكړو، مُسيلمه او د هغه ملګري يې مردار كړل.

٥ . د صحابه كرامو نه پس په لكونو مُحدّثين او مُفسّرين تير شوي دوى د قرآن كريم د هر هر لفظ تشريح كړى، دوى ټولو په خپلو كتابونو او تفاسيرو كې دا خبره ليكلى چې محمّد رّسولُ الله ﷺ خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دى، او څوك چې د دوى نه پس په دروغه د هر قِسمه نبوّت دعوىٰ كوي هغه كس قطعي كافر، مُرتد او د جّال دى، د هغه قتلول واجب دي.

٦ . همدارنګې د څلورو مشهورو مذاهبو فقهاء او بيا ټول اُمتِ مسلمه په دې متّفق دى چې نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دى، او څوك چې د دوى نه پس په دروغه د نبوّت دعوىٰ كوي نو هغه كس مُرتد او كافر دى.

٧ . همدارنګې د دې اُمت ټول مُتكلِمين علماء او صوفياء كرام هم په دې متفق دي چې پيغمبر عليه السلام آخري نبي دى، د دوى نه پس دُنيا ته بل نبي نه راځي.
بهر حال د قرآن كريم د صريحو آيتونو، د ټولو پيغمبرانو، د ټولو صحابه كرامو، د ټولو تابعينو، مُفسّرِينو، مُحدِّثينو او فقهاؤ د شهادتونو نه پس چې اوس څوك په دروغه د نبوّت يا رسالت دعوىٰ كوي نو هغه بِالاتفاق كافر، مرتد او دجال دى.
لهذا د دينه معلومه شوه چې ميرزا غلام احمد قادياني لعين كوم چې د نبوّت دعوىٰ كړى دا مُرتد، كافر، دجّال او كذّاب دى. (١)

---

(١) ختم نبوّت كامل لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ٢٣٧.

Scanned with CamScanner

# د ټول تقریر خلاصه

د ټول تقریر خلاصه دا راااووته چې د حضرت آدم علیه السلام نه د انبیاء کرامو کومه سلسله شروع شوې وه هغه په نبي علیه السلام باندې ختمه شوی.

محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی آخِري نبي او رسول دی ، د دوی نه پس تر قیامته پورې بل نبي نه پیدا کیږي.

د ختمِ نبوّت دا عقیده د اسلام په بُنیادي عقائدو کې شامل ده ، د دینه بغیر سړی مسلمان نشي کیدی.

ټول اسلامي تاریخ په دې باندې ګواه دی چې چا هم د نبي علیه السلام نه پس د نبوّت دعولی کړی نو د هغه وخت مسلمانانو د اِرتداد په وجه هغه مردار کړی.

د ختمِ نبوّت عقیدې د دِفاع د پاره صحابه کرامو او نور اُمتِ مُسلمه ډیرې قربانئ ورکړي، خپلو وجودونه یې ټوټې ټوټې کړي خو د بل چا نبوّت یې ندې منلی.

لهذا اوس چې څوک په دروغه د نبوّت یا رسالت دعولی کوي نو داسې کس کافر ، او مُرتد دی ، د اِرتداد په وجه دده قتلول واجب دي.

## دُعا

الله تعالی دې مونږ او تاسو ټول د ختمِ نبوّت په دې ښائسته عقیده باندې مضبوط لري.

ربِ کائنات دې مونږ ټول د هر قِسمه فِتنو او شرونو نه محفوظ اُوساتي.

پروردِګارِ عالَم دې زمونږ د ټولو د اِیمانونو ، عقائدو ، اَعمالو ، اَخلاقو او حیاء حفاظت اوکړي. او مونږ ټول دې د بې حیایۍ او فحاشۍ د سیلاب نه اُوساتي.

الله تعالی دې مونږ ټولو ته په شریعت باندې اِستقامت او د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق رانصیب کړي.

آمِیْن یَارَبَّ الْعَالَمِیْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

Scanned with CamScanner

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنۡ رِّجَالِكُمۡ وَلٰكِنۡ رَّسُوۡلَ اللّٰهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ وَكَانَ اللّٰهُ بِكُلِّ شَىۡءٍ عَلِيۡمًا ﴾

الاحزاب آية ۴۰ .

# په دروغه د نبوّت دعوى كوونكو خلقو احوال

تاليف

اَبُو الشَّمۡس مولانا نُوۡرُ الۡهُدٰى عُفِيَ عَنۡهُ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# په دروغه د نبوّت دعوی کوونکو خلقو احوال

بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ، وَعَلٰى آلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَمَنْ وَّالَاهُ.
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ. قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ:

﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ اَبَآ اَحَدٍ مِّنْ رِّجَالِكُمْ وَلٰكِنْ رَّسُوْلَ اللهِ وَخَاتَمَ النَّبِيّٖنَ ۭ وَكَانَ اللهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمًا﴾. (١)

وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ سَيَكُوْنُ فِيْ أُمَّتِيْ كَذَّابُوْنَ ثَلَاثُوْنَ، كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ، وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لَا نَبِيَّ بَعْدِيْ. (٢)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ.

## د ختمِ نبوّت عقيده د اسلام په بُنياد عقائدو کې شامل ده

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو! د ختمِ نبوّت عقيده د اسلام په بُنيادي عقائدو کې شامل ده "يعنی دا عقيده لرل چې د حضرت آدم عليه السلام نه د انبياء كرامو كومه سلسله شروع شوې وه هغه په نبي عليه السلام باندې ختمه شوی، محمّدُ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم د الله تعالی آخري نبي او رسول دی، د دوی نه پس تر قيامته پورې بل نوې نبي نه پيدا کيږي". ددې عقيدې نه بغير سړی مسلمان نشي کيدی.

دا عقيده د قرآن کريم د سلو (١٠٠) آيتونو، او تقريبًا د دوه سوه لس (٢١٠) صحيح احاديثو نه ثابت ده.

---

(١) الاحزاب آية ٤٠.

(٢) سنن ابي داؤد كِتَابُ الْفِتَنِ وَالْمَلَاحِمِ بَابُ ذِكْرِ الْفِتَنِ وَدَلَائِلِهَا رقم الحديث ٤٢٥٢ قال الالباني: صحيح. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْفِتَنِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَخْرُجَ كَذَّابُوْنَ رقم الحديث ٢٢١٩ وقال الترمذي: هٰذَا حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ. مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٢٣٩٥.

يو لک او ځليريشت زره (۱۲۴۰۰۰) کم و زيات پيغمبران تير شوي په دوی کې چې څوک هم دُنيا ته راغلی نو هغه خپل اُمت ته دا خبره هم کړی چې د آخري زمانې پيغمبر خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د هغه نه پس به بل نبي نه پيدا کيږي .

په لکونو صحابه کرام رضي الله عنهم او تابعين تير شوي هغوی ټولو په اتفاق سره دا خبره کړی چې د پيغمبر عليه السلام نه پس بل هيڅوک نبي نشي پيدا کيدی .

د صحابه کرامو نه پس په لکونو مُحدِّثين ، مُفسِّرين ، فقهاء ، مُتکلِمين او صوفياء ، بلکه ټول اُمتِ مُسلمه په دې متّفِق دی چې د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم نه پس تر قيامته پورې بل نوې نبي يا رسول نه پيدا کيږي .

د ختمِ نبوّت عقيدې د دِفاع د پاره صحابه کرامو او نور اُمتِ مُسلمه ډيرې قربانۍ ورکړې، د هر کذّاب سره يې جهاد کړی ، او هغه يې مردار کړی .

لهذا اوس چې څوک په دروغه د نبوّت يا رسالت دعوی کوي نو داسې کس کافر ، او مُرتد دی ، د اِرتداد په وجه دده قتلول واجب دي .

( دا موضوع په تفصيل سره مخکې تېره شوی ) .

## د هغه خلقو احوال کومو چې په دروغه د نبوّت دعوی کړې وه

په نن موضوع کې به اِن شاء الله زه تاسو ته د هغه خلقو احوال بيانوم چې هغوی د نبي عليه السلام په زمانه کې ، يا د دوی نه پس په دروغه د نبوّت دعوی کړې وه خو صحابه کرامو رضي الله عنهم او نورو په دِين مَيِنو مسلمانانو په ډيرې زره وَرتيا سره دا فِتنه ختمه کړی ، او روستو اُمتِ مسلمه ته يې دا پيغام پريخی چې څوک هم په دروغه د نبوّت دعوی اوکړي نو د هغه سزا د اِرتدار په وجه قتلول دي .

اوس درته د يو څو دروغجَنو څه احوال ذکر کوم ، کومو چې د نبوّت دعوی کړې وه :

## د نبي عليه السلام د بيمارۍ خبر خوَريدو سره مُفسدِينو د نبوّت دعوې اوکړی

کله چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د حجّة الوَداع نه مدينې منوّرې ته راواپس شو نو په يوولسم (۱۱) هجري کې بيمار شو ، کله چې د دوی د بيمارۍ خبر خُور شو نو بعضې مُفسدينو سرونه راپورته کړل ، او د نبوّت دعوې يې اوکړی ، په هغې کې آسود عَنسي ،

طُلیحه أسدي ، مُسَیلمة کذّاب ، او سجاح بنت حارث شامل دي .(١)

دوی دا ګمان کولو چې لکه څرنګې محمّد رسولُ الله ﷺ کامیاب شو نو همدغه شان به مونږ هم کامیاب شو ، خو الله تعالی دا ټول شرمیدلي ناکامه کړل .

## د مخکې نه نبي علیه السلام ته په خُوب کې د دوه دروغجنو پیشن ګوئي

د بخاري شریف حدیث دی : رسولُ الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې ماته په خُوب کې دا أوخودلې شو چې زما په لاس کې د سروزرو دوه بَنګړي ایخودل شوي ، زه ددینه أوویریدم او ما دا بَد أوګنړل ، بیا ماته حکم اوکړې شو ، او ما دې دواړو بَنګړو ته پُو کې

(١) عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ يَسَارٍ ، قَالَ : أَوَّلُ رِدَّةٍ كَانَتْ فِي الْعَرَبِ مُسَيْلِمَةُ بِالْيَمَامَةِ فِي بَنِي حَنِيفَةَ ، وَالْأَسْوَدُ بْنُ كَعْبٍ الْعَنْسِيُّ بِالْيَمَنِ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَخَرَجَ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ الْأَسَدِيُّ فِي بَنِي أَسَدٍ يَدَّعِي النُّبُوَّةَ يَسْجَعُ لَهُمْ . السنن الكبرى للبيهقي ج ٨ ص ٣٠٤ رقم ١٦٧٢٧ بَابُ مَا جَاءَ فِي قِتَالِ الضَّرْبِ الْأَوَّلِ مِنْ أَهْلِ الرِّدَّةِ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ ... ﴾ وَتَعَرَّضَ الْمُفَسِّرُونَ هُنَا لِمَنِ ارْتَدَّ فِي قِصَّةٍ طَوِيلَةٍ نَخْتَصِرُهَا ، فَنَقُولُ : اِرْتَدَّ فِي زَمَانِ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَذْحِجٌ وَرَئِيسُهُمْ عَبْهَلَةُ بْنُ كَعْبٍ ذُو الْخِمَارِ ، وَهُوَ الْأَسْوَدُ الْعَنْسِيُّ قَتَلَهُ فَيْرُوزٌ عَلَى فِرَاشِهِ ، وَأَخْبَرَ الرَّسُولُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَتْلِهِ ، وَسَمَّى قَاتِلَهُ لَيْلَةَ قُتِلَ ، وَمَاتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَدِ ، وَأَتَى خَبَرُ قَتْلِهِ فِي آخِرِ رَبِيعٍ الْأَوَّلِ . وَبَنُو حَنِيفَةَ رَئِيسُهُمْ مُسَيْلِمَةُ قَتَلَهُ وَحْشِيٌّ رضي الله عنه ، وَبَنُو أَسَدٍ رَئِيسُهُمْ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ هَزَمَهُ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ رضي الله عنه ، وَأَفْلَتَ ثُمَّ أَسْلَمَ وَحَسُنَ إِسْلَامُهُ . هَذِهِ ثَلَاثُ فِرَقٍ اِرْتَدَّتْ فِي حَيَاةِ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَتَنَبَّأَ رُؤَسَاؤُهُمْ .

وَارْتَدَّ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَبْعُ فِرَقٍ . فَزَارَةُ قَوْمُ عُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنٍ ، وَغَطَفَانُ قَوْمُ قُرَّةَ بْنِ سَلَمَةَ الْقُشَيْرِيِّ ، وَسُلَيْمٌ قوم الفجاه بن عبد يا ليل ، وَيَرْبُوعٌ قَوْمُ مَالِكِ بْنِ نُوَيْرَةَ ، وَبَعْضُ تَمِيمٍ قَوْمُ سَجَاحِ بِنْتِ الْمُنْذِرِ وَقَدْ تَنَبَّأَتْ وَتَزَوَّجَهَا مُسَيْلِمَةُ وَقَالَ الشَّاعِرُ :

أَضْحَتْ نَبِيَّتُنَا أُنْثَى نَطِيفُ بِهَا ✡ وَأَصْبَحَتْ أَنْبِيَاءُ اللهِ ذُكْرَانَا

وَقَالَ أَبُو الْعَلَاءِ الْمَعَرِّيُّ :

أَمَّتْ سَجَاحِ وَوَالَاهَا مُسَيْلِمَةُ ✡ كَذَّابَةٌ فِي بَنِي الدُّنْيَا وَكَذَّابُ

البحر المحيط في التفسير ج ٣ ص ٢٩٧ سورة المائدة في تفسير آية ٥٣ .

وركړو ، نو دواړه والوتل (ختم شو) . نبي عليه السلام فرمايي :

فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ .

ما ددې خُوب دا تعبير اوكړو چې دا دوه دروغجَن دي (كوم چې به په دروغه د نبوّت دعوىٰ كوي) .

راوي د حديث فرمايي چې په دې دوه دروغجنو كې يو اَسودعَنسي دى كوم لره چې فَيرُوز نومې كس په يمن كې قتل كړو ، او دويم مُسَيلمه كذّاب دى (په يمامه كې ، كوم لره چې حضرت وحشي ﷺ قتل كړو) . (١)

## ١. اَسوَد عَنسِي

د اَسْوَد عَنْسِي خپل نوم عَيهله بن كعب العَنْسي وُ ، خو د رَنګ نه تور وُ نو ځكه ورته اَسود ويلې شي (اَسود په عربئ كې تور ته وايي) . عَنس په يمن كې يو ځاى دى هغې طرف ته منسوب دى .

اَسْوَد عَنْسِي په جاذُوګرئ ، د لاس په صفايئ او نظربَندئ كې ډير مشهور وُ ، دهٔ د نبي عليه السلام په آخري وخت كې د نبوّت دعوىٰ اوكړه .

نبي عليه السلام په يمن كې يوولس (١١) حاكمان مقرر كړي وو ، په صنعاء بنار باندې

---

(١) قَالَ: عُبَيْدُ اللهِ بْنُ عَبْدِ اللهِ: سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنْ رُؤْيَا رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِي ذَكَرَ. فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : ذُكِرَ لِي أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . قَالَ : « بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ أُرِيتُ أَنَّهُ وُضِعَ فِي يَدَيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ فَفُظِعْتُهُمَا وَكَرِهْتُهُمَا، فَأُذِنَ لِي فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا ، فَأَوَّلْتُهُمَا كَذَّابَيْنِ يَخْرُجَانِ » فَقَالَ عُبَيْدُ اللهِ : أَحَدُهُمَا الْعَنْسِيُّ الَّذِي قَتَلَهُ فَيْرُوزُ بِالْيَمَنِ ، وَالْآخَرُ مُسَيْلِمَةُ الْكَذَّابُ . صحيح البخاري رقم الحديث ٤٣٧٩ بَابُ قِصَّةِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ ، ورقم الحديث ٧٠٣٣ بَابُ إِذَا طَارَ الشَّيْءُ فِي الْمَنَامِ . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٢٣٧٣ .

وفي رواية : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ إِذْ أُوتِيتُ خَزَائِنَ الْأَرْضِ، فَوُضِعَ فِي يَدَيَّ سِوَارَانِ مِنْ ذَهَبٍ، فَكَبُرَا عَلَيَّ وَأَهَمَّانِي ، فَأُوحِيَ إِلَيَّ أَنِ انْفُخْهُمَا ، فَنَفَخْتُهُمَا فَطَارَا ، فَأَوَّلْتُهُمَا الْكَذَّابَيْنِ اللَّذَيْنِ أَنَا بَيْنَهُمَا : صَاحِبَ صَنْعَاءَ ، وَصَاحِبَ الْيَمَامَةِ . صحيح البخاري رقم الحديث رقم الحديث ٧٠٣٧ بَابُ النَّفْخِ فِي الْمَنَامِ .

Scanned with CamScanner

یې شهر بن باذان ﷺ حاکم مقرر کړې ؤ .

د اسود عنسي سره اُووه سوه (٧٠٠) تجربه کار جنګیالي کسان وو ، کله چې ده د نبوّت دعوی اوکړه نو اول یې په نجران علاقه باندې حمله اوکړه او هغه یې اُونیوه ، بیا یمن طرفته متوجِّه شو ، په صنعاء ښار باندې یې حمله اوکړه ، دلته اسلامي حاکم شهر بن باذان ﷺ ده مقابله اوکړه خو آخر شهر بن باذان ﷺ شهید شو .

آسود عَنسي په زُوره باندې د شهر بن باذان ﷺ بي بي چې نوم یې " آزاد " وه دا یې په خپله نکاح کې راوسته .

آسودِ عنسي چونکه ډیر مکار او چالاکه سړې ؤ ، په سِحر او جادوګرۍ کې یې پوره مهارت لرل نو ځکه یې خلق متأثره کړي وو ، او په لږ وخت کې یې په ټول یمن باندې قبضه اوکړه .

## د یمن واله خلقو ته د نبي علیه السلام خط

نبي علیه السلام د یمن واله خلقو ته خط اولیکل ، په هغې کې یې مسلمانانو ته ترغیب ورکړو چې په اسلام باندې مضبوط پاتې شي ، او عامو مسلمانانو ته یې حکم کړې ؤ چې د آسود عنسي مقابله دې اوکړي او هغه دې قتل کړي .

په دې خط سره د یمن په مسلمانانو کې قوّت پیدا شو او د آسود عَنسي د مقابلې د پاره تیار شو .

آسود عنسي چونکه د شهر بن باذان ﷺ بي بي چې نوم یې " آزاد " وه په زُوره په خپله نکاح کې راوستې وه دا هم ورنه سخته تَنګه وه ، د مسلمانانو یو جماعت په پټه د آسود عنسي د قتلولو مشوره اوکړه .

ډیر خلق په ظاهره د آسود عنسي سره وو خو په پټه د مسلمانانو سره ملګري وو ، په دوی کې فَیروز دَیلمي ﷺ هم ؤ ، چې دا د " آزاد " د تره ځوي ؤ او د نجاشي بادشاه د خُور ځوي (خُورَین) ؤ ، دا چې ددې واقعې نه خبر شو نو د آزاد د مدد د پاره راغی .

دې خلقو ددې " آزاد " سره په پټه مشوره اوکړه چې آسود عنسي قتل کړي ، هغې ورسره دا خبره اُومنله .

آخر دوی په دې خپله منصوبه کې کامیاب شو ، د شپې د طرفه د کور شاه د طرف نه ورغلل ، په دیوال کې یې سُوري اوکړو ؛ ځکه په دروازه باندې ځای په ځای پهره داران ولاړ وو ، فَیروزدَیلمي ﷺ او دده ملګري دننه ورننوتل ، فَیروزدَیلمي ﷺ د اَسودعنسي څټ تاؤ کړو او مرداریې کړو .

اَسود عنسي د مرداریدو په وخت ډیر خَرارې شروع کړو ، بهر په دروازه کې پهره دارانو دا خرارې واورید ، هغوی رامنده کړه ، پوښتنه یې اوکړه چې دا څه چَل دی ؟

" آزاد " ورته وویل : تاسو چُپ شئ ، شور مه کوئ ؛ ځکه اَسودعنسي ته وَحي راروانه ده . ( دا یې هسې هغوی ته وویل چې پهره داران مطمئِن شي ) ، پهره داران واپس لاړل ، ځکه هغوی خو اَسودعنسي په پیغمبرۍ منلو ، هغوی دا ګمان اوکړو چې ګني یقیني به ورته وَحي راروانه وي .

اَسود عنسي هماغه شان خرارې کولو ، آخر د فَیروز دَیلمي ﷺ یو ملګرې ورغی او د اَسودعنسي نه یې سر په توره باندې اُووهل .

صحابه کرامو د سهر په اَذان کې د اَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللهِ ویلو نه پس دا وویل : اَشۡهَدُ اَنَّ عَيۡهَلَةَ كَذَّابٌ . ( زه دا ګواهي ورکوم چې عیهله یعنی اَسودعنسي دروغجن دی ) .

د آذان نه پس یې د اَسودعنسي سَر د کافرانو مخې ته ورګوزار کړو . ددینه پس په ټول یمن باندې واپس د مسلمانانو قبضه راغله .

په کومه شپه باندې چې اَسود عنسي مردار شو نو په همدغه شپه باندې رسولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم ته د وَحي په ذریعه باندې ددې ټولې واقعې خبر ورکړې شو .

ددې شپې په سهر باندې نبي علیه السلام صحابه کرامو رضي الله عنهم ته د اَسودعنسي د قتل کیدو خوشخبري واوروله ، او صحابه کرامو ته یې اوفرمایل :

قُتِلَ الۡأَسۡوَدُ الۡبَارِحَةَ قَتَلَهُ رَجُلٌ مُبَارَكٌ .

بیګاه شپه اَسودعنسي قتل کړې شو ، یو مبارک سړي هغه لره قتل کړو .

صحابه کرامو د نبي علیه السلام نه پوښتنه اوکړه : دا مبارک سړی څوک دی ؟

پیغمبر علیه السلام ورته اوفرمایل :

فَيْرُوْزُ . دا مبارک سړی فیروز دی .

په یو روایت کې راځي چې نبي علیه السلام صحابه کرامو ته دا افرمایل :

قَتَلَهُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَيْرُوْزُ، فَازَ فَيْرُوْزُ، فَازَ فَيْرُوْزُ .

آسود عنسي لره یو نېک سړي " فیروز " قتل کړې دی ، فیروز کامیاب شو ، فیروز کامیاب شو .

ددې واقعې نه یوه ورځ پس رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو .

د یمن نه چې صحابه کرامو کوم قاصد نبي علیه السلام ته رالیږلې وُ چې دوی ته د آسود عنسي د قتل کېدو خبر ورکړي دا قاصد مدینې منوّرې د ربیعُ الاول میاشتې په آخري ورځو کې راأورسید ، په دې وخت کې نبي علیه السلام وفات شوې وُ ، او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د مسلمانانو خلیفه وُ . (١)

مفسّرینو او مُحدّثینو دا واقعه په تفصیل سره رانقل کړی . (٢)

---

(١) آئینہ قادیانیت ص ١٢٣، ائمہ تلبیس ص ٢٥ .

(٢) په تفسیر بغوي کې ذکر دي : قَالَ أَبُوْ بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ: سَمِعْتُ أَبَا حُصَيْنٍ يَقُوْلُ: مَا وُلِدَ بَعْدَ النَّبِيِّيْنَ مَوْلُوْدٌ أَفْضَلُ مِنْ أَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. لَقَدْ قَامَ مَقَامَ نَبِيٍّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فِيْ قِتَالِ أَهْلِ الرِّدَّةِ، وَكَانَ قَدِ ارْتَدَّ فِيْ حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُ فِرَقٍ : مِنْهُمْ: بَنُوْ مدلج ، و رئيسهم ذو الخمار عيهلة بْنُ كَعْبٍ الْعَنْسِيُّ، وَيُلَقَّبُ بِالْأَسْوَدِ. وَكَانَ كَاهِنًا مُشَعْبِذًا فَتَنَبَّأَ بِالْيَمَنِ وَاسْتَوْلَى عَلَى بِلَادِهَا. فَكَتَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رضي الله عنه وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ. وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَحُثُّوا النَّاسَ عَلَى التَّمَسُّكِ بِدِيْنِهِمْ. وَعَلَى النُّهُوْضِ إِلَى حَرْبِ الْأَسْوَدِ. فَقَتَلَهُ فَيْرُوْزُ الدَّيْلَمِيُّ عَلَى فِرَاشِهِ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: فَأَتَى الْخَبَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ السَّمَاءِ اللَّيْلَةَ الَّتِيْ قُتِلَ فِيْهَا. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « قُتِلَ الْأَسْوَدُ الْبَارِحَةَ قَتَلَهُ رَجُلٌ مُبَارَكٌ » . قِيْلَ: وَمَنْ هُوَ؟ قَالَ: « فَيْرُوْزُ » . فَبَشَّرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصْحَابَهُ بِهَلَاكِ الْأَسْوَدِ. وَقُبِضَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْغَدِ وَأَتَى خَبَرُ مَقْتَلِ الْعَنْسِيِّ الْمَدِيْنَةَ فِيْ آخِرِ شَهْرِ ربيع الأول بعد ما خَرَجَ أُسَامَةُ وَكَانَ ذَلِكَ أَوَّلَ فتح، جاء أَبُوْ بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤ . التفسير المظهري ج٣ ص ١٢٩ . ←←←←←

Scanned with CamScanner

بیا خاصکر علامه ابن اثیر رَحِمَهُ اللهُ په "الكامل في التاريخ" کې دا واقعه په پوره تفصیل سره ذکر کړی. (١)

---

←←← ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ د فيروز ديلمي رضي الله عنه په باره کې ليکلي دي: وَفَدَ فَيْرُوزُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَهُوَ قَاتِلُ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ الْكَذَّابِ الْمُدَّعِي لِلنُّبُوَّةِ ، قَتَلَهُ فِي آخِرِ حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، وَ وَصَلَ خَبَرُ قَتْلِهِ إِيَّاهُ إِلَيْهِ فِي مَرَضِ الْمَوْتِ فَقَالَ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ : « قَتَلَهُ الرَّجُلُ الصَّالِحُ فَيْرُوزُ، فَازَ فَيْرُوزُ. فَازَ فَيْرُوزُ » ، وَيُقَالُ: إِنَّ فَيْرُوزَ ابْنُ أُخْتِ النَّجَاشِيِّ، رَوَى عَنِ ابْنِ الضَّحَّاكِ، وَعَبْدِ اللهِ، وَغَيْرِهِمَا. تُوُفِّيَ فِي خِلَافَةِ عُثْمَانَ رضي الله عنه، وَقِيلَ: فِي زَمَنِ مُعَاوِيَةَ بَعْدَ الْخَمْسِينَ كَذَا فِي تَهْذِيبِ الْأَسْمَاءِ .... وَالدَّيْلَمِيُّ بِفَتْحِ الدَّالِ مَنْسُوبٌ إِلَى الدَّيْلَمِ، هُوَ الْجَبَلُ الْمَعْرُوفُ بَيْنَ النَّاسِ ، وَفَيْرُوزُ بِفَتْحِ الْفَاءِ وَسُكُونِ الْيَاءِ تَحْتَهَا نُقْطَتَانِ، وَضَمِّ الرَّاءِ، وَبِالزَّايِ. مرقاة المفاتيح ج١ ص ١٨٨ في تشريح حديث ١١٥ .

(١) ذِكْرُ أَخْبَارِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ بِالْيَمَنِ : وَاسْمُهُ عَيْهَلَةُ بْنُ كَعْبِ بْنِ عَوْفٍ الْعَنْسِيُّ، بِالنُّونِ، وَعَنْسٌ بَطْنٌ مِنْ مَذْحِجٍ، وَكَانَ يُلَقَّبُ ذَا الْخِمَارِ؛ لِأَنَّهُ كَانَ مُعْتَمًّا مُتَخَمِّرًا أَبَدًا..... وَكَانَ الْأَسْوَدُ الْعَنْسِيُّ لَمَّا عَادَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ ، وَتَمَرَّضَ مِنَ السَّفَرِ غَيْرَ مَرَضِ مَوْتِهِ بَلَغَهُ ذَلِكَ، فَادَّعَى النُّبُوَّةَ، وَكَانَ مُشَعْبِذًا يُرِيهِمُ الْأَعَاجِيبَ، فَاتَّبَعَتْهُ مَذْحِجٌ، وَكَانَتْ رِدَّةُ الْأَسْوَدِ أَوَّلَ رِدَّةٍ فِي الْإِسْلَامِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.... وَسَارَ الْأَسْوَدُ عَنْ نَجْرَانَ إِلَى صَنْعَاءَ، وَخَرَجَ إِلَيْهِ شَهْرُ بْنُ بَاذَانَ فَلَقِيَهُ، فَقُتِلَ شَهْرٌ لِخَمْسٍ وَعِشْرِينَ لَيْلَةً مِنْ خُرُوجِ الْأَسْوَدِ..... وَغَلَبَ الْأَسْوَدُ عَلَى مَا بَيْنَ مَفَازَةِ حَضْرَمَوْتَ إِلَى الطَّائِفِ، إِلَى الْبَحْرَيْنِ وَالْأَحْسَاءِ، إِلَى عَدَنَ، وَاسْتَطَارَ أَمْرُهُ كَالْحَرِيقِ، وَكَانَ مَعَهُ سَبْعُمِائَةِ فَارِسٍ يَوْمَ لَقِيَ شَهْرًا سِوَى الرُّكْبَانِ، وَاسْتَغْلَظَ أَمْرُهُ، وَكَانَ خَلِيفَتُهُ فِي مَذْحِجٍ عَمْرُو بْنُ مَعْدِي كَرِبَ، وَكَانَ خَلِيفَتُهُ عَلَى جُنْدِهِ قَيْسُ بْنُ عَبْدِ يَغُوثَ، وَأَمْرُ الْأَبْنَاءِ إِلَى فَيْرُوزَ وَدَاذَوَيْهِ. وَكَانَ الْأَسْوَدُ تَزَوَّجَ امْرَأَةَ شَهْرِ بْنِ بَاذَانَ بَعْدَ قَتْلِهِ، وَهِيَ ابْنَةُ عَمِّ فَيْرُوزَ. وَخَافَ مَنْ بِحَضْرَمَوْتَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَنْ يَبْعَثَ إِلَيْهِمْ جَيْشًا، أَوْ يَظْهَرَ بِهَا كَذَّابٌ مِثْلُ الْأَسْوَدِ . فَتَزَوَّجَ مُعَاذٌ إِلَى السَّكُونِ، فَعَطَفُوا عَلَيْهِ. وَجَاءَ إِلَيْهِمْ وَإِلَى مَنْ بِالْيَمَنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ كُتُبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُهُمْ بِقِتَالِ الْأَسْوَدِ، فَقَامَ مُعَاذٌ رضي الله عنه فِي ذَلِكَ، وَقَوِيَتْ نُفُوسُ الْمُسْلِمِينَ، وَكَانَ الَّذِي قَدِمَ بِكِتَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَرُ بْنُ يُحَنَّسَ الْأَزْدِيُّ، قَالَ جُشَنْسُ الدَّيْلَمِيُّ: فَجَاءَتْنَا كُتُبُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا بِقِتَالِهِ، إِمَّا مُصَادَمَةً أَوْ غِيلَةً - يَعْنِي إِلَيْهِ، وَإِلَى فَيْرُوزَ وَدَاذَوَيْهِ - وَأَنْ نُكَاتِبَ مَنْ عِنْدَهُ دِينٌ. →→→→→→→

←←← فَعَمِلْنَا فِي ذَلِكَ، فَرَأَيْنَا أَمْرًا كَثِيفًا، وَكَانَ قَدْ تَغَيَّرَ لِقَيْسِ بْنِ عَبْدِ يَغُوثَ، فَقُلْنَا: إِنَّ قَيْسًا يَخَافُ عَلَى دَمِهِ، فَهُوَ لِأَوَّلِ دَعْوَةٍ، فَدَعَوْنَاهُ وَأَبْلَغْنَاهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَأَنَّمَا نَزَلْنَا عَلَيْهِ مِنَ السَّمَاءِ، فَأَجَابَنَا، وَكَاتَبْنَا النَّاسَ، فَأَخْبَرَهُ الشَّيْطَانُ شَيْئًا مِنْ ذَلِكَ، فَدَعَا قَيْسًا فَأَخْبَرَهُ أَنَّ شَيْطَانَهُ يَأْمُرُهُ بِقَتْلِهِ؛ لِمَيْلِهِ إِلَى عَدُوِّهِ، فَحَلَفَ قَيْسٌ: لَأَنْتَ أَعْظَمُ فِي نَفْسِي مِنْ أَنْ أُحَدِّثَ نَفْسِي بِذَلِكَ. ثُمَّ أَتَانَا فَقَالَ: يَا جِشْنَسُ، وَيَا فَيْرُوزُ، وَيَا دَاذَوَيْهِ، فَأَخْبَرَنَا بِقَوْلِ الْأَسْوَدِ. فَبَيْنَا نَحْنُ مَعَهُ يُحَدِّثُنَا إِذْ أَرْسَلَ إِلَيْنَا فَتَهَدَّدَنَا، فَاعْتَذَرْنَا إِلَيْهِ وَنَجَوْنَا مِنْهُ وَلَمْ نَكَدْ، وَهُوَ مُرْتَابٌ بِنَا وَنَحْنُ نَحْذَرُهُ. فَبَيْنَا نَحْنُ عَلَى ذَلِكَ إِذْ جَاءَتْنَا كُتُبُ عَامِرِ بْنِ شَهْرٍ، وَذِي زُودٍ، وَذِي مُرَّانَ، وَذِي الْكَلَاعِ، وَذِي ظُلَيْمٍ، يَبْذُلُونَ لَنَا النَّصْرَ، فَكَاتَبْنَاهُمْ وَأَمَرْنَاهُمْ أَنْ لَا يَفْعَلُوا شَيْئًا حَتَّى نُبْرِمَ أَمْرَنَا، وَإِنَّمَا اهْتَاجُوا لِذَلِكَ حِينَ كَاتَبَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَتَبَ أَيْضًا إِلَى أَهْلِ نَجْرَانَ فَأَجَابُوهُ، وَبَلَغَ ذَلِكَ الْأَسْوَدَ، وَأَحَسَّ بِالْهَلَاكِ. قَالَ: فَدَخَلْتُ عَلَى آزَادَ، وَهِيَ امْرَأَتُهُ الَّتِي تَزَوَّجَهَا بَعْدَ قَتْلِ زَوْجِهَا شَهْرِ بْنِ بَاذَانَ، فَدَعَوْتُهَا إِلَى مَا نَحْنُ عَلَيْهِ، وَذَكَّرْتُهَا قَتْلَ زَوْجِهَا شَهْرٍ وَإِهْلَاكَ عَشِيرَتِهَا، وَفَضِيحَةَ النِّسَاءِ. فَأَجَابَتْ وَقَالَتْ: وَاللهِ مَا خَلَقَ اللهُ شَخْصًا أَبْغَضَ إِلَيَّ مِنْهُ، مَا يَقُومُ لِلهِ عَلَى حَقٍّ، وَلَا يَنْتَهِي عَنْ مُحَرَّمٍ، فَأَعْلِمُونِي أَمْرَكُمْ أُخْبِرْكُمْ بِوَجْهِ الْأَمْرِ.... فَأَرْسَلْنَا إِلَى قَيْسٍ فَجَاءَنَا، فَاجْتَمَعْنَا عَلَى أَنْ أَعُودَ إِلَى الْمَرْأَةِ فَأُخْبِرَهَا بِعَزِيمَتِنَا وَنَأْخُذَ رَأْيَهَا، فَأَتَيْتُهَا فَأَخْبَرْتُهَا، فَقَالَتْ: هُوَ مُتَحَرِّزٌ، وَلَيْسَ مِنَ الْقَصْرِ شَيْءٌ إِلَّا وَالْحَرَسُ مُحِيطُونَ بِهِ غَيْرَ هَذَا الْبَيْتِ، فَإِنَّ ظَهْرَهُ إِلَى مَكَانِ كَذَا وَكَذَا، فَإِذَا أَمْسَيْتُمْ فَانْقُبُوا عَلَيْهِ، فَإِنَّكُمْ مِنْ دُونِ الْحَرَسِ، وَلَيْسَ دُونَ قَتْلِهِ شَيْءٌ، وَسَتَجِدُونَ فِيهِ سِرَاجًا وَسِلَاحًا. فَتَلَقَّانِي الْأَسْوَدُ خَارِجًا مِنْ بَعْضِ مَنَازِلِهِ فَقَالَ: مَا أَدْخَلَكَ عَلَيَّ؟ وَوَجَأَ رَأْسِي حَتَّى سَقَطْتُ، وَكَانَ شَدِيدًا، فَصَاحَتِ الْمَرْأَةُ فَأَدْهَشَتْهُ، وَقَالَتْ: جَاءَنِي ابْنُ عَمِّي زَائِرًا فَفَعَلْتَ بِهِ هَذَا؟ فَتَرَكَنِي، فَأَتَيْتُ أَصْحَابِي فَقُلْتُ: النَّجَاءَ! الْهَرَبَ! وَأَخْبَرْتُهُمُ الْخَبَرَ...... فَلَمَّا أَمْسَيْنَا عَمِلْنَا فِي أَمْرِنَا، وَأَعْلَمْنَا أَشْيَاعَنَا، وَعَجِلْنَا عَنْ مُرَاسَلَةِ الْهَمْدَانِيِّينَ وَالْحِمْيَرِيِّينَ فَنَقَبْنَا الْبَيْتَ وَدَخَلْنَا، وَفِيهِ سِرَاجٌ تَحْتَ جَفْنَةٍ، وَاتَّقَيْنَا بِفَيْرُوزَ، كَانَ أَشَدَّنَا. فَقُلْنَا: انْظُرْ مَاذَا تَرَى، فَخَرَجَ وَنَحْنُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْحَرَسِ، فَلَمَّا دَنَا مِنْ بَابِ الْبَيْتِ سَمِعَ غَطِيطًا شَدِيدًا، وَالْمَرْأَةُ قَاعِدَةٌ. فَلَمَّا قَامَ عَلَى بَابِ الْبَيْتِ أَجْلَسَهُ الشَّيْطَانُ وَتَكَلَّمَ عَلَى لِسَانِهِ، وَقَالَ: مَا لِي وَلَكَ يَا فَيْرُوزُ! فَخَشِيَ إِنْ رَجَعَ أَنْ يَهْلِكَ وَتَهْلِكَ الْمَرْأَةُ، فَعَاجَلَهُ وَخَالَطَهُ وَهُوَ مِثْلُ الْجَمَلِ، فَأَخَذَ بِرَأْسِهِ فَقَتَلَهُ وَدَقَّ عُنُقَهُ، وَوَضَعَ رُكْبَتَهُ فِي ظَهْرِهِ فَدَقَّهُ، ثُمَّ قَامَ لِيَخْرُجَ، فَأَخَذَتِ الْمَرْأَةُ بِثَوْبِهِ وَهِيَ تَرَى أَنَّهُ لَمْ يَقْتُلْهُ. فَقَالَ: قَدْ قَتَلْتُهُ وَأَرَحْتُكِ مِنْهُ، وَخَرَجَ فَأَخْبَرَنَا، فَدَخَلْنَا مَعَهُ، فَخَارَ كَمَا يَخُورُ الثَّوْرُ، فَقَطَعْتُ رَأْسَهُ بِالشَّفْرَةِ، وَابْتَدَرَ الْحَرَسُ الْمَقْصُورَةَ يَقُولُونَ: مَا هَذَا؟ فَقَالَتِ الْمَرْأَةُ: النَّبِيُّ يُوحَى إِلَيْهِ فَخَمَدُوا، وَقَعَدْنَا نَأْتَمِرُ بَيْنَنَا ←←←←←←←

## ۲ . طُلَیحَه اَسَدي

دده خپل نوم طُلَیحَة بن خویلد اَسدي دی ، دا بنو اَسد قبیلې طرف ته منسوب دی کومه چې د خیبر په اَطرافو کې آباده وه ، طُلَیحَه اَسَدي ډیر غټ کاهِن ( جادوگر ) وُ ، دده اول اسلام قبول کړو خو بیا د نبي علیه السلام په آخري ژوند کې واپس مُرتد شو ، او د نبوّت دعوی یې اوکړه ، دده به ویل چې حضرت جبریل علیه السلام هر وخت د ماسره وي او ماته مشورې راکوي ، بعضې بې دِینه قبیلې دده ملګرې شوی .

نبي علیه السلام دده د ختمولو د پاره حضرت ضِرَار بن اَزْوَر ﷜ وراُولیږل ، ځه مقابله اوشوه خو طلیحَه ژوندې بچ شو . تر اوسه حضرت ضِرار بن اَزوَر ﷜ خپل کار پوره نه وُ ختم کړی چې د نبي علیه السلام د وفات خبر خور شو نو حضرت ضرار ﷜ واپس مدینې منوّرې ته راغی .

←←← فَيْرُوزُ وَدَاذَوَيْهِ وَقَيْسٌ، كَيْفَ نُخْبِرُ أَشْيَاعَنَا، فَاجْتَمَعْنَا عَلَى النِّدَاءِ، فَلَمَّا طَلَعَ الْفَجْرُ نَادَيْنَا بِشِعَارِنَا الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَ أَصْحَابِنَا، فَفَزِعَ الْمُسْلِمُونَ وَالْكَافِرُونَ، ثُمَّ نَادَيْنَا بِشِعَارِنَا بِالْأَذَانِ فَقُلْتُ: أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ، وَأَنَّ عَيْهَلَةَ كَذَّابٌ . وَأَلْقَيْنَا إِلَيْهِمْ رَأْسَهُ، وَأَحَاطَ بِنَا أَصْحَابُهُ وَحَرَسُهُ، وَشَنُّوا الْغَارَةَ، وَأَخَذُوا صِبْيَانًا كَثِيرَةً وَانْتَهَبُوا. فَنَادَيْنَا أَهْلَ صَنْعَاءَ مَنْ عِنْدَهُ مِنْهُمْ فَأَمْسِكُهُ، فَفَعَلُوا. فَلَمَّا خَرَجَ أَصْحَابُهُ فَقَدُوا سَبْعِينَ رَجُلًا، فَرَاسَلُونَا، وَرَاسَلْنَاهُمْ عَلَى أَنْ يَتْرُكُوا لَنَا مَا فِي أَيْدِيهِمْ، وَنَتْرُكَ مَا فِي أَيْدِينَا، فَفَعَلْنَا، وَلَمْ يَظْفَرُوا مِنَّا بِشَيْءٍ، وَتَرَدَّدُوا فِيمَا بَيْنَ صَنْعَاءَ وَنَجْرَانَ. وَتَرَاجَعَ أَصْحَابُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَعْمَالِهِمْ، وَكَانَ يُصَلِّي بِنَا مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ ﷜ ، وَكَتَبْنَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخَبَرِهِ، وَذَلِكَ فِي حَيَاتِهِ، وَأَتَاهُ الْخَبَرُ مِنْ لَيْلَتِهِ، وَقَدِمَتْ رُسُلُنَا، وَقَدْ تُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَجَابَنَا أَبُو بَكْرٍ ﷜. « قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: أَتَى الْخَبَرُ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَتِهِ الَّتِي قُتِلَ فِيهَا، فَقَالَ: قُتِلَ الْعَنْسِيُّ، قَتَلَهُ رَجُلٌ مُبَارَكٌ مِنْ أَهْلِ بَيْتٍ مُبَارَكِينَ، قِيلَ: مَنْ قَتَلَهُ ؟ قَالَ : قَتَلَهُ فَيْرُوزُ » . قِيلَ: كَانَ أَوَّلُ أَمْرِ الْعَنْسِيِّ إِلَى آخِرِهِ ثَلَاثَةَ أَشْهُرٍ، وَقِيلَ قَرِيبٌ مِنْ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ، وَكَانَ قُدُومُ الْبَشِيرِ بِقَتْلِهِ فِي آخِرِ رَبِيعٍ الْأَوَّلِ بَعْدَ مَوْتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ أَوَّلَ بِشَارَةٍ أَتَتْ أَبَا بَكْرٍ ﷜ وَهُوَ بِالْمَدِينَةِ . الكامل في التاريخ لابن الاثير ج۲ ص ۱۹۶ ذِكْرُ أَخْبَارِ الْأَسْوَدِ الْعَنْسِيِّ بِالْيَمَنِ

Scanned with CamScanner

(په دې ځای کې دا خبره د ذکر کولو قابله ده چې د ختم نبوت مسئله دومره اهمه ده چې رسول الله ﷺ پخپله د ختم نبوت د حفاظت د پاره حضرت ضرار بن ازور ؓ د طلیحه اسدي د مقابلې د پاره وراولیږلو. چې دا د نبي علیه السلام خپل امت ته عملي سبق دی چې څوک هم دروغجن د ختم نبوت دعوی اوکړي د هغه ختمول په کار دي).

بهرحال. کله چې حضرت ضرار بن ازور ؓ مدینې منورې ته راغی او په دې وخت کې طلیحه اسدي موقع اوموندله او خپل ځان یې نور هم مضبوط کړو.

کله چې حضرت ابوبکر صدیق ؓ خلیفه شو نو هغه د مرتدینو ختمولو د پاره اسلامي لښکرې تیارې کړې نو د حضرت عدي بن حاتم ؓ په مشرۍ کې یې یو لښکر د طلیحه اسدي د مقابلې د پاره اولیږلو. او شاته یې ورپسې د حضرت خالد بن ولید ؓ په مشرۍ د طلیحه د مقابلې د پاره لښکر وراولیږلو. په لاره کې د طلیحه اسدي ملګرو مقابله اوکړه او هغوی شکست اوخوړو.

آخر حضرت خالد بن ولید ؓ د طلیحه مقابلې ته ورغی، په پراخه میدان کې دواړه لښکرې مخامخ شوې. د مسلمانانو فوج د طلیحه په فوج باندې سخته حمله اوکړه، چې جنګ به ګرم شو نو طلیحه اسدي خلقو ته د دهوکې ورکولو د پاره یو څنډې ته کیناست او خلقو ته یې ویل چې اوس به په ما باندې وَحي نازلیږي.

چې کله د طلیحه فوج کمزورې شو او شکست طرف ته روان ؤ نو دده د لښکر یو سردار "عُیینه بن حصن"، ته راغی او ورته وې ویل:

آیا حضرت جبریل علیه السلام د فتحې زیرې راوړې دی؟

ده ورته وویل: تر اوسه ندې راغلی.

عُیینه بن حصن واپس میدانِ جنګ ته لاړ او د مسلمانانو په مقابله کې اوجنګید، څه وخت پس بیا راغی او د طلیحه نه یې پوښتنه اوکړه چې آیا حضرت جبریل علیه السلام راغلی دی؟ ده ورته وویل: تر اوسه ندې راغلی. دا بیا میدانِ جنګ ته لاړ. په دریمه ځل چې راغی نو طلیحه ته یې وویل:

آیا حضرت جبریل علیه السلام وَحي نده راوړی ؟ قسَم په الله چې د مسلمانانو په مقابله کې خو زمونږ خپې ځوږیږي ، مسلمانان ساعت په ساعت غالب کیږي .
طلیحه ورته جواب ورکړو چې حضرت جبریل علیه السلام وَحي راوړې ده .
عُیَینه ورنه پوښتنه اوکړه : څه وَحي یې راوړې ده ؟ ده ورته وویل :
حضرت جبریل علیه السلام دا وَحي راوړې ده :
إِنَّ لَكَ رَحًا كَرَحَاهُ وَحَدِيثًا لَا تَنْسَاهُ .
ستا د پاره به هم داسې سخت جنګي قوّت وي لکه څرنګې چې د حضرت خالد بن ولید ﷛ د پاره دی ، او تاته به داسې معامله راپیښیږي چې هغه به ته هیڅ کله هېره نکړې .
عُیَینه بن حِصن چې دا خبره واوریده نو پوهه شو چې دا هسې دروغجَن دی ، نو دا راغی او خپل فوج ته یې وویل :
اې خلقو ! په طلیحه باندې وَحي نازله شوې ده او هغه وایي چې په ما او زما په ملګرو باندې به داسې حادثه راځي چې هیڅ کله به د هیریدو نه وي . یعنی مونږ ته به د مسلمانانو په لاس خطرناک شکست ملاویږي .
عُیَینه خلقو ته وویل : اې خلقو ! طلیحه دورغجن او غټ دجّال دی ، خپل ځانونه دده د پاره مه وژنئ ، او زه هم ورنه واپس ځم . دا یې وویل او په شا اُوتختید .
د طلیحه نور ملګري هم په شا اُوتختیدل . په دې جنګ کې د طلیحه ورور او دده غټ غټ جرنیلان مردار شو .
طلیحه ته چې پته اُولږیده چې زما لښکر شکست اُوخوړ نو خپله ښځه یې د ځان سره په آس باندې کینوله او په شا باندې اُوتختید ، شام طرف ته لاړ او هلته مقیم شو .
د طلیحه د شکست نه پس بیا عُیَینه ګرفتار شو ، د حضرت ابوبکر صدیق ﷛ مخې ته لاس تړلې پیش کړې شو ، عیینه په ډیرې عاجزۍ عذر پیش کړو او مسلمان شو نو حضرت ابوبکر صدیق ﷛ معاف کړو .
چې کله د طَلیحَه اَسَدي دا فِتنه ختمه شوه او ټول قبائل واپس په اسلام کې داخل شو تر دې چې دده خپله قبیله " بنو اَسد " هم واپس په اسلام کې داخله شوه نو طَلیحَه اَسَدي هم واپس مسلمان شو .

Scanned with CamScanner

چونکه په دې وخت کې حضرت ابوبکر صدیق ﷛ وفات شوې وُ او حضرت عُمر ﷛ خلیفه وُ نو طُلَیحَه اَسَدِي د شام نه حج ته راغی او د حضرت عُمر ﷛ په لاس یې بیعت اوکړو. (١)

علماؤ او مفسّرینو هم دا واقعه په خپلو کتابونو کې رانقل کړې. (٢)

---

(١) المه تلبیس ص ٣٤، تاریخ اسلام (اردو) لمولانا اکبرشاه لجیب آبادي ج١ ص ٢٩٢. آلینه قادیانیت ص ١٠٤.

(٢) .... وَالْفِرْقَةُ الثَّالِثَةُ : بَنُوْ أَسَدٍ وَرَئِيسُهُمْ طُلَيْحَةُ بن خويلد، وَكَانَ طُلَيْحَةُ آخِرَ مَنِ ارْتَدَّ، وَادَّعَى النُّبُوَّةَ فِيْ حَيَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَوَّلَ مَنْ قُوتِلَ بَعْدَ وَفَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ أَهْلِ الرِّدَّةِ، فَبَعَثَ أَبُوْ بَكْرٍ ﷛ خالد بن الوليد ﷛ فَهَزَمَهُمْ خَالِدٌ بَعْدَ قِتَالٍ شَدِيدٍ، وَأَفْلَتَ طُلَيْحَةُ فَمَرَّ عَلَى وَجْهِهِ هَارِبًا نَحْوَ الشَّامِ، ثُمَّ إِنَّهُ أَسْلَمَ بَعْدَ ذَلِكَ وَحَسُنَ إِسْلَامُهُ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤.

ذِكْرُ خَبَرِ طُلَيْحَةَ الْأَسَدِيِّ : وَكَانَ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ الْأَسَدِيُّ مِنْ بَنِيْ أَسَدِ بْنِ خُزَيْمَةَ قَدْ تَنَبَّأَ فِيْ حَيَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَّهَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ضِرَارَ بْنَ الْأَزْوَرِ عَامِلًا عَلَى بَنِيْ أَسَدٍ، وَأَمَرَهُمْ بِالْقِيَامِ عَلَى مَنِ ارْتَدَّ، فَضَعُفَ أَمْرُ طُلَيْحَةَ حَتَّى لَمْ يَبْقَ إِلَّا أَخْذُهُ .... فَكَثُرَ جَمْعُهُ. وَمَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ عَلَى ذَلِكَ. فَكَانَ طُلَيْحَةُ يَقُوْلُ : إِنَّ جِبْرَائِيْلَ يَأْتِيْنِيْ، وَسَجَعَ لِلنَّاسِ الْأَكَاذِيبَ، وَكَانَ يَأْمُرُهُمْ بِتَرْكِ السُّجُوْدِ فِي الصَّلَاةِ وَيَقُوْلُ: إِنَّ اللهَ لَا يَصْنَعُ بِتَعَفُّرِ وُجُوْهِكُمْ وَتَقَبُّحِ أَدْبَارِكُمْ شَيْئًا، اُذْكُرُوا اللهَ أَعِفَّةً قِيَامًا. إِلَى غَيْرِ ذَلِكَ، وَتَبِعَهُ كَثِيْرٌ مِنَ الْعَرَبِ عَصَبِيَّةً، فَلِهَذَا كَانَ أَكْثَرُ أَتْبَاعِهِ مِنْ أَسَدٍ وَغَطَفَانَ وَطَيِّءٍ... وَكَانَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ مَعَ طُلَيْحَةَ فِيْ سَبْعِمِائَةٍ مِنْ بَنِيْ فَزَارَةَ. فَقَاتَلُوْا قِتَالًا شَدِيْدًا، وَطُلَيْحَةُ مُتَلَفِّفٌ فِيْ كِسَائِهِ يَتَنَبَّأُ لَهُمْ. فَلَمَّا اشْتَدَّتِ الْحَرْبُ كَرَّ عُيَيْنَةُ عَلَى طُلَيْحَةَ وَقَالَ لَهُ: هَلْ جَاءَكَ جِبْرَائِيْلُ بَعْدُ ؟ قَالَ : لَا. فَرَجَعَ فَقَاتَلَ. ثُمَّ كَرَّ عَلَى طُلَيْحَةَ فَقَالَ لَهُ: لَا أَبَا لَكَ! أَجَاءَكَ جِبْرَائِيْلُ ؟ قَالَ: لَا. فَقَالَ عُيَيْنَةُ: حَتَّى مَتَى ؟ قَدْ وَاللهِ بَلَغَ مِنَّا! ثُمَّ رَجَعَ فَقَاتَلَ قِتَالًا شَدِيْدًا ثُمَّ كَرَّ عَلَى طُلَيْحَةَ فَقَالَ: هَلْ جَاءَكَ جِبْرَائِيْلُ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: فَمَاذَا قَالَ لَكَ ؟ قَالَ: قَالَ لِيْ : إِنَّ لَكَ رَحًا كَرَحَاهُ وَحَدِيْثًا لَا تَنْسَاهُ. فَقَالَ عُيَيْنَةُ: قَدْ عَلِمَ اللهُ أَنَّهُ سَيَكُوْنُ حَدِيْثٌ لَا تَنْسَاهُ. اِنْصَرِفُوْا يَا بَنِيْ فَزَارَةَ فَإِنَّهُ كَذَّابٌ. فَانْصَرَفُوْا وَانْهَزَمَ النَّاسُ. وَكَانَ طُلَيْحَةُ قَدْ أَعَدَّ فَرَسَهُ وَرَاحِلَتَهُ لِامْرَأَتِهِ النَّوَارِ، فَلَمَّا غَشُوْهُ رَكِبَ فَرَسَهُ وَحَمَلَ امْرَأَتَهُ، ثُمَّ نَجَا بِهَا وَقَالَ: يَا مَعْشَرَ فَزَارَةَ، مَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ يَفْعَلَ هَكَذَا وَيَنْجُوَ بِامْرَأَتِهِ فَلْيَفْعَلْ. ثُمَّ انْهَزَمَ فَلَحِقَ بِالشَّامِ. ثُمَّ نَزَلَ عَلَى كَلْبٍ، فَأَسْلَمَ حِيْنَ بَلَغَهُ أَنَّ أَسَدًا وَغَطَفَانَ قَدْ أَسْلَمُوْا، وَلَمْ يَزَلْ مُقِيْمًا فِيْ كَلْبٍ حَتَّى مَاتَ أَبُوْ بَكْرٍ. ←←←←←←←←←←←

Scanned with CamScanner

امام واقدي رَحِمَهُ اللهُ په "كتاب الردة" کې د طليحه اسدي واقعه په پوره تفصیل سره رانقل کړې. (۱)

←←← وَكَانَ خَرَجَ مُعْتَمِرًا فِي إِمَارَةِ أَبِي بَكْرٍ ﷺ وَمَرَّ بِجَنَبَاتِ الْمَدِينَةِ، فَقِيلَ لِأَبِي بَكْرٍ ﷺ: هَذَا طُلَيْحَةُ! فَقَالَ: مَا أَصْنَعُ بِهِ؟ قَدْ أَسْلَمَ! ثُمَّ أَتَى عُمَرَ ﷺ فَبَايَعَهُ حِينَ اسْتُخْلِفَ. فَقَالَ لَهُ: أَنْتَ قَاتِلُ عُكَّاشَةَ ﷺ وَثَابِتٍ ﷺ؟ وَاللهِ لَا أُحِبُّكَ أَبَدًا! فَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ، مَا يُهِمُّكَ مِنْ رَجُلَيْنِ أَكْرَمَهُمَا اللهُ بِيَدِي، وَلَمْ يُهِنِّي بِأَيْدِيهِمَا! فَبَايَعَهُ عُمَرُ ﷺ. الكامل في التاريخ لابن الاثير ج ۲ ص ۱۰۵ ذِكْرُ خَبَرِ طُلَيْحَةَ الْأَسَدِيِّ. صيد الخاطر لابن الجوزي رحمه الله ج ۱ ص ۴۱۸ فصل: الحق لا يشتبه بباطل. البداية والنهاية ج ۷ ص ۱۳۳.

(۱) ... وَجَعَلَ طُلَيْحَةُ يُشَجِّعُ أَصْحَابَهُ وَيَقُولُ: (يَا مَعْشَرَ بَنِي أَسَدٍ، لَا يَهُولَنَّكُمْ مَا قَدِ اجْتَمَعَ إِلَى خَالِدٍ مِنْ هَذَا الْجَيْشِ، فَإِنَّهُمْ عَلَى بَاطِلٍ وَغُرُورٍ، وَأُخْرَى فَإِنَّهُمْ لَهِجُوا بِهَذِهِ الصَّلَاةِ، فَهُمْ يَظُنُّونَ أَنَّهُمْ مُحْسِنُونَ. وَلَقَدْ أَتَانِي جِبْرِيلُ يُخْبِرُنِي عَنْ رَبِّي أَنَّهُ لَيْسَ يَحْتَاجُ إِلَى تَعْفِيرِ وُجُوهِكُمْ، وَفَتْحِ أَدْبَارِكُمْ، وَلَا يُرِيدُ مِنْكُمْ رُكُوعًا وَلَا سُجُودًا، وَلَكِنْ يُرِيدُ مِنْكُمْ أَنْ تَذْكُرُوهُ قِيَامًا وَقُعُودًا. فَانْظُرُوا أَنْ تَمْنَعُوا الْقَوْمَ أَمْوَالَكُمْ كَمَا مَنَعْتُمُوهَا فِي جَاهِلِيَّتِكُمْ. وَأَمَّا عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ فَقَدْ أَخْبَرَنِي عَنْهُ جِبْرِيلُ أَنَّهُ قَدْ خَافَ مِنْ حَرْبِ الْقَوْمِ، وَايْمُ اللهِ، لَوْ كَانَتْ لَهُ نِيَّةٌ صَادِقَةٌ لَمَا خَافَ أَبَدًا إِذَا كَانَ عَلَى هَذَا الدِّينِ) ... وَجَعَلَ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ ﷺ يَتَأَنَّى بِطُلَيْحَةَ بْنِ خُوَيْلِدٍ، وَيُرْسِلُ إِلَيْهِ الرُّسُلَ، وَيُحَذِّرُهُ سَفْكَ دِمَاءِ أَصْحَابِهِ، وَطُلَيْحَةُ يَأْبَى ذَلِكَ. ولجّ في طغيانه. فعندها عزم خَالِدٌ ﷺ عَلَى حَرْبِ الْقَوْمِ، وَزَحَفَ إِلَيْهِمْ. فَوَافَاهُمْ بِأَرْضٍ يُقَالُ لَهَا بُزَاخَةُ، وَإِذَا طُلَيْحَةُ قَدْ عَبَّأَ أَصْحَابَهُ، وَعَبَّأَ خَالِدٌ ﷺ أَصْحَابَهُ. وَنَادَى الْقَوْمُ بَعْضُهُمْ مَعَ بَعْضٍ، وَاخْتَلَطَ الْقَوْمُ، وَاقْتَتَلُوا، فَقُتِلَ مِنَ الْفَرِيقَيْنِ جَمَاعَةٌ، وَحَمَلَتْ بَنُو أَسَدٍ وَغَطَفَانُ وَفَزَارَةُ فَقَاتَلُوا بَيْنَ يَدَيْ طُلَيْحَةَ أَشَدَّ الْقِتَالِ، وَهُمْ يُنَادُونَ: (لَا نُبَايِعُ أَبَا الْفَصِيلِ)، يَعْنُونَ أَبَا بَكْرٍ الصِّدِّيقَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. وَجَعَلَ عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ يَحْمِلُ عَلَيْهِمْ فِي أَصْحَابِهِ فَيُقَاتِلُهُمْ، وَهُوَ يَقُولُ: (وَاللهِ لَنُقَاتِلَنَّكُمْ أَبَدًا، أَوْ تُكَنُّونَهُ بِالْفَحْلِ الْأَكْبَرِ). وَجَعَلَ عَدِيُّ بْنُ حَاتِمٍ، وَزَيْدُ الْخَيْلِ، وَقَبَائِلُ طَيِّءٍ، يقاتلون بين يدي خالد ابن الْوَلِيدِ، قِتَالًا لَمْ يُقَاتِلُوا قَبْلَهُ فِي يَوْمٍ مِنْ أَيَّامِهِمُ الَّتِي سَلَفَتْ .... وَاشْتَدَّ الْقِتَالُ، وَعَظُمَ الْأَمْرُ، وعضّت الْحَرْبُ الْفَرِيقَيْنِ جَمِيعًا. فَأَقْبَلَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ إِلَى طُلَيْحَةَ بْنِ خُوَيْلِدٍ، وَهُوَ وَاقِفٌ عَلَى بَابِ خَيْمَتِهِ، وَفَرَسُهُ عِلَاقٌ إِلَى جَنْبِهِ، وَامْرَأَتُهُ نَوَارُ جَالِسَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ. فَقَالَ لَهُ عُيَيْنَةُ: (أَبَا عَامِرٍ، هَلْ أَتَاكَ جِبْرِيلُ بَعْدُ؟) قَالَ: (لَا). فَرَجَعَ عُيَيْنَةُ إِلَى الْحَرْبِ فَلَمْ يَزَلْ يُقَاتِلُ سَاعَةً ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ. فَقَالَ: (هَلْ أَتَاكَ جِبْرِيلُ بَعْدُ؟) قَالَ: (لَا). فَرَجَعَ فَلَمْ يَزَلْ يُقَاتِلُ حَتَّى بَلَغَ مِنْهُ الْجَهْدُ، وَاشْتَدَّ بِهِ الْأَمْرُ. ثُمَّ رَجَعَ إِلَى طُلَيْحَةَ فَقَالَ: (أَبَا عَامِرٍ، أَتَاكَ جِبْرِيلُ؟) فَقَالَ: (لَا). ←←←←←←←←

←←←← قَالَ عُيَيْنَةُ: (فَحَتَّى مَتَى وَيْحَكَ، بَلَغَ مِنَّا الْجَهْدُ، وَاشْتَدَّ بِنَا الْأَمْرُ. فَأَحْجَمَ النَّاسُ عَنِ الْحَرْبِ) . ثُمَّ رَجَعَ فَلَمْ يَزَلْ يُقَاتِلُ وَبَنُو عَمِّهِ مِنْ فَزَارَةَ، حَتَّى ضَجِرَ مِنَ الطِّعَانِ وَالضِّرَابِ، ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ: (يَا أَبَا عَامِرٍ، هَلْ أَتَاكَ جِبْرِيلُ) ، قَالَ: (نَعَمْ، قَدْ أَتَانِي) ، قَالَ عُيَيْنَةُ : (اللهُ أَكْبَرُ، هَاتِ الْآنَ مَا عِنْدَكَ، وَمَا الَّذِي قَالَ لَكَ جِبْرِيلُ) ، قَالَ: (نَعَمْ، قَالَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: إِنَّ رِجَالًا تَقُومُ لِرِجَالٍ، وَإِنَّ لَكَ وَلَهُ حَدِيثًا لَا تَنْسَاهُ النَّاسُ أَبَدًا ) . ثُمَّ أَقْبَلَ عُيَيْنَةُ عَلَى بَنِي عَمِّهِ مِنْ فَزَارَةَ فَقَالَ لَهُمْ: (وَيْحَكُمْ يَا بَنِي عَمِّي، هَذَا وَاللهِ رَجُلٌ كَذَّابٌ، وَالْآنَ صَحَّ عِنْدِي كَذِبُهُ لِتَخْلِيطِهِ فِي كَلَامِهِ) ثُمَّ وَلَّى عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ مُنْهَزِمًا مَعَ بَنِي عَمِّهِ مِنْ فَزَارَةَ، وَانْهَزَمَتْ بَنُو أَسَدٍ وَغَطَفَانُ، وَسُيُوفُ الْمُسْلِمِينَ فِي أَقْفِيَتِهِمْ كَأَنَّهَا الصَّوَاعِقُ. فَقَالَ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ: (وَيْلَكُمْ مَا بَالُكُمْ مُنْهَزِمُونَ ؟) فَقَالَ لَهُ رَجُلٌ مِنْهُمْ: (أَنَا أُخْبِرُكَ يَا أَبَا عَامِرٍ لِمَ نَنْهَزِمُ، نَحْنُ قَوْمٌ نُقَاتِلُ نُرِيدُ الْبَقَاءَ، وَهَؤُلَاءِ يُقَاتِلُونَ وَيُحِبُّونَ الْفَنَاءَ) . فَقَالَتْ لَهُ نَوَارُ امْرَأَةُ طُلَيْحَةَ: (أَمَا إِنَّهُ لَوْ كَانَتْ لَكُمْ نِيَّةٌ صَادِقَةٌ لَمَا انْهَزَمْتُمْ عَنْ نَبِيِّكُمْ) . فَقَالَ لَهَا رَجُلٌ مِنْهُمْ: (يَا نَوَارُ، لَوْ كَانَ زَوْجُكِ هَذَا نَبِيًّا لَمَا خَذَلَهُ رَبُّهُ ) ، قَالَ : فَلَمَّا سَمِعَ طُلَيْحَةُ ذَلِكَ صَاحَ بِامْرَأَتِهِ: (وَيْلَكِ يَا نَوَارُ، اِقْتَرِبِي مِنِّي، فَقَدِ اتَّضَحَ الْحَقُّ وَزَاحَ الْبَاطِلُ ) . قَالَ: ثُمَّ اسْتَوَى طُلَيْحَةُ عَلَى فَرَسِهِ، وَأَرْدَفَ امْرَأَتَهُ مِنْ وَرَائِهِ، وَمَرَّ مُنْهَزِمًا مَعَ مَنِ انْهَزَمَ. وَاحْتَوَى خَالِدٌ ؓ وَمَنْ مَعَهُ مِنَ الْمُسْلِمِينَ عَلَى غَنَائِمِ الْقَوْمِ وَعَامَّةِ سَلَبِهِمْ وَأَوْلَادِهِمْ . فَجَمَعَ خَالِدٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غَنَائِمَ الْقَوْمِ، فَوَكَّلَ بِهَا نفرا من المسلمين يحفظونها، ثم خرج فِي طَلَبِ الْقَوْمِ يَتْبَعُ آثَارَهُمْ، حَتَّى وَافَاهُمْ بباب الأجرب. فَاقْتَتَلُوا قِتَالًا شَدِيدًا. فَأُسِرَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ الْفَزَارِيُّ، وَأُسِرَ مَعَهُ جَمَاعَةٌ مِنْ بَنِي عَمِّهِ، وَأَفْلَتَ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ، فَمَرَّ هَارِبًا عَلَى وَجْهِهِ نَحْوَ الشَّامِ، حَتَّى صَارَ إِلَى بَنِي جَفْنَةَ. فَلَجَأَ إِلَيْهِمْ وَاسْتَجَارَ بِهِمْ، فَأَجَارُوهُ. ثُمَّ جَمَعَ خَالِدٌ الْأُسَارَى جَمِيعَهُمْ مِنْ بَنِي أَسَدٍ وَغَطَفَانَ وَفَزَارَةَ، وَعَزَمَ أن يوجه بِهِمْ إِلَى أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ . ثُمَّ أَمَرَ خَالِدٌ ؓ بِالْجَوَامِعِ ، وَوُضِعَتْ فِي أعناق هؤلاء الأسارى، ووجه بهم مع الْغَنَائِمِ إِلَى الْمَدِينَةِ. فَلَمَّا أَشْرَفَتِ الْغَنَائِمُ عَلَى الْمَدِينَةِ، خَرَجَ النَّاسُ يَنْظُرُونَ إِلَى الْأُسَارَى، فَإِذَا هُمْ بِعُيَيْنَةَ بْنِ حِصْنٍ عَلَى بَعِيرٍ وَيَدُهُ مَجْمُوعَةٌ إِلَى عُنُقِهِ، فَجَعَلَ الْمُسْلِمُونَ يَشْتُمُونَهُ وَيَلْعَنُونَهُ وَهُوَ سَاكِتٌ لَا يَنْطِقُ بِشَيْءٍ، وَهُمْ يَنْخُسُونَهُ بِالْعُسْبَانِ وَيَقُولُونَ لَهُ: (يَا عَدُوَّ اللهِ، أَكَفَرْتَ بَعْدَ إِيمَانِكَ، وَقَاتَلْتَ الْمُسْلِمِينَ) . فَقَالَ: (وَاللهِ مَا آمَنَ ذَلِكَ الرَّجُلُ بِاللهِ سَاعَةً قَطُّ)، يَعْنِي نَفْسَهُ . ثُمَّ أُوتِيَ بِهِ حَتَّى أُدْخِلَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، فَأَوْقَفَهُ بَيْنَ يَدَيْهِ، فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ ؓ: (يَا عَدُوَّ اللهِ! أَسْلَمْتَ وَقَرَأْتَ الْقُرْآنَ ثُمَّ رَجَعْتَ عَنْ دِينِ الْإِسْلَامِ كَافِرًا، لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَكَ صَبْرًا) . قَالَ عُيَيْنَةُ: (يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وآله وَسَلَّمَ، إِنَّ الْجَمِيلَ أَجْمَلُ، وَقَدْ كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وآله وَسَلَّمَ أَعْرَفَ بِي مِنْكَ، لَمْ يَخْفَ عَلَيْهِ شيء من أمري وَلَقَدْ خَرَجَ مِنَ الدُّنْيَا وَإِنِّي لَمُقِيمٌ عَلَى النِّفَاقِ، غَيْرَ أَنِّي تَائِبٌ إِلَى اللهِ وَإِلَيْكَ فِي يَوْمِي هَذَا. فَاعْفُ عَنِّي، عَفَا اللهُ عَنْكَ) . فَعَفَا عَنْهُ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، وَصَفَحَ عَنْ بَنِي عَمِّهِ، وَأَحْسَنَ إِلَيْهِمْ وَكَسَاهُمْ . ←←←←←←

Scanned with CamScanner

## ۳ . مُسَيْلَمَةُ الْكَذَّاب

دده نوم مُسَيلمة بن کبیر وُ ، د یمامې أوسیدونکې وُ ، د قبیله بنوحنیفه سره یې تعلق وُ ، دا د أوږد عُمر واله کس وُ ، د مشرۍ او سردارۍ شوق یې لرلو ، ډیر د خراب کِردار او خرابو اخلاقو خاوند وُ ، دغه وجه ده چې دا په کذّاب یمامه لقب سره مشهور وُ ، د هجرت په لسم (۱۰) کال باندې د عربو مختلفې قبیلې او وفدونه راتلل او په اسلام کې داخلیدل ، په دغه کال باندې د یمامې نه د بنوحنیفه چې کوم وفد مدینې منوّرې ته راغی په هغې کې دا مُسَيلمه کذّاب هم ، دوی اسلام قبول کړو .

دا وفد په مدینه منوّره کې یو څو ورځې ایسار وُ ، دوی به اکثره د نبي علیه السلام په خدمت کې حاضریدل ، خو مُسَيلمه کذّاب به د خپل اَسباب سره پاتې کیدو .(۱)

## په نبوّت کې د شِرکت درخواست

په احادیثو کې دا هم ذکر دي چې کله مُسَيلمه کذّاب د نبي علیه السلام په لاس باندې بیعت کولو نو مُسَيلمه کذّاب نبي علیه السلام ته وویل :

ته ما خپل جانشین یا خلیفه مقرر کړه (یعنی په نبوّت کې مې شریک کړه) .

په دې وخت کې د پیغمبر علیه السلام سره په لاس کې د قجورې یوه څانګه (لخته) وه

←←← وَبَلَغَ طُلَيْحَةَ بْنَ خُوَيْلِدٍ أَنَّ عُيَيْنَةَ بْنَ حِصْنٍ وَقُرَّةَ بْنَ هُبَيْرَةَ قَدْ حُمِلَا إِلَى الْمَدِينَةِ، وَقَدْ عَفَا عَنْهُمَا أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. فَنَدِمَ عَلَى مَا كَانَ مِنْهُ أَشَدَّ النَّدَامَةِ .... وَجَعَلَ طُلَيْحَةُ بْنُ خُوَيْلِدٍ يُقَدِّمُ فِي الرُّجُوعِ إِلَى دَارِ الْإِسْلَامِ وَيُؤَخِّرُ. إِلَى أَنْ تُوُفِّيَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ وَاسْتُخْلِفَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا. فَقَدِمَ عَلَيْهِ طُلَيْحَةُ مُسْلِمًا تَائِبًا. فَلَمَّا رَآهُ عُمَرُ قَطَّبَ فِي وَجْهِهِ. ثُمَّ قَالَ: «يَا طُلَيْحَةُ، كَيْفَ تَرْجُو النَّجَاةَ مِنَ النَّارِ وَقَتَلْتَ ثَابِتَ بْنَ أَرْقَمَ الْأَنْصَارِيَّ ﷺ. وَعُكَّاشَةَ بْنَ مِحْصَنٍ الْأَسَدِيَّ ﷺ» . وَقَالَ طُلَيْحَةُ: «يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! ذَلِكُمَا رَجُلَانِ أَكْرَمَهُمَا اللهُ بِالجنة/ وساق إليهما الشَّهَادَةَ عَلَى يَدَيَّ وَلَمْ يَقْتُلْنِي بِأَيْدِيهِمَا فَأَكُونَ فِي النَّارِ» . قَالَ: فَأُعْجِبَ عُمَرُ ﷺ بِمَقَالَتِهِ فَقَرَّبَهُ وَأَدْنَاهُ. وَأَقَامَ طُلَيْحَةُ عِنْدَهُ إِلَى أَنْ تَحَرَّكَتِ الفرس بعد ذلك، فوجه بِهِ مَعَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ ﷺ. فَقَاتَلَ بِالْعِرَاقِ قِتَالًا شَدِيدًا. وَقَاتَلَ أَيْضًا بِنُهَاوَنْدَ . وَلَمْ يزل ناصر الدين الإِسْلَامِ حَتَّى لَحِقَ بِاللهِ. فَهَذَا مَا كَانَ من أمر طليحة بن خويلد الأسدي وارتداده، وخروجه إلى أبي بكر ﷺ وتوبته. كتاب الردة للواقدي ص ۸۸ .

(۱) المه للبيس ص ۴۹ ، تاریخ اسلام لمولانا اکبرشاه نجیب آبادي ص ۲۹۷ .

Scanned with CamScanner

نو دوی ورته اوفرمایل :
که چیرته ته د خلافت په معامله کښې د مانه د قجورې دا څانګه غواړې نو هم زه یې نه درکوم. (۱)

ددینه معلومیږي چې مُسَیلمه دا بیعت هم صرف ددې د پاره کړې وُ چې ګنې مابه د ځان سره په پیغمبرۍ کښې شریک کړي ، یا به ما خپل خلیفه جوړ کړي ، خو نبي علیه السلام دده دا آرزو پوره نکړه.

( په بخاري شریف کښې هم د مُسَیلمه کذاب څه واقعه ذکر ده ) . (۲)

# د نبوّت دعوی کول

کله چې مُسَیلمه کذّاب واپس یمامې ته لاړ ، او په دې ورځو کښې د نبي علیه السلام د بیمارۍ خبر خُور شو نو مُسَیلمه د نبوّت دعوی اوکړه ، دا چونکه د ځلې نه ډیر چالاکه کس وُ ، خلقو ته یې ویل چې زه نبي علیه السلام په خپل نبوّت کښې شریک کړې یم ، ده به خلقو ته په دروغه خبرې جوړولی او بیا به یې ویل چې دا ماته وَحي کیږي.

په بنوحنیفه کښې چې کوم د کمزورې اِیمان خلق وو هغوی دده تابعداري اوکړه او بعضې خلقو خو د قومیت په وجه دده خبره اُومنله.

کله چې نبي علیه السلام ته ددې خبرې معلومات اوشو چې مُسَیلمه کذّاب د نبوّت دعوی کړې نو دوی صحابه کرامو ته خطبه وویله ، او په خطبه کښې یې د حمد و ثناء نه پس

---

(۱) ائمہ تلبیس ص ۴۹ ، آئینہ قادیانیت ص ۲۳ .

(۲) إِنَّ مُسَيْلِمَةَ الكَذَّابَ قَدِمَ المَدِينَةَ فَنَزَلَ فِي دَارِ بِنْتِ الحَارِثِ، وَكَانَ تَحْتَهُ بِنْتُ الحَارِثِ بْنِ كُرَيْزٍ ، وَهِيَ أُمُّ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَامِرٍ. فَأَتَاهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَهُ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، وَهُوَ الَّذِي يُقَالُ لَهُ : خَطِيبُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَفِي يَدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضِيبٌ . فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَكَلَّمَهُ. فَقَالَ لَهُ مُسَيْلِمَةُ : إِنْ شِئْتَ خَلَّيْتَ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الأَمْرِ، ثُمَّ جَعَلْتَهُ لَنَا بَعْدَكَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَوْ سَأَلْتَنِي هَذَا القَضِيبَ مَا أَعْطَيْتُكَهُ. وَإِنِّي لَأَرَاكَ الَّذِي أُرِيتُ فِيهِ مَا أُرِيتُ ، وَهَذَا ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ، وَسَيُجِيبُكَ عَنِّي » . فَانْصَرَفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. صحيح البخاري كِتَابُ المَغَازِي بَابُ قِصَّةِ الأَسْوَدِ العَنْسِيِّ رقم الحديث ۴۳۷۸ . كنزالعمال رقم الحديث ۳۸۳۸۷ .

أوفرمايل چې : مُسَيلمه د هغه ديرش (٣٠) كذّابينو نه يو كذّاب (دروغجَن) دی کوم چې په د دَجّال أعور نه مخکې ظاهريږي .

چونکه په دې خطبه کې نبي عليه السلام مُسَيلمه ته كذّاب ووېل نو د هغې نه راپه ديخوا دا په مُسيلمه كذّاب سره يادولې شي . (١)

## د مُسَيلمه كذّاب خط او د نبي عليه السلام د طرفه جواب

په احاديثو او تفاسيرو کې دا خبره ذکر ده چې مُسَيلمه كذّاب نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته يو خط راأوليږل ، د هغې الفاظ دادي :

مِنْ مُسَيْلِمَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ إِلَىٰ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الْأَرْضَ لِصْفُهَا لِيْ وَلِصْفُهَا لَكَ .

دا خط د مُسَيلمه رسول الله د طرفه دی محمّدٌرسولُ الله ته ، پس ددينه خبره داده چې دا زمکه نيمه زما ده او نيمه ستا ده .

د مُسَيلمه كذّاب دا خط دده دوه قاصدانو نبي عليه السلام ته راوړو ، پيغمبر عليه السلام ددې کسانو نه پوښتنه اوکړه :

ستاسو د مُسَيلمه په باره کې څه عقيده ده ؟ دوی ووېل :

زمونږ هم هغه عقيده ده کومه چې زمونږ د پيغمبر (مُسَيلمه) ده .

پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا .

که چيرته د قاصدانو قتلول جائز وی نو ما به ستاسو څټونه په توره باندې وَهلي وو .

بيا نبي عليه السلام مُسَيلمه كذّاب ته يو جامع جوابي خط اوليکل ، د هغې الفاظ دادي

مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُوْلِ اللّٰهِ إِلَىٰ مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الْأَرْضَ لِلّٰهِ يُوْرِثُهَا مَنْ يَّشَاءُ مِنْ عِبَادِهٖ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ .

دا خط د محمّدٌرسولُ الله د طرفه دی مُسَيلمه كذّاب طرف ته ، پس ددينه خبره داده چې بيشکه زمکه د الله تعالى ده هغه چې په خپلو بندګانو باندې څوک أوغواړي ددې زمکې

---

(١) احمد تلبيس ص٥٠ .

وارث يې جوړوي، او ښه انجام د مُتقيانو (پرهيزګارانو) د پاره دی.(١)

( د احاديثو په بعضې کتابونو کې ددې خط مضمون داسې ذکر دی چې مسيلمه کذاب نبي عليه السلام ته دا خط اوليکل :

أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أُشْرِكْتُ فِي الأَمْرِ مَعَكَ فَلِيَ نِصْفُ الأَرْضِ وَلَكَ نِصْفُهَا، وَلَكِنَّ قُرَيْشًا يَعْتَدُونَ.

پس ددينه پيشکه زه د تا سره په نبوّت کې شريک کړې شوې يم، پس نيمه زمکه زما ده او نيمه ستاسو ده، ليکن قريش تجاوز کوونکي دي.

نبي عليه السلام ورته په جواب کې اُوليکل :

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ، مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ سَلَامٌ عَلَى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدَى أَمَّا بَعْدُ. فَإِنَّ الأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ.(٢)

---

(١) وَالْفِرْقَةُ الثَّانِيَةُ: بَنُو حَنِيفَةَ بِالْيَمَامَةِ ورئيسهم مسيلمة الكذاب، وَكَانَ قَدْ تَنَبَّأَ فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي آخِرِ سَنَةِ عَشْرٍ، وَزَعَمَ أَنَّهُ أُشْرِكَ مَعَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي النُّبُوَّةِ، وَكَتَبَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مِنْ مُسَيْلِمَةَ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الأَرْضَ نِصْفُهَا لِي وَنِصْفُهَا لَكَ. وَبَعَثَ بِذَلِكَ إِلَيْهِ مَعَ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ لَهُمَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلَا أَنَّ الرُّسُلَ لَا تُقْتَلُ لَضَرَبْتُ أَعْنَاقَكُمَا». ثُمَّ أَجَابَ: «مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ، أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ الأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ، وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ». وَمَرِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتُوُفِّيَ، فَبَعَثَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه خَالِدَ بْنَ الْوَلِيدِ رضي الله عنه إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ فِي جَيْشٍ كَثِيرٍ حَتَّى أَهْلَكَهُ اللهُ عَلَى يَدَيْ وَحْشِيٍّ رضي الله عنه، غُلَامِ مُطْعِمِ بْنِ عَدِيٍّ الَّذِي قَتَلَ حَمْزَةَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رضي الله عنه، بَعْدَ حَرْبٍ شَدِيدٍ، وَكَانَ وَحْشِيٌّ رضي الله عنه يَقُولُ: قَتَلْتُ خَيْرَ النَّاسِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ وَشَرَّ النَّاسِ فِي الْإِسْلَامِ. تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٢ ص ٦١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤. التفسير المظهري ج٣ ص ١٢٩، تفسير البيضاوي ج٢ ص ١٣١ سورة المائدة في تفسير آية ٥٤. مجمع الزوائد ج٥ ص ٣١٥ رقم الحديث ٩٥٩٩، كنز العمال رقم الحديث ٣٨٣٨٦.

(٢) وَمِمَّا يَدْخُلُ فِي حُسْنِ الْجَوَابِ مَعَ وَجَازَةِ الْكَلَامِ جَوَابُهُ عَنْ كِتَابِ مُسَيْلِمَةَ إِلَيْهِ إِذْ كَتَبَ: أَمَّا بَعْدُ فَإِنِّي أُشْرِكْتُ فِي الأَمْرِ مَعَكَ فَلِيَ نِصْفُ الأَرْضِ وَلَكَ نِصْفُهَا، وَلَكِنَّ قُرَيْشًا يَعْتَدُونَ. فَكَتَبَ إِلَيْهِ: "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللهِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ ... شعب الايمان رقم الحديث ١٣٧٠ فصل في بيان النبي صلى الله عليه وسلم وفصاحته، تفسير ابن كثير ج٥ ص ٢٩٧.

شروع په نوم د الله چې ډير مهربان زيات رحم کوونکی دی ، دا خط د محمّدُ رسولُ الله د طرفه دی مُسَیلمه کذّاب طرف ته ، سلام په هغه چا دی چې هغه د هدايت پيروي کوي ، پس دديته خبره داده چې بيشکه زمکه د الله تعالی ده هغه چې په خپلو بندګانو باندې څوک أوغواړي ددې زمکې وارِث يې جوړوي ، او ښه أنجام د پرهيزګارانو د پاره دی

## د مُسَیلمه کذّاب خرافات

مُسَیلمه کذّاب خلقو ته د شرابو او زِنا عام اجازت ورکړې وُ ، خلقو ته يې ويل چې ستاسو روژه صرف داده چې د نمر پريوتلو نه تر د نمر راختلو پورې خوراک څکاک مه کوئ ، او مونځونه يې صرف درې ( ٣ ) مقرر کړي وو ، د سهر او ماسخوتن مونځ يې خلقو ته معاف کړې وُ ، په مانځه کې به يې قرآن کريم نه لوستلو بلکه د مُسَیلمه کذّاب خُودساخته کتاب به يې لوستلو چې د هغې نوم " فاروقِ اول " وُ .(١)

مُسَیلمه کذّاب خلقو ته ويل چې ما د قرآن کريم په مقابله کې نور سورتونه جوړ کړي دي ( دا د مُسَیلمه خلقو ته هسې يوه دُهوکه ورکول وو ؛ ځکه تر أوسه پورې هيچا د قرآن کريم د يو وړوکي سورة مقابله هم نده کړی ، او نه تر اوسه چا د قرآن کريم په شان فصيح و بليغ کلام جوړ کړې دی ) .

مُسَیلمه کذّاب چې کوم عربي عبارتونه د قرآن کريم په مقابله کې جوړ کړي وو که تاسو هغه واورئ نو خندا به درشي چې عام سړی هم داسې بې هُوده خبرې نه کوي څنګه چې مُسَیلمه کذّاب کړي دي .

---

(١) دبستان مذاهب ص ٢٩٧ ، الدعاة ص ٩٣ . المه تلبيس ص ٥٦ .

وَعَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي حَازِمٍ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى ابْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه . فَقَالَ : إِنِّي مَرَرْتُ بِمَسْجِدٍ مِنْ مَسَاجِدِ بَنِي حَنِيفَةَ فَسَمِعْتُهُمْ يَقْرَؤُونَ شَيْئًا لَمْ يُنْزِلْهُ اللهُ: اَلطَّاحِنَاتُ طَحْنًا. اَلْخَابِزَاتُ خَبْزًا. وَالْعَاجِنَاتُ عَجْنًا. اَللَّاقِمَاتُ لَقْمًا. قَالَ: فَقَدَّمَ ابْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه ابْنَ النَّوَّاحَةِ إِمَامَهُمْ. فَقَتَلَهُ وَاسْتَكْثَرَ الْبَقِيَّةَ . فَقَالَ: لَا أُجَزِّرُهُمُ الْيَوْمَ الشَّيْطَانَ. سَيَّرُوهُمْ إِلَى الشَّامِ حَتَّى يَرْزُقَهُمُ اللهُ تَوْبَةً أَوْ يُفْنِيَهُمُ الطَّاعُونُ. رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ. وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ.

مجمع الزوائد ومنبع الفوائد رقم الحديث ١٠٥٧٧ بَابٌ فِي مَنْ كَفَرَ بَعْدَ إِسْلَامِهِ نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذَلِكَ وَهَلْ يُسْتَتَابُ وَكَمْ يُسْتَتَابُ .
المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٨٩٥٦ . مصنف عبدالرزاق الصنعاني رقم الحديث ١٨٧٠٨ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٨٩٥٦ .

(علماوُ هغه عبارتونه په خپلو كتابونو كې ذكر كړي دي) . (١)

## د مُسَيلمه كذّاب دُهوكه

مُسَيلمه كذّاب د خپلې پيغمبرى د ثبوت دپاره خلقو ته دا دُهوكه وركوله چې يو بُوتل ورسره وُ ، خُله يې تَنګه وه او لاندې غټ وُ ، په هغې كې يې د چَركې آنده (هګى) اچولې وه، خلقو به چې دده نه د پيغمبرى معجزه طلب كړه نو ده به ورته دا بوتل اُوښود ، او ويل به يې : دا زما مُعجزه ده چې د بُوتل په دې تَنګه خُله كې مې د چَركې آنده داخله كړې ده ،

(١) وَكَانَ مُسَيْلِمَةُ مِمَّا جَاءَ بِهِ وَذَكَرَ أَنَّهُ وَحْيٌ: يَا ضُفْدَعُ بِنْتَ ضُفْدَعْ. نُقِّي مَا تُنَقِّينَ. أَعْلَاكِ فِي المَاءِ. وَأَسْفَلُكِ فِي الطِّينِ. لَا الشَّارِبَ تَمْنَعِينَ ، وَلَا المَاءَ تُكَدِّرِينَ.

وَقَالَ أَيْضًا: وَالمُبْذِيَاتِ زَرْعًا ، وَالحَاصِدَاتِ حَصْدًا ، وَالذَّارِيَاتِ قَمْحًا ، وَالطَّاحِنَاتِ طَحْنًا ، وَالخَابِزَاتِ خُبْزًا ، وَالثَّارِدَاتِ ثَرْدًا ، وَاللَّاقِمَاتِ لُقْمًا ، إِهَالَةً وَسَمْنًا ، لَقَدْ فُضِّلْتُمْ عَلَى أَهْلِ الوَبَرِ ، وَمَا سَبَقَكُمْ أَهْلُ المَدَرِ ، رِيفُكُمْ فَامْنَعُوهُ ، وَالمُعْتَرِيَ فَآوُوهُ ، وَالبَاغِيَ فَنَاوِئُوهُ . الكامل في التاريخ ابن الأثير ج٢ ص ٢١٥ ذِكْرُ مُسَيْلِمَةَ وَأَهْلِ اليَمَامَةِ . و صيد الخاطر لابن الجوزي ج١ ص ٣١٦ .

ونسب "الرافعي" له قوله : "والشاءِ وألوانها ، وأعجبها السود وألبانها ، والشاة السوداء ، واللبن الأبيض ، إنه لعجب محض ، وقد حرم المذق فما لكم لا تمجعون .

وقوله: "اَلْفِيْلُ . مَالْفِيْلُ ، وَمَا أَدْرَاكَ مَالْفِيْلُ ، لَهُ ذَنَبٌ وَبِيْلٌ ، وَخُرْطُوْمٌ طَوِيْلٌ " .

وروي أنه "جعل يسجع لهم الأساجيع ويقول لهم فيما يقول مضاهاة للقرآن: لقد أنعم الله على الحبلى ، أخرج منها نسمة تسعى ، من بين صفاق وحشى " .

أو أنه قال: " ألم تر إلى ربك كيف فعل بالحبلى ، أخرج منها نسمة تسعى ، من بين صفاق وحشى " .

روي أنه قال هذه الآيات لسجاح لما أراد الدخول بها ، فقالت: "وماذا أيضًا ؟ قال: أوحى إليّ : أن الله خلق النّساء أفراجا ، وجعل الرّجال لهن أزواجا ، فنولج فيهن قُعسا إيلاجا ، ثم نخرجها إذا نشاء إخراجا ، فينتجن لنا سخالا انتاجا . قالت أشهد أنك نبيّ ، قال: هل لك أن أتزوجك فآكل بقومي وبقومك العرب ! قالت: نعم . المفصل في تاريخ العرب قبل الإسلام الدكتور جواد علي ج١٦ ص ٣٩٣ .

محترمو ! تاسو د مسيلمه كذاب عربي عبارتونه اوكتل چې دا د يو عام هوښيار سړي خبرې هم ندي نو د قرآن كريم مقابله به څنګه اوكړي ؟ خو صرف خلقو ته يې دُهوكه وركوله .

او که څوک دا نه مني نو هغه دې داسې کار او کړي .

حالانکه دا د مُسَیلمه کذّاب دُهوکه وه ؛ ځکه هغه د چرګې دغه أنډه څو ورځې په سرکه کې اچولې وه چې په دې سره د أنډې پوستکې نرم شوې ؤ نو بیا یې په بوتل کې داخله کړې وه ( بیا یې واپس أو به وراچولې وی نو پوستکې یې دوباره کلک شوې ؤ ) . (١)

## الله تعالی مُسَیلمه کذّاب لره رَسوّاء کړو

الله تعالی مُسَیلمه کذّاب لره داسې رَسواء کړو چې کله به ده د څه کار د پاره د برکت دُعا اوکړه نو هغه کار به ألته شو ، د هغې نه به برکت مکمل ختم شو . که چاته به یې د څه بیماری نه د صِحت د پاره دُعا اوکړه نو هغه به نور هم سخت بیمار شو ، ددې په باره کې درته پنځه واقعات ذکر کوم :

١ . یو ښځه مُسَیلمه کذّاب ته راغله او ورته وې ویل : چې زما د باغ د پاره دُعا اوکړه چې د قجورې أونې په کې شنې شي او د کوهي أوبه یې زیاتې شي لکه څرنګې چې نبي علیه السلام د هزمان خلقو ته دُعا کړې وه .

مُسَیلمه کذّاب د خپل ملګري " نهار " نه پوښتنه اوکړه چې نبي علیه السلام به ددې د پاره څه عمل کولو ؟ هغه ورته وویل :

نبي علیه السلام به ددې د پاره دُعا کوله او د هغه کوهي أوبه به یې راواخیستی ، په خُله مبارکه کې به یې واچولی ، او واپس به یې په کوهي کې واچولی نو په دې سره به د کوهي أوبه هم زیاتې شوی او د قجورو أوچې أونې به هم شنې شوی .

مسیلمه کذّاب هم همدغه شان کار اوکړو ( اول یې د برکت دُعا اوکړه ، بیا یې د خپلې خُلې أوبه په هغه کوهي کې واچولی ) نو په دې سره د هغه کوهي أوبه نورې هم په ښکته لاړې ، او د باغ ټولې أونې أوچې شوی . چې په دې الله تعالی مسیلمه کذاب رسواء کړو .

٢ . یو ځل مسیلمه کذّاب ته خپل ملګري " نهار " وویل چې د نبي علیه السلام طریقه دا وه چې د ماشومانو په سَرونو باندې به یې د برکت د پاره لاس وهلو نو ماشومان به د

---

(١) الآثار الباقية عن القرون الخالية البيروني الخوارزمي ص ١٠٩ . المه تلبيس ص ٦٠ .

بیماریو نه مکمل محفوظ شو ، نو اې مسیلمه ! ته هم د بنوحنیفه قبیلې ماشومانو په سرونو باندې لاس راکاږه او د خپلې خُلې خوراک د ماشومانو په خُله کې د برکت د پاره واچوه.

مُسَیلمه کذّاب همدغه شان اوکړو ، نو الله تعالی مسیلمه داسې رَسواء کړو چې ده د کومو ماشومانو په سرونو باندې لاس وهلې ؤ هغه ټول گنجیان شو ، او کومو ماشومانو ته یې چې په خُله کې د برکت د پاره خوراک اچولې ؤ هغه ټول گونگیان چاړه گان شو . (١)

٣ . یو ځل مُسَیلمه کذّاب دا خبره واوریده " چې د یو کس سترگې خُوږیدی نو نبي علیه السلام د هغه په سترگو باندې د خپلې خُلې مبارکې لاړې اُولړولی نو د هغه د سترگو دَرد او زخم ښه شو " نو مُسَیلمه کذّاب هم د یو بیمار په سترگو باندې د خپلې خُلې لاړې د شِفاء په غَرض اولړولی نو الله تعالی دا داسې رَسواء کړو چې د هغه کس د سترگو نظر مکمل ختم شو .

۴ . یو ځل مُسَیلمه کذّاب د یوې لنگې چیلۍ په غُلانځه باندې لاس اُووهل ددې د پاره

---

(١) دا خبره په الکامل في التاريخ کې داسې ذکر ده : وَأَتَتْهُ امْرَأَةٌ فَقَالَتْ: إِنَّ نَخْلَنَا لَسَحِيقٌ، وَإِنَّ آبَارَنَا لَجُرُزٌ. فَادْعُ اللَّهَ لِمَائِنَا وَنَخْلِنَا كَمَا دَعَا مُحَمَّدٌ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَهْلِ هَزْمَانَ. فَسَأَلَ نَهَارًا عَنْ ذَلِكَ. فَذَكَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا لَهُمْ وَأَخَذَ مِنْ مَاءِ آبَارِهِمْ فَتَمَضْمَضَ مِنْهُ وَمَجَّهُ فِي الْآبَارِ. فَفَاضَتْ مَاءً، وَأَنْجَبَتْ كُلُّ نَخْلَةٍ، وَأَطْلَعَتْ فَسِيلًا قَصِيرًا مُكَمَّمًا. فَفَعَلَ مُسَيْلِمَةُ ذَلِكَ. فَغَارَ مَاءُ الْآبَارِ وَيَبِسَ النَّخْلُ، وَإِنَّمَا ظَهَرَ ذَلِكَ بَعْدَ مَهْلِكِهِ. وَقَالَ لَهُ نَهَارٌ: أَمِرَّ يَدَكَ عَلَى أَوْلَادِ بَنِي حَنِيفَةَ مِثْلَ مُحَمَّدٍ. فَفَعَلَ وَأَمَرَّ يَدَهُ عَلَى رُءُوسِهِمْ وَحَنَّكَهُمْ. فَقَرِعَ كُلُّ صَبِيٍّ مَسَحَ رَأْسَهُ، وَلَثِغَ كُلُّ صَبِيٍّ حَنَّكَهُ، وَإِنَّمَا اسْتَبَانَ ذَلِكَ بَعْدَ مَهْلِكِهِ. الكامل في التاريخ ابن الأثير ج٢ ص ٢١٦ ذِكْرُ مُسَيْلِمَةَ وَأَهْلِ الْيَمَامَةِ . صيد الخاطر لابن الجوزي ج١ ص ٤١٦ .

**نوټ** : " نهار" د مسیلمه کذاب ملگرې ؤ ، اول یې اسلام راوړې ؤ خو بیا مرتد شو . وَكَانَ مَعَ مُسَيْلِمَةَ نَهَارٌ الرَّجَّالُ بْنُ عُنْفُوَةَ. وَكَانَ قَدْ هَاجَرَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَرَأَ الْقُرْآنَ، وَفَقُهَ فِي الدِّينِ، وَبَعَثَهُ مُعَلِّمًا لِأَهْلِ الْيَمَامَةِ، وَلِيَشْغَبَ عَلَى مُسَيْلِمَةَ. فَكَانَ أَعْظَمَ فِتْنَةً عَلَى بَنِي حَنِيفَةَ مِنْ مُسَيْلِمَةَ. شَهِدَ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّ مُسَيْلِمَةَ قَدْ أُشْرِكَ مَعَهُ. فَصَدَّقُوهُ وَاسْتَجَابُوا لَهُ. وَكَانَ مُسَيْلِمَةُ يَنْتَهِي إِلَى أَمْرِهِ. الكامل في التاريخ ابن الأثير ج٢ ص ٢١٥ ذِكْرُ مُسَيْلِمَةَ وَأَهْلِ الْيَمَامَةِ

Scanned with CamScanner

چې ددې شوده زیات شي نو الله تعالی مُسَیلمه داسې رَسواء کړو چې سمدست په هغه چیلی کې شوده اُوچ شو.

**۵.** مُسَیلمه کذّاب ته یوه زَنانه راغله او ورته وې ویل: زما نور بچي وفات شوي دي صرف دوه (۲) ځامن مې پاتې دي ته دُعا اوکړه چې الله تعالی دا راته ژوندي اُوساتي.

نو مُسَیلمه کذّاب دُعا اوکړه او دې ښځې ته یې خوشخبري ورکړه چې ستا دا مشر ځوی به تر بُوډاوالي پورې ژوندې وي، او دا کشر ځوي به دې څلوېښت (۴۰) کاله ژوندې وي.

ښځه په ډیرې خوشحالی کور ته روانه شوه، چې کله کور ته اُورسیده نو مشر ځوي یې په کوهي کې غورځیدلې وُ او مَړ شوې وُ، او د کشر ځوي زنکدن یې شروع وُ هغه هم مړ شو.

الله تعالی مُسَیلمه کذّاب لره په خلقو کې رَسواء کړو خو بیا هم ددې خپل غلط حرکت نه منع کیدو، او په دروغه یې د نبوّت دعوٰی کړې وه.(۱)

## حضرت ابوبکر صدیق ﷛ د مُسیلمه کذّاب د ختمولو د پاره حضرت خالد بن ولید ﷛ اُولیږل

د نبي علیه السلام د وفات نه پس د مُسَیلمه کذّاب فِتنه نوره هم زیاته شوه، دده سره څلویښت زره (۴۰۰۰۰) فوج وُ، په دې بعضې کسان داسې وو چې هغوی مُسَیلمه کذّاب نبي منلو، او بعضې داسې وو چې هغوی دا دروغجن ګڼړلو خو بیا یې هم د قومیت په وجه دده ملګرتیا کوله.(۲)

کله چې حضرت ابوبکر صدیق ﷛ خلیفه شو نو دوی د مُرتدینو ختمولو د پاره د صحابه کرامو ګروپونه مختلفو ځایونو ته اُولیږل.

حضرت عکرمه ﷛ یې د مُسَیلمه کذّاب د ختمولو د پاره یمامې ته اُولیږل، او ددې

---

(۱) المه تلبیس ص ۵۹، ۶۰.

(۲) وَقِيلَ: جَاءَهُ طَلْحَةُ النَّمِرِيُّ فَسَأَلَهُ عَنْ حَالِهِ، فَأَخْبَرَهُ أَنَّهُ يَأْتِيهِ رَجُلٌ فِي ظُلْمَةٍ. فَقَالَ: أَشْهَدُ أَنَّكَ الْكَاذِبُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا صَادِقٌ، وَلَكِنْ كَذَّابُ رَبِيعَةَ أَحَبُّ إِلَيْنَا مِنْ صَادِقِ مُضَرَ. فَقُتِلَ مَعَهُ يَوْمَ عَقْرَبَاءَ كَافِرًا. الكامل في التاريخ ابن الأثير ج۲ ص ۲۱۶ ذِكْرُ مُسَيْلِمَةَ وَأَهْلِ الْيَمَامَةِ.

Scanned with CamScanner

پسې يې حضرت خالد بن وليد ﷺ هم ورأوليږل چې دده سره د مهاجرينو او أنصارو لښکر ؤ ، په دې لښکر کې هغه صحابه کرام هم شريک وو کوم چې په غزوه بَدر کې شريک وو .

د اسلامي لښکر ټول تعداد ديارلس زره ( ١٣٠٠٠ ) کسان وو چې مشري يې حضرت خالد بن وليد ﷺ کوله ، او د مُسيلمه کذاب سره څلويښت زره ( ۴٠٠٠٠ ) کسان وو چې په هر قِسمه أسلحه باندې سَمبال وو ، او وخت په وخت به په کې نور کسان هم شريکيدل .

حضرت خالد بن وليد ﷺ يمامې طرف ته ورنزدې شو ، د عقرباء په ميدان کې يې خيمې أووهلې ، په دويمه ورځ باندې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې ، داسې سخت جنګ شروع شو چې د دينه مخکې دومره سخته مقابله چيرته نه وه راغلې ، مسلمانانو په ډيرې بهادرۍ سره د زمرو په شان په هغوی حمله اوکړه ، دُشمنانو چې دا أوليد نو وارخطاء شو ، يو خوا بل خوا أوتخيدل ، د مُسيلمه ځوي " شرحبيل " به خپل فوج ته غيرت ورکول چې ټکړه شئ په خپل ننګ او ناموس باندې ځان قربان کړئ ، خو مسلمانانو داسې په بهادرۍ سره مقابله اوکړه چې هغوی ټينګ نه شو .

آخر د مُسَيلمه کذّاب لښکر نزدې يو باغ ته په مَنډه ننوَت ، او د باغ غټه دروازه يې د ځان پسې رابنده کړه ، مسلمانان د شاته ورپسې وَر روان وو ، خو چونکه د باغ دروازه بنده وه ، دَننه د ورتللو لار نه وه ، نو په مسلمانانو کې يو بهادر کس چې نوم يې " براء بن مالک " ؤ ده حضرت خالد بن وليد ﷺ ته ووېل چې تاسو ما ديوال ته أوخيجوئ ، زه به لاندې وَرټوپ کړم او دروازه به خلاصه کړم .

حضرت خالد بن وليد ﷺ ورته ووېل : تا څونږ د دُشمن لاسونو ته څنګه وَراوغورځوو ؟

آخر دې کس ډير اِصرار اوکړو او حضرت خالد بن وليد ﷺ ته يې قسَم ورکړو چې ما ديوال ته پورته کړئ .

نو مسلمانانو دا ديوال ته پورته أوخيجول ، هغه لاندې وَرټوپ کړل ، هلته موجود د مُسيلمه کذاب ملګرو سره يې سخته مقابله اوکړه خو آخر يې ځان دروازې ته أورسول ، سمدست يې دروازه کلاؤ کړه ، د مسلمانانو فوج باغ ته داخل شو ، په باغ کې سخت جنګ شروع شو .

Scanned with CamScanner

په دې وخت کې د مُسيلمه کذاب ملګرو دده نه پوښتنه اوکړه چې : ستا هغه وعده به کله پوره کيږي کومه چې درسره الله تعالى کړې ده ؟

ده ورته ووېل : دا وخت ددې خبرو ندی هر سړی دې د خپل أهل و عيال د پاره أوجنګيږي .

د مُسَيلمه کذّاب فوج هم کلکه مقابله کوله ؛ ځکه که د هغوی ملګري هر څومره ډير مرداريدل خو بيا هم د هغوی تعداد زيات وُ ، څلويښت زره کسان وو نو ځکه يې سخته مقابله کوله .

مسلمانان باوجود د کم تعداد نه بيا هم په ډيره بهادرۍ سره أوجنګيدل ، حضرت خالد بن وليد ﷺ پوهه شو چې ترڅو پورې مُسَيلمه کذاب نه وي ختم شوی تر هغې پورې د دوی قوّت نه ختميږي ، نو دده د قتلولو پسې يې کوشش شروع کړو او سخته حمله يې اوکړه .

کله چې مُسيلمه کذاب پوهه شو چې اوس مې د بچ کيدلو څه صورت نشته نو پخپله يې زغره واغوسته ، په آس باندې سور شو څه فوج يې د ځان سره ملګرې کړو ، کوشش يې کولو چې د باغ د دَروازې نه بهر أووځي .

چې کله دَروازې ته أورسيد نو په دَروازه کې حضرت وَحشي ﷺ ولاړ وُ هغه وړياندې د نېزې دومره تېز ګوزار اوکړو چې دا نېزه د مُسيلمه کذاب د خيټې نه آخوا أووتله ، ځای په ځای راأوغورځيد ، يو انصاري کس رامنده کړه او سَرېې ورنه په توره باندې غوڅ کړو ، بيا حضرت وَحشي ﷺ دده سَر په نېزه کې پورته کړو ( چې خلق يې أوګوري ) ، په دې سره د مُسيلمه کذاب په لښکر کې يَره خوَره شوه ، يو طرفته او بل طرفته أوتختيدل .

آخر دا چې ميدان د دُشمنانو نه خالي شو ، څه مردار شو او څه أوتختيدل ، مسلمانانو ته مخه خلاصه شوه او د مُسيلمه کذّاب فِتنه ختمه شوه .

په دې جنګ کې مُسيلمه کذّاب پخپله او د هغه آته ويشت زره ( ٢٨٠٠٠ ) کسان مردار شو .(١)

---

(١) په يو بل قول کې ذکر دي چې د مرتدينو يو ويشت زره ( ٢١٠٠٠ ) کسان مردار شو ، يو دريم قول په دا هم شته چې أوولس زره ( ١٧٠٠٠ ) کسان يې مردار شو .

Scanned with CamScanner

او د مسلمانانو څه د پاسه زر (١٠٠٠) کسان شهيدان شو ، په يو بل قول کې دي چې د مسلمانانو دولس سوه (١٢٠٠) کسان شهيدان شو .(١)

خو ډير په کې زخميان هم وو ، په شهيد شوو کسانو کې د قرآن کريم حافظان زيات وو .(٢)

دا واقعه علامه ابن اثير رَحِمَهُ‌اللهُ په "الكامل في التاريخ" کې او علامه واقدي رحمه الله په "كتاب الردة" کې په پوره تفصيل سره ذکر کړې .(٣)

---

(١) د ابن اثير ج٢ ص ٢٢٣ د قول مطابق د مسلمانانو شپږ سوه (٦٠٠) کسان شهيدان شوي وو ، ليکن د ابن خلدون ج٢ ص٤١١ د قول مطابق يوزر اتيا (١٠٨٠) مسلمانان شهيدان شوي وو . المه تلبيس ص ٦٧ .

(٢) تاريخ اسلام لمولانا اکبرشاه نجيب آبادي ج١ ص٢٩٩ . المه تلبيس ص ٦١ . ختم نبوّت کامل لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ٣٧٢ .

(٣) قَدْ ذَكَرْنَا فِيمَا تَقَدَّمَ مَجِيْءَ مُسَيْلِمَةَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَلَمَّا مَاتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَعَثَ أَبُو بَكْرٍ السَّرَايَا إِلَى الْمُرْتَدِّيْنَ، أَرْسَلَ عِكْرِمَةَ بْنَ أَبِي جَهْلٍ فِي عَسْكَرٍ إِلَى مُسَيْلِمَةَ، وَأَتْبَعَهُ شُرَحْبِيْلَ بْنَ حَسَنَةَ.... فَلَمَّا رَجَعَ خَالِدٌ رضي الله عنه مِنَ الْبُطَاحِ إِلَى أَبِي بَكْرٍ وَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ قَبِلَ عُذْرَهُ وَرَضِيَ عَنْهُ، وَوَجَّهَهُ إِلَى مُسَيْلِمَةَ، وَأَوْعَبَ مَعَهُ الْمُهَاجِرِيْنَ وَالْأَنْصَارَ، وَعَلَى الْأَنْصَارِ ثَابِتُ بْنُ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، وَعَلَى الْمُهَاجِرِيْنَ أَبُو حُذَيْفَةَ وَ زَيدُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَأَقَامَ خَالِدٌ بِالْبُطَاحِ يَنْتَظِرُ وُصُولَ الْبَعْثِ إِلَيْهِ، فَلَمَّا وَصَلُوْا إِلَيْهِ سَارَ إِلَى الْيَمَامَةِ، وَبَنُو حَنِيْفَةَ يَوْمَئِذٍ كَثِيْرُوْنَ، كَانَتْ عِدَّتُهُمْ أَرْبَعِيْنَ أَلْفَ مُقَاتِلٍ، وَعَجَّلَ شُرَحْبِيْلُ بْنُ حَسَنَةَ، وَبَادَرَ خَالِدًا بِقِتَالِ مُسَيْلِمَةَ، فَنُكِبَ، فَلَامَهُ خَالِدٌ، وَأَمَدَّ أَبُو بَكْرٍ خَالِدًا بِسَلِيْطٍ؛ لِيَكُوْنَ رِدْءًا لَهُ، لِئَلَّا يُؤْتَى مِنْ خَلْفِهِ. وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه يَقُوْلُ: لَا أَسْتَعْمِلُ أَهْلَ بَدْرٍ، أَدَعُهُمْ حَتَّى يَلْقَوُا اللهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِهِمْ، فَإِنَّ اللهَ يَدْفَعُ بِهِمْ وَبِالصَّالِحِيْنَ أَكْثَرَ مِمَّا يَنْتَصِرُ بِهِمْ. وَكَانَ عُمَرُ رضي الله عنه يَرَى اِسْتِعْمَالَهُمْ عَلَى الْجُنْدِ وَغَيْرِهِ.... وَلَمَّا بَلَغَ مُسَيْلِمَةَ دُنُوُّ خَالِدٍ ضَرَبَ عَسْكَرَهُ بِعَقْرَبَاءَ، وَخَرَجَ إِلَيْهِ النَّاسُ، وَخَرَجَ مُجَّاعَةُ بْنُ مُرَارَةَ فِي سَرِيَّةٍ يَطْلُبُ ثَأْرًا لَهُمْ فِي بَنِي عَامِرٍ، فَأَخَذَهُ الْمُسْلِمُوْنَ وَأَصْحَابَهُ، فَقَتَلَهُمْ خَالِدٌ وَاسْتَبْقَاهُ؛ لِشَرَفِهِ فِي بَنِي حَنِيْفَةَ، وَكَانُوْا مَا بَيْنَ أَرْبَعِيْنَ إِلَى سِتِّيْنَ. ... وَتَرَكَ مُسَيْلِمَةُ الْأَمْوَالَ وَرَاءَ ظَهْرِهِ، فَقَالَ شُرَحْبِيْلُ بْنُ مُسَيْلِمَةَ: يَا بَنِي حَنِيْفَةَ ! قَاتِلُوْا ؛ فَإِنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ الْغَيْرَةِ، فَإِنِ انْهَزَمْتُمْ تُسْتَرْدَفُ النِّسَاءُ سَبِيَّاتٍ، وَيُنْكَحْنَ غَيْرَ خَطِيْبَاتٍ، فَقَاتِلُوْا عَنْ أَحْسَابِكُمْ، وَامْنَعُوْا نِسَاءَكُمْ. فَاقْتَتَلُوْا بِعَقْرَبَاءَ، وَكَانَتْ رَايَةُ الْمُهَاجِرِيْنَ مَعَ سَالِمٍ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ، وَكَانَتْ قَبْلَهُ مَعَ عَبْدِ اللهِ بْنِ حَفْصِ بْنِ غَانِمٍ فَقُتِلَ، فَقَالُوْا: تَخْشَى عَلَيْنَا مِنْ نَفْسِكَ شَيْئًا فَقَالَ: بِئْسَ حَامِلُ الْقُرْآنِ أَنَا إِذًا ! ←←←←←←←←

←←←← وَكَانَتْ رَايَةُ الْأَنْصَارِ مَعَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسِ بْنِ شَمَّاسٍ، وَكَانَتِ الْعَرَبُ عَلَى رَايَاتِهِمْ. وَالْتَقَى النَّاسُ. وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ لَقِيَ الْمُسْلِمِينَ نَهَارُ الرَّجَّالُ بْنُ عُنْفُوَةَ فَقُتِلَ. قَتَلَهُ زَيْدُ بْنُ الْخَطَّابِ. وَاشْتَدَّ الْقِتَالُ. وَلَمْ يَلْقَ الْمُسْلِمُونَ حَرْبًا مِثْلَهَا قَطُّ. .... وَاشْتَدَّ الْقِتَالُ وَتَدَامَرَتْ بَنُو حَنِيفَةَ، وَقَاتَلَتْ قِتَالًا شَدِيدًا. وَكَانَتِ الْحَرْبُ يَوْمَئِذٍ تَارَةً لِلْمُسْلِمِينَ وَتَارَةً لِلْكَافِرِينَ. وَقُتِلَ سَالِمٌ، وَأَبُو حُذَيْفَةَ، وَ زَيْدُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَغَيْرُهُمْ مِنْ أُولِي الْبَصَائِرِ. فَلَمَّا رَأَى خَالِدٌ مَا النَّاسُ فِيهِ قَالَ: امْتَازُوا أَيُّهَا النَّاسُ لِنَعْلَمَ بَلَاءَ كُلِّ حَيٍّ، وَلِنَعْلَمَ مِنْ أَيْنَ نُؤْتَى. فَامْتَازُوا، وَكَانَ أَهْلُ الْبَوَادِي قَدْ جَنَّبُوا الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارَ، وَجَنَّبَهُمُ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ. فَلَمَّا امْتَازُوا قَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: الْيَوْمَ يُسْتَحَى مِنَ الْفِرَارِ. فَمَا رُئِيَ يَوْمٌ كَانَ أَعْظَمَ نِكَايَةً مِنْ ذَلِكَ الْيَوْمِ، وَلَمْ يُدْرَ أَيُّ الْفَرِيقَيْنِ كَانَ أَعْظَمَ نِكَايَةً. غَيْرَ أَنَّ الْقَتْلَ كَانَ فِي الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَأَهْلِ الْقُرَى أَكْثَرَ مِنْهُ فِي أَهْلِ الْبَوَادِي. وَثَبَتَ مُسَيْلِمَةُ فَدَارَتْ رَحَاهُمْ عَلَيْهِ، فَعَرَفَ خَالِدٌ ﷺ أَنَّهَا لَا تَرْكُدُ إِلَّا بِقَتْلِ مُسَيْلِمَةَ. وَلَمْ تَحْفَلْ بَنُو حَنِيفَةَ بِمَنْ قُتِلَ مِنْهُمْ. ثُمَّ بَرَزَ خَالِدٌ ﷺ وَدَعَا إِلَى الْبِرَازِ وَنَادَى بِشِعَارِهِمْ. وَكَانَ شِعَارُهُمْ: يَا مُحَمَّدَاهُ! فَلَمْ يَبْرُزْ إِلَيْهِ أَحَدٌ إِلَّا قَتَلَهُ. وَدَارَتْ رَحَا الْمُسْلِمِينَ. وَدَعَا خَالِدٌ ﷺ مُسَيْلِمَةَ فَأَجَابَهُ. فَعَرَضَ عَلَيْهِ أَشْيَاءَ مِمَّا يَشْتَهِي مُسَيْلِمَةُ فَكَانَ إِذَا هَمَّ بِجَوَابِهِ أَعْرَضَ بِوَجْهِهِ لِيَسْتَشِيرَ شَيْطَانَهُ، فَيَنْهَاهُ أَنْ يَقْبَلَ. فَأَعْرَضَ بِوَجْهِهِ مَرَّةً، وَ رَكِبَهُ خَالِدٌ وَأَرْهَقَهُ. فَأَدْبَرَ وَ زَالَ أَصْحَابُهُ، وَصَاحَ خَالِدٌ ﷺ فِي النَّاسِ فَرَكِبُوهُمْ. فَكَانَتْ هَزِيمَتُهُمْ. وَقَالُوا لِمُسَيْلِمَةَ: أَيْنَ مَا كُنْتَ تَعِدُنَا؟ فَقَالَ: قَاتِلُوا عَنْ أَحْسَابِكُمْ. وَنَادَى الْمُحَكَّمُ: يَا بَنِي حَنِيفَةَ، الْحَدِيقَةَ الْحَدِيقَةَ! فَدَخَلُوهَا وَأَغْلَقُوا عَلَيْهِمْ بَابَهَا.... فَلَمَّا دَخَلَتْ بَنُو حَنِيفَةَ الْحَدِيقَةَ قَالَ الْبَرَاءُ: يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِينَ، أَلْقُونِي عَلَيْهِمْ فِي الْحَدِيقَةِ. فَقَالُوا: لَا نَفْعَلُ. فَقَالَ: وَاللهِ لَتَطْرَحُنَّنِي عَلَيْهِمْ بِهَا! فَاحْتُمِلَ حَتَّى أَشْرَفَ عَلَى الْجِدَارِ فَاقْتَحَمَهَا عَلَيْهِمْ، وَقَاتَلَ عَلَى الْبَابِ وَفَتَحَهُ لِلْمُسْلِمِينَ وَدَخَلُوهَا عَلَيْهِمْ. فَاقْتَتَلُوا أَشَدَّ قِتَالٍ، وَكَثُرَ الْقَتْلَى فِي الْفَرِيقَيْنِ لَاسِيَّمَا فِي بَنِي حَنِيفَةَ. فَلَمْ يَزَالُوا كَذَلِكَ حَتَّى قُتِلَ مُسَيْلِمَةُ. وَاشْتَرَكَ فِي قَتْلِهِ وَحْشِيٌّ ﷺ مَوْلَى جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ. وَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ، أَمَّا وَحْشِيٌّ ﷺ فَدَفَعَ عَلَيْهِ حَرْبَتَهُ، وَضَرَبَهُ الْأَنْصَارِيُّ بِسَيْفِهِ. قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: فَصَرَخَ رَجُلٌ: قَتَلَهُ الْعَبْدُ الْأَسْوَدُ. فَوَلَّتْ بَنُو حَنِيفَةَ عِنْدَ قَتْلِهِ مُنْهَزِمَةً، وَأَخَذَهُمُ السَّيْفُ مِنْ كُلِّ جَانِبٍ. وَأُخْبِرَ خَالِدٌ ﷺ بِقَتْلِ مُسَيْلِمَةَ ..... وَقَدْ قُتِلَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ ثَلَاثُمِائَةٍ وَسِتُّونَ. وَمِنَ الْمُهَاجِرِينَ مِنْ غَيْرِ الْمَدِينَةِ ثَلَاثُمِائَةِ رَجُلٍ، وَقُتِلَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ، قَطَعَ رَجُلٌ مِنَ الْمُشْرِكِينَ رِجْلَهُ. فَأَخَذَهَا ثَابِتٌ وَضَرَبَهُ بِهَا فَقَتَلَهُ. وَقُتِلَ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ بِعَقْرَبَاءَ سَبْعَةُ آلَافٍ، وَبِالْحَدِيقَةِ مِثْلُهَا، وَفِي الطَّلَبِ نَحْوٌ مِنْهَا.

الكامل في التاريخ ج٢ ص ٢١٣ ذِكْرُ مُسَيْلِمَةَ وَأَهْلِ الْيَمَامَةِ. كتاب الردة ص ١٠٢ خَبَرُ مَالِكِ بْنِ نُوَيْرَةَ وَمُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ

Scanned with CamScanner

# د مُسَیلمه کذّاب د واقعې نه حاصل شوي نتائِج

ددې واقعې نه مونږ ته یو څو خبرې معلومې شوی :

**۱** . اوله خبره دا چې کله مُسَیلمه کذّاب د نبوّت دعوٰی اوکړه نو د صحابه کرامو یو لوي جماعت په اِتفاق سره دده د مقابلې د پاره راأووت ، اګر چې د دُشمنانو په مقابله کې د مسلمانانو تعداد هم کم وُ ، آسلحه ورسره هم کمه وه خو بیا هم د مُسَیلمه کذّاب د مقابلې د پاره راأووتل.

تقریبًا دولس سوه (۱۲۰۰) صحابه کرم او تابعین د ختمِ نبوّت مسئلې د تحفظ د پاره شهیدان شو ، چې په دې کې ډیر تعداد د قرآن کریم د حافظانو او عالِمانو وُ.

محترمو مسلمانانو ! تاسو دیته سوچ اوکړئ چې د نبي علیه السلام په زمانه کې د اسلام د سَربُلندئ او دِفاع د پاره څومره جهادونه شوي وو (که هغه غزوه بدر وه ، غزوه اُحد وه ، غزوه خیبر وه ، غزوه حُنین وه ، فتح مکه وه ، غزوه موته وه ، غزوه اَحزاب وه او یا غزوه تبوک وُ ) په دې ټولو کې مجموعه دوه سوه او نهه پنځوس (۲۵۹) مسلمانان شهیدان شوي وو (۱) او د مُسَیلمه کذّاب په مقابله کې دولس سوه (۱۲۰۰) صحابه کرام او تابعین شهیدان شو ، په دې کې اُووه سوه (۷۰۰) د قرآن کریم داسې حافظان او عالمان وو چې د نبي علیه السلام په خدمت کې یې قرآن کریم حفظ کړې وُ . او ډیره حصه په کې زخمیان وو، ددینه معلومه شوه چې د صحابه کرامو په نزد باندې ددې مسئلې ډیر اَهمیت وُ ، او ددې د تحفّظ د پاره یې ډیره قرباني ورکړې . (۲)

**۲** . ددې واقعې نه دویمه خبره دا معلومه شوه چې کله صحابه کرامو ته معلومه شوه چې مُسَیلمه کذّاب د نبوّت دعوٰی کړې نو هیڅا دده نه مُعجزه یا دلیل طلب نکړو ، بلکه

---

(۱) رحمة للعالمین ج۲ ص۲۱۳ قاضي سلیمان منصورپوري رحمه الله ، آئینۂ قادیانیت ص۳۰م.

(۲) ختم نبوت کامل ص ۳۰۴ حصہ سوم از مفتي محمد شفیع رحمه الله ، مرقاة المفاتیح ج۵ ص ۲۴ ، آئینۂ قادیانیت ص۳۰ ، وخطبات شاہین ختم نبوت ص۲۵۲ .

په تاریخ الکامل ، تاریخ طبري ، او تاریخ ابن جریر کې دا خبره صراحةً ذکر ده.

ټولو صحابه کرامو دده په مُرتدوالي او دده په قتلولو باندې اِجماع اوکړه، او دده سره يې عمَلي جهاد اوکړو.

۳ . ددې واقعې نه دریمه خبره دا معلومه شوه چې که یو کس د اسلام نور فرائض او احکام مني او ځان ته مسلمان وايي خو چې کله د ختمِ نبوّت نه اِنکار کوي یا د اسلام د یو بل قطعي حکم نه اِنکار کوي نو په دې سره دا سړې مُرتد او کافر کیږي، لکه مُسَیلمه کذّاب هم ځان ته مسلمان ویل او د اِسلام ډیر احکامات یې منل خو ختمِ نبوّت یې نه منل او پخپله یې د نبوّت دعوی اوکړه نو صحابه کرامو دا مرتد اُوګرځول او جهاد یې ورسره اوکړو.

٤ . ددې واقعې نه څلورمه خبره دا معلومه شوه چې کله د یو چا پیروکار او مُتّبِعین زیات وي نو دا دده د حقانیت دلیل ندی؛ ځکه د مُسَیلمه کذّاب سره څلویښت زره (۴۰۰۰۰) تکړه فوج وُو ، اوس ددې څلویښت زره کسانو به شاته نور خاندانونه (ښځې، بچي، مور او پلار) هم وو نو ددینه ډیر زیات خلق جوړیږي ، خو بیا هم صحابه کرامو دده ډیر والي ته اُو نه کتل بلکه د ختمِ نبوّت نه د مُنکِر کیدو په وجه یې ورسره جهاد اوکړو.

په دې ځای دا خبره د ذکر کولو قابله ده چې که نن صبا د میرزا غلام احمد قادیاني (کوم چې په دروغه د نبوّت دعوی کړې وه، دده) ملګري دا دعوی کوي چې "زمونږ دا ډیروالې زمونږ د حقانیت دلیل دی" . نو ددې جواب دادی چې د مُسَیلمه کذّاب ملګري هم ډیر وو خو صحابه کرامو دا ډیر والې د هغه د حقانیت دلیل اُو نه ګڼړل، بلکه مُرتد او کافر یې اُوګڼړل او جهاد یې ورسره اوکړو.

۵ . ددې واقعې نه پنځمه خبره دا معلومه شوه چې په دې واقعه کې د روستو اُمتِ مُسلمه د پاره ډیر لوي سبق پروت دی، هغه دا چې " څوک هم تر قیامته پورې د نبي علیه السلام د ختمِ نبوّت نه مُنکِر شي یا په دروغه د نبوّت دعوی اوکړي نو داسې کس به مُرتد او کافر وي او دده قتلول به واجب وي، که ددې د پاره د سَر او مال قرباني ورکول راشي نو مسلمانان به دیته هم غاړه ږدي لکه څرنګې چې دولس سوه (۱۲۰۰) صحابه کرامو او تابعینو دا قرباني ورکړه.

٦ . ددې واقعې نه شپږمه خبره دا معلومه شوه چې کله د نبي علیه السلام د وفات نه پس بعضې قبائل مرتد شو ، د یهودیانو او نصارٰی ؤ د طرفه هم په مسلمانانو باندې د حملې خطره وه ، د داخلي او خارجي دُشمنانو د حملې سخته خطره وه ، د دُشمنانو په نسبت د مسلمانانو سره جنګي آلات هم کم وو ، د مُسَیلمه کذّاب فِتنه هم ډیره په تیزئ خوَریده ، خو ددې ټولو خبرو باوجود بیا هم صحابه کرامو د آسبابو او اسلامي لښکر د کمي پرواه اُو نه ساتله ، او حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د ټولو نه اول د مُرتدینو د ختمولو د پاره د صحابه کرامو مختلف ګروپونه مختلفو ځایونو ته اُولیږل ، او په لږ وخت کې یې د مرتدینو ټولې فِتنې ختمې کړې .

که چیرته د نن صبا غوندې د کمزوري اِیمان واله رُوشن خیاله مسلمانان هلته موجود وی نو دوی به ضرور دا مشوره ورکوله چې :

" اول د خارجي دُشمنانو مقابله په کار ده ؛ ځکه دا مرتدین خو ځان ته مسلمانان وایي او د اسلام ډیر احکامات مني نو د دوی سره جهاد ندې په کار "

لیکن حضرت ابوبکر صدیق ﷺ او نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم په الله تعالی باندې عقیده مضبوطه وه د آسبابو او تعداد د کمي لحاظ یې اُو نه ساتل بلکه د ټولو نه اول یې د همدې مُرتدینو ( د مُسَیلمه کذّاب او دده په شان نورو مُرتدینو ) سره جهاد اوکړو ، چې کله یې دا ختم کړل نو بیا یې خارجي دُشمنانو ته توَجّو اوکړه ؛ دا ځکه چې صحابه کرامو ته معلومه وه چې عزّت او ذِلت ، فتح او شِکست د الله تعالی په قبضهٔ قدرت کې دی ، دوی ته معلومه وه چې په غزوه بدر او غزوه حُنَین کې اګر چې د مسلمانانو سره د آسلحې او تعداد کمي ؤ خو بیا یې هم د کافرانو بې شمیره مُسلح فوج ته شکست ورکړی . (۱)

## اوس د مُسَیلمه کذاب یو مَنونکی هم نشته

په کوم وخت کې چې مُسَیلمه کذّاب د نبوّت دعوٰی کړې وه نو په هاغه وخت کې د صحابه کرامو مجموعه تعداد ټول یو لک او څلیریشت زره ( ۱۲۴۰۰۰ ) کسان وو ، او د مُسَیلمه کذّاب مَنونکي په هغه وخت کې مجموعه یو لک ( ۱۰۰۰۰۰ ) کسان وو ، ( اګرچې

(۱) ختم نبوّت کامل لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله ص ۳۷۵ .

Scanned with CamScanner

د مقابلې په وخت د اسلامي لښکر ټول تعداد دیارلس زره (۱۳۰۰۰) کسان وو او د مُسیلمه کذاب سره څلویښت زره (۴۰۰۰۰) کسان وو چې په هر قِسمه اَسلحه باندې سَمبال وو، او وخت په وخت به په کې نور کسان هم شریکیدل) خو بیا هم الله تعالی هغه داسې ختم کړو چې اوس په ټوله دُنیا کې د هغه یو مَنونکی کس هم نشته. او مسلمانان اَلحمدُ لله په هر ملک کې ښه ډیر دي. (۱)

(د الله تعالی نه قوي اُمید دی چې همدغه شان به یو وخت راشي چې بیا به ټوله دُنیا کې د ډیر تلاش باوجود یو قادیانې هم نه پیدا کیږي).

## ۴. دروغجَنه پیغمبره "سجاح بنت حارث"

سجاح بنت حارث په بنوتمیم قبیله کې پیدا شوې وه، دا عیسایَنړه وه، خو په خبرو کې ډیره فصیحه، بلیغه او هوښیاره ښځه وه، په تقریر کولو کې یې ډیر مهارت لرل، ددې سره سره دا مشهوره جادوګره هم وه، بل دا چې ځواني یې وه ډیره ښائسته هم وه. (۲)

د نبي علیه السلام د وفات نه پس چې کله مُسَیلمه کذّاب د نبوّت دعوی اوکړه او ډیر ملګري یې پیدا شو د سجاح هم د ځان نه طمع پیدا شوه، دې هم د نبوّت دعوی اوکړه، دې به په ډیر فصیح او بلیغ انداز کې په عربۍ کې خطونه لیکل او مختلف قبیلو ته به یې لیږل، او هغوی ته به یې ویل چې دا آسماني وَحي ده، ډیر عیسایان او د کمزورې اِیمان واله خلق ددې په خبرو باندې دُهوکه شو، او ددې تابعداري یې اوکړه.

---

(۱) خطبات شاهین ختم نبوت ص ۷۶.

(۲) وكانت سجاح هذه قد ادعت النبوة بعد موت رسول الله صلى الله عليه وسلم، فاستجاب لها جماعة. ......
سجاح بنت الحارث التميمية من بني يربوع، متنبئة كانت شاعرة عالمة بالأخبار، تزوجت مسيلمة الكذاب، وبعد قتله عادت إلى الإسلام، وهاجرت إلى البصرة وحسن إسلامها. صيدالخاطر ص ۴۱۶ و حاشيه ۶.

وَأَمَّا بَنُو تَمِيمٍ، فَإِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَّقَ فِيهِمْ عُمَّالَهُ .... فَلَمَّا وَقَعَ الْخَبَرُ بِمَوْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ... إِذْ جَاءَتْهُمْ سَجَاحُ بِنْتُ الْحَارِثِ بْنِ سُوَيْدِ بْنِ عُقْفَانَ التَّمِيمِيَّةُ، قَدْ أَقْبَلَتْ مِنَ الْجَزِيرَةِ، وَادَّعَتِ النُّبُوَّةَ، وَكَانَ وَرَهْطُهَا فِي أَخْوَالِهَا مِنْ تَغْلِبَ تَقُودُ أَفْنَاءَ رَبِيعَةَ، مَعَهَا الْهُذَيْلُ بْنُ عِمْرَانَ فِي بَنِي تَغْلِبَ، وَكَانَ نَصْرَانِيًّا فَتَرَكَ دِينَهُ وَتَبِعَهَا... الكامل في التاريخ لابن الاثير ج۲ ص ۲۰۹ ذِكْرُ بَنِي تَمِيمٍ وَسَجَاحَ

Scanned with CamScanner

چې کله د سجاح سره ډیر فوج جمع شو نو په مدینه منوّره باندې یې د حملې کولو اِراده اوکړه ، بیا ورته خپلو بعضو سردارانو مشوره ورکړه چې اول د بنوتمیم په نورو قبیلو باندې حمله اوکړه ، دې همداسې اوکړل خو کامیابه نه شوه .

## په یَمامه باندې د حملې د پاره تلل

یوه شپه سجاح په عربۍ کې یو ښائسته مضمون جوړ کړو ، سهر یې د خپل فوج سرداران راجمع کړل او ورته وې ویل چې بیګاه شپه په ما باندې وَحي راغله چې په یَمامه باندې حمله اوکړه .

په دې وخت کې په یَمامه کې مُسَیلمه کذّاب ؤ ، ده هم د نبوّت دعوٰی کړې وه او څلویښت زره (۴۰۰۰۰) تکړه فوج ورسره ؤ .

نو سجاح د خپل لښکر سره د مُسیلمه د مقابلې د پاره یمامې ته روانه شوه .

په دې وخت کې حضرت ابوبکرصدیق ﷺ د مسلمانانو خلیفه ؤ ، دوی یو لوي لښکر د حضرت خالد بن ولید ﷺ په مشرۍ کې د سجاح او مُسَیلمه کذّاب د ختمولو د پاره اُولیږل.

مُسَیلمه کذّاب ته چې کله معلومه شوه چې زما مقابلې د پاره سجاح راغلې ده نو سوچ یې اوکړو چې یو طرفته د مسلمانانو خطره ده ، او بل طرف ته د سجاح خطره ده نو د چالاکۍ نه یې کار واخیست ، سَمدست یې سجاح ته خط اُولیږل چې :

ته دلته د څه د پاره راغلې یې ؟

سجاح ورته وویل چې زه پیغمبره یم او ما آوریدلي چې ته هم پیغمبر یې ، زما اِراده ده چې په مدینه منوّره باندې حمله اوکړم نو ته هم راسره ملګرې شه چې دواړه په شریکه په مسلمانانو حمله اوکړو .

مُسَیلمه ورته بیا خط وراُولیږل چې : مخکې د عربو زمکه نیمه د محمد صلی الله علیه وسلم وه او نیمه زما وه خو چې کله هغه وفات شو نو اوس د عربو ټوله زمکه زما ده خو چې کله ته د پیغمبرۍ دعوٰی کوې نو دا نیمه زمکه به زه تاله درکړم .

مُسَیلمه کذّاب دې سجاح ته په خط کې دا هم لیکلي وو چې زه د تاسره ملاقات کول غواړم ، ماته د ملاقات اجازت اوکړه .

سجاح ورته د ملاقات اجازت ورکړو .

Scanned with CamScanner

# مُسَيلمه کذّاب سجاح لره په خپل عِشق کې راګيره کړه

مُسَيلمه کذّاب دځان سره ډيرې تُحفې واخيستې او دسجاح ملاقات ته ورغلو ، هغې سره په ډيره مينه او محبت ملاوْ شو .

مُسَيلمه کذّاب چې د نزدې نه اندازه واخيسته نو ورته معلومه شوه چې ددې سره جنګ کول ډير مشکل دي ، سوچ يې اوکړو چې په خپل عِشق کې يې ګرفتاره کړه ، نو سجاح ته يې درخواست اوکړو چې ته زما خيمې ته ځانله راشه ، هلته به زه ستا د خبرو نه فائده واخلم ، د يو بل سره به د خپلې پيغمبری تذکره اوکړو ، پيغمبري به تقسيم کړو ، او په مدينه منوّره باندې به د حملې کولو مشوره هم اوکړو .

سجاح چې دا خبرې واوريدې نو دُهوکه شوه او راضي شوه .

مُسَيلمه کذّاب واپس خپل ځای ته راغی ، هلته يې حکم اوکړو چې سَمدست ځانله ځای کې خيمه اُولږوئ ، په هغې کې ښائسته قالينونه او فرشونه خواره کړئ ، د ښائست ټول اَسباب په کې برابر کړئ ، قِسما قِسم خوشبوياني په کې اُوشيندئ ، د ناوِيانو په شان ښائسته کمره برابره کړئ .

کله چې ټولې تياراني مکمل شوی نو سجاح په ډير ښائسته انداز کې خيمې ته راغله ، مُسَيلمه کذّاب يې پوره اِستقبال اوکړو ، بيا دواړه خيمې ته ځانله ننوتل ، مُسَيلمه ورسره د مِينې او محبت نه ډکې خبرې شروع کړی . په خبرو خبرو کې يې ورته وويل :

که چيرته په تا باندې څه وَحي نازله شوي وي هغه راته واوروه . سجاح ورته وويل : اول ته خپله وَحي واوروه ؛ ځکه زه ښځه يم او ته سړی يې .

مُسَيلمه کذّاب پوهه شو چې ددې اِستعداد دومره ډير نشته نو ده ورته د عِشق او مِينې نه ډک د عربي څه عبارات وويل ، او وې ويل چې دا ماته وَحي نازله شوی . (١)

---

(١) علامه ابن اثير رحمه الله په خپل کتاب " الكامل في التاريخ " کې ليکلي : وَكَانَتْ سَجَاحُ تُرِيدُ غَزْوَ أَبِي بَكْرٍ ﷺ . فَأَرْسَلَتْ إِلَى مَالِكِ بْنِ نُوَيْرَةَ تَطْلُبُ الْمُوَادَعَةَ ، فَأَجَابَهَا وَرَدَّهَا عَنْ غَزْوِهَا ، وَحَمَلَهَا عَلَى أَحْيَاءٍ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ . فَأَجَابَتْهُ وَقَالَتْ : أَنَا امْرَأَةٌ مِنْ بَنِي يَرْبُوعٍ ، فَإِنْ كَانَ مُلْكٌ فَهُوَ لَكُمْ .... وَاجْتَمَعَ مَالِكٌ وَوَكِيعٌ وَسَجَاحُ فَسَجَعَتْ لَهُمْ سَجَاحُ وَقَالَتْ : "أَعِدُّوا الرِّكَابَ ، وَاسْتَعِدُّوا لِلنِّهَابِ ، ثُمَّ أَغِيرُوا عَلَى الرِّبَابِ ، ←←←←

Scanned with CamScanner

دې عربي عبارتونو په سجاح باندې ډیر آثر اوکړو ، نفسي خواهشات یې راپورته شو ، مُسَیلمه چې پوهه شو چې په دې باندې دې اشعارو ښه آثر اوکړو نو څه نور شهوت راپاروُونکي اشعاریې هم ورته وویل .

بیا مُسَیلمه کذّاب سجاح ته وویل : گوره الله تعالی د عربو نیمه زمکه ماته راکړې وه او نیمه یې قریشو (یعنی محمد ﷺ) ته ورکړې وه ، خو قریشو بې اِنصافي اوکړه نو الله تعالی د قریشو نه هغه نیمه زمکه واخیسته او تاله یې درکړه . آیا ستا دا خوښه نده چې ما او تا په خپل مینځ کې نکاح اوکړو ؟ ځکه چې کله زما او ستا فوجونه یو ځای شي نو مونږ به په ټولو عربو باندې قبضه اوکړو .

ښځه خو چونکه د کمزوري عقل واله وي نو دُهوکه شوه ، سَمدست یې جواب ورکړو چې زما دا خوښه ده ، دې آوریدو سره مُسَیلمه کذّاب خوشحال شو او څه نور عِشقي اشعار یې هم اُوویل . (١)

---

←←← فَلَيْسَ دُونَهُمْ حِجَابٌ". فَسَارُوا إِلَيْهِمْ، فَلَقِيَهُمْ ضَبَّةُ وَعَبْدُ مَنَاةٍ، فَقُتِلَ بَيْنَهُمْ قَتْلَى كَثِيرَةٌ، وَأَسَرَ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ، ثُمَّ تَصَالَحُوا .... ثُمَّ خَرَجَتْ سَجَاحُ فِي الْجُنُودِ وَقَصَدَتِ الْيَمَامَةَ، وَقَالَتْ: عَلَيْكُمْ بِالْيَمَامَةِ، وَدُفُّوا دَفِيفَ الْحَمَامَةِ، فَإِنَّهَا غَزْوَةٌ صَرَّامَةٌ، لَا يَلْحَقُكُمْ بَعْدَهَا مَلَامَةٌ. فَقَصَدَتْ بَنِي حَنِيفَةَ، فَبَلَغَ ذَلِكَ مُسَيْلِمَةَ، فَخَافَ إِنْ هُوَ شُغِلَ بِهَا أَنْ يَغْلِبَ ثُمَامَةُ وَشُرَحْبِيلُ بْنُ حَسَنَةَ وَالْقَبَائِلُ الَّتِي حَوْلَهُمْ عَلَى حَجْرٍ، وَهِيَ الْيَمَامَةُ، فَأَهْدَى لَهَا، ثُمَّ أَرْسَلَ يَسْتَأْمِنُهَا عَلَى نَفْسِهِ حَتَّى يَأْتِيَهَا، فَآمَنَتْهُ. فَجَاءَهَا فِي أَرْبَعِينَ مِنْ بَنِي حَنِيفَةَ. فَقَالَ مُسَيْلِمَةُ: لَنَا نِصْفُ الْأَرْضِ، وَكَانَ لِقُرَيْشٍ نِصْفُهَا لَوْ عَدَلَتْ، وَقَدْ رَدَّ اللهُ عَلَيْكِ النِّصْفَ الَّذِي رَدَّتْ قُرَيْشٌ .... وَقِيلَ: بَلْ تَحَصَّنَ مِنْهَا، فَقَالَتْ لَهُ: انْزِلْ، فَقَالَ لَهَا: أَبْعِدِي أَصْحَابَكِ. فَفَعَلَتْ، وَقَدْ ضَرَبَ لَهَا قُبَّةً وَجَمَّرَهَا لِتَذْكُرَ بِطِيبِ الرِّيحِ الْجِمَاعَ، وَاجْتَمَعَ بِهَا . الكامل في التاريخ لابن الاثير ج٢ ص ٢١٠ ذِكْرُ بَنِي تَمِيمٍ وَسَجَاحَ

(١) فَقَالَتْ لَهُ: مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ رَبُّكَ؟ فَقَالَ: " أَلَمْ تَرَ إِلَى رَبِّكَ كَيْفَ فَعَلَ بِالْحُبْلَى . أَخْرَجَ مِنْهَا نَسَمَةً تَسْعَى، بَيْنَ صِفَاقٍ وَحَشًى؟" قَالَتْ: وَمَاذَا أَيْضًا؟ قَالَ: " إِنَّ اللهَ خَلَقَ النِّسَاءَ أَفْرَاجًا ، وَجَعَلَ الرِّجَالَ لَهُنَّ أَزْوَاجًا، فَتُولِجُ فِيهِنَّ قُعْسًا إِيلَاجًا ، ثُمَّ تُخْرِجُهَا إِذْ تَشَاءُ إِخْرَاجًا ، فَيُنْتِجْنَ لَنَا سِخَالًا إِنْتَاجًا ". قَالَتْ: أَشْهَدُ أَنَّكَ نَبِيٌّ. قَالَ: هَلْ لَكِ أَنْ أَتَزَوَّجَكِ وَآكُلَ بِقَوْمِي وَقَوْمِكِ الْعَرَبَ؟ قَالَتْ: نَعَمْ. قَالَ:

أَلَا قُومِي إِلَى النَّيْكِ ✿ فَقَدْ هُيِّئَ لَكِ الْمَضْجَعُ ←←←←

# سجاح ته مهر

بیا دواړه په دې خیمه کې دننه درې (٣) ورځې وو ، بهر یې فوجونه په اِنتظار کې وو ، ګمان یې کولو چې ګني دواړه پیغمبران په اَهمو موضوعګانو باندې خبرې کوي ، حالانکه دوی خپلې مزې کولې .

درې ورځې پس چې کله دواړه د خیمې نه بهر رااووتل نو سجاح خپل لښکر ته لاړه ، د فوج سرداران و د ډیر اِنتظار نه پس ورنه پوښتنه اوکړه چې د مُسَیلمه سره دې څه خبره اوکړه ؟ دې ورته وویل :

زه هم پیغمبره یم او هغه هم بَرحق پیغمبر دی ، ما د هغه پیغمبري تسلیم کړه او د هغه

←←← فَإِنْ شِئْتِ فَفِي الْبَيْتِ ✡ وَإِنْ شِئْتِ فَفِي الْمَخْدَعْ
وَإِنْ شِئْتِ سَلَقْنَاكِ ✡ وَإِنْ شِئْتِ عَلَى أَرْبَعْ
وَإِنْ شِئْتِ بِثُلُثَيْهِ ✡ وَإِنْ شِئْتِ بِهِ أَجْمَعْ .

قَالَتْ: بَلْ بِهِ أَجْمَعَ فَإِنَّهُ أَجْمَعُ لِلشَّمْلِ. قَالَ: بِذَلِكَ أُوحِيَ إِلَيَّ. الكامل في التاريخ لابن الاثير ج٢ ص ٢١٠ ذِكْرُ بَنِي تَمِيمٍ وَسَجَاحَ. صيد الخاطر لابن الجوزي ص ٤١٧ .

وذكر أن "سجاح" لما دخلت قبة "مسيلمة". قالت له: أخبرني بما يأتيك به جبريل؟ فقال لها: اسمعي هذه السورة: إنكنّ معشر النساء خلقنّ أمواجًا، وجعل الرجال لكن أزواجًا. يولجن فيكن إيلاجًا، لا ترون فيه فتورا ولا إعوجاجا، ثم يخرجونه منكنّ إخراجا. فقالت له: صدقت، والله إنك لنبيّ مرسل. المفصل في تاريخ العرب قبل الإسلام الدكتور جواد علي ج١٦ ص ٣٩٣ .

امام واقدي رحمه الله ذکر کړي : وَسَمِعَتْ بِهِ سَجَاحُ بِنْتُ الْمُنْذِرِ ، وَقَدْ كَانَتِ ادَّعَتِ النُّبُوَّةَ وَتَبِعَهَا رِجَالٌ مِنْ قَوْمِهَا: غَيْلَانُ بْنُ خَرَشَةَ، وَالْحَارِثُ بْنُ الْأَهْتَمِ، وَجَمَاعَةٌ مِنْ بَنِي تَمِيمٍ. قَالَ: وَكَانَ لَهَا مُؤَذِّنٌ يُؤَذِّنُ لَهَا وَيَقُولُ: أَشْهَدُ أَنَّ سَجَاحَ نَبِيَّةُ اللهِ. قَالَ فَسَارَتْ سَجَاحُ هَذِهِ إِلَى مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ، فَسَلَّمَتْ عَلَيْهِ بِالنُّبُوَّةِ، وَقَالَتْ: إِنَّهُ بَلَغَنِي أَمْرُكَ، وَسَمِعْتُ بِنُبُوَّتِكَ، وَقَدْ أَقْبَلْتُ إِلَيْكَ، وَأَحْبَبْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ بِكَ، وَلَكِنْ أَخْبِرْنِي مَا الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ ؟ . فقال المسيلمة : أُنْزِلَ عَلَيَّ مِنْ رَبِّي : « لَا أُقْسِمُ بِهَذَا الْبَلَدِ ، وَلَا تَبْرَحُ هَذَا الْبَلَدَ ، حَتَّى تَكُونَ ذَا مَالٍ وَوَلَدٍ ، وَوَفْرٍ وَصَفَدٍ ، وَخَيْلٍ وَعَدَدٍ ، إِلَى آخِرِ الْأَبَدِ ، عَلَى رَغْمِ مِنْ حَسَدٍ » . قَالَ: فَقَالَتْ سَجَاحُ : إِنَّكَ نَبِيٌّ حَقًّا وَقَدْ رَضِيتُ بِكَ ، وَزَوَّجْتُكَ نَفْسِي .... كتاب الردة للواقدي ص ١١١ .

Scanned with CamScanner

سره مې نكاح اوكړه ؛ ځكه ستاسو د پيغمبرې د پاره د پيغمبر سخت ضرورت ؤ .
د فوج سرداران يې حيران شو ، پوښتنه يې ورنه اوكړه چې : هغه تاته څه مَهر دركړو ؟ آيا بغير د مَهر نه دې ورسره نكاح اوكړه ؟
سجاح چې دا خبره واوريده نو ډيره ملامته شوه او وې ويل چې د مانه دا خبره هيره شوه، هغوى ورته وويل چې اوس ورشه او د مَهر تعين اوكړه .
سجاح دوباره وَر روانه شوه ، بل طرف ته مُسيلمه كذّاب خپلې مضبوطې قلعې ته ننوتې ؤ ؛ ځكه هغه سوچ كولو چې هسې نه د سجاح فوج دا خپل سپكاوې او بَده اُوګنړي او د غصې نه په ما باندې حمله اوكړي ، نو د ډيرې نه يې د قلعې دَروازه بنده كړې وه . په دې دَوران كې چا ورته وويل چې سجاح دوباره بهر دروازې ته راغلې ده ، نو د مُسيلمه سره نوره يَره هم پيدا شوه . د ډيرې يَرې په وجه د قلعې پاس په چَت باندې اُوخَت او د هغه ځاى نه يې تپوس اوكړو چې : دوباره څنګه راغلى ؟
سجاح ورته وويل : تا د ما سره نكاح اوكړه خو زما مَهر څه شى دى ؟ مُسيلمه ورته وويل : ما په مَهر كې ستا ذَلې ته د ماسخوتن او سهر مونځونه معاف كړل .
سجاح خپل فوج ته راغله او دوى ته يې دا خبره اوكړه ، د فوج مشران ډير مَلامته او شَرمنده وو .(١)
د فوج په مشرانو كې يو كس " عطاء بن حاجب " ددې سره روان ؤ او دتعجب په وجه

---

(١) .... فَأَقَامَتْ عِنْدَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ انْصَرَفَتْ إِلَى قَوْمِهَا. فَقَالُوا لَهَا: مَا عِنْدَكِ؟ قَالَتْ: كَانَ عَلَى الْحَقِّ فَتَبِعْتُهُ وَتَزَوَّجْتُهُ. قَالُوا: هَلْ أَصْدَقَكِ شَيْئًا؟ قَالَتْ: لَا. قَالُوا: فَارْجِعِي فَاطْلُبِي الصَّدَاقَ. فَرَجَعَتْ. فَلَمَّا رَآهَا أَغْلَقَ بَابَ الْحِصْنِ وَقَالَ: مَا لَكِ؟ قَالَتْ: أَصْدِقْنِي. قَالَ: مَنْ مُؤَذِّنُكِ؟ قَالَتْ: شَبَثُ بْنُ رِبْعِيٍّ الرِّيَاحِيُّ. فَدَعَاهُ وَقَالَ لَهُ: نَادِ فِي أَصْحَابِكَ أَنَّ مُسَيْلِمَةَ رَسُولَ اللهِ قَدْ وَضَعَ عَنْكُمْ صَلَاتَيْنِ مِمَّا جَاءَكُمْ بِهِ مُحَمَّدٌ: صَلَاةَ الْفَجْرِ وَصَلَاةَ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ. الكامل في التاريخ لابن الاثير ج٢ ص ٢١١ ذِكْرُ بَنِي تَمِيمٍ وَسَجَاحَ.

فَقَالَتْ سَجَاحُ: إِنَّكَ نَبِيٌّ حَقًّا وَقَدْ رَضِيتُ بِكَ، وَزَوَّجْتُكَ نَفْسِي، وَلَكِنْ أُرِيدُ أَنْ تَجْعَلَ لِي صَدَاقًا يُشْبِهُنِي. قَالَ مُسَيْلِمَةُ: فَإِنِّي قَدْ فَعَلْتُ ذَلِكَ، ثُمَّ دَعَا بِمُؤَذِّنِهِ فَقَالَ: نَادِ فِي قَوْمِ هَذِهِ الْمَرْأَةِ: أَلَا إِنَّ نَبِيَّكُمْ مُسَيْلِمَةَ قَدْ رَفَعَ عَنْكُمْ صَلَاتَيْنِ مِنَ الْخَمْسِ الَّتِي جَاءَ بِهَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، وَهِيَ صَلَاةُ الْفَجْرِ وَصَلَاةُ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ. فَقَالَتْ سَجَاحُ: أَشْهَدُ لَقَدْ جِئْتَ بِالصَّوَابِ. كتاب الردة للواقدي ص ١١١ .

Scanned with CamScanner

يې دا شعر ويلو :

أَمْسَتْ نَبِيَّتُنَا أُنْثَى نَطُوفُ بِهَا ✡ وَأَصْبَحَتْ أَنْبِيَاءُ النَّاسِ ذُكْرَانَا

زمونږ پيغمبره زنانه ده چې مونږ يې ګرځوو ، حالانكه د نورو خلقو پيغمبران سړي وي. (١)

## د حضرت خالد بن وليد ﷺ د لښكر سره مخامخ كيدل ، او تختيدل

بهر حال ، سجاح د مُسَيلمه كذّاب سره صلح اوكړه ، او ددې ځاىٔ نه يې خپل لښكر واپس روان كړو .

چونكه په دې وخت كې د مسلمانانو خليفه حضرت ابوبكر صديق ﷺ وُ ، دوى د مُرتدينو ختمولو د پاره د صحابه كرامو ګروپونه مختلفو ځايونو ته اُوليږل .

حضرت عكرمه ﷺ يې د مُسَيلمه كذّاب د ختمولو د پاره يمامې ته اُوليږل ، او ددې پسې يې حضرت خالد بن وليد ﷺ هم وراُوليږل د اسلامي لښكر ټول تعداد ديارلس زره (١٣٠٠٠) كسان وو چې مشري يې حضرت خالد بن وليد ﷺ كوله ، دوى يمامې ته روان وو .

سجاح په لاره كې د حضرت خالد بن وليد ﷺ د لښكر سره مخامخ شوه ، د سجاح ملګرو چې د مسلمانانو لښكر اُوليد نو د ډيرې يَرې په وجه ټول اُوتختيدل ، او سجاح هم په ډيرې منډې سره خپلې قبيلې (قبيله بني تغلب) ته لاړه ، او هلته يې په پټه باندې ژوند تيرول شروع كړو .

حضرت خالد بن وليد ﷺ ددينه پس يمامې ته لاړ او هلته يې د مُسَيلمه كذاب سره سخته مقابله اوكړه ، آخر يې هغه مردار كړو .

(د مُسَيلمه كذاب واقعه مخكې په تفصيل سره تيره شوى) .

---

(١) الكامل في التاريخ لابن الاثير ج٢ ص ٢١١ ذِكْرُ بَنِي تَمِيمٍ وَسَجَاحَ .

وَقَالَ الشَّاعِرُ : أَضْحَتْ نَبِيَّتُنَا أُنْثَى نَطِيفُ بِهَا ✡ وَأَصْبَحَتْ أَنْبِيَاءُ اللهِ ذُكْرَانَا

وَقَالَ أَبُو العَلَاءِ المَعَرِّيُّ : أَمَتْ سَجَاحِ وَوَالاهَا مُسَيْلِمَةُ ✡ كَذَّابَةٌ فِي بَنِي الدُّنْيَا وَكَذَّابُ

البحر المحيط في التفسير ج٣ ص ٢٩٦ ، صيد الخاطر لابن الجوزي ص ٣١٧ .

Scanned with CamScanner

# د سجاح اسلام قبول

سجاح په پټه باندې په قبيله بني تغلب کې خپل ژوند تيرول ، ددې ملګري هم تول ورنه جدا شو ، ډير وخت پس د حضرت معاويه ﷺ په زمانه کې دې د خپل قوم سره اِيمان راوړو ، بيا بَصرې ته لاړه .

سجاح د اِيمان نه پس پوره پرهيزګارۍ سره ژوند تير کړو ، کله چې وفات شوه نو حضرت سمرة بن جندب ﷺ چې په دې وخت کې د بَصرې حاکم وُ دوی يې جنازه اوکړه .(١)

# نور د نبوّت دعويدار

د اَسود عَنسي ، طُليحه اَسدي ، مُسَيلمة کذّاب ، او سجاح په شان نورو خلقو هم په مختلفو زمانو کې د نبوّت دعوې کړې وی خو الله تعالی په آخر کې ذليل کړل .(٢)

---

(١) ... وَصَالَحَهَا مُسَيْلِمَةُ عَلَى غَلَّاتِ الْيَمَامَةِ، سَنَةً تَأْخُذُ النِّصْفَ وَتَتْرُكُ عِنْدَهُ مَنْ يَأْخُذُ النِّصْفَ . فَأَخَذَتِ النِّصْفَ وَانْصَرَفَتْ إِلَى الْجَزِيْرَةِ ، وَخَلَّفَتِ الْهُذَيْلَ وَعَقَّةَ وَزِيَادًا لِأَخْذِ النِّصْفِ الْبَاقِيْ. فَلَمْ يُفَاجِئْهُمْ إِلَّا دُنُوُّ خَالِدٍ ﷺ إِلَيْهِمْ فَارْفَضُّوْا. فَلَمْ تَزَلْ سَجَاحُ فِيْ تَغْلِبَ حَتَّى نَقَلَهُمْ مُعَاوِيَةُ عَامَ الْجَمَاعَةِ . وَجَاءَتْ مَعَهُمْ وَحَسُنَ إِسْلَامُهُمْ وَ إِسْلَامُهَا، وَانْتَقَلَتْ إِلَى الْبَصْرَةِ وَمَاتَتْ بِهَا ، وَصَلَّى عَلَيْهَا سَمُرَةُ بْنُ جُنْدُبٍ ﷺ وَهُوَ عَلَى الْبَصْرَةِ لِمُعَاوِيَةَ. قَبْلَ قُدُوْمِ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ زِيَادٍ مِنْ خُرَاسَانَ وَوِلَايَتِهِ الْبَصْرَةَ. وَقِيْلَ: إِنَّهَا لَمَّا قُتِلَ مُسَيْلِمَةُ سَارَتْ إِلَى أَخْوَالِهَا تَغْلِبَ بِالْجَزِيْرَةِ ، فَمَاتَتْ عِنْدَهُمْ وَلَمْ يُسْمَعْ لَهَا بِذِكْرٍ. الكامل في التاريخ لابن الاثير ج٢ ص ٢١١ ذِكْرُ بَنِيْ تَمِيْمٍ وَسَجَاحَ.

.... ثم إنها رجعت عن غيها، وأسلمت . صيدالخاطر لابن الجوزي ص ٢١٧ .

(٢) ذكر الواقدي: أن رجلًا من بني يربوع يقال له: جندب بن كلثوم، كان يلقب كردانًا، ادعى النّبوّة على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم، وكان يزعم أن دليلة على نبوته أن يسرج مسامير الحديد والطين!! وهذا ؛ لأنّه كان يطلي ذلك بدهن البيلسان، فتعمل فيه النار.

☆ وقد تنبأ رجل يقال له كهمس الكلابي، وكان يزعم أن الله تعالى أوحى إليه: يا أيها الجائع ! اشرب لبنًا تشبع، ولا تضرب الذي لا ينفع ؛ فإنه ليس بمقنع !! . و زعم أن دليله على نبوته أنه يطرح بين السباع الضارية فلا تأكله، وحيلته في ذلك: أنه يأخذ دهن الغار وحجر البرسان ، وقنفذًا محرقًا. ←←←←

Scanned with CamScanner

# ٥ . ميرزا غلام احمد قادياني كذاب

ميرزا غلام احمد قادياني په هندوستان كې ضلع گورداسپور كې په قاديان علاقه كې په كال ١٨٣٩ء كې پيدا شوې وُ ، انگريزي تعليم يې كړې وُ ، څه د منطق او فلسفې كتابونه يې هم ويلي وو .

د احاديثو ، تفسير او فِقهي كتابونه يې بالكل نه وو ويلي ځكه خو يې مختلف قِسمه خُرافات ويل ، او قِسما قِسم دعوې يې كولې .

---

←←← وزبد البحر، وصدفاً محرقاً مسحوقاً، وشيئاً من الصبر والخبط، فيطلي به جسمه؛ فإذا قربت منه السباع، فشمت تلك الأرياح وذفورتها؛ نفرت.

✡ وتنبأ بالطائف رجل يقال له: أبو جعوانة العامري، وزعم أن دليله أنه يطرح النار في القطن فلا يحترق! وهذا؛ لأنه يدهنه بدهن معروف.

✡ ومنهم هذيل بن يعفور، من بني سعد بن زهير، حكى عنه الأصمعي أنه عارض سورة الإخلاص، فقال: "قل هو الله أحد، إله كالأسد، جالس على الرصد، لا يفوته أحد".

✡ ومنهم هذيل بن واسع، كان يزعم أنه من ولد النابغة الذبياني، عارض سورة الكوثر، فقال له رجل: ما قلت؟ فقال: " إنا أعطيناك الجواهر، فصل لربك وجاهر، فما يؤذيك إلا كل فاجر". فظهر عليه القسري، فقتله، وصلبه على العمود، فعبر عليه الرجل، فقال: "إنا أعطيناك العمود، فصل لربك من قعود، بلا ركوع ولا سجود، فما أراك تعود".

✡ وممن ظهر فادعى أنه يوحي إليه المختار بن أبي عبيد، وكان متخبطاً في دعواه، وقتل خلقاً كثيراً، وكان يزعم أنه ينصر الحسين رضوان الله عليه، ثم قتل.

✡ ومنهم حنظلة بن يزيد الكوفي، كان يزعم أن دليله أنه يدخل البيضة في القنينة، ويخرجها منها صحيحة! وذاك أنه كان ينقع البيضة في الخل الحامض، فيلين قشرها، ثم يصب ماء في قنينة، ثم يدس البيضة فيها، فإذا لقيت الماء، صلبت.

✡ وقد تنبأ أقوام قبل نبينا صلى الله عليه وسلم كزرادشت وماني وافتضحوا، وما من المدعين إلا من خذل. صيد الخاطر لابن الجوزي ص ٤١٨ فصل: الحق لا يشتبه بباطل .

Scanned with CamScanner

د وخت تیریدلو سره تقریبًا شپږ اَتیا ( ٨٦ ) دعوې یې کړې وی : کله به یې ویل چې زه مُجدِّد یم ، کله به یې ویل چې زه مسیح مَوعود ( یعنی حضرت عیسیٰ علیه السلام ) یم ، کله به یې ویل چې زه خَاتَمُ النَّبِیِّیْن یم ، کله به یې ویل چې زه د ټولو انبیاؤ نه افضل یم ، کله به یې داسې دعوې کولی چې د هغې په مطلب باندې به پخپله هم نه پوهیدلو او بل کس به هم پرې نه پوهیدلو . (١)

## میرزا قادیاني د نبوّت دعوی کړې وه

میرزا قادیاني د نبوّت دعوای کړې وه " چې زه نبي یم ". د هغه د کتابونو نه درته یو څو عبارتونه رانقل کوم :

١ . ریښتینې الله هغه دی چې هغه په قادیان کې خپل رسول رالیږلې دی . (٢)

٢ . میرزا قادیاني دا هم لیکلي : زما دا دعوای ده چې زه نبي او رسول یم . (٣)

٣ . میرزا قادیاني دا هم لیکلي چې الله تعالی په قرآن کریم کې زما متعلق ویلي چې : مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللهِ ... په دې آیت کې الله تعالی ماته ویلي چې اې میرزا قادیاني ! ته محمد هم یې او رسولُ الله هم یې . (٤)

مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله په خپل کتاب " ختم نبوّت " کې د میرزا قادیاني د کتابونو هغه عبارتونه هم رانقل کړي په کوم کې چې میرزا قادیاني مختلف دعوې کړې . (٥)

اګرچې په ابتدائي دَور کې د میرزا قادیاني عقائد د عامو مسلمانانو په شان صحیح وو خو روستو یې بیا مختلف قِسمه کُفري دعوې شروع کړې . (٦)

---

(١) المه تلبیس ص ٦٣١ . علمي تقریرونه دریمه حصه .

(٢) دافع البلاء ص ١٧٠ ، روحاني خزائن ج ٢٢ ص ٥٨٧ . / ختم نبوّت کامل ص ٢٦ .

(٣) ملفوظات ج٥ ص ٧٧٤ طبع جدید ، خطباتِ شاهین ختم نبوت ص ٤٢٧ .

(٤) ایک غلطي کا ازاله ص ٣ ، خزائن ج ١٨ ص ٢٠٧ / خطباتِ شاهین ختم نبوت ص ٤٢٧ .

(٥) دا عبارتونه د صفحه ٢٤ نه تر صفحه ٢٦ پورې تفصیل او حوالو سره ذکر دي . ختم نبوّت لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله ص ٢٤ .

(٦) ختم نبوّت لمولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله ص ١٦ .

Scanned with CamScanner

# میرزا قادیاني د نبوّت دعوی کولو سره سره د نبي علیه السلام اهانت هم کولو

میرزا قادیاني که یو طرفته د نبوّت دعوی کړې وه نو بل طرف ته یې د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم اِهانت او سپکاوې هم کولو ، د هغه د کتابونو یو څو عبارتونه درته رانقل کوم :

میرزا قادیاني لیکلي چې : د نبي علیه السلام درې زره ( ۳۰۰۰ ) معجزې وې . (۱)

او د خپل ځان په باره کې یې لیکلي دي چې زما معجزات د لس لکو ( ۱۰۰۰۰۰۰ ) نه هم زیات دي . (۲)

قادیاني دا هم لیکلي چې : زه د محمّدٌ رّسولُ الله ﷺ نه هم افضل یم . (۳)

قادیاني دا هم لیکلي چې : د نبي علیه السلام په زمانه کې د اسلام کیفیت د سپوږمۍ د اوّلې شپې په شان وُ . او د خپل ځان په باره کې یې لیکلي چې زما په زمانه کې د اسلام کیفیت د څوارلسمې شپې د سپوږمۍ په شان دی . (۴)

میرزا قادیاني په یوه موقع باندې خپلو مریدانو ته وویل : ماته د کشف په ذریعه ځان داسې ښکاره شو چې زه ښځه یم او الله تعالی د ماسره هَمبِستري کړی . (نعوذُبِالله مِن ذلک) دا خبره د میرزایانو په خپلو کتابونو کې ذکرده . (۵)

ددینه علاوه میرزا قادیاني نور ډیر خرافات هم په خپلو کتابونو کې لیکلي . (۶)

میرزا قادیاني ملعون په خپلو کتابونو کې د هغه خلقو پسې ډیرې بَدې کنځلې کړي چا چې دا په پیغمبرۍ باندې نه منل ، او هغوی ته یې جهنمیان ویلي دي . (۷)

---

(۱) تفحه گولړویه ص ۱۰۱ ، خزائن ج۱۷ ص۲۶۳ حاشیه .

(۲) براهین احمدیه حصه پنجم ص ۵٦ ، خزائن ج۲۱ ص ۷۲ .

(۳) الفضل قادیان مورخه ۱۵ جولائي ۱۹۲۲ء .

(۴) خطبه الهامیه ص ۱۸۴ ، ، خزائن ج۱٦ ص ۲۷۵ .

(۵) عشره کامله ص ۳۱ ، وص ۳۲ ./ فتاوی محمودیه ج۴ ص ۱۳۰ ردِ قادیانیت

(٦) خطبات شاهین ختم نبوّت ص ۴۲٦ .

(۷) د قادیاني د کتابونو نه یو څو عبارتونه درته رانقل کوم : میرزا قادیاني لیکلي : ←←←←←

Scanned with CamScanner

میرزا قادیاني کم و زیات آتیا (۸۰) واړه کتابونه لیکلي خو دومره کُفري خبرې یې په کې کړي چې مولانا سید عطاء الله شاه بخاري رَحِمَهُ اللَّهُ به فرمایل :
که د میرزا قادیاني د کتابونو نه د الله، رسول، او دِیني شیانو نومونه اُوباسی نو په دې باقي پاتو باندې استنجاء کول جائز دي.
علامه انورشاه کشمیري رَحِمَهُ اللَّهُ به فرمایل چې د میرزاقادیاني کُفر د فرعون او هامان د کُفر نه هم زیات دی. (۱)

## میرزا قادیاني د انګریزانو غلام او جاسوس وُ

میرزا غلام احمد قادیانې چې کله په سیالکوټ کې سَرکاري ملازم وُ نو په دغه وخت کې یې د یورپ او انګریزانو مشرانو سره پټ پټ ملاقاتونه کول، او هغوی دده پوره ملاتړ کولو. (۲)
کله چې انګریزانو په متحده هندوستان باندې قبضه اوکړه نو زمونږ علماء دیوبند د انګریزانو خلاف د آزادۍ کوشش شروع کړو، علماؤ ددې د پاره دیرې قربانۍ ورکړې، تر دې چې انګریزانو به علماء کرام د خِنزیر په څرمن کې بند کړل او په اُور به یې اُوسوزول،

←←← ټولو مسلمانانو زه قبول کړم او زما د دعوت تصدیق یې اوکړو خو د کنجرانو او زِناکارو اُولاد زه اُو نه منلم. آئینه کمالات ص ٥٤. روحاني خزائن ج٥ ص ٥٤٧.
څوک چې زما مخالف وي هغه عیسائي، یهودي، مشرک او جهنمي دی. نزول المسیح ص ۴، تذکره ص ۲۲۷، تحفه گولرویه ص ۲۱، تبلیغ رسالت ج۹ ص ۲۷.
بې د شک و شبهې نه زمونږ دشمنان د دَشتو خنزیران ګرځیدلي او د هغوی ښځې د سپیو نه هم بَدترې شوي. نجم الهدا ص ۱۰، دُرّثمین ص ۲۹۴، روحاني خزائن ج٥ ص ٥٤٧.
څوک چې زمونږ د فتحې قائل نه وي نو هغه دې صفا پوهه شي چې هغه ته د ولدِ زِنا جوړیدو شوق دی. انوار الاسلام ص ۲۰. روحاني خزائن ج۹ ص ۳۱.
چا ته چې زما دعوت وَراُورسي او هغه زه قبول نکړم نو هغه مسلمان ندی. حقیقة الوحي ص ۱۶۳، روحاني خزائن ج ۲۲ ص ۱۶۷.
دا او ددینه نور د قادیاني ملعون عبارتونه مولانا مفتي محمد شفیع رحمه الله په خپل کتاب "ختم نبوت" ص ۳۲ او ص ۳۳ باندې ذکر کړي.

(۱) خطبات شاهین ختم نبوت ص ۳۱۶.

(۲) آئینه قادیانیت ص ۱۸۶.

انګریزانو د دِهلي نه تر لاهور پورې په زرهاؤ علماء کرامؒ په لاره کې په اُونو کې اَلتِه رازوَړند کړي وو ، خو ددې ټولو ظلمونو باوجود بیا هم علماؤ ډیره قرباني ورکړه او د انګریزانو خلاف یې جهاد شروع کړې ؤ ، د انګریزانو سره دا یَره وه چې که مسلمانان زمونږ خلاف جهاد جاري اُوساتي نو په دې سره خو بیا زمونږ حکومت ختمیږي نو دوی کوشش شروع کړو چې د مسلمانانو د زړونو نه د جهاد جذبه ختمه کړي ، او داسې کس پیدا کړي چې هغه په خلقو باندې د انګریزانو غلامي اُومني او د جهاد نه اِنکار اوکړي ، نو ددې مقصد دپاره انګریزانو میرزا غلام احمد قادیاني استعمال کړو ، دهٔ د جهاد نه مکمل اِنکار اوکړو ، او په خپلو کتابونو کې یې د انګریزانو سره جهاد کول ناجائز اُوګرځول .

انګریزانو د همدې مقصد د پاره په دې خبیث باندې د پیغمبرۍ دعویٰ اوکړه ، بیا یې دده منونکو ته په حکومت کې غټې غټې عُهدې ورکړې ، او د مسلمانانو سره یې په جنګ واچول چې په دې سره د مسلمانانو قوّت کمزورې شو .

د میرزا قادیاني ملعون د یو څو کتابونو عبارتونه درته رانقل کوم ، هغه لیکلي :

" زما د عُمر اکثره حصه د انګریزانو د حکومت په تائید او حِمایت کې تیره شوی ، او ما د جهاد په ناجائز والي او د انګریزانو په تابعدارۍ باندې دومره ډیر کتابونه لیکلي او دومره ډیر اشتهارات مې چاپ کړي چې که چیرته دا رسالې او کتابونه راجمع شي نو ددینه پنځوس (٥٠) الماری ډکیږي ، او ما دا کتابونه ټولو ملکونو عربو ، مصر ، شام ، کابل او رُوم ته رسولي . زما د همیشه نه دا کوشش وي چې مسلمانان د انګریزانو ددې حکومت رښتیني خیرخواه جوړ شي ، او د جهاد جذبه راپیدا کوونکي مسائل کوم چې د اَحمقانو زړونه خرابوي هغه د مسلمانانو د زړونو نه ختم شي ". (١)

میرزا قادیاني ددینه علاوه هم نور ډیر خُرافات د جهاد خلاف په خپلو کتابونو کې لیکلي . (٢)

---

(١) تریاق القلوب ص ١٥ ، روحاني خزائن ج ١٥ ص ١٥٥ ، وص ١٥٦

(٢) په آئینهٔ قادیانیت ص ٢١٢ کې د میرزا قادیاني د کتابونو نور عبارتونه هم ذکر دي ، په کوم کې چې هغه د جهاد نه انکار کړی .

Scanned with CamScanner

## د ختمِ نبوّت نه منکِر کافِر دی

په دې خبره ځان پوهه کړئ چې د قرآن کریم او احادیثو نه صراحةً دا خبره ثابت ده چې مسلمان د پاره د ختمِ نبوّت عقیده لرل فرض ده ، یعنی رسولُ الله صلی الله علیه وسلم خاتم الانبیاء والمرسلین منل ، او د دوی دِین خاتم الاَدیان منل فرض دي ، لهذا څوک چې د نبي علیه السلام نه پس د نوي پیغمبر د پیدا کیدو عقیده ساتي نو داسې کس کافر دی ، او د اِسلام نه خارج دی . (۱)

## د ختمِ نبوّت عقیده لرل د اِیمان جزء دی

د ختمِ نبوّت عقیده لرل د اِیمان جز دی ، ځکه دا خبره په تواتر سره ثابته ده چې نبي علیه السلام صراحةً دا اعلان کړی چې " زه خَاتَمُ النَّبِيِّيْن یم ، په ما باندې نبوّت او رِسالت ختم شوی او د ما نه پس به بل نبي نه پیدا کیږي " .

لکه څرنګې چې د مسلمان د پاره دا عقیده ضروري ده چې " پیغمبر علیه السلام د الله تعالی رسول دی ، او قرآن کریم د الله تعالی کتاب دی " نو همدغه شان د مسلمان د پاره د ختمِ نبوّت عقیده لرل هم ضروري ده ، دا عقیده د قرآن کریم د صریحو آیتونو ، د متواتر احادیثو ، او اِجماعِ اُمت نه ثابته ده ، لهذا څوک چې ددې عقیدې نه اِنکار کوي هغه مرتد

---

(۱) قال الله تبارک وتعالی : ﴿مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ الاحزاب آیة ۴۰ .

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مَثَلِيْ وَمَثَلَ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِيْ كَمَثَلِ رَجُلٍ بَنَى بَيْتًا فَأَحْسَنَهُ وَأَجْمَلَهُ إِلَّا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَطُوْفُوْنَ بِهِ، وَيَعْجَبُوْنَ لَهُ وَيَقُوْلُوْنَ هَلَّا وُضِعَتْ هَذِهِ اللَّبِنَةُ ؟ قَالَ : فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ . صحیح البخاري كِتَابُ الْمَنَاقِبِ بَابُ خَاتِمِ النَّبِيِّيْنَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحدیث ۳۵۳۵ . صحیح مسلم کتاب الفَضَائِلِ بَابُ ذِكْرِ كَوْنِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ رقم الحدیث ۲۲ (۲۲۸٦) .

قال العلامة مُلّا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ : وَدَعْوَى النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ بِالْإِجْمَاعِ . شرح فقه اکبر ص ۲۰۲ فصل والکفر صریحا وکنایة ، فتاوی حقانیه ج ۱ ص ۱۴۸ .

او كافر دى. (١)

## نبي عليه السلام اَوّلين او آخرين پيغمبر ؤ

نبي عليه السلام اَوّلين او آخرين پيغمبر ؤ ، ددې تفصيل دادى چې پيغمبر عليه السلام ته د ټولو انبياء كرامو نه مخكې نبوّت وركړې شوې ؤ ، ددې د وجې ورته اَوّلين پيغمبر ويلې شي ، او دُنيا ته د راليږلو په اعتبار سره په ټولو كې آخري پيغمبر دى نو ځكه ورته آخرين پيغمبر ويلې شي. (٢)

## ميرزا قادياني او د هغه مُتبِعين بغير د شك و شبهې نه كافر او مرتد دي

په فتاوى دارالعلوم ديوبند، فتاوى محموديه، فتاوى حقانيه، فتاوى فريديه،

---

(١) آپ کے مسائل اوران کا حل ج ٢ ص ١٥٣ عقيده ختم نبوت ونزولِ حضرت عيسى عليه السلام. (اضافه وتخريج شده ايڈيشن)

**نوټ**: هغه آيتونه، او احاديث په تفصيل سره په مخكينى موضوع كې تير شوي، دوباره د ليكلو ضرورت يې نشته. ابوالشمس عفي عنه

(٢) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ شَقِيقٍ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَتَى كُنْتَ نَبِيًّا ؟ قَالَ: كُنْتُ نَبِيًّا وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ" . مصنف ابن ابي شيبة كِتَابُ الْمَغَازِي مَا جَاءَ فِي مَبْعَثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٣٦٥٥٣ ، مسند احمد مخرجا رقم الحديث ١٦٦٢٣ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ٤١٧٥ ، المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ٤٢٠٩ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. مجمع الزوائد رقم ١٣٨٤٨ وقال الهيثمي: رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ. المعجم الكبير رقم ٨٣٣

وفي رواية: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، قَالَ: قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ ! مَتَى وَجَبَتْ لَكَ النُّبُوَّةُ ؟ قَالَ: وَآدَمُ بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْمَنَاقِبِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابٌ فِي فَضْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٣٦٠٩ ، وقال الترمذي: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وقال الالباني: صحيح. مشكاة المصابيح كتاب الْفَضَائِلِ وَالشَّمَائِلِ بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ الْفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٧٥٨ (٢٠).

(وَآدَمُ) أَيْ: وَجَبَتْ لِيَ النُّبُوَّةُ وَالْحَالُ أَنَّ آدَمَ (بَيْنَ الرُّوحِ وَالْجَسَدِ) يَعْنِي وَأَنَّهُ مَطْرُوحٌ عَلَى الْأَرْضِ صُورَةً بِلَا رُوحٍ، وَالْمَعْنَى أَنَّهُ قَبْلَ تَعَلُّقِ رُوحِهِ بِجَسَدِهِ . قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : هَذَا هُوَ جَوَابٌ لِقَوْلِهِمْ: مَتَى وَجَبَتْ أَيْ: وَجَبَتْ فِي هَذِهِ الْحَالَةِ. مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٩ ص ٣٦٨٤ كِتَابُ الْفَضَائِلِ بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِ في تشريح حديث ٥٧٥٨ . فتاوى عثمانيه ج ١ ص ١٠٦ .

Scanned with CamScanner

كفايت المفتي، امدادالفتاوی، فتاوی احياء العلوم، فتاوی رحيميه او آپ کے مسائل اور ان کا حل او نورو ډيرو فتاوو کې په تفصيل سره دا خبره ذکر ده چې:

بغير د شک و شبهې نه د ميرزا غلام احمد قادياني عقائد او أقوال کُفري دي، ځکه هغه د ختمِ نبوت د عقيدې نه مُنکر وُ، پخپله يې د نبوّت دعوٰی کړې وه، د نبي عليه السلام او نورو انبياء کرامو گستاخي يې کوله، د حضرت عيسٰی عليه السلام آسمان ته د ژوندي ختلو نه مُنکر وُ، لهذا ميرزا قادياني پخپله هم کافر او مرتد دی.

او څوک چې دده تصديق کوي يا دده مُتّبِع وي نو هغه هم بغير د شک و شبهې نه کافر دی. علماؤ په دې باندې مستقل کتابونه ليکلي او د ميرزا قادياني تولې کُفري خبرې يې په کې راجمع کړي. (١)

---

(١) وَدَعْوَى النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ بِالْإِجْمَاعِ. شرح فقه اكبر ص ٢٠٢ فصل والكفر صريحا و كناية.

قد يكون في هولاء من يستحق القتل كمن يدعي النبوة او يطلب تغير شيء من الشريعة و نحو ذلک. شرح فقه اكبر ص ٢٠٢.

وَ(الْكَافِرُ بِسَبِّ نَبِيٍّ) مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَإِنَّهُ يُقْتَلُ حَدًّا وَلَا تُقْبَلُ تَوْبَتُهُ مُطْلَقًا، وَلَوْ سَبَّ اللهَ تَعَالَى قُبِلَتْ لِأَنَّهُ حَقُّ اللهِ تَعَالَى، وَالْأَوَّلُ حَقُّ عَبْدٍ لَا يَزُولُ بِالتَّوْبَةِ. وَمَنْ شَكَّ فِي عَذَابِهِ وَكُفْرِهِ كَفَرَ ..... وَفِيهَا: مَنْ نَقَصَ مَقَامَ الرِّسَالَةِ بِقَوْلِهِ بِأَنْ سَبَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ بِفِعْلِهِ بِأَنْ بَغَضَهُ بِقَلْبِهِ قُتِلَ حَدًّا كَمَا مَرَّ التَّصْرِيحُ بِهِ، لَكِنْ صَرَّحَ فِي آخِرِ الشِّفَاءِ بِأَنَّ حُكْمَهُ كَالْمُرْتَدِّ. الدر المختار.

أَجْمَعَ الْمُسْلِمُونَ أَنَّ شَاتِمَهُ كَافِرٌ، وَحُكْمُهُ الْقَتْلُ، وَمَنْ شَكَّ فِي عَذَابِهِ وَكُفْرِهِ كَفَرَ. رد المحتار على الدر المختار ج٣ ص ٢٣١ مَطْلَبٌ تَوْبَةُ الْيَأْسِ مَقْبُولَةٌ دُونَ إِيمَانِ الْيَأْسِ.

مَنْ أَنْكَرَ شَيْئًا مِنْ شَرَائِعِ الْإِسْلَامِ فَقَدْ أَبْطَلَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ. السير الكبير ج٥ ص ٣٦٨ بَابُ مَا يَكُونُ الرَّجُلُ بِهِ مُسْلِمًا يَدْرَأُ عَنْهُ الْقَتْلَ وَالسَّبْيَ.

... إِذَا لَمْ يَعْرِفْ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ فَلَيْسَ بِمُسْلِمٍ؛ لِأَنَّهُ مِنَ الضَّرُورِيَّاتِ. الْأَشْبَاهُ وَالنَّظَائِرُ عَلَى مَذْهَبِ أَبِي حَنِيفَةَ النُّعْمَانِ لابن نجيم المصري ج١ ص ١٦١ كِتَابُ السِّيَرِ بَابُ الرِّدَّةِ.

إِذَا لَمْ يَعْرِفِ الرَّجُلُ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آخِرُ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمْ وَعَلَى نَبِيِّنَا السَّلَامُ فَلَيْسَ بِمُسْلِمٍ ... وَكَذَلِكَ لَوْ قَالَ: أَنَا رَسُولُ اللهِ. أَوْ قَالَ بِالْفَارِسِيَّةِ: من پيغمبرم. ←←←←←←←←

## میرزا قادیانی د کلمې ویلو باوجود کافر دی

میرزا قادیاني که په ظاهره کلِمه ویله خو چونکه هغه د ختمِ نبوّت نه منکِرؤ ، پخپله یې د نبوّت دعویٰ کړې وه ، او د اسلام د نورو بُنیادي عقائدو نه منکِرؤ ، لهذا که هغه په خُله باندې کلِمه ویله خو بیا هم کافرؤ .

مُسَیلمه کذّاب هم کلیمه ویله خو چونکه هغه د نبوّت دعویٰ کړې وه نو ځکه حضرت ابوبکر ﷺ او نورو صحابه کرامو هغه مرتد اوګرځول ، او جهاد یې ورسره اوکړو ، تردې

---

←←← يُرِيدُ بِهِ " من بیغامر می برم " يَكْفُرُ. الفتاوى الهندية كِتَابُ السِّيَرِ الْبَابُ التَّاسِعُ فِي أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّينَ مطلب فِي مُوجِبَاتِ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ ج ۲ ص ۲۶۳ .

وَفِي الْبَزَّازِيَّةِ يَجِبُ الْإِيمَانُ بِالْأَنْبِيَاءِ بَعْدَ مَعْرِفَةِ مَعْنَى النَّبِيِّ وَهُوَ الْمُخْبِرُ عَنِ اللهِ تَعَالَى بِأَوَامِرِهِ وَنَوَاهِيهِ وَتَصْدِيقِهِ بِكُلِّ مَا أَخْبَرَ عَنِ اللهِ تَعَالَى . وَأَمَّا الْإِيمَانُ بِسَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ فَيَجِبُ بِأَنَّهُ رَسُولُنَا فِي الْحَالِ وَخَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ وَالرُّسُلِ . فَإِذَا آمَنَ بِأَنَّهُ رَسُولٌ وَلَمْ يُؤْمِنْ بِأَنَّهُ خَاتَمُ الْأَنْبِيَاءِ لَا يَكُونُ مُؤْمِنًا . وَفِي فُصُولِ الْعِمَادِيِّ مَنْ لَمْ يُقِرَّ بِبَعْضِ الْأَنْبِيَاءِ بِشَيْءٍ أَوْ لَمْ يَرْضَ بِسُنَّةٍ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِينَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ فَقَدْ كَفَرَ . مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر ج۱ ص ۶۹۱ بَابُ الْمُرْتَدِّ أَلْفَاظُ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ .

وَالرِّضَا بِالْكُفْرِ كُفْرٌ . قاضي خان على الهندية ج۳ ص ۵۷۳ .

قال الموفق في المغني : وَمَنِ ادَّعَى النُّبُوَّةَ . أَوْ صَدَّقَ مَنِ ادَّعَاهُ فَقَدِ ارْتَدَّ ، لِأَنَّ مُسَيْلِمَةَ لَمَّا ادَّعَى النُّبُوَّةَ فَصَدَّقَهُ قَوْمُهُ صَارُوا بِذَلِكَ مُرْتَدِّينَ ، وَكَذَلِكَ طُلَيْحَةُ الْأَسَدِيُّ وَمُصَدِّقُوهُ . المغني لابن قدامة ج۹ ص ۲۸ فَصْلٌ ادَّعَى النُّبُوَّةَ أَوْ صَدَّقَ مَنِ ادَّعَاهُ .

فمتنبئ البنجاب القادياني كافر مرتد عن الاسلام . وكذا من لم يقل بكفره وارتداده و ظنه وليًا او مجددًا ، او مصلحًا . فانه كذّاب دجّال قد افترى على الله و رسوله كذبا . اعلاء السنن ج۱۲ ص ۶۳۷ .

فتاوى دار العلوم ديوبند ج ۱۲ ص ۲۰۷ ، و ص ۲۰۸ ، و ص ۲۱۹ ، و ص ۲۳۶ ، و ص ۲۰۰ ، و ص ۲۵۵ احكام مرتد. فتاوى محموديه ج ۴ ص ۹۳ و ص ۹۰ رد قاديانيت . اكفار الملحدين ص ۱۰ بيان شيء من دعاوي القادياني . كفايت المفتي ج۱ ص ۳۱۳ فصل چهارم فرقه قادياني . امداد الفتاوى ج۶ ص ۹۵ . فتاوى احياء العلوم ج۱ ص ۶۸ . فتاوى رحيميه ج ۷ ص ۲۶ . جواهر الفقه ج۱ ص ۹ ... فتاوى حقانيه ج۱ ص ۲۹۲ باب الفرق الاسلامية وغيرها . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ۲ ص ۱۰۱ قادیانی فتنہ . ( اضافه و تخریج شده ایډیشن ). فتاوى فريديه ج ۱ ص ۱۴۵ و ص ۱۴۱ باب في الفرق الباطلة .

Scanned with CamScanner

چې هغه او د هغه ملګري يې مردار کړل.

همدغه شان ميرزا قادياني او د هغه ملګري د غلطو عقائدو په وجه په اتفاق د علماؤ سره کافر دي، تر څو پورې چې دوی په دې خرابو عقيدو باندې قائم وي نو صرف په کلِمه ويلو سره مسلمانان نه شماريږي. (۱)

## د ميرزايانو دواړه ډلې کافران دي

د ميرزايانو دوه غټې ډلې دي: يوې ته د قاديانانو ډله وايي، او دويمې ته د لاهوريانو ډله وايي، د ميرزايانو دا دواړه ډلې کافرانې دي؛ ځکه دوی د ميرزا غلام احمد قادياني مُتبِعين دي، څوک چې دوی ته کافران نه وايي نو په هغه باندې هم د کُفر خطره شته، او څوک چې د قاديانانو ددې مذکوره دواړه ډلو سره سياسي اتحاد کوي نو هغه مُلحِد او زنديق دی. (۲)

## ميرزا قادياني په ليټرين کې د ذِلت په مرګ باندې مردار شو

ميرزا قادياني د نبوّت دعوٰی کړې وه، او چا چې د نبوّت دعوٰی کړې نو الله تعالی هغه ذليله کړې، ميرزا قادياني هم الله تعالی داسې ذليله کړو چې خوراک يې کولو، د خوراک په دَوران کې ورياندې اُلتي، او دَستونه اُولړيده، ليټرين له لاړ، د دواړو لارو نه يې ګندګي روانه وه او همله په ليټرين (ټټی) کې دننه مردار شو. (۳)

---

(۱) آپ کے مسائل اوران کا حل ج ۲ ص ۸۵ قادیانی فتنہ. فتاوی محمودیہ ج ۴ ص ۱۰۲ ردِ قادیانیت.

(۲) قال العلامه ابن البزاز الكردي: اَلجَاهِلُ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةٍ وَلَمْ يدرکْ أَنَّهَا كُفرٌ قَالَ بَعْضُهُمْ يكفر. وقيل لا. الى ان قال الا الارتداد لانه معنى يتفرد المرتد.... ان شاتمه كافر و حكمه القتل. ومن شك في عذابه وكفره كفر. قال الله تعالى: {مَلْعُونِيْنَ أَيْنَمَا ثُقِفُوْا أُخِذُوْا وَقُتِّلُوْا تَقْتِيْلًا} الاية. فتاوى بزازيه على هامش الهنديه ج ٦ ص ۳۲۱، وص ۳۲۲ فيما يكون كفراً من المسلم وما لايكون. فتاوى فريديه ج ۱ ص ۱۴۴ باب فى الفرق الباطلة.

وَأَمَّا الجَاهِلُ إِذَا تَكَلَّمَ بِكَلِمَةِ الكُفْرِ وَلَمْ يَدرِ أَنَّهَا كُفرٌ قَالَ بَعْضُهُمْ لَا يَكُوْنُ كُفرًا وَيُعْذَرُ بِالجَهْلِ وَقَالَ بَعْضُهُمْ يَصِيْرُ كَافِرًا بِذَلِكَ. العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية لابن عابدين ج ۱ ص ۱۰۱.

(۳) سيرة المهدي حصه اول ص ۱۱ مصنفه: مرزا بشير احمد ايم اے. آپ کے مسائل اوران کا حل ج ۲ ص ۹۷ قادیانی فتنہ.

# علامه انورشاه کشيمري رَحِمَهُ اللّٰهُ د ميرزا قادياني او د هغه د مُتّبِعينو د کُفر شپږ (٦) وُجوهات ذکر کړي

حضرت مولانا سيّد انورشاه کشميري رَحِمَهُ اللّٰهُ د ميرزا قادياني او د هغه د مُتّبِعينو د کُفر شپږ (٦) وجوهات ذکر کړي (يعنی د شپږو وُجوهاتو په وجه دوی کافران دي):

١. ميرزا غلام احمد قادياني د ختمِ نبوّت نه انکار کړې وُ. (يعنی نبي عليه السلام يې خَاتَمُ النَّبِيِّيْن نه منل).

٢. پخپله يې د نبوّت دعوٰی کړې وه، او بيا يې پخپله ددې تصريح هم کړې وه چې ددينه هغه نبوّت مراد دی کوم چې مخکيني پيغمبرانو ته ملاوْ شوې وُ.

٣. د وَحي د راتلو دعوٰی يې کړې وه، او خپله وَحي يې د قرآن کريم په شان ګنړله چې په دې باندې هم اِيمان راوړل واجب دي.

۴. د حضرت عيسٰی عليه السلام توهين يې کولو.

۵. د نبي عليه السلام توهين يې کولو.

٦. ټول اُمتِ مسلمه ته يې د ګُفر نسبت کولو. (١)

د ميرزا قادياني ملعون د ختمِ نبوّت نه اِنکار يا دا نورې خبرې دده پخپلو کتابونو کې ذکر دي، بلکه دده ټول کتابونه داسې دي چې د ګفري خبرو نه ډک دي، زرهاوْ خبرې يې داسې ليکلي چې د هغې په وجه کافر شوی، دغه وجه ده چې علامه انورشاه کشميري رَحِمَهُ اللّٰهُ په فرمايل چې د مُسَيلمه کذّاب او مُسَيلمه پنجاب (يعنی ميرزا قادياني) ګفر د فرعون د کفر نه هم زيات دی. (٢)

(١) روئيداد مقدمه مرزائيه بهاولپور ج١ ص ۴١٧، آئينهٔ قاديانيت ص ١٩٩.

(٢) احتساب قاديانيت ج٢ ص ١١، آئينهٔ قاديانيت ص ١٩٩.

**نوټ**: د ميرزاقادياني د ختم نبوت نه اِنکار يا دا نورې کفري خبرې حضرت مولانا الله وسايا صاحب په خپل کتاب "آئينهٔ قاديانيت" کې د صفحه ٢٠٠ نه تر صفحه ٢٠۴ پورې ذکر کړي، او ورسره يې د قادياني د کتابونو حوالې هم ورکړي.

# د ميرزا قادياني پيشن گوياني الله تعالی غلطې ثابتې کړې

محمّد رسولُ الله صلی الله عليه وسلم يا مخکيني پيغمبرانو به چې کومې پيشن گوياني اوکړې نو الله تعالی به هغه پوره کولی ، ليکن ميرزا قادياني چې کومې پيشن گوياني کړې وی هغه الله تعالی ټولې غلطې ثابتې کړی.

د هغې يو څو نمونې درته ذکر کوم :

## ۱. د خپل مرګ متعلق پيشن گوئي ، او بيا غلطه ثابتيدل

ميرزا قادياني ويلي وو چې ماته به مرګ په مکه معظمه يا مدينه منوّره کې راځي. (۱)

خو الله تعالی دده دا پيشن گوئي داسې غلطه ثابته کړه چې په ده باندې په لاهور کې د روټۍ خوړولو په دَوران کې اُلټۍ او دَستونه اُولږيده او په ليټرين (ټټي) کې دننه مردار شو، د دوارو لارو نه يې گندگي روانه وه . بيا په ريل گاډي کې قاديان ته وې وړل شو.

ميرزا قادياني ته الله تعالی په خپل ژوند کې د مکې معظمې او مدينې منوّرې د ليدلو سعادت هم ورنصيب نکړو. (۲)

اولياؤ او بزرگانو ته د کشف په ذريعه دا معلومه شوی چې ميرزا قادياني په قبر کې د سپي په شکل باندې پروت دی ، او قبر يې د اُور نه ډک دی. (۳)

## ۲.. د هلک پيدا کيدو متعلق پيشن گوئي ، او بيا غلطه ثابتيدل

د ميرزا قادياني يو مريد ؤ چې نوم يې "پير منظور محمد" ؤ ، دده بي بي حامله وه (يعنی ماشوم يې په خېټه ؤ) ، کله چې ميرزا قادياني ته دا معلومه شوه چې دده ښځه حامله ده نو پيشن گوئي يې اوکړه چې دده به ځوي پيدا کيږي. (۴)

خو الله تعالی دده پيشن گوئي غلطه ثابته کړه ، او ددې کس لور اُوشوه.

---

(۱) تذکره ص ۵۹۱.

(۲) آئينهٔ قاديانيت ص ۲۱۶ . علمي تقريرونه دريمه حصه.

(۳) علمي تقريرونه دريمه حصه.

(۴) حقيقة الوحی حاشيه در روحانی خزائن ج ۲۲ ص ۱۰۳ .

Scanned with CamScanner

خلقو د میرزا قادیاني نه پوښتنه اوکړه چې ستا پیشن ګوئي خو غلطه ثابته شوه .

ده ورته وویل : زما مقصد دا ؤ چې ددې حمل نه به هلک پیدا کیږي ( یعني په دې خېټه کې چې څه دي هغه چې کله پیدا شي او غټ شي نو د هغې نه به هلک پیدا کیږي ) ، نو چې کله دا ماشومه غټه شي او واده اوکړي نو ددې به څوي پیدا کیږي .

الله تعالی دده دا پیشن ګوئي هم غلطه ثابته کړه او دا جینۍ هم وفات شوه .

نو د میرزا قادیاني دواړه پیشن ګویانې غلطې ثابتې شوې . (١)

## ٣ . په درې کالو کې په مکه معظمه کې د ریل ګاډي د چلیدو پیشن ګوئي ورکول ، او بیا غلطه ثابتیدل

میرزا قادیاني په کال ١٩٠٢ ء کې په خپل کتاب کې دا پیشن ګوئي کړې وه چې په آئنده درې کالو کې به دننه د مکې معظمې او مدینې منورې په مینځ مینځ کې د ریل ګاډي چلیدل شروع شي .

نو الله تعالی دده دا پیشن ګوئي هم غلطه ثابته کړه او تر دیره زمانه پورې د ریل ګاډي دا چلیدل شروع نه شو . (٢)

## ٤ . د محمدي بیګم په نکاح کې د راتلو پیشن ګوئي ، او بیا غلطه ثابتیدل

میرزا قادیاني دا پیشن ګوئي کړې وه چې ماته د وَحي په ذریعه دا خودل شوي چې د میرزا احمد بیګ څوانه لور " محمدي بیګم " به زما په نکاح کې راځي .

کله چې ده دا جینۍ اُوغوښتنه نو د جینۍ پلار ده ته دا ورنکړه ، بلکه بل چا ته یې په نکاح ورکړه .

میرزا قادیاني بله پیشن ګوئي دا اوکړه چې که دا پلار یې دا جینۍ ماته رانکړي نو په درې کالو کې دَننه دننه به یې دا پلار مړ کیږي ، او څوک چې ددې جینۍ سره نکاح اوکړي

---

(١) آئینہ قادیانیت ص ٢١٦ .

(٢) آئینہ قادیانیت ص ٢١٧ .

Scanned with CamScanner

هغه به په يو نيم کال کې دَنَه مر کيږي ، او دا جينۍ به آخر هم زما په نکاح کې راځي .

الله تعالى د ميرزا قادياني دا ټولې پيشن ګوياني غلطې ثابتې کړې ؛ ځکه ميرزا قادياني د دې ټولو نه مخکې په ليټرين کې مردار شو ، دده د مرګ نه څلويښت (٤٠) کاله پس د هغه جينۍ خاوند وفات شو ، او هغه جينۍ هم د ميرزا قادياني د مرګ نه ډير وخت پس وفات شوه ، دا جينۍ کلکه مسلمانه وه ، دې به ميرزا قادياني ته دجّال او کذّاب ويل .

نو الله تعالى ميرزا قادياني په ټولو خلقو کې ذليل او رَسواء کړو .

## د ميرزا قادياني ملګرو غلط تاويلات

کله چې د ميرزا قادياني د ملګرو نه ددې په باره کې پوښتنه اوشي چې ستاسو د مشر پيشن ګوئي خو غلطه ثابته شوه ا الله تعالى ذليل کړو ، نو دوی د ځان خلاصولو د پاره په جواب کې دا خرافات وايي چې :

" د ميرزا قادياني نکاح به د محمدي بيګم سره په جنت کې کولې شي " .

بيا چې کله د قاديانانو نه پوښتنه اوشي چې : محمدي بيګم خو ميرزاقادياني په پيغمبرۍ نه منلو ، بلکه دە ته يې کذّاب ويل ، او ميرزاقادياني پخپله ويلي چې " څوک ما په پيغمبرۍ نه مني نو هغه به جهنم ته ځي " نو بيا به څنګه ميرزاقادياني د محمدي بيګم سره په جنت کې نکاح اوکړي ؟

نو د قاديانانو سره بيا بل جواب نه وي ، دوی د ځان خلاصولو د پاره دا وايي چې :

" د ميرزا قادياني دا پيشن ګوئي د مُتشابهاتو نه ده " .

ددينه علاوه دې ملعون کذّاب نورې ډيرې پيشن ګوياني هم کړې وی خو الله تعالى ټولې غلطې ثابتې کړې .

بهر حال ، الله تعالى ميرزا غلام احمد قادياني په خپلو پيشن ګويانو کې ذليله کړو ، اګر چې دده مريدان د هغه د هرې خبرې د پاره د پَرتوګ جوړلو کوشش کوي خو آخر هم رَسواء شي .(١)

(١) آئینہ قادیانیت ص ٢١٩ .

## د خپلې مُباهلې کولو په وجه دروغجن ثابتیدل

میرزا قادیانې داسې کذّاب او دروغجن وُ چې یو ځل یې مناظرِ اسلام حضرت مولانا ثناء الله امرتسري رَحِمَهُ اللهُ ته د مُباهلې کولو چیلنج ورکړو:

"چې په مونږ دواړو کې څوک دروغجن وي هغه دې الله تعالی د هیضې یا طاعون په بیماری باندې مړ کړي چې دا بل کس یې په خپل ژوند کې اُوګوري".

مولانا ثناء الله امرتسري رَحِمَهُ اللهُ دا چیلنج قبول کړو.

ددې مُباهلې کولو نه دیارلس (١٣) میاشتې پس میرزاقادیاني د هیضې په مرض باندې مبتلاء شو، او په لیټرین (ټټی) کې د همدې هیضې په وجه مردار شو، د دواړو لارو نه یې ګندګي روانه وه. او مولانا ثناء الله امرتسري رَحِمَهُ اللهُ دده د مرګ نه پس هم څلویښت (٤٠) کاله ژوندې وُ. نو په دې مُباهلې سره هم میرزاقادیاني دروغجن ثابت شو او هغه خبرې (بَددُعا) د همده په حق کې قبولې شوی.

## قادیانان ولې د ځان د پاره د میرزا غلام احمد قادیاني په شان مرګ نه غواړي؟

د میرزا غلام احمد قادیاني بي بي "نصرت جهان" خپل ځوي ته د خپل خاوند د مرګ واقعه داسې بیانوي چې: "ستا پلار خوراک کولو، د خوراک په دَوران کې ورباندې دَستونه اُولړیده، لیټرین ته لاړ، هملته مړشو".

اوس مونږ قادیانو ته وایو چې د هر مسلمان دا تمنّا وي چې کله مونږ ته مرګ راځي نو د محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم په شان مرګ دې راله راشي.

نو اې قادیانانو! تاسو هم دا دُعا کویٔ چې: تاسو ته دې هم د خپل پیشوا "میرزا غلام احمد قادیاني" په شان مرګ راشي. حالانکه هیڅ قادیاني داسې مرګ ځانله نه خوَښوي.

مونږ ورته وایو چې دا بیا ستاسو څنګه پیشوا دی چې تاسو د هغه په شان مرګ نه خوَښوی؟

بلکه کله چې زمونږ د اهل السّنة والجماعة علماؤ د قادیانو سره مناظره راشي نو دوی ورته وایي چې: اې قادیانانو! الله تعالی دې تاسو ته هم د میرزا قادیاني په شان مرګ

راولي. خو دوی وریاندې آمین نه وایي.

بله خبره داده چې کله نبي علیه السلام وفات شو نو د صحابه کرامو رضي الله عنهم مختلف رأی وی: چا ویل چې په جنّة البقیع کې یې ښخ‌ـنوو، چا ویل چې په مکه مکرّمه کې یې ښخ‌ـنوو، او چا نور ځایونه یادول.

نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه راغی او صحابه کرامو رضي الله عنهم ته یې اوفرمایل: ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه آوریدلي دي چې پیغمبر په کوم ځای کې وفات شي نو په هماغه ځای کې به ښخولې شي.(۱)

بیا نبي علیه السلام په هماغه ځای کې دفن کړې شو چیرته چې وفات شوي وُ.

اوس مونږ قادیانانو ته وایو: که چیرته تاسو وایئ چې میرزا قادیاني نبي وُ نو بیا به تاسو په لاهور کې په هماغه لیټرین کې ښخ کړي وُ په کوم کې چې مردار شوي وُ؟ بیا تاسو ولې د لاهور نه قادیان ته وړ‌ـلو؟ (۲)

---

(۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنها، قَالَتْ: لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مَا نَسِيتُهُ، قَالَ: مَا قَبَضَ اللهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ، ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ فِرَاشِهِ. سنن الترمذي أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَابُ مَا جَاءَ فِي دَفْنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَيْثُ قُبِضَ رقم الحديث ۱۰۱۸ قال الالباني: صحيح. مشكوة المصابيح كِتَابُ الْفَضَائِلِ بَابُ هِجْرَةُ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ وَوَفَاتُهُ رقم الحديث ۵۹۶۳(۸)، شرح السنّة للبغوي رقم الحديث ۳۸۳۲.

(اِخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ). أَيْ: فِي مَوْضِعٍ يُدْفَنُ فِيهِ. فَقِيلَ: يُدْفَنُ فِي مَسْجِدِهِ، وَقِيلَ: بِالْبَقِيعِ بَيْنَ أَصْحَابِهِ، وَقِيلَ بِمَكَّةَ. وَقِيلَ: عِنْدَ أَبِيهِ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ، أَوْ فِي نَفْسِ الدَّفْنِ، وَالْمَعْنَى هَلْ يُدْفَنُ كَمَا رَوَى التِّرْمِذِيُّ فِي الشَّمَائِلِ عَنْ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ؟ قَالُوا لِأَبِي بَكْرٍ رضي الله عنه: يَا صَاحِبَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُدْفَنُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: نَعَمْ. قَالُوا: أَيْنَ؟ قَالَ: فِي الْمَكَانِ الَّذِي قَبَضَ اللهُ فِيهِ رُوحَهُ، فَإِنَّ اللهَ لَمْ يَقْبِضْ رُوحَهُ إِلَّا فِي مَكَانٍ طَيِّبٍ، فَعَلِمُوا أَنَّهُ قَدْ صَدَقَ. مرقاة المفاتيح ج۹ ص۳۸۲۸ المصابيح كِتَابُ الْفَضَائِلِ بَابُ هِجْرَةُ الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ وَوَفَاتُهُ.

(۲) خطبات شاهین ختم نبوّت ص ۳۷.

## ميرزا قادياني هيڅ کله مَسيح مَوعود (يعنى حضرت عيسىٰ عليه السلام) نه وُ

د ميرزا غلام احمد قادياني په دَعوو کې يوه دعوىٰ دا وه چې زه " مسيح مَوعود " يم (يعنى الله تعالىٰ چې کومه وعده کړې چې " په آخِره زمانه کې به حضرت عيسىٰ عليه السلام راځي " نو زه هغه يم).

مونږ ورته وايو چې په احاديثو مبارکه وُ کې د حضرت عيسىٰ عليه السلام لس (۱۰) غټې نخې خودلې شوي او هغه په ميرزا قادياني کې يوه هم نشته:

۱. حضرت عيسىٰ عليه السلام به د آسمان نه رابنکته کيږي. (۱)
حالانکه ميرزا قادياني نه آسمان ته ختلى او نه د آسمان نه رابنکته شوى.

۲. حضرت عيسىٰ عليه السلام به په دمشق کې په سپينه مناره باندې رابنکته کيږي (۲)
حالانکه ميرزا قادياني دمشق ليدلې هم نه وُ.

۳. حضرت عيسىٰ عليه السلام به دجّال قتلوي. حالانکه ميرزا قادياني د دَجّال د وجود نه مُنکِر وُ.

۴. حضرت عيسىٰ عليه السلام به د عدل او انصاف واله حکومت قائموي. (۳)

---

(۱) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَيْسَ بَيْنِي وَبَيْنَهُ نَبِيٌّ ـ يَعْنِي عِيسَى ـ وَإِنَّهُ نَازِلٌ. فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُ فَاعْرِفُوهُ: رَجُلٌ مَرْبُوعٌ إِلَى الْحُمْرَةِ وَالْبَيَاضِ. بَيْنَ مُمَصَّرَتَيْنِ، كَأَنَّ رَأْسَهُ يَقْطُرُ، وَإِنْ لَمْ يُصِبْهُ بَلَلٌ. فَيُقَاتِلُ النَّاسَ عَلَى الْإِسْلَامِ. فَيَدُقُّ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ، وَيُهْلِكُ اللهُ فِي زَمَانِهِ الْمِلَلَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِسْلَامَ، وَيُهْلِكُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ. فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، ثُمَّ يُتَوَفَّى فَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ.
سنن ابي داؤد كِتَابُ الْمَلَاحِمِ بَابُ خُرُوجِ الدَّجَّالِ رقم الحديث ۴۳۲۴ قال الالباني: صحيح.

(۲) .... فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ بَعَثَ اللهُ الْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ، فَيَنْزِلُ عِنْدَ الْمَنَارَةِ الْبَيْضَاءِ شَرْقِيَّ دِمَشْقَ، بَيْنَ مَهْرُودَتَيْنِ، وَاضِعًا كَفَّيْهِ عَلَى أَجْنِحَةِ مَلَكَيْنِ، إِذَا طَأْطَأَ رَأْسَهُ قَطَرَ، وَإِذَا رَفَعَهُ تَحَدَّرَ مِنْهُ جُمَانٌ كَاللُّؤْلُؤِ، فَلَا يَحِلُّ لِكَافِرٍ يَجِدُ رِيحَ نَفَسِهِ إِلَّا مَاتَ، وَنَفَسُهُ يَنْتَهِي حَيْثُ يَنْتَهِي طَرْفُهُ، فَيَطْلُبُهُ حَتَّى يُدْرِكَهُ بِبَابِ لُدٍّ، فَيَقْتُلُهُ ...
صحيح مسلم كتاب الْفِتَنِ وَأَشْرَاطِ السَّاعَةِ بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ وَصِفَتِهِ وَمَا مَعَهُ رقم الحديث ۱۱۰ (۲۹۳۷)

(۳) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَكَمًا مُقْسِطًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ.
صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم ۲۴۲ (۱۵۵)

Scanned with CamScanner

حالانکه میرزا قادیاني پخپله د انګریزانو غلام وُ .

٥ . د حضرت عیسیٰ علیه السلام په دَور کې به د یاجوج او ماجوج ظهور کیږي . (١)

حالانکه میرزا قادیاني د یاجوج و ماجود د وجود نه مُنکِر وُ .

٦ . د حضرت عیسیٰ علیه السلام په دَور کې به مال و دولت دومره زیات وي چې زکوة اخیستونکې به هیڅوک نه وي . (٢)

حالانکه میرزا قادیاني پخپله د نورو خلقو په خیراتونو باندې ژوند تیرول .

٧ . په حضرت عیسیٰ علیه السلام باندې به ټول اهلِ کتاب ایمان راوړي . (٣)

حالانکه په میرزا قادیاني باندې په اهلِ کتابو کې هیچا اِیمان نهٔ وُ راوړی .

٨ . حضرت عیسیٰ علیه السلام به حج کوي . حالانکه میرزا قادیاني حج اونکړې شو ، بلکه د دَجّال په شان د مکې معظمې او مدینې منوّرې د لیدلو نه محروم شو .

٩ . حضرت عیسیٰ علیه السلام به جِزیه ختموي ، صلیب به ماتوي ، او خِنزیر به ختموي . (٤) حالانکه میرزا قادیاني دا یو کار هم اونکړې شو .

---

(١) .... فَبَيْنَمَا هُوَ كَذَلِكَ إِذْ أَوْحَى اللهُ إِلَى عِيسَى عليه السلام : إِنِّي قَدْ أَخْرَجْتُ عِبَادًا لِي، لَا يَدَانِ لِأَحَدٍ بِقِتَالِهِمْ، فَحَرِّزْ عِبَادِي إِلَى الطُّورِ وَيَبْعَثُ اللهُ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ، وَهُمْ مِنْ كُلِّ حَدَبٍ يَنْسِلُونَ، فَيَمُرُّ أَوَائِلُهُمْ عَلَى بُحَيْرَةِ طَبَرِيَّةَ فَيَشْرَبُونَ مَا فِيهَا، وَيَمُرُّ آخِرُهُمْ فَيَقُولُونَ: لَقَدْ كَانَ بِهَذِهِ مَرَّةً مَاءٌ ...... صحيح مسلم كتاب الفتن وأشراط الساعة بَابُ ذِكْرِ الدَّجَّالِ وَصِفَتِهِ وَمَا مَعَهُ – رقم الحديث ١١٠ (٢٩٣٧)

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه ، أَنَّهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « وَاللهِ، لَيَنْزِلَنَّ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَادِلًا، فَلَيَكْسِرَنَّ الصَّلِيبَ، وَلَيَقْتُلَنَّ الْخِنْزِيرَ، وَلَيَضَعَنَّ الْجِزْيَةَ، وَلَتُتْرَكَنَّ الْقِلَاصُ فَلَا يُسْعَى عَلَيْهَا، وَلَتَذْهَبَنَّ الشَّحْنَاءُ وَالتَّبَاغُضُ وَالتَّحَاسُدُ، وَلَيَدْعُوَنَّ إِلَى الْمَالِ فَلَا يَقْبَلُهُ أَحَدٌ » . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٤٣ (١٥٥) .

(٣) الله تعالی فرمايي : ﴿ وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا ﴾ النساء آية ١٥٩ .

(٤) قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ، حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ الْوَاحِدَةُ خَيْرًا مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا »، ثُمَّ يَقُولُ أَبُو هُرَيْرَةَ رضي الله عنه : "وَاقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: ←←←←

Scanned with CamScanner

١٠. حضرت عیسیٰ علیه السلام به جهاد کوي. (١)

حالانکه میرزا قادیاني به ویل چې زه صرف ددې د پاره رالیږلې شوې یم چې خلق د جهاد نه منع کړم.

## نور فرقونه

ددینه علاوه په حضرت عیسی علیه السلام او میرزا قادیاني کې نور ډیر فرقونه هم شته:

د حضرت عیسیٰ علیه السلام د مور نوم " بي بي مریم " ؤ، حالانکه د میرزا قادیاني د مور نوم " چراغ بي بي " وه.

حضرت عیسیٰ علیه السلام بغیر د پلار نه د الله په حکم سره پیدا شوې ؤ. حالانکه د میرزا قادیاني د پلار نوم غلام مرتضیٰ ؤ.

حضرت عیسیٰ علیه السلام په دمشق کې پیدا شوې ؤ. حالانکه میرزا قادیاني په هندوستان قادیان علاقه کې پیدا شوې ؤ.

حضرت عیسیٰ علیه السلام به د الله تعالی په حکم سره مړي ژوندي کول، ړوند او برګي مرض واله ته به یې چې دُعا اوکړه نو الله تعالی به هغه ته شِفاء ورکوله، حالانکه میرزا قادیاني خو دا یو کار هم نه شو کولی.

حضرت عیسیٰ علیه السلام آسمان ته ژوندې خیجولې شوې ؤ او په آخره زمانه کې به راکوزیږي، حالانکه میرزا قادیاني په لیټرین کې د دَستونو په بیمارۍ باندې مردار شوې ؤ.

حضرت عیسیٰ علیه السلام ته به چې کومه فرښته راتلله د هغې نوم " حضرت جبریل علیه السلام " ؤ، حالانکه میرزا قادیاني به ویل چې ماته کومه فرښته راځي د هغې نوم

---

←←← {وَإِنْ مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ إِلَّا لَيُؤْمِنَنَّ بِهِ قَبْلَ مَوْتِهِ، وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكُونُ عَلَيْهِمْ شَهِيدًا} [ النساء : ١٥٩] . صحيح البخاري كِتَابُ أَحَادِيثِ الأَنْبِيَاءِ بَابُ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ عَلَيْهِمَا السَّلاَمُ رقم الحديث ٣٤٤٨ .

(١) .... فَيُقَاتِلُ النَّاسَ عَلَى الْإِسْلَامِ، فَيَدُقُّ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلُ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعُ الْجِزْيَةَ، وَيُهْلِكُ اللَّهُ فِي زَمَانِهِ الْمِلَلَ كُلَّهَا إِلَّا الْإِسْلَامَ، وَيُهْلِكُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ، فَيَمْكُثُ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعِينَ سَنَةً، ثُمَّ يُتَوَفَّى فَيُصَلِّي عَلَيْهِ الْمُسْلِمُونَ. سنن ابي داود كِتَاب المَلَاحِمِ بَابُ خُرُوجِ الدَّجَّالِ رقم الحديث ٤٣٢٤ قال الالباني: صحيح. و هكذا في صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابُ نُزُولِ عِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ حَاكِمًا بِشَرِيعَةِ نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٢٤٣ (١٥٥)

"تي تي تي" دی، او بله راته يو سيکهـ او هندو فرښته راځي (نَعُوذُ بِاللّٰه).

ددينه علاوه په قرآن کريم او احاديثو کې د حضرت عيسی عليه السلام نورې ډيرې نخې ذکر شوي، حالانکه په ميرزا قادياني کې دا يوه نخه هم نه وه.

نو چې کله په حضرت عيسیٰ عليه السلام او ميرزا قادياني کې دير غټ فرق دی نو بيا څنګه ميرزا قادياني دا دعوی کوي چې زه مسيح موعود (يعنی حضرت عيسی عليه السلام) يم؟ (١)

بهر حال، د مَسيح نه مراد حضرت عيسیٰ عليه السلام دی، ميرزا قادياني ندی. (٢)

# د قاديانانو شُبهات او د هغې جوابات

د قرآن کريم د صريحو آيتونو، او بې شماره متواترو احاديثو نه صراحةً دا خبره ثابته ده چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (په ټولو انبياوُ کې آخري نبي) دی، د دوی نه پس تر قيامته پورې بل نبي نه پيدا کيږي. او په دې باندې د صحابه کرامو د دَور نه نيولی تر دې وخته پورې د ټول اُمتِ مُسلمه اجماع هم ده.

خو افسوس چې د انګريزانو غلام او جاسوس "ميرزا غلام احمد قادياني مُرتد لعين او کذّاب" د دې اتفاقي عقيدې په باره کې د مسلمانانو په زړونو کې شکوک او شبهات واچول، او په خپله يې د نبوّت دعوی اوکړه.

اوس نور قاديانان هم کله خلقو ته دا وايي چې ميرزا قادياني نبي وُ (نعوذ بِالله)، او کله وايي چې هغه مَسيح مَوعود (يعنی حضرت عيسیٰ عليه السلام) وُ.

چونکه په قرآن کريم او احاديثو کې صراحةً نبي عليه السلام ته خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) ويل شوی، نو قاديانان د دې غلطه تشريح او غلط مطلب بيانوي، او ورسره ورسره په مسلمانانو باندې اعتراضات هم کوي.

د قاديانانو مشهور دوه اعتراضات او د هغې جوابات درته ذکر کوم:

---

(١) ختم نبوّت لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ٣٧٩، اصول القرآن لشيخ القرآن والحديث حضرت مولانا محمد حسن جان مدني شهيد رحمه الله.

(٢) فتاوی حقانيه ج ١ ص ٢٣٦.

Scanned with CamScanner

## د قادیانانو اول اعتراض : چې کله نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی نو بيا په آخره زمانه کې حضرت عيسیٰ عليه السلام ولې دُنيا ته راځي ؟

قاديانان په مسلمانانو باندې اول اعتراض دا کوي چې په صحيح احاديثو کې دا خبره ثابته ده چې په آخره زمانه کې به حضرت عيسیٰ عليه السلام دوباره دُنيا ته رابښکته کيږي .

اوس قاديانان وايي چې کله نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی او د دوی نه پس بل نبي نه راځي نو بيا په آخره زمانه کې حضرت عيسیٰ عليه السلام ولې دُنيا ته راځي ؟ بيا خو پيغمبر عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن پاتې نه شو ؟

**جواب** : ددې اعتراض جواب دادی چې د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو مطلب دادی چې د دوی نه پس به په دُنيا کې بل نوې نبي نه پيدا کيږي ، حضرت عيسیٰ عليه السلام ته خو نبوّت د پيغمبر عليه السلام نه مخکې ورکړې شوې وُ ، هغه خو نوې نبي ندی ، هغه خو الله تعالی آسمانونو ته ژوندې پورته کړی (۱) او په آخره زمانه کې به د دجّال او نورو فِتنو ختمولو د پاره دوباره دُنيا ته رابښکته کيږي .

خلاصه دا چې د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو مطلب دادی چې د دوی نه پس به بل چا ته نوې نبوت نشي ورکولی او حضرت عيسیٰ عليه السلام ته خو د نبي عليه السلام نه مخکې نبوّت ورکړې شوې وُ ، که هغه په آخِره زمانه کې رابښکته کيږي نو دا د نبي عليه السلام د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو خلاف ندي . (۲)

---

(۱) يهوديانو ويل چې مونږ حضرت عيسى عليه السلام قتل کړی ( نعوذُ بالله ) ، نو الله تعالی په دې باندې رَد اوکړو چې دوی حضرت عيسى عليه السلام ندې قتل کړی بلکه هغه الله تعالی ژوندې آسمانونو ته خيجولی . دا خبره الله تعالی داسې بيان کړی : ﴿ وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُ مَا لَهُم بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا ۝ بَل رَّفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴾. النساء آية ۱۵۷ ، ۱۵۸ .

(۲) ختم نبوت کامل لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ۱۲۱ ، تفسير معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ۴۰ .

Scanned with CamScanner

همدا خبره علامه آلوسي رَحِمَهُ اللهُ هم په تفسير روح المعاني کې په پوره وضاحت سره ذکر کړې ده. (١)

## د قاديانانو دويم اعتراض : د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن نه مجازي معنٰی مراد ده ، يا په مبالغه باندې محمول دی.

د قاديانانو دويم اعتراض دادی چې په قرآن کريم او احاديثو کې چيرته د نبي عليه السلام د پاره خَاتَمُ النَّبِيِّيْن لفظ راغلی نو ددينه نه مجازي معنٰی مراد ده ، يا دا په مبالغه باندې محمول دی ، او بيا دا لفظ قياس کوي په خَاتَمُ الْمُحَدِّثِيْن ، خَاتَمُ الْمُفَسِّرِين ، او خَاتَمُ الْمُحَقِّقِيْن باندې ، چې ددينه هم مجازي معنٰی مراد ده.

يعنی که يو کس د يو عالِم په باره کې خَاتَمُ الْمُحدِّثِين ، خَاتَمُ الْمُفَسِّرِين ، او خَاتَمُ الْمُحَقِّقِيْن اووايي نو ددې مطلب دا ندی چې گني دده نه پس به بل مُحدِّث ، يا بل مُفسِّر او يا بل مُحقِّق نه پيدا کيږي ، بلکه نور هم پيدا کيدې شي.

نو قاديانان وايي چې همدغه شان د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن نه هم مجازي معنٰی مراد ده ، يعنی د نبي عليه السلام نه پس (نعوذ بالله) بل پيغمبر هم پيدا کيدې شي ، لهذا ميرزا قادياني هم

---

(١) والمرادُ بكونه عليه الصلاة والسّلام خاتمهم انقطاع حدوث وصف النّبوّة في أحد من الثقلين بعد تحليه عليه الصلاة والسّلام بها في هذه النشأة . ولا يقدح في ذلك ما أجمعت الأمة عليه واشتهرت فيه الأخبار ولعلها بلغت مبلغ التواتر المعنوي ونطق به الكتاب على قول ووجب الإيمان به وأكفر منكره كالفلاسفة من نزول عيسى عليه السّلام آخر الزمان لأنه كان نبيا قبل تحلي نبينا صلّى الله عليه وسلم بالنبوة في هذه النشأة ومثل هذا يقال في بقاء الخضر عليه السّلام على القول بنبوته وبقائه. ثم إنه عليه السّلام حين ينزل باق على نبوته السابق لم يعزل عنها قال لكنه لا يتعبد بها لنسخها في حقه وحق غيره وتكليفه بأحكام هذه الشريعة أصلا وفرعا فلا يكون إليه عليه السّلام وحي ولا نصب أحكام بل يكون خليفة لرسول الله صلّى الله عليه وسلم وحاكما من حكام ملته بين أمته . روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني ج ١١ ص ٢١٣ سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ .

پيغمبر دى. ( نعوذ بِالله ) . ديته قاديانان مضبوط دليل وايي .

**جواب** : ددې اعتراض جواب دادى چې مونږ انسانان د خَاتَمُ المُحدِّثِين ، خَاتَمُ المُفَسِّرِين ، او خَاتَمُ المُحَقِّقِين نه دا مجازي معنى ځکه اخلو چې مونږ ته آئنده دا پته نه لږي چې ددې کس نه بل تکړه کس پيدا کيږي او که نه ؟ نو د مجبوريت په وجه ددې مذکوره الفاظو نه مجازي معنى اخلو ، يا دا په مبالغه باندې حمل کوو ؛ دا ددې د پاره چې دا کلام د لغوه کيدلو نه بچ شي .

ليکن الله تعالى ته خو د آئنده زمانې پوره عِلم شته نو که هغه د نبي عليه السلام د پاره د خَاتَمُ النَّبِيِّين لفظ استعمال کړى نو ددينه به همدا حقيقي معنى مراد وي " چې پيغمبر عليه السلام آخري نبي دى د دوى نه پس به تر قيامته پورې بل نبي نه پيدا کيږي " مجازي معنىٰ به مراد نه وي .

يعنى مونږ چې د خَاتَمُ المُحدِّثِين وغيره نه دا مجازي معنى اخلو دا زمونږ مجبوريت دى چې آئنده مونږ ته عِلم نشته ، او الله تعالى ته خو څه مجبوريت نشته نو که هغه د نبي عليه السلام د پاره د خَاتَمُ النَّبِيِّين لفظ استعمال کړى نو ددينه حقيقي معنىٰ مراد ده .

بل دا چې د قرآن کريم په نورو سلو (١٠٠) آيتونو کې دا مضمون صراحةً او اِشارةً ذکر دى چې محمد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم آخري نبي دى .

همدا رنګې پيغمبر عليه السلام په دوه سوه (٢٠٠) صحيح احاديثو کې دا خبره صراحةً ذکر کړى چې : زه آخري نبي يم او د ما نه پس به تر قيامته پورې بل نبي نه پيدا کيږي "

بيا د صحابه کرامو رضي الله عنهم او سلفو صالحينو اِجماع هم په همدې ده چې پيغمبر عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّين (آخري نبي) دى ، او ددې همدا حقيقي معنىٰ مراد ده . (١)

**د قاضي عياض رحمه الله قول** : قاضي عياض رحمه الله په خپل کتاب " الشفاء " کې ليکلي : څوک چې د نبوّت دعوىٰ اوکړي يا دا اُووايي چې ماته وَحي کيږي ... نو داسې کس کافر دى ؛ ځکه نبي عليه السلام (خپل اُمت ته) دا خبر ورکړى چې زه

---

(١) ختم نبوت لمولانا مفتي محمد شفيع رحمه الله ص ١٣٢ .

Scanned with CamScanner

خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ يم د مانه پس بل نبي نشته ، او پيغمبر عليه السلام په دې باندې د الله تعالى قول هم پيش کړی چې زه خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ يم

وَأَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى حَمْلِ هٰذَا الْكَلَامِ عَلَى ظَاهِرِهِ ، وَأَنَّ مَفْهُوْمَهُ الْمُرَادَ بِهِ دُوْنَ تَأْوِيْلٍ وَلَا تَخْصِيْصٍ فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ كُلِّهَا قَطْعًا إِجْمَاعًا وَسَمْعًا.

او په دې باندې د اُمت اِجماع هم ده چې د خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ همدا ظاهري معنی مراد ده ، په دې کې د څه تأويل او تخصيص هيڅ گنجائش نشته ، لهذا د هغه خلقو په کُفر کې هيڅ شک نشته څوک چې د نبوّت دعوىٰ کوي ، يا څوک د دوی تابعداري کوي ، او ددې خلقو کُفر په قطعي دَول ، اجماعِ اُمت ، او نقل (يعنی کتاب و سنت) نه ثابت دی .(١)

**دامام غزالي رَحِمَهُ اللهُ قول :** امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ هم ليکلي :

إِنَّ الْأُمَّةَ فَهِمَتْ بِالْإِجْمَاعِ مِنْ هٰذَا اللَّفْظِ وَمِنْ قَرَائِنِ أَحْوَالِهِ أَنَّهُ أَفهم عَدَمُ نَبِيٍّ بَعْدَهُ أَبَدًا وَعَدَمُ رَسُوْلِ اللهِ أَبَدًا ، وَأَنَّهُ لَيْسَ فِيْهِ تَأْوِيْلٌ وَلَا تَخْصِيْصٌ . فَمُنْكِرُ هٰذَا لَا يَكُوْنُ إِلَّا مُنْكِرَ الْإِجْمَاعِ .(٢)

يقينًا چې اُمتِ مسلمه په اجماع سره ددې خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ لفظ او ددې د احوالو نه دا معلومه کړی چې د پيغمبر عليه السلام نه پس به بل نبي او بل رسول نه پيدا کيږي ، او په دې

(١) وَكَذٰلِكَ مَنِ ادَّعَى مِنْهُمْ أَنَّهُ يُوْحَى إِلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَدَّعِ النُّبُوَّةَ أو أنه يصعد إلى السماء . ويدخل الْجَنَّةَ، وَيَأْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا. وَيُعَانِقُ الْحُوْرَ الْعِيْنَ فَهٰؤُلَاءِ كُلُّهُمْ كُفَّارٌ مُكَذِّبُوْنَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِأَنَّهُ أَخْبَرَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ. لَا نَبِيَّ بَعْدَهُ . وَأَخْبَرَ عَنِ اللهِ تَعَالَى أَنَّهُ خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ. وَأَنَّهُ أُرْسِلَ كَافَّةً لِلنَّاسِ. وَأَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى حَمْلِ هٰذَا الْكَلَامِ على ظاهره. وأن مفهومه المراد به دُوْنَ تَأْوِيْلٍ وَلَا تَخْصِيْصٍ فَلَا شَكَّ فِيْ كُفْرِ هٰؤُلَاءِ الطَّوَائِفِ كُلِّهَا قَطْعًا إِجْمَاعًا وَسَمْعًا. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٦١٠ الْبَابُ الثَّالِثُ فِيْ حُكْمِ مَنْ سَبَّ الله تعالى وملائكته وأنبياءه وَكُتُبَهُ وَآلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وأزواجه وصحبه الْفَصْلُ الرَّابِعُ فِيْ بَيَانِ مَا هُوَ مِنَ الْمَقَالَاتِ كُفْرٌ....

(٢) الاقتصاد في الاعتقاد للغزالي ج١ ص ١٣٧ الباب الرابع بيان من يجب تكفيره من الفرق.

Scanned with CamScanner

کې هيڅ تأويل او تخصيص نشي کيدی ، پس اوس چې څوک ددينه مُنكِروي نو هغه به د اِجماع نه مُنكِروي .

## ميرزا قادياني خلقو ته د دُهوکې ورکولو د پاره نوي اِصطلاحات اِيجاد کړي

ميرزا قادياني د خپلې پيغمبری د ثبوت د پاره نوي اِصطلاحات اِيجاد کړي ، چې په دې سره يې مقصد مسلمانانو ته دُهوکه ورکول وو .

هغه اصطلاحات دادي چې قادياني به ويل :

" زه ظِلِّي ، بُروزي ، او غير تشريعي نبي يم " .

**تشريح** : " ظِلّ " سيوري ( سايه ) ته وايي ، او " بروز " ديته وايي چې يو کس د بل چا په شکل باندې ظاهر شي .

د ميرزا قادياني مقصد دا وُ چې زه د نبي عليه السلام د ډيرې تابعدارۍ په وجه د هغه سيورې ( سايه ) گرځيدلې يم او د نبي عليه السلام په شکل دوباره دُنيا ته راغلې يم .

" غير تشريعي نبي " ديته وايي چې صاحبِ شريعت نه وي بلکه د بل پيغمبر د شريعت تبليغ کوي . لکه حضرت هارون عليه السلام چې د حضرت موسی عليه السلام د دِين تبليغ کولو .

نو قادياني به ويل چې زه " غير تشريعي نبي " يم ، او زما نبي جوړيدل د نبي عليه السلام د خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدو سره مخالف ندي ؛ ځکه ما د پيغمبر عليه السلام د تابعدارۍ په وجه د هغه شکل اختيار کړی نو زه د هغه سيورې يم ، دا داسې ده لکه نبي عليه السلام چې دوباره دُنيا ته راغلې وي .

دا دعوې د ميرزا قادياني په خپلو کتابونو کې ذکر دي . (١)

---

(١) دا خبرې د ميرزا قادياني په دې کتابونو کې ذکر دي : خطبه الهاميه ص ١٧٧ ، خزائن ج ١٦ ص ٢٥٨ ، و ج ١٧ ص ٢٤٩ . کلمة الفصل ص ١٠٥ ، تحفه گولړويه ص ١٦٣ .

حضرت مولانا الله وسايا دامت برکاتهم العاليه هم په خپل کتاب " آئينۂ قاديانيت " کې په صفحه ٦٠ او صفحه ٦١ کې د قادياني دا عبارتونه رانقل کړي .

**جواب** : ميرزا قادياني چې دا کوم خُودساخته اِصطلاحات راويستلي په قرآن کريم او احاديثو کې ددې هيڅ ثبوت نشته .

په قرآن کريم او احاديثو کې خو د نبي عليه السلام نه پس د هر قِسمه نبوّت نفي شوې ده او صراحةً دا ذکر شوي چې پيغمبر عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن دی ، د دوی نه پس به ترقيامته پورې بل هيڅ نوې نبي او رسول نه پيدا کيږي ، په دې کې دا تفصيل نشته کوم چې ميرزاقادياني کړې دی .

ميرزا قادياني چې د مسلمانانو د دُهوکه کولو د پاره دا کوم خودساخته اِصطلاحات راويستلي دا در اصل د هندوانو اِصطلاحات دي ، ځکه د هندوانو دا عقيده ده چې يو کس د بل په شکل باندې راتلې شي . (١)

لهذا اوس چې څوک د نبي عليه السلام نه پس د هر قِسمه نبوّت دعوٰی کوي نو داسې کس قطعي کافر ، مُرتد ، زنديق ، کذّاب او دَجّال دی ، داسې کس به د اِرتداد په وجه قتلولې شي . (٢)

---

(١) تفسير معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠ ، ختم نبوت کامل ص ٢٨ ، آئينه قاديانيت ص ٦٠ .

(٢) ملا علي قاري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : وَدَعْوَى النُّبُوَّةِ بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفْرٌ بِالْإِجْمَاعِ . زمونږ د پيغمبر محمد رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس د نبوّت دعوی کول په اِجماع سره کفر ده . شرح فقه اکبر ص ٢٠٢ ، آئينه قاديانيت ص ٥٥ . ختم نبوت کامل ص ٣٨١ .

علامه ابن حبان رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : مَنْ ذَهَبَ إِلَى أَنَّ النُّبُوَّةَ مُكْتَسَبَةٌ لَا تَنْقَطِعُ . أَوْإِلَى أَنَّ الْوَلِيَّ أَفْضَلُ مِنَ النَّبِيِّ فَهُوَ زِنْدِيْقٌ يَجِبُ قَتْلُهُ . د چا چې دا عقيده وي چې نبوّت په کسب سره حاصليږي او تر اُوسه نبوّت ختم شوې نه دی ، يا يې دا عقيده وي چې وَلي د نبي نه افضل دی نو دداسې عقيدې واله کس زِنديق دی ، دده قتلولو واجب دي . شرح الزرقاني على المواهب اللدنية بالمنح المحمدية ج ٨ ص ٣٩٩ النوع الثالث : في وصفه تعالى له بالشهادة وشهادته له بالرسالة .

علامه آلوسي رَحِمَهُ اللهُ په تفسير رُوح المعاني کې ليکلي : وَكَوْنُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمَ النَّبِيِّيْنَ مِمَّا نَطَقَ بِهِ الْكِتَابُ وَصَدَعَتْ بِهِ السُّنَّةُ وَأَجْمَعَتْ عَلَيْهِ الْأُمَّةُ . فَيُكَفَّرُ مُدَّعِيْ خِلَافِهِ ، وَيُقْتَلُ إِنْ أَصَرَّ . د نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن کيدل داسې مسئله ده چې په دې باندې قرآن کريم صراحت کړی ، ←←←←←←

Scanned with CamScanner

او څوک چې دداسې دروغجن کس تصديق کوي نو هغه هم مرتد او کافر دی. (١)

## ميرزا قاديانې زمونږ د نبي عليه السلام او صحابه کرامو ګستاخ ؤ

ميرزاقادياني په خپلو کتابونو کې زمونږ د پيغمبر " محمد رّسولُ الله ﷺ " ګستاخي کړې، د صحابه کرامو ګستاخي يې کړې، د حضرت فاطمې رضي الله عنها او نورو

---

←←← او احاديثو هم په صراحت سره دا خبره واضح کړې، او په دې باندې د اُمت اِجماع هم ده، لهذا څوک چې ددې خلاف دعوٰی کوي نو هغه به کافر ګنړلې شي، او که څوک په دې باندې اِصرار کوي (او توبه نه اُوباسي) نو هغه به قتلولې شي. روح المعاني ج١١ ص ٢٢٠ سورة الاحزاب في تفسير آية ٤٠.

په لوامع الأنوار کې ذکر دي: وَمَنْ زَعَمَ أَنَّهَا مُكْتَسَبَةٌ فَهُوَ زِنْدِيقٌ يَجِبُ قَتْلُهُ؛ لِأَنَّهُ يَقْتَضِي كَلَامُهُ وَاعْتِقَادُهُ أَنْ لَا تَنْقَطِعَ، وَهُوَ مُخَالِفٌ لِلنَّصِّ الْقُرْآنِيِّ، وَالْأَحَادِيثِ الْمُتَوَاتِرَةِ بِأَنَّ نَبِيَّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَاتَمُ النَّبِيِّينَ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ. څوک چې دا ګمان کوي چې نبوت په کوشش سره حاصلېږي نو داسې کس زنديق دی دده قتلول واجب دي، ځکه دده دا کلام او دده دا عقيده دا تقاضا کوي چې ګنې نبوّت ختم شوي ندی، حالانکه دا عقيده د قرآن کريم او احاديثو متواترهٔ د هغه نص مخالف ده په کوم کې چې ذکر شوي چې نبي عليه السلام خَاتَمُ النَّبِيِّيْن (آخري نبي) دی. لوامع الأنوار البهية وسواطع الأسرار الأثرية لشرح الدرة المضية في عقد الفرقة المرضية لشمس الدين، أبو العون محمد بن أحمد بن سالم السفاريني الحنبلي ج٢ ص ٢٦٨ اَلْبَابُ الْخَامِسُ ذِكْرِ سيدنا مُحَمَّدٍ وَبَعْضِ الْأَنْبِيَاءِ وَفَضْلِهِ وَفَضْلِ أَصْحَابِهِ وَأُمَّتِهِ النبوة غير مكتسبة

(١) علامه ابن قدامة رحمه الله په المغني کې ليکلي: وَمَنِ ادَّعَى النُّبُوَّةَ أَوْ صَدَّقَ مَنِ ادَّعَاهُ فَقَدِ ارْتَدَّ؛ لِأَنَّ مُسَيْلِمَةَ لَمَّا ادَّعَى النُّبُوَّةَ فَصَدَّقَهُ قَوْمُهُ صَارُوا بِذَلِكَ مُرْتَدِّينَ. وَكَذَلِكَ طُلَيْحَةُ الْأَسَدِيُّ وَمُصَدِّقُوهُ.
څوک چې د نبوّت دعوٰی اوکړي يا دداسې کس تصديق اوکړي نو په دې سره دا مُرتد کيږي؛ ځکه مُسليمهٔ کذّاب چې کله د نبوّت دعوی اوکړه او دده قوم دده تصديق اوکړو نو په دې سره دوی ټول مُرتد اوګرځيدل، همدارنګې طليحه اسدي چې کله په دروغه د نبوت دعوی نو دا او چا چې دده تصديق اوکړو دوی ټول مرتد شو. المغني لابن قدامة ج ٩ ص ٢٨ كِتَابُ الْمُرْتَدِّ فَصْلُ ادَّعَى النُّبُوَّةَ أَوْ صَدَّقَ مَنِ ادَّعَاهُ.

د شوافعو په معتمد کتاب " مغني المحتاج " کې هغه کارونه ذکر دي چې د هغې په وجه سړی کافر کيږي، په هغې کې يو دا هم ده: أَوْ نَفَى نُبُوَّةَ نَبِيٍّ، أَوِ ادَّعَى نُبُوَّةً بَعْدَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ صَدَّقَ مُدَّعِيهَا.
يا د يو خاص نبي د نبوّت نه اِنکار اوکړي، يا زمونږ د نبي عليه السلام نه پس په دروغه د نبوّت دعوی اوکړي، يا د دروغجَن نبي تصديق اوکړي (نو په دې سره دا کس کافر کيږي). مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج شمس الدين، محمد بن أحمد الخطيب الشربيني الشافعي ج٥ ص ٤٢٩ كِتَابُ الرِّدَّةِ.

Scanned with CamScanner

صحابیاتو گستاخي یې کړې ، نو بیا څنګه مونږ د قادیانانو سره ښه سلوک اوکړو ؟
محترمو مسلمانانو ! که چیرته یو کس زمونږ د مور او پلار یا خُور گستاخي یا توهین اوکړي نو آیا مونږ به هغه معاف کړو ؟ هیڅ کله نه .
لکه څرنګې چې د مسلمان په زړه کې د نبي علیه السلام سره محبت د اِیمان نخه ده او د دینه بغیر انسان مؤمِن نشي کیدی نو همدغه شان د مسلمان په زړه کې د نبي علیه السلام د دُشمنانو سره بُغض ساتل هم د اِیمان نخه ده .
د مسلمان په زړه کې هیڅ کله د نبي علیه السلام محبت او د نبي علیه السلام د دُشمن محبت نه جمع کیږي .
بلکه مونږ به داسې اُووایو چې لکه څرنګې ورځ او شپه نه جمع کیږي ، رڼا او تیاره نه جمع کیږي ، حلال او حرام نه جمع کیږي نو همدغه شان په کوم زړه کې چې د نبي علیه السلام محبت وي په هغې کې د قادیاني محبت نه جمع کیږي .
اوس که د یو چا په زړه کې د قادیانانو سره محبت وي نو دا دې په خپل اِیمان باندې اُویریږي ، ځکه د داسې کس په زړه کې ایمان نه وي .

## د قادیانانو متعلق د یو څو مسئلو وضاحت

اوس درته د قادیانانو متعلق د یو څو مشهورو فتاوُو نه ضروري مسائل رانقل کوم ، دا هم په غور سره واورئ :

## په قادیاني کیدو سره سړې مرتد کیږي ، او نکاح یې ختمیږي

ټولو فتاوُو په تفصیل سره دا خبره ذکر ده چې : میرزا غلام احمد قادیاني او د هغه مُتّبِعین مرتد دي ؛ ځکه هغه ختمِ نبوت د عقیدې نه مُنکرؤ ، پخپله یې د نبوّت دعوٰی کړې وه ، د نبي علیه السلام او نورو انبیاء کرامو گستاخي یې کوله ، د حضرت عیسٰی علیه السلام آسمان ته د ژوندي ختلو نه مُنکرؤ . (۱)

(۱) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ۱۲ ص ۲۰۷ ، وص ۲۰۸ ، وص ۲۱۹ ، وص ۲۳۶ ، وص ۲۰۰ ، وص ۲۵۵ احکام مرتد . فتاوی محمودیه ج ۲ ص ۹۳ وص ۹۰ رد قادیانیت . اکفار الملحدین ص ۱۰ بیان شيء من دعاوي القادیاني . کفایت المفتي ج۱ ص ۳۱۳ فصل چهارم فرقه قادیاني . امداد الفتاوی ج٦ ص ۹۵ . فتاوی احیاء العلوم ج۱ ص ٦٨ ←←←←

اوس که په مسلمان ښځه او خاوندې کې یو کس قادیاني یا عیسائي وغیره شي نو په دې سره دا مرتد او کافر کیږي ، د خپلې بي بي سره یې نکاح سمدست ختمیږي . (١)

# د قادیانانو سره نکاح ناجائز ده

قادیانان اهلِ کتاب ندي ، بلکه دوی مرتد دي ، لهذا د دوی سره نکاح ناجائز ده ، یعنی نه به څوک د قادیانی ښځې سره نکاح کوي ، او نه به قادیاني ته څوک ښځه په نکاح ورکوي . (٢)

بلکه د قادیانی ښځې سره نکاح باطل ده (٣)

که څوک د قادیانی ښځې سره نکاح اوکړي او ده ته د مخکې نه دا معلومه نه وې چې ګني دا ښځه قادیانی ده او اوس ورته د نکاح نه پس معلومه شوه نو اګرچې په دې سره دا سړې کافر کیږي نه خو په ده باندې لازم دي چې سمدست دا ښځه د ځان نه جدا کړي ، او توبه اُوباسي .

خو که ده ته د مخکې نه دا معلومه وه چې دا ښځه قادیانی ده خو ده بیا هم هغه مسلمانه ګنړله او نکاح یې ورسره اوکړه نو په دې سره دا کس هم کافر شو ، ځکه ګفري عقائد اسلام

←←← فتاوی رحیمیه ج ٧ ص ٢٦ . جواهر الفقه ج١ ص ٥٩ . فتاوی حقانیه ج١ ص ٣٩٢ باب الفرق الاسلامیة وغیرها . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ٢ ص ١٠١ قادیانی فتنہ . ( اضافہ وتخریج شدہ ایڈیشن ) . فتاوی فریدیه ج ١ ص ١٤٥ و ص ١٤١ باب في الفرق الباطلة .

(١) وَارْتِدَادُ أَحَدِهِمَا فَسْخٌ عَاجِلٌ بِلَا قَضَاءٍ . رد المحتار على الدر المختار ج٣ ص ١٩٦ بَابُ نِكَاحِ الْكَافِرِ . فتاوی دار العلوم دیوبند ج ١٢ ص ٢٠٨ . و ص ٢٠١ ، و ص ٢٠٣ ، و ص ٢٣١ ، و ص ٢٤١ احکام مرتد . فتاوی محمودیه ج ٤ ص ١١٤ رد قادیانیت

(٢) (قَوْلُهُ: وَلَا يَنْكِحُ مُرْتَدٌّ أَوْ مُرْتَدَّةٌ أَحَدًا) .... فَلَا يَتَزَوَّجُ الْمُرْتَدُّ مُسْلِمَةً وَلَا كِتَابِيَّةً وَلَا مُرْتَدَّةً . وَلَا يَتَزَوَّجُ الْمُرْتَدَّةُ مُسْلِمٌ وَلَا كَافِرٌ وَلَا مُرْتَدٌّ . البحر الرائق شرح كنز الدقائق ج٢ ص ٢٢٤ بَابُ نكاح الكافر ) . فتاوی فریدیه ج ١ ص ١٤٣ باب في الفرق الباطلة

(٣) ( وَ ) حَرُمَ نِكَاحُ ( الْوَثَنِيَّةِ ) بِالْإِجْمَاعِ . الدرالمختار . وَيَدْخُلُ فِي عَبَدَةِ الْأَوْثَانِ عَبَدَةُ الشَّمْسِ وَالنُّجُومِ وَالصُّوَرِ الَّتِي اسْتَحْسَنُوهَا وَالْمُعَطِّلَةُ وَالزَّنَادِقَةُ وَالْبَاطِنِيَّةُ وَالْإِبَاحِيَّةُ . وَفِي شَرْحِ الْوَجِيزِ وَكُلُّ مَذْهَبٍ يَكْفُرُ بِهِ مُعْتَقِدُهُ . رد المحتار على الدر المختار ج٣ ص ٤٥ كِتَابُ النِّكَاحِ فَصْلٌ فِي الْمُحَرَّمَاتِ .

Scanned with CamScanner

کنټرول هم کفر دی (١) ، لهذا په ده باندې لازم دي چې دا ښځه پرېږدي او دوباره تجدید د ایمان اوکړي . (٢)

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې قادیانان په اتفاق د علماؤ سره کافر او مرتدي دي لهذا د دوی سره نکاح قطعا ناجائز ده ، که څوک د دوی سره نکاح اوکړي نو دا نکاح نه منعقد کيږي بلکه دا به د زِنا په حکم کې وي ، او څوک چې په دې نکاح کې شریک شي او دا نکاح منع نه کړي نو دوی به د خپل طاقت موافق ګناهګار وي .

کومه مسلمانه ښځه چې د قادیاني په نکاح کې وي نو په نورو صاحبِ قدرت مسلمانانو باندې دا واجب دي چې دا ښځه دده د نکاح نه راخلاصه کړي بیا خاصکر چې کله دا ښځه پخپله هم ددې قادیاني نه د ځان خلاصولو خواهشمنده وي نو بیاخو په طریقِ اولی سره دده د نکاح نه راخلاصول واجب دي ، کوم صاحبِ قدرت مسلمانان چې په دې کې سستي کوي نو هغوی ګناهګار دي . (٣)

## مرتد به قتلولې شي

څوک چې یو ځل په اسلام کې داخل شي او بیا مرتد شي نو دا ښکاره بغاوت دی ، د مرتد حکم دادی چې دا به قتلولې شي .

---

(١) فِي الْبَحْرِ وَالْأَصْلُ أَنَّ مَنِ اعْتَقَدَ الْحَرَامَ حَلَالًا فَإِنْ كَانَ حَرَامًا لِغَيْرِهِ كَمَالِ الْغَيْرِ لَا يَكْفُرُ ، وَإِنْ كَانَ لِعَيْنِهِ فَإِنْ كَانَ دَلِيلُهُ قَطْعِيًّا كَفَرَ ، وَإِلَّا فَلَا . رد المحتار على الدر المختار ج ٤ ص ٢٢٣ كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ الْمُرْتَدِّ

(٢) وَفِي شَرْحِ الْوَهْبَانِيَّةِ لِلشُّرُنْبُلَالِيِّ: مَا يَكُونُ كُفْرًا اتِّفَاقًا يُبْطِلُ الْعَمَلَ وَالنِّكَاحَ وَأَوْلَادُهُ أَوْلَادُ زِنًا ، وَمَا فِيهِ خِلَافٌ يُؤْمَرُ بِالْإِسْتِغْفَارِ وَالتَّوْبَةِ وَتَجْدِيدِ النِّكَاحِ . الدر المختار ج ٤ ص ٢٤٦ كِتَابُ الْجِهَادِ مَطْلَبُ تَوْبَةُ الْيَأْسِ مَقْبُولَةٌ دُونَ إِيمَانِ الْيَأْسِ . . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ٢ ص ١٢١ قادیانی فتنہ .

(٣) وَلَا يَجُوزُ لِلْمُرْتَدِّ أَنْ يَتَزَوَّجَ مُرْتَدَّةً وَلَا مُسْلِمَةً وَلَا كَافِرَةً أَصْلِيَّةً ، وَكَذَلِكَ لَا يَجُوزُ نِكَاحُ الْمُرْتَدَّةِ مَعَ أَحَدٍ ، كَذَا فِي الْمَبْسُوطِ . الفتاوی الهندیة ج ١ ص ٢٨٢ كِتَابُ النِّكَاحِ الْبَابُ الثَّالِثُ فِي بَيَانِ الْمُحَرَّمَاتِ الْقِسْمُ السَّابِعُ الْمُحَرَّمَاتُ بِالشِّرْكِ . مجمع الانهر ج ١ ص ٥٤٨ باب نكاح الكافر .

مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا ثُمَّ لَا يُغَيِّرُونَ إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ . مشكاة المصابيح بَابُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ الْفَصْلُ الْأَوَّلُ رقم ٥١٤٢ (٦) . فتاوی محمودیه ج ٤ ص ١٠٥ ردِ قادیانیت

Scanned with CamScanner

د بخاري شريف حديث دى ، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي :

مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهُ فَاقْتُلُوْهُ . (١) څوک چې خپل دِين بدل کړي نو تاسو هغه قتل کړئ .

فقهاؤ ليکلي چې مرتد به قيد کولې شي ، د هغه چې کوم شبهات دي هغه به ختمولې شي که هغه مهلت اُوغواړي نو درې ورځې مهلت به ورکړې شي ، که درې ورځې پس ده واپس اسلام قبول کړو نو صحيح ده ، خوکه اسلام يې قبول نکړو نو بيا به د اِرتداد په وجه قتلولې شي .

خو که مرتد درې ورځې مهلت طلب نکړو نو بيا به سمدست قتلولې شي . (٢)

## د قاديانانو سره روابط او تعلقات ساتل ناجائز دي

قاديانان د الله او رسول باغيان او مرتد دي او د مرتدو تعلق ساتل ناجائز دي ، څوک

---

(١) صحيح البخاري كِتَابُ اسْتِتَابَةِ الْمُرْتَدِّينَ وَالْمُعَانِدِينَ وَقِتَالِهِمْ بَابُ حُكْمِ الْمُرْتَدِّ وَالْمُرْتَدَّةِ وَاسْتِتَابَتِهِمْ رقم الحديث ٦٩٢٢ . و رقم الحديث ٣٠١٧ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: لاَ يُعَذَّبُ بِعَذَابِ اللَّهِ .

(٢) (مَنِ ارْتَدَّ عَرَضَ) الْحَاكِمُ (عَلَيْهِ الْإِسْلَامَ اسْتِحْبَابًا) عَلَى الْمَذْهَبِ لِبُلُوْغِهِ الدَّعْوَةَ (وَتُكْشَفُ شُبْهَتُهُ) بَيَانٌ لِثَمَرَةِ الْعَرْضِ (وَيُحْبَسُ) وُجُوبًا وَقِيلَ نَدْبًا (ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ) يُعْرَضُ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ فِي كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا خَانِيَّةٌ (إِنِ اسْتَمْهَلَ) أَيْ طَلَبَ الْمُهْلَةَ وَإِلَّا قَتَلَهُ مِنْ سَاعَتِهِ إِلَّا إِذَا رُجِيَ إِسْلَامُهُ . بَدَائِعُ . الدر المختار

قال ابن عابدين رحمه الله : (قَوْلُهُ : الْحَاكِمُ) أَيْ الْإِمَامُ أَوْ الْقَاضِي بَحْرٌ (قَوْلُهُ : لِبُلُوْغِهِ الدَّعْوَةَ) قَالَ فِي الْبَحْرِ: وَعَرْضُ الْإِسْلَامِ هُوَ الدَّعْوَةُ إِلَيْهِ وَدَعْوَةُ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَى غَيْرُ وَاجِبَةٍ (قَوْلُهُ : بَيَانٌ لِثَمَرَةِ الْعَرْضِ) الظَّاهِرُ أَنَّ ثَمَرَةَ الْعَرْضِ الْإِسْلَامُ وَالنَّجَاةُ مِنَ الْقَتْلِ، وَأَمَّا هَذَا فَهُوَ ثَمَرَةُ التَّأْجِيلِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ لِأَنَّ مَنِ انْتَقَلَ عَنِ الْإِسْلَامِ وَالْعِيَاذُ بِاللَّهِ تَعَالَى لَا بُدَّ لَهُ غَالِبًا مِنْ شُبْهَةٍ فَتُكْشَفُ لَهُ إِنْ أَبْدَاهَا فِي هَذِهِ الْمُدَّةِ تَأَمَّلْ (قَوْلُهُ : وَقِيلَ نَدْبًا) أَيْ وَإِنِ اسْتَمْهَلَ وَظَاهِرُ الرِّوَايَةِ الْأَوَّلُ. وَهُوَ أَنَّهُ لَا يُمْهَلُ بِدُوْنِ اسْتِمْهَالٍ كَمَا فِي الْبَحْرِ (قَوْلُهُ : إِنِ اسْتَمْهَلَ) أَيْ بَعْدَ الْعَرْضِ لِلتَّفَكُّرِ قُهُسْتَانِيٌّ (قَوْلُهُ : وَإِلَّا قَتَلَهُ) أَيْ بَعْدَ عَرْضِ الْإِسْلَامِ عَلَيْهِ وَكَشْفِ شُبْهَتِهِ . رد المحتار على الدر المختار ج٣ ص ٢٢٥ بَابُ الْمُرْتَدِّ . البحر الرائق ج٥ ص ١٢٥ باب احكام المرتدين . فتاوى دار العلوم ديوبند ج ١٢ ص ٢٦١ باب احكام المرتد . فتاوى حقانيه ج ١ ص ٢٥٧ كتاب العقائد و الايمانيات .

(وَالْمُرْتَدَّةُ) وَلَوْ صَغِيرَةً أَوْ خُنْثَى بَحْرٌ (تُحْبَسُ) أَبَدًا. وَلَا تُجَالَسُ وَلَا تُؤَاكَلُ حَقَائِقُ (حَتَّى تُسْلِمَ وَلَا تُقْتَلُ) . الدر المختار ج٣ ص ٢٥٣ مَطْلَبُ الْمَعْصِيَةُ تَبْقَى بَعْدَ الرِّدَّةِ .

Scanned with CamScanner

چې د دوى سره تعلق ساتي نو دا به هم د دوى په صف کې شمارېږي . (١)

علماؤ تر دې پورې ليکلي چې د قاديانانو سره خوراک ، څکاک ، د دوى په پروګرامونو کې شريکېدل ، يا دوى په خپلو پروګرامونو کې شريکول او د دوى سره د زړه محبت ساتل قطعا منع دي ، دا ځکه چې قاديانان مرتد دي ، او مرتد د الله تعالى دشمن وي ، او څوک چې د الله تعالى د دشمن سره څومره محبت ساتي نو همدومره به د الله ﷻ د رحمت نه لرې وي ، د قيامت په ورځ به د داسې کس حشر د همدغه قاديانانو سره وي . (٢)

علماؤ دا هم ليکلي چې که د مسلمان سره په ګاونډ کې يو غير مُسلمه يهودي يا عيسائي اوسيږي نو د هغه دعوت ته تلل يا هغه په خپل دَعوت کې شريکول جائز دي ځکه

---

(١) قَوْلُهُ تَعَالَى ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ ... ﴾ وَفِي هَذِهِ الْآيَةِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّ الْكَافِرَ لَا يَكُونُ وَلِيًّا لِلْمُسْلِمِ لَا فِي التَّصَرُّفِ وَلَا فِي النُّصْرَةِ وَيَدُلُّ عَلَى وُجُوبِ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْكُفَّارِ وَالْعَدَاوَةِ لَهُمْ لِأَنَّ الْوِلَايَةَ ضِدُّ الْعَدَاوَةِ فَإِذَا أُمِرْنَا بِمُعَادَاةِ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى لِكُفْرِهِمْ فَغَيْرُهُمْ مِنَ الْكُفَّارِ بِمَنْزِلَتِهِمْ . احكام القرآن للجصاص ج٣ ص ٩٩ سورة المائدة مطلب: الكافر لا يكون وليا للمسلم .

وايضا قوله تعالى : ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمْ أَوْلِيَاءَ تُلْقُونَ إِلَيْهِمْ بِالْمَوَدَّةِ وَقَدْ كَفَرُوا بِمَا جَاءَكُمْ مِنَ الْحَقِّ ... ﴾ الممتحنة آية ١ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ٢ ص ١٠٠ ، و ص ١١٩ قادیانی فتنہ . فتاوی فريديه ج ١ ص ١٤٣ باب في الفرق الباطلة

قَوْلُهُ تَعَالَى: (إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا) قِيلَ: أَهْلُ الشِّرْكِ. وَقِيلَ: عَامَّةٌ فِيهِمْ وَفِي الْعُصَاةِ، .... وَهَذَا هُوَ الصَّحِيحُ فِي مَعْنَى الْآيَةِ، وَأَنَّهَا دَالَّةٌ عَلَى هِجْرَانِ أَهْلِ الْكُفْرِ وَالْمَعَاصِي مِنْ أَهْلِ الْبِدَعِ وَغَيْرِهِمْ. فَإِنَّ صُحْبَتَهُمْ كُفْرٌ أَوْ مَعْصِيَةٌ. إِذِ الصُّحْبَةُ لَا تَكُونُ إِلَّا عَنْ مَوَدَّةٍ. وَقَدْ قَالَ حَكِيمٌ :

عَنِ الْمَرْءِ لَا تَسْأَلْ وَسَلْ عَنْ قَرِينِهِ ✡ فَكُلُّ قَرِينٍ بِالْمُقَارِنِ يَقْتَدِي

الجامع لأحكام القرآن (تفسير القرطبي) ج٩ ص ١٠٨ في تشريح سورة هود آية ١١٣ . فتاوى حقانيه ج ١ ص ٤٠٨ .

(٢) فتاوى محموديه ج ٢ ص ١٠٥ و ص ١٠٦ رد قاديانيت ، كفايت المفتي ج١ ص ٣١٧ ، فتاوى دارالعلوم ديوبند ج١٢ ص ٣٣٢ .

وَكَذَلِكَ مَنَعَ أَصْحَابُنَا الدُّخُولَ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ وَدُخُولَ كَنَائِسِهِمْ وَالْبِيَعِ، وَمَجَالِسِ الْكُفَّارِ وَأَهْلِ الْبِدَعِ، وَأَلَّا تُعْتَقَدَ مَوَدَّتُهُمْ وَلَا يُسْمَعَ كَلَامُهُمْ وَلَا مُنَاظَرَتُهُمْ. تفسير القرطبي (الجامع لاحكام القرآن) ج ٧ ص ١٣ سورة الانعام في تفسير آية ٦٨ .

Scanned with CamScanner

دوی اهلِ ذمه دي (۱) خو د قادیاني دعوت ته تلل یا قادیانې په خپل دعوت کې شریکول ناجائز دي ، ځکه قادیانان مرتد کافران دي او مرتد کافر په خپل دعوت کې شریکول ناجائز دي . (۲)

البته که مرتد په اخلاص باندې توبه اُوباسي او د اِیمان تجدید اوکړي نو دده توبه قبلیږي . (۳)

## په قادیانانو باندې سلام اچول ندي په کار

په قادیانانو باندې سلام اچول ندي په کار ، که چیرته دوی په مسلمان باندې سلام واچوي نو په جواب کې ورته صرف "وَعَلَيْكُمْ" ویل په کار دي . یا ورته "هَدَاكَ اللهُ" ویل په کار دي . (۴)

---

(۱) وَلَا بَأْسَ بِالذَّهَابِ إِلَى ضِيَافَةِ أَهْلِ الذِّمَّةِ هٰكَذَا ذَكَرَ مُحَمَّدٌ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى . الفتاوی الهندیة (عالمگیری) ج۵ ص ۳۴۷ كِتَابُ الْكَرَاهِيَةِ البَابُ الرَّابِعَ عَشَرَ فِي أَهْلِ الذِّمَّةِ وَالْأَحْكَامِ الَّتِي تَعُودُ إِلَيْهِمْ

وَكَذٰلِكَ مَنَعَ أَصْحَابُنَا الدُّخُولَ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ وَ دُخُولِ كَنَائِسِهِمْ وَالْبِيَعِ ، وَمَجَالِسِ الْكُفَّارِ وَأَهْلِ الْبِدَعِ ، وَأَلَّا تُعْتَقَدَ مَوَدَّتُهُمْ وَلَا يُسْمَعَ كَلَامُهُمْ وَلَا مُنَاظَرَتُهُمْ . تفسیر القرطبي ج ۷ ص ۱۳ سورة الانعام في تفسیر آية ۶۸ .

(۲) ﴿ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ الذِّكْرَى مَعَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ﴾ الانعام آية ۶۸ . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ۲ ص ۱۱۹ قادیانی فتنہ

وَكَذٰلِكَ مَنَعَ أَصْحَابُنَا الدُّخُولَ إِلَى أَرْضِ الْعَدُوِّ وَ دُخُولِ كَنَائِسِهِمْ وَالْبِيَعِ ، وَمَجَالِسِ الْكُفَّارِ وَأَهْلِ الْبِدَعِ ، وَأَلَّا تُعْتَقَدَ مَوَدَّتُهُمْ وَلَا يُسْمَعَ كَلَامُهُمْ وَلَا مُنَاظَرَتُهُمْ . تفسیر القرطبي ج ۷ ص ۱۳ سورة الانعام في تفسیر آية ۶۸ .

(۳) (وَكُلُّ مُسْلِمٍ ارْتَدَّ فَتَوْبَتُهُ مَقْبُولَةٌ إِلَّا) جَمَاعَةً مَنْ تَكَرَّرَتْ رِدَّتُهُ عَلَى مَا مَرَّ وَ (الْكَافِرُ بِسَبِّ نَبِيٍّ) مِنَ الْأَنْبِيَاءِ فَإِنَّهُ يُقْتَلُ حَدًّا وَلَا تُقْبَلُ تَوْبَتُهُ مُطْلَقًا ، وَلَوْ سَبَّ اللهَ تَعَالَى قُبِلَتْ لِأَنَّهُ حَقُّ اللهِ تَعَالَى ، وَالْأَوَّلُ حَقُّ عَبْدٍ لَا يَزُولُ بِالتَّوْبَةِ ، وَمَنْ شَكَّ فِي عَذَابِهِ وَكُفْرِهِ كَفَرَ . الدرالمختار ج۴ ص ۲۳۱ مَطْلَبُ تَوْبَةُ الْيَأْسِ مَقْبُولَةٌ دُونَ إِيمَانِ الْيَأْسِ .
فتاوی محمودیه ج ۴ ص ۱۰۵ ردِ قادیانیت

(۴) (وَيُسَلِّمُ) الْمُسْلِمُ (عَلَى أَهْلِ الذِّمَّةِ) لَوْ لَهُ حَاجَةٌ إِلَيْهِ وَإِلَّا كُرِهَ هُوَ الصَّحِيحُ كَمَا كُرِهَ لِلْمُسْلِمِ مُصَافَحَةُ الذِّمِّيِّ كَذَا فِي نُسَخِ الشَّارِحِ وَأَكْثَرِ الْمُتُونِ بِلَفْظِ وَيُسَلِّمُ فَأَوَّلْتُهَا هٰكَذَا وَلٰكِنْ بَعْضُ نُسَخِ الْمَتْنِ . وَلَا يُسَلِّمُ وَهُوَ الْأَحْسَنُ الْأَسْلَمُ فَافْهَمْ . الدرالمختار ج۶ ص ۴۱۲ کتاب الحظر والاباحة . فتاوی محمودیه ج ۴ ص ۱۱۰ ردِ قادیانیت

د نورو کافرانو معامله جدا ده خو د قادیانانو جدا ده ، ځکه قادیانان مرتدي دي ، د دوی سره به د مرتد په شان معامله کولې شي ، په دوی باندې به نه سلام اچولې شي او نه به د سلام جواب ورکولې شي .

د مرتد حکم دادی چې ده ا به صرف درې ( ٣ ) ورځې قید کولې شي او د اسلام متعلق چې ده ته څه شبهات راغلي وي هغه به ورته واضحه کړې شي ، اوس که ده واپس اسلام قبول کړو او توبه یې أوویسته نو صحیح ده کني بیا به قتلولې شي . (١)

## د مریض قادیاني بیمار پُرسي له تلل

قادیانان مرتد دي . (٢)

د مرتد سره به د عامو کافرانو په شان معامله نشي کولی ، بلکه د مرتد سره هیڅ همدردي نده په کار ( که دا توبه أو نه باسي نو قتلولې به شي ) ، لهذا که قادیاني بیمار شي نو دده بیمارپُرسي له تلل ناجائز دي ، البته که دا توقع وه چې په دې ورتللو سره به هغه متأثر شي او د اِرتداد نه به واوړي نو بیا دا ورتلل هغه ته د تبلیغ په حکم کې دي ، جائز دي ،

---

(١) (مَنِ ارْتَدَّ عَرَضَ ) الحَاكِمُ (عَلَيْهِ الْإِسْلَامَ اسْتِحْبَابًا ) عَلَى الْمَذْهَبِ لِبُلُوْغِهِ الدَّعْوَةَ ( وَتُكْشَفُ شُبْهَتُهُ) بَيَانٌ لِثَمَرَةِ الْعَرْضِ ( وَيُحْبَسُ ) وُجُوْبًا وَقِيْلَ نَدْبًا ( ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ) يُعْرَضُ عَلَيْهِ الْإِسْلَامُ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مِنْهَا .خَانِيَةٌ (إِنِ اسْتَمْهَلَ ) أَيْ طَلَبَ الْمُهْلَةَ وَإِلَّا قَتَلَهُ مِنْ سَاعَتِهِ إِلَّا إِذَا رُجِيَ إِسْلَامُهُ . بَدَائِعُ . الدرالمختار ج٤ ص ٢٢٥ بَابُ الْمُرْتَدِّ. البحرالرائق ج٥ ص ١٢٥ باب احكام المرتدين . •

( وَالْمُرْتَدَّةُ ) وَلَوْ صَغِيْرَةً أَوْ خُنْثَى بَحْرٌ ( تُحْبَسُ ) أَبَدًا ، وَلَا تُجَالَسُ وَلَا تُوَاكَلُ حَقَائِقُ (حَتَّى تُسْلِمَ وَلَا تُقْتَلُ) . الدرالمختار ج٤ ص ٢٥٣ مَطْلَبُ الْمَعْصِيَةُ تُبْقَى بَعْدَ الرِّدَّةِ. فتاوی محمودیه ج ٤ ص ١١١ ردِ قادیانیت

(٢) فتاوی دارالعلوم دیوبند ج ١٢ ص ٢٠٧ ، وص ٢٠٨ ، وص ٢١٩ ، وص ٢٣٦ ، وص ٢٠٠ ، وص ٢٥٥ احکام مرتد . فتاوی محمودیه ج ٤ ص ٩٣ وص ٩٠ ردِ قادیانیت . اکفار الملحدین ص ١٠ بیان شيء من دعاوي القادیاني . کفایت المفتي ج١ ص ٣١٣ فصل چهارم فرقه قادیاني . امداد الفتاوی ج٦ ص ٩٥ . فتاوی احیاء العلوم ج١ ص ٦٨ . فتاوی رحیمیه ج ٧ ص ٢٦ . جواهر الفقه ج١ ص ٥٩ . فتاوی حقانیه ج١ ص ٣٩٢ باب الفرق الاسلامية وغيرها . آپ کے مسائل اور ان کا حل ج ٢ ص ١٠١ قادیانی فتنه . ( اضافه و تخریج شده ایڈیشن ). فتاوی فریدیه ج ١ ص ١٤٥ وص ١٤١ باب في الفرق الباطلة .

خو شرط دادی چې دده نیت صحیح وي. (۱)

## د قادیانانو سره تجارت کول حرام دی

قادیانان محارب کافر او زندیق دي (۲) ځکه په دوی کې هر کس د خپل تجارت او خپلې آمدنی لسمه حصه روپۍ د نورو خلقو په قادیاني کولو باندې خرچ کوي لهذا د دوی سره تجارت کول ناجائز دی، که څوک مسلمان د دوی سره تجارت کوي نو دا د نورو خلقو په مرتد کولو کې شریکیږي، لهذا د دوی سره هر قسمه معاملات او تجارت ناجائز دی. (۳)

---

(۱) قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوٰى .... صحیح البخاري بَابُ بَدْءِ الْوَحْيِ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ رقم الحديث ١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْإِمَارَةِ بَابُ قَوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ رقم ١٥٥ (١٩٠٧) . فتاوى محموديه ج ۴ ص ۱۱۷ ردِ قاديانيت

(۲) وان اعترف به (اي الحق) ظاهرًا لكن يفسر بعض ما ثبت من الدين ضرورة بخلاف ما فسره الصحابة والتابعون واجمعت عليه الامة فهو الزنديق. المسوى شرح الموطا ج۲ ص ۱۳ .

الزندقة كفر، والزنديق كافر، لأنه مع وجود الاعتراف بنبوة سيدنا محمد صلى الله عليه وسلم يكون في عقائده كفر وهذا بالاتفاق. نضرة النعيم في مكارم اخلاق الرسول الكريم صلى الله عليه وسلم ج۱۰ ص ۴۵۸۵ . كشاف اصطلاحات الفنون ۱۱۷/۳ .

(۳) قَوْلُهُ تَعَالَى ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ﴾ وَفِي هٰذِهِ الْآيَةِ دَلَالَةٌ عَلَى أَنَّ الْكَافِرَ لَا يَكُوْنُ وَلِيًّا لِلْمُسْلِمِ لَا فِي التَّصَرُّفِ وَلَا فِي النُّصْرَةِ وَيَدُلُّ عَلَى وُجُوبِ الْبَرَاءَةِ مِنَ الْكُفَّارِ وَالْعَدَاوَةِ لَهُمْ لِأَنَّ الْوِلَايَةَ ضِدُّ الْعَدَاوَةِ فَإِذَا أُمِرْنَا بِمُعَادَاةِ الْيَهُوْدِ وَالنَّصَارَىٰ لِكُفْرِهِمْ فَغَيْرُهُمْ مِنَ الْكُفَّارِ بِمَنْزِلَتِهِمْ، وَيَدُلُّ عَلَى أَنَّ الْكُفْرَ كُلَّهُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ. لِقَوْلِهِ تَعَالَى: {بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ} . احكام القرآن للجصاص ج۲ ص ۲۵۵ مطلب: الكافر لا يكون وليل للمسلم

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « لَا تُجَالِسُوا أَهْلَ الْقَدَرِ » أَيْ: لَا تُوَادِدُوْهُمْ، وَلَا تُحَابُّوْهُمْ. فَإِنَّ الْمُجَالَسَةَ وَنَحْوَهَا مِنَ الْمُمَاشَاةِ مِنْ عَلَامَاتِ الْمَحَبَّةِ وَأَمَارَاتِ الْمَوَدَّةِ. فَالْمَعْنَى لَا تُجَالِسُوْهُمْ مُجَالَسَةَ تَأْنِيسٍ وَتَعْظِيمٍ لَهُمْ لِأَنَّهُمْ إِمَّا أَنْ يَدْعُوكَ إِلَى بِدْعَتِهِمْ بِمَا زَيَّنَهُ لَهُمْ شَيْطَانُهُمْ مِنَ الْحُجَجِ الْمُوْهِمَةِ، وَالْأَدِلَّةِ الْمُزَخْرَفَةِ الَّتِي تَجْلِبُ مَنْ لَمْ يَتَمَكَّنْ فِي الْعُلُومِ وَالْمَعَارِفِ إِلَيْهِمْ بِبَادِي الرَّأْيِ، وَإِمَّا أَنْ يَعُوْدَ عَلَيْكُمْ مِنْ نَقْصِهِمْ وَسُوْءِ عَمَلِهِمْ مَا يُؤَثِّرُ فِي قُلُوْبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ، إِذْ مُجَالَسَةُ الْأَغْيَارِ تَجُرُّ إِلَى غَايَةِ الْبَوَارِ ←←←←←←

Scanned with CamScanner

# قاديانان د عامو كافرانو په شان ندي

په دې خبره ځان پوهه كړئ چې د عامو كافرانو (لكه يهود او نصارىٰ) سره كاروبار كول جائز دى، خو د قاديانانو سره كاروبار كول ناجائز دى.

وجه داده چې قاديانان بغير د شک و شبهې نه مرتد دي، خو ددې سره سره مُلحِد او زِنديق هم دي، او د زنديق سره هيڅ قِسمه كاروبار جائز ندى.

مُلحِد او زِنديق ديته وايي چې د اسلامي اصطلاحاتو معنىٰ او مراد مكمل بدل كړي، او قاديانان هم همداسې كوي، ځكه دوی وايي چې:

د " اسلام " نه مراد قاديانيت دى.

د " رسول " نه مراد ميرزا قادياني دى.

په قرآن كريم او احاديثو كې چې چيرته د " محمدٌ رّسولُ الله " ذكر راغلې دى نو ددينه مراد ميرزا قاديانې دى.

د " صحابه كرامو " نه مراد هغه خلق دي چې چا ميرزا قاديانې ليدلې وي.

د " څلورو خليفه گانو " نه مراد د ميرزا قادياني څلور جانشين دي.

نو چونكه قاديانانو د اسلامي اِصطلاحاتو معناگانې مكمل بدلې كړي نو ځكه دوی مُلحِد او زِنديق دي.

د زِنديق احكامات د مرتد نه هم زيات سخت دي، د څلورو واړو مذاهبو فقهاء په دې خبره مُتَّفِق دي چې كه زنديق د توبې نه مخكې اُونيولې شي نو دده توبه به نه قبليږي، دا به قتلولې شي.

لهذا د قاديانانو سره كاروبار كول يا د دوی سره تعلقات ساتل ناجائز دي. (۱)

←←← وَنِهَايَةِ الخَسَارِ. قَالَ تَعَالَى: {يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اتَّقُوا اللهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصَّادِقِيْنَ} [التوبة: ۱۱۹].

مرقاة المفاتيح ج۱ ص ۱۸۲ بَابُ الإِيمَانِ بِالْقَدَرِ في تشريح رقم الحديث ۱۰۸. آپ کے مسائل اور ان کا حل ج۲ ص۱۱۵ وص۱۱۷ قادیانی فتنہ

(۱) خطبات شاهين ختم نبوت ص ۴۲۹.

# د مسلمان د پاره په قادياني باندې جنازه کول ناجائز ده

قاديانان کافر او مرتد دي ، او جنازه خو د مسلمان کولې شي ، په کافر او مرتد باندې د جنازې مونځ نشي بلکه مرتد به د سپي په شان په يوه کنده کې غورځولې شي ، نه به غسل ورکولې شي ، نه به ورباندې د جنازې مونځ کولې شي ، او نه به د مسلمانانو په مقبره کې خښولې شي . چې کله خلقو ته معلومه شي چې دا قادياني مړ شوی نو بيا په ده باندې د جنازې مونځ کول ناجائز دی .

څوک چې سره د عِلمه د قادياني په جنازه کې شريک شي نو دا ګناهګار دی ، ده ته توبه ويستل پکار دي . (١)

البته که د قادياني ښځه صحيح مسلمانه وي دا وفات شي ، يا د قادياني نابالغه ماشومان وفات شي نو په دوی باندې بيا د جنازې مونځ کول جائز دی ، ځکه نابالغ بچي د خيرُ الأبوَين تابع وي .

البته که د قادياني بالغ بچي وي او هغوی هم قاديانان وي دوی چې مړه شي نو په دوی باندې به هم د جنازې مونځ نشي کولی . (٢)

---

(١) وَالحَقُّ حُرْمَةُ الدُّعَاءِ بِالْمَغْفِرَةِ لِلْكَافِرِ . الدرالمختار ج١ ص ٥٢٢ بَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ .

وَشَرْطُهَا (اى صلوة الجنازة) سِتَّةٌ : إسْلَامُ الْمَيِّتِ .... الدرالمختار ج٢ ص ٢٠٧ .

أَمَّا الْمُرْتَدُّ فَيُلْقَى فِي حُفْرَةٍ كَالْكَلْبِ . الدرالمختار

(قَوْلُهُ : فَيُلْقَى فِي حُفْرَةٍ) أَيْ وَلَا يُغَسَّلُ، وَلَا يُكَفَّنُ ، وَلَا يُدْفَعُ إلَى مَنِ انْتَقَلَ إلَى دِينِهِمْ . رد المحتار على الدر المختار ج٢ ص ٢٣٠ . فتاوى محموديه ج٤ ص ١٠٧ و ص ١٠٨ ردِ قاديانيت ، اكفار الملحدين ص ١٠ بيان شيء من دعاوي القادياني .

(٢) (فَأَسْلَمَ هُوَ أَوْ) أَسْلَمَ (الصَّبِيُّ وَهُوَ عَاقِلٌ) أَيْ ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ (صُلِّيَ عَلَيْهِ) لِصَيْرُورَتِهِ مُسْلِمًا . الدرالمختار

(قَوْلُهُ: فَأَسْلَمَ هُوَ) أَيْ أَحَدُ أَبَوَيْهِ أَيْ فَإِنَّ الصَّبِيَّ يَصِيرُ مُسْلِمًا لِأَنَّ الْوَلَدَ يَتْبَعُ خَيْرَ الْأَبَوَيْنِ دِينًا . رد المحتار على الدر المختار ج٢ ص ٢٣٠ .

وَالْحَاصِلُ: أَنَّهُ تَنْقَطِعُ تَبَعِيَّةُ الْوَلَدِ فِي الْإِسْلَامِ لِأَحَدِ أَبَوَيْهِ بِبُلُوغِهِ عَاقِلًا كَمَا صَرَّحَ بِهِ السَّرَخْسِيُّ . رد المحتار على الدر المختار ج٣ ص ١٧٣ كِتَابُ الْجِهَادِ . فتاوى محموديه ج٤ ص ١٠٨ ردِ قاديانيت

Scanned with CamScanner

## چې ځوي قادياني وي نو د مسلمان پلار نه ميراث نشي وړلی

قاديانان په اتفاق سره کافران دي ، او دا خبره په قرآن کريم او احاديثو کې صراحةً ذکر دي چې کافر د مسلمان نه ميراث نشي وړلی .

لهذا که د يو چا ځوي قادياني وي او پلار يې صحيح مسلمان وي نو چې کله يې دا پلار وفات شي نو دا قادياني ځوي ورنه ميراث نشي وړلی .(١)

## قاديانان جُمات ته راپريخودل ندي پکار .

قاديانان مسلمانان ندي ، بلکه دوی مرتد دي ، لهذا دوی جُمات ته راپريخودل ندي په کار . همدارنګې دوی ته د ځان له مونځ کولو اجازت هم نشته . البته د عام کافر او عام مشرک حکم د دينه جدا دی .(٢)

## قاديانانو ته د جُمات جوړولو اجازت ورکول ندي په کار

قاديانان د خپلو عقائدو په وجه مرتد دي ، او دوی نورو مسلمانانو ته کافران وايي لهذا قاديانانو ته د جُمات جوړولو اجازت ورکول ندي په کار ، نبي عليه السلام مسجد ضرار وران کړې ؤ ، مفسّرينو پوره واقعه ذکر کړې ، په قرآن کريم کې هم د دې بيان شته .(٣)

---

(١) فتاوی دارالعلوم ديوبند ج ١٢ ص ٢٢٢ احکام مرتد .

(٢) فتاوی محموديه ج ٣ ص ١٠٩ ردِ قاديانيت .

کعب بن اشرف خپلې ښځې ته وویل : دامحمد بن مَسلمه او زما رضاعي ورور ابونائله دي ، او شریف سړی که چیرته د شپې د نېزه بازۍ د پاره راأوبللې شي نو هم راأوځي به .
کله چې محمدُ بن مَسلمه ﷺ قلعې ته دننَه ننوت نو په دې وخت کې دده سره دوه کسان نور هم وو ، ده دې خپلو ملګرو ته وویل چې کله کعب بن اشرف راشي نو زه به دده د سَر وېښتان د بُوېَولو په بهانه اُونیسم چې کله تاسو ته معلومه شي چې ما دده سَر په قبضه کې واخیست نو تاسو به ورته څټ په توره باندې اُووهئ او قتل به یې کړئ .
(کعب بن اشرف به په خپلو ویښتانو کې ډېره قیمتي خوشبوئي استعمالوله ) .
په دې وخت کې کعب بن اشرف د قلعې نه راښکته شو ، د ځان نه یې څادر تاؤ کړې وُ ، خپله اَسلحه ورسره وه ، او خوشبوئي ورنه تلله .
محمدُ بن مَسلمه ﷺ ورته وویل : ما خو تر ننَه پورې داسې قیمتي خوشبوئي نده

ليدلې كومه چې د تا نه ځي .

كعب بن اشرف وويل : ما سره په نكاح كې داسې ښځه ده چې هغه د عربو په ټولو ښځو كې په عطرو جوړولو كې زياته ماهِره ده ( هر وخت ورنه ښائسته خوشبوئي ځي ) ، او د عربو په ټولو ښځو كې ديره ښائسته ده .

محمدُ بن مَسلمه رضي الله عنه ورته وويل : آيا ته ماته اِجازت راكوى چې زه ستا سَر بُوئ كړم ؟

هغه ورته وويل : آو .

نو ده د هغه سَر بُوئ كړو ، بيا دده نورو دوه ملگرو هم د هغه سَر بُوئ كړو .

محمدُ بن مَسلمه رضي الله عنه ورنه په دويم ځل د سَر بُويَولو اجازت اوغوښت ، هغه اجازت وركړو .

كله چې محمدُ بن مُسلمه رضي الله عنه ته د هغه په سَر باندې پوره قدرت حاصل شو ( يعنى د ويښتانو نه يې مضبوط اُونيولو ) نو خپلو ملگرو ته يې وويل : وې وَهئ . نو دوى دا قتل كړو . بيا دوى نبي عليه السلام ته راغلل او د كعب بن اشرف يهودي د قتلولو خبريې ورته وركړو .(١)

---

(١) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الأَشْرَفِ، فَإِنَّهُ قَدْ آذَى اللهَ وَرَسُولَهُ ؟ »، فَقَامَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ! أَتُحِبُّ أَنْ أَقْتُلَهُ ؟ قَالَ: «نَعَمْ»، قَالَ: فَأْذَنْ لِي أَنْ أَقُولَ شَيْئًا، قَالَ: «قُلْ»، فَأَتَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ رضي الله عنه فَقَالَ: إِنَّ هَذَا الرَّجُلَ قَدْ سَأَلَنَا صَدَقَةً، وَإِنَّهُ قَدْ عَنَّانَا وَإِنِّي قَدْ أَتَيْتُكَ أَسْتَسْلِفُكَ، قَالَ: وَأَيْضًا وَاللهِ لَتَمَلُّنَّهُ، قَالَ: إِنَّا قَدِ اتَّبَعْنَاهُ، فَلاَ نُحِبُّ أَنْ نَدَعَهُ حَتَّى نَنْظُرَ إِلَى أَيِّ شَيْءٍ يَصِيرُ شَأْنُهُ، وَقَدْ أَرَدْنَا أَنْ تُسْلِفَنَا وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ ـ وحَدَّثَنَا عَمْرٌو غَيْرَ مَرَّةٍ فَلَمْ يَذْكُرْ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ أَوْ: فَقُلْتُ لَهُ: فِيهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ؟ فَقَالَ: أُرَى فِيهِ وَسْقًا أَوْ وَسْقَيْنِ ـ فَقَالَ: نَعَمِ، ارْهَنُونِي، قَالُوا: أَيَّ شَيْءٍ تُرِيدُ؟ قَالَ: ارْهَنُونِي نِسَاءَكُمْ، قَالُوا: كَيْفَ نَرْهَنُكَ نِسَاءَنَا وَأَنْتَ أَجْمَلُ العَرَبِ، قَالَ: فَارْهَنُونِي أَبْنَاءَكُمْ، قَالُوا: كَيْفَ نَرْهَنُكَ أَبْنَاءَنَا، فَيُسَبُّ أَحَدُهُمْ، فَيُقَالُ: رُهِنَ بِوَسْقٍ أَوْ وَسْقَيْنِ، هَذَا عَارٌ عَلَيْنَا، وَلَكِنَّا نَرْهَنُكَ اللَّأْمَةَ ـ قَالَ سُفْيَانُ: يَعْنِي السِّلاَحَ ـ فَوَاعَدَهُ أَنْ يَأْتِيَهُ، فَجَاءَهُ لَيْلًا وَمَعَهُ أَبُو نَائِلَةَ، وَهُوَ أَخُو كَعْبٍ مِنَ الرَّضَاعَةِ، فَدَعَاهُمْ إِلَى الحِصْنِ، فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَتْ لَهُ امْرَأَتُهُ: أَيْنَ تَخْرُجُ هَذِهِ السَّاعَةَ؟ فَقَالَ إِنَّمَا هُوَ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ، وَأَخِي أَبُو نَائِلَةَ، وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو، قَالَتْ: أَسْمَعُ صَوْتًا كَأَنَّهُ يَقْطُرُ مِنْهُ الدَّمُ، قَالَ: إِنَّمَا هُوَ أَخِي مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَرَضِيعِي أَبُو نَائِلَةَ إِنَّ الكَرِيمَ لَوْ دُعِيَ إِلَى طَعْنَةٍ بِلَيْلٍ لَأَجَابَ، قَالَ: ←←←←←

Scanned with CamScanner

امام نووي رحمه الله ليکلي چې نبي عليه السلام دده د قتلولو حکم ځکه او کړو چې دې کعب بن اشرف د پيغمبر عليه السلام سره کومه معاهده کړې وه هغه ده ماته کړې وه او د مخالفينو سره ملګرې شوې وُ ، نو صحابه کرامو دده سره دُهوکه نده کړې .

بل دا چې ده به نبي عليه السلام ته ډيرې رَدې بَدې خبرې او کنځلې کولې ، او ګستاخي به يې کوله . (١)

---

←←←← وَيُدْخِلُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ ﷺ مَعَهُ رَجُلَيْنِ _ قِيلَ لِسُفْيَانَ: سَمَّاهُمْ عَمْرٌو؟ قَالَ: سَمَّى بَعْضَهُمْ _ قَالَ عَمْرٌو: جَاءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ، وَقَالَ: غَيْرُ عَمْرٍو: أَبُو عَبْسِ بْنُ جَبْرٍ، وَالحَارِثُ بْنُ أَوْسٍ، وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ، قَالَ عَمْرٌو: جَاءَ مَعَهُ بِرَجُلَيْنِ، فَقَالَ: إِذَا مَا جَاءَ فَإِنِّي قَائِلٌ بِشَعَرِهِ فَأَشَمُّهُ، فَإِذَا رَأَيْتُمُونِي اسْتَمْكَنْتُ مِنْ رَأْسِهِ، فَدُونَكُمْ فَاضْرِبُوهُ ، وَقَالَ مَرَّةً : ثُمَّ أُشِمُّكُمْ. فَنَزَلَ إِلَيْهِمْ مُتَوَشِّحًا وَهُوَ يَنْفَحُ مِنْهُ رِيحُ الطِّيبِ، فَقَالَ: مَا رَأَيْتُ كَاليَوْمِ رِيحًا، أَيْ أَطْيَبَ، وَقَالَ غَيْرُ عَمْرٍو: قَالَ: عِنْدِي أَعْطَرُ نِسَاءِ العَرَبِ وَأَكْمَلُ العَرَبِ، قَالَ عَمْرٌو: فَقَالَ أَتَأْذَنُ لِي أَنْ أَشَمَّ رَأْسَكَ ؟ قَالَ: نَعَمْ، فَشَمَّهُ ثُمَّ أَشَمَّ أَصْحَابَهُ، ثُمَّ قَالَ: أَتَأْذَنُ لِي ؟ قَالَ : نَعَمْ، فَلَمَّا اسْتَمْكَنَ مِنْهُ، قَالَ: دُونَكُمْ، فَقَتَلُوهُ، ثُمَّ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرُوهُ . صحيح البخاري كِتَابُ المَغَازِي بَابُ قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الأَشْرَفِ رقم الحديث ٤٠٣٧ . صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَتْلِ كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ طَاغُوتِ الْيَهُودِ رقم الحديث ١١٩ (١٨٠١) .

(١) وَاخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي سَبَبِ ذَلِكَ وَجَوَابِهِ فَقَالَ الْإِمَامُ الْمَازِرِيُّ إِنَّمَا قَتَلَهُ كَذَلِكَ لِأَنَّهُ نَقَضَ عَهْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَجَاهُ وَسَبَّهُ وَكَانَ عاهده أن لَا يُعِينَ عَلَيْهِ أَحَدًا ثُمَّ جَاءَ مَعَ أَهْلِ الْحَرْبِ مُعِينًا عَلَيْهِ قَالَ وَقَدْ أَشْكَلَ قَتْلُهُ عَلَى هَذَا الْوَجْهِ عَلَى بَعْضِهِمْ وَلَمْ يَعْرِفِ الْجَوَابَ الَّذِي ذَكَرْنَاهُ . قَالَ الْقَاضِي قِيلَ هَذَا الْجَوَابُ وَقِيلَ لِأَنَّ مُحَمَّدَ بْنَ مَسْلَمَةَ ﷺ لَمْ يُصَرِّحْ لَهُ بِأَمَانٍ فِي شَيْءٍ مِنْ كَلَامِهِ وَإِنَّمَا كَلَّمَهُ فِي أَمْرِ الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ وَاشْتَكَى إِلَيْهِ وَلَيْسَ فِي كَلَامِهِ عَهْدٌ وَلَا أَمَانٌ . قَالَ وَلَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يَقُولَ إِنَّ قَتْلَهُ كَانَ غَدْرًا . وَقَدْ قَالَ ذَلِكَ إِنْسَانٌ فِي مَجْلِسِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَأَمَرَ بِهِ عَلِيٌّ ﷺ فَضُرِبَ عُنُقُهُ وَإِنَّمَا يَكُونُ الْغَدْرُ بَعْدَ أَمَانٍ مَوْجُودٍ وَكَانَ كَعْبٌ قَدْ نَقَضَ عَهْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُؤَمِّنْهُ مُحَمَّدُ بْنُ مَسْلَمَةَ وَرُفْقَتُهُ وَلَكِنَّهُ اسْتَأْنَسَ بِهِمْ فَتَمَكَّنُوا مِنْهُ مِنْ غَيْرِ عَهْدٍ وَلَا أَمَانٍ وَأَمَّا تَرْجَمَةُ الْبُخَارِيِّ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ بِبَابِ الْفَتْكِ فِي الْحَرْبِ فَلَيْسَ مَعْنَاهُ الْحَرْبَ بَلِ الْفَتْكُ هُوَ الْقَتْلُ عَلَى غِرَّةٍ وَغَفْلَةٍ وَالْغِيلَةُ نَحْوُهُ وَقَدِ اسْتَدَلَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ بَعْضُهُمْ عَلَى جَوَازِ اغْتِيَالِ مَنْ بَلَغَتْهُ الدَّعْوَةُ مِنَ الْكُفَّارِ وَتَبْيِيتِهِ مِنْ غَيْرِ دُعَاءٍ إِلَى الْإِسْلَامِ . شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج١٢ ص ١٦٠ في تشريح حديث ١٨٠٠ .

Scanned with CamScanner

او دا مسئله هم ده چې کوم ذِمي په دارالاسلام کې وي او لوظ نامه ماته کړي او ورسره د اسلام يا پيغمبر سپکاوې کوي نو په دې سره به دا قتلولې شي .

الله تعالى فرمايي :

﴿ وَإِن نَّكَثُوٓا أَيْمَٰنَهُم مِّنۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوا۟ فِى دِينِكُمْ فَقَٰتِلُوٓا۟ أَئِمَّةَ ٱلْكُفْرِ ۙ إِنَّهُمْ لَآ أَيْمَٰنَ لَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَنتَهُونَ ﴾. (١)

ترجمه : که چيرته دا کافران د خپلو وَعدو کولو نه پس خپل قسَمونه (لوظونه) مات کړي او ستاسو په دِين کې عيبونه راأوباسي نو تاسو بيا د کُفر سردارانو سره جنګ اوکړئ ، بيشکه د دوی قسَمونه معتبر ندي ، (دا جنګ ورسره ځکه اوکړئ) ددې د پاره چې دوی (د خپلو شرارتونو او کُفرنه) منع شي .

## نبي عليه السلام د اَبو رافِع يهودي د وژلو د پاره صحابه کرام وراُوليږل

ابورافِع يهودي به هم نبي عليه السلام ته ضرَر رسول ، او د دوی په شان کې به يې ګستاخي کوله ، نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم دده د قتلولو د پاره د حضرت عبدالله بن عَتِيک ﷺ په مشرۍ کې څه صحابه کرام وراُوليږل او هغه يې په خپل کور کې قتل کړو. (٢)

د ابورافِع يهودي واقعه په بخاري شريف کې په تفصيل سره ذکر ده :

حضرت براء بن عازب ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم د ابورافع يهودي د وژلو د پاره د انصارو څه صحابه کرام وراُوليږل ، او په دوی باندې يې حضرت عبدالله بن عتيک ﷺ امير مقرر کړو :

وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُؤْذِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِينُ عَلَيْهِ .

ابورافع به رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته ضرَر رسول ، او د نبي عليه السلام خلاف د

---

(١) التوبة آية ١٢ .

(٢) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَهْطًا إِلَى أَبِي رَافِعٍ، فَدَخَلَ عَلَيْهِ عَبْدُ اللهِ بْنُ عَتِيكٍ ﷺ بَيْتَهُ لَيْلًا وَهُوَ نَائِمٌ فَقَتَلَهُ . صحيح البخاري كِتَابُ المَغَازِي بَابُ قَتْلِ أَبِي رَافِعٍ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي الحُقَيْقِ رقم الحديث ٤٠٣٨ . و رقم الحديث ٣٠٢٣ كِتَابُ الجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَتْلِ المُشْرِكِ النَّائِمِ .

Scanned with CamScanner

دوی دُشمنانو سره به یې مدد کولو .

په حجاز کې د ابورافع یهودي قلعه وه ، کله چې دا صحابه کرام رضي الله عنهم هغه قلعې ته وراُورسیدل نو په دې وخت کې نمر ډُوب شوې وُ ، او خلقو خپل څاروي کورونو ته واپس راوستي وو .

حضرت عبدالله بن عَتِیک رضي الله عنه خپلو ملګرو ته وویل :

اِجْلِسُوا مَكَانَكُمْ ، فَإِنِّي مُنْطَلِقٌ ، وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ ، لَعَلِّي أَنْ أَدْخُلَ .

تاسو په دې خپلو ځایونو باندې کینئ زه قلعې ته ورځم ، د قلعې پهره دار ( دَربانچي ) ته څه تدبیر جوړوم ، اُمید دی چې قلعې ته دَننه ننوتلو کې کامیاب شم .

نو عبدالله بن عَتِیک رضي الله عنه قلعې طرف ته ورغی ، هلته د دَروازې سره نزدې یې د ځان نه په داسې طریقې سره کپړې راتاوُ کړی ګویا چې دا قضاءِ حاجت ( اَودس ماتې ) کوي .

په دې وخت کې ټول خلق قلعې ته داخل شو ، پهره دار ( په ده باندې هم دا ګمان اوکړو چې ګني دا ددې قلعې سړی دی نو ) ده ته یې آواز اوکړو :

يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ ، فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ .

اې د الله بنده ! که چیرته ته قلعې ته د داخلیدو اِراده لرې نو راداخل شه ځکه زه د قلعې دروازه بندوم .

عبدالله بن عَتِیک رضي الله عنه فرمایي چې زه هم قلعې ته داخل شوم او په پټه مې ددې پهره دار نقل و حرکت کتلو چې دا د دروازې چابیانې چیرته ږدي ؟

پس کله چې ټول خلق قلعې ته راداخل شو نو ده دَروازه بنده کړه ، او چابیانې یې په یو میخ کې راززوړندې کړی . ( او هغه لاړ ) .

عبدالله بن عَتِیک رضي الله عنه فرمایي چې زه راپاڅیدم ، چابیانې مې راواخیستې ، او دَروازه مې وربانډې کلاوُ کړه .

ابورافع سره په دې وخت کې خلق ناست وو او د شپې قیصې یې ورته بیانولې ، او هغه په یو خاص بَالاخانه کې وُ .

کله چې دده نه دغه قِصه ګو خلق لاړل ( او د هغه کمرې ته چې څومره دروازې وې پهره

دار هغه د بهر نه ورپسې قلف کړی ، ددې د پاره چې بل څوک هغه ته ورأو نه رسي ) نو زه پاس قلعې ته وراُوختم ( چونکه چابیانې ټولې د ما سره وی ) ما به هره دروازه په چابي باندې کلاؤوله ، او بیا به مې هغه دروازه د ځان پسې د دَننه طرف نه قلف کوله ، دا ددې د پاره چې که ددې قلعې واله خلق د مانه خبر هم شي نو ماته به تر هغې وخته پورې نشي رارسیدی تر څو پورې چې ما دا قتل کړې نه وي .

پس زه هغه ته وراُورسیدم ، نو هغه په یوه تُوره تیاره کمره کې د خپل کور واله خلقو په مینځ کې اُوده ؤ ، ماته دا پته نه وه چې هغه چیرته دی ؟ نو ما ورته دا آواز اوکړو :

يَاأَبَارَافِعٍ ! اې ابورافع !

هغه وویل : مَنْ هَذَا ؟ دا څوک دی ؟

نو زه د هغه آواز په طرف ورغلم او په هغه مې د تورې یو ګوزار اوکړو .

په دې وخت کې زه په یَره کې شوم ، دغه وجه ده چې ما د هغه کار خلاص نه کړې شو .

په دې وخت کې ابورافع چغې کړی ، نو زه د هغه کمرې نه بهر راأووتم ، او د لږ وخت د پاره د کمرې نه بهر ولاړ ووم . بیا دوباره کمرې ته ورننوتم او ( د هغه د معلومولو د پاره ) هغه ته مې آواز اوکړو :

مَاهَذَا الصَّوْتُ يَاأَبَارَافِعٍ ؟ اې ابورافع ! دا آواز د څه شي ؤ ؟

نو هغه وویل :

لِأُمِّكَ الوَيْلُ، إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِيْ قَبْلُ بِالسَّيْفِ

ستا مور هلاکه شه په دې کمره کې څوک سړې دی لږساعت مخکې یې زه په تُوره باندې اُووهلم .

عبدالله بن عَتِیک رضي الله عنه فرمایي چې ما (د هغه ځای معلوم کړو نوما ) دوباره په هغه باندې د تورې تېز ګوزار اوکړو ، ډیر مې زخمي کړو خو تر اوسه مې قتل کړې نه ؤ ، نو د تورې تېره سَر مې د هغه په خیټه کې ننَویست تر دې چې توره د هغه د ملا هډوکي ته اُورسیده ، پس زه پوهه شوم چې ما هغه قتل کړو .

پس ما هغه دروازې یوه یوه کلاؤوله او بهر راروان ووم ، په آخر کې یوې آندرپاڼې ته

رااُورسیدم ، ما گمان اوکړو چې کني زه زمکې ته رااُورسیدم ( حالانکه تر اوسه زه پورته ووم ) نو ما چې په دې باندې خپه کیښوده نو ښکته رااُوغورځیدم ، دا د سپوږمۍ شپه وه ( یعنی سپوږمۍ راختلې وه ) نو زما پنډۍ ماته شوه ، پس ما دا په خپل پټکي باندې اُوتړله ، او راروان ووم تر دې چې د قلعې دروازې سره کیناستم ، ما د ځان سره اُوویل چې زه به نن شپه تر هغې وخته پورې ددې ځای نه نه اُوزم تردې چې دا ماته په یقین سره معلومه شي چې آیا ما ابورافع قتل کړې دی او که نه ؟

کله چې سهر چرگ آذان اوکړو نو په دې وخت کې یو کس د قلعې په دیوال باندې اُودرید او دا اعلان یې اوکړو :

أَنْعَى أَبَارَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ .

د حجاز تاجر " ابورافع " مړ شوې دی .

عبدالله بن عَتِیک ﷺ فرمایي : پس زه خپلو ملگرو ته راغلم او هغوی ته مې وویل : اوس جلدي اوکړئ الله تعالی ابورافع لره قتل کړو .

پس مونږ نبي علیه السلام ته رااُورسیدو او هغه ته مو دا واقعه بیان کړه :

هغوی راته اوفرمایل : أُبْسُطْ رِجْلَكَ . خپله خپه اُوغزوه .

پس ما خپله خپه اُوغزوله .

فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ .

نبي علیه السلام خپل لاس مبارک په دې باندې راښکل نو ددې په برکت باندې دا داسې روغه شوه گویا چې زه ددې په درد باندې د سره پوهه شوې نه یم او په دې کې د سره زخم راغلی ندی .(١)

---

(١) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ ﷺ . قَالَ: بَعَثَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى أَبِي رَافِعٍ الْيَهُوْدِيِّ رِجَالًا مِنَ الْأَنْصَارِ. فَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَتِيْكٍ ﷺ . وَكَانَ أَبُوْرَافِعٍ يُؤْذِيْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيُعِيْنُ عَلَيْهِ، وَكَانَ فِيْ حِصْنٍ لَهُ بِأَرْضِ الْحِجَازِ. فَلَمَّا دَنَوْا مِنْهُ، وَقَدْ غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَرَاحَ النَّاسُ بِسَرْحِهِمْ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ لِأَصْحَابِهِ: اِجْلِسُوْا مَكَانَكُمْ. فَإِنِّيْ مُنْطَلِقٌ . وَمُتَلَطِّفٌ لِلْبَوَّابِ. لَعَلِّيْ أَنْ أَدْخُلَ . ←←←←←←

Scanned with CamScanner

# ابن خطل د خانه كعبې پَرده نيولې وه خو نبي عليه السلام بيا هم د هغه د قتلولو حكم وركړو

په بخاري شريف او مسلم شريف كې دا واقعه ذكر ده چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم د فتحې مكې په وخت مكې معظمې ته راداخل شو نو په سَر مبارك باندې يې جنگي توپى وه ، كله يې چې دا لرې كړه نو په دې وخت كې ورته يو كس راغى ، او دا اِطلاع يې ورته وركړه :

إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ .

بيشكه ابن خطل د خانه كعبې پَردې پورې زوړند دي .

---

←←←← فَأَقْبَلَ حَتَّى دَنَا مِنَ الْبَابِ. ثُمَّ تَقَنَّعَ بِثَوْبِهِ كَأَنَّهُ يَقْضِي حَاجَةً ، وَقَدْ دَخَلَ النَّاسُ. فَهَتَفَ بِهِ الْبَوَّابُ : يَا عَبْدَ اللهِ ! إِنْ كُنْتَ تُرِيدُ أَنْ تَدْخُلَ فَادْخُلْ. فَإِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُغْلِقَ الْبَابَ . فَدَخَلْتُ فَكَمَنْتُ. فَلَمَّا دَخَلَ النَّاسُ أَغْلَقَ الْبَابَ. ثُمَّ عَلَّقَ الْأَغَالِيقَ عَلَى وَتَدٍ، قَالَ: فَقُمْتُ إِلَى الْأَقَالِيدِ فَأَخَذْتُهَا. فَفَتَحْتُ الْبَابَ. وَكَانَ أَبُو رَافِعٍ يُسْمَرُ عِنْدَهُ. وَكَانَ فِي عَلَالِيَّ لَهُ. فَلَمَّا ذَهَبَ عَنْهُ أَهْلُ سَمَرِهِ صَعِدْتُ إِلَيْهِ. فَجَعَلْتُ كُلَّمَا فَتَحْتُ بَابًا أَغْلَقْتُ عَلَيَّ مِنْ دَاخِلٍ. قُلْتُ: إِنِ الْقَوْمُ نَذِرُوا بِي لَمْ يَخْلُصُوا إِلَيَّ حَتَّى أَقْتُلَهُ. فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ. فَإِذَا هُوَ فِي بَيْتٍ مُظْلِمٍ وَسْطَ عِيَالِهِ. لَا أَدْرِي أَيْنَ هُوَ مِنَ الْبَيْتِ. فَقُلْتُ: يَا أَبَا رَافِعٍ. قَالَ: مَنْ هَذَا ؟ فَأَهْوَيْتُ نَحْوَ الصَّوْتِ فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ وَأَنَا دَهِشٌ. فَمَا أَغْنَيْتُ شَيْئًا. وَصَاحَ. فَخَرَجْتُ مِنَ الْبَيْتِ. فَأَمْكُثُ غَيْرَ بَعِيدٍ. ثُمَّ دَخَلْتُ إِلَيْهِ. فَقُلْتُ: مَا هَذَا الصَّوْتُ يَا أَبَا رَافِعٍ ؟ فَقَالَ: لِأُمِّكَ الْوَيْلُ. إِنَّ رَجُلًا فِي الْبَيْتِ ضَرَبَنِي قَبْلُ بِالسَّيْفِ. قَالَ- فَأَضْرِبُهُ ضَرْبَةً أَثْخَنَتْهُ وَلَمْ أَقْتُلْهُ. ثُمَّ وَضَعْتُ ظِبَةَ السَّيْفِ فِي بَطْنِهِ حَتَّى أَخَذَ فِي ظَهْرِهِ. فَعَرَفْتُ أَنِّي قَتَلْتُهُ. فَجَعَلْتُ أَفْتَحُ الْأَبْوَابَ بَابًا بَابًا. حَتَّى انْتَهَيْتُ إِلَى دَرَجَةٍ لَهُ. فَوَضَعْتُ رِجْلِي، وَأَنَا أُرَى أَنِّي قَدِ انْتَهَيْتُ إِلَى الْأَرْضِ. فَوَقَعْتُ فِي لَيْلَةٍ مُقْمِرَةٍ . فَانْكَسَرَتْ سَاقِي فَعَصَبْتُهَا بِعِمَامَةٍ . ثُمَّ انْطَلَقْتُ حَتَّى جَلَسْتُ عَلَى الْبَابِ. فَقُلْتُ: لَا أَخْرُجُ اللَّيْلَةَ حَتَّى أَعْلَمَ: أَقَتَلْتُهُ ؟ فَلَمَّا صَاحَ الدِّيكُ قَامَ النَّاعِي عَلَى السُّورِ. فَقَالَ: أَنْعَى أَبَا رَافِعٍ تَاجِرَ أَهْلِ الْحِجَازِ . فَانْطَلَقْتُ إِلَى أَصْحَابِي. فَقُلْتُ: النَّجَاءَ. فَقَدْ قَتَلَ اللهُ أَبَا رَافِعٍ. فَانْتَهَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ. فَقَالَ: «ابْسُطْ رِجْلَكَ» فَبَسَطْتُ رِجْلِي . فَمَسَحَهَا فَكَأَنَّهَا لَمْ أَشْتَكِهَا قَطُّ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ قَتْلِ أَبِي رَافِعٍ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي الْحُقَيْقِ رقم الحديث ٤٠٣٩ . ورقم الحديث ٣٠٢٢ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَتْلِ الْمُشْرِكِ النَّائِمِ .

( يعنی د ځان خلاصولو د پاره يې د خانه كعبې پَرده نيولې ده )

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : اُقْتُلُوْهُ . تاسو هغه قتل كړئ .

( نو صحابه كرامو هغه لره قتل كړو ) . (١)

علماؤ ليكلي چې نبي عليه السلام ابن خطل لره د يو څو وجوهاتو په وجه قتل كړو :
يو دا چې دا د اسلام نه مرتد شوې وُ او يو مسلمان يې شهيد كړې وُ ، دويم دا چې ده به د نبي عليه السلام هَجوه بيانوله او دوى پسې به يې كنځلې كولې . همدارنګې دده دوه وينځې وى هغوى به په خپلو سندرو كې د نبي عليه السلام او نورو مسلمانانو هجوه بيانوله، پيغمبر عليه السلام د مخكې نه دده د وژلو حكم وركړې وُ ، نو په دې وخت كې اګر چې ده د خانه كعبې پَردې نيولې وى خو جُرم يې دير غټ وُ نو ځكه نبي عليه السلام دده د قتلولو حكم اوكړو .

اګر چې څوک حرَم ته داخل شي هغه ته آمن وي خو د فتحې مكې په وخت نبي عليه السلام ته د لږ وخت د پاره اجازت شوې وُ نو په دې وخت كې يې د ابن خطل د وژلو حكم اوكړو . (٢)

---

(١) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، دَخَلَ عَامَ الْفَتْحِ، وَعَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ، فَلَمَّا نَزَعَهُ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: إِنَّ ابْنَ خَطَلٍ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ . فَقَالَ : « اُقْتُلُوْهُ » . صحيح البخاري كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ قَتْلِ الأَسِيرِ، وَقَتْلِ الصَّبْرِ رقم الحديث ٣٠٤٣ . و رقم الحديث ١٨٤٦ كتاب جزاء الصيد بَابُ دُخُولِ الحَرَمِ، وَمَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ . و رقم الحديث ٤٢٨٦ . صحيح مسلم كِتَابُ الْحَجِّ بَابُ جَوَازِ دُخُولِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ رقم الحديث ٤٥٠ (١٣٥٧)

وفي رواية : عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيْدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْرَجَ عَبْدَ اللهِ بْنَ خَطَلٍ مِنْ بَيْنِ أَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَقَتَلَهُ صَبْرًا ثُمَّ قَالَ: « لَا يُقْتَلُ أَحَدٌ مِنْ قُرَيْشٍ بَعْدَ هَذَا صَبْرًا » . المستدرک على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٦٦٨٩ .

(٢) ( فَقَالَ : اُقْتُلُوْهُ ) قَالَ الْعُلَمَاءُ إِنَّمَا قَتَلَهُ لِأَنَّهُ كَانَ قَدِ ارْتَدَّ عَنِ الإِسْلَامِ وَقَتَلَ مُسْلِمًا كَانَ يَخْدُمُهُ . وَكَانَ يَهْجُو النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَيَسُبُّهُ . وَ كَانَتْ لَهُ قَيْنَتَانِ تُغَنِّيَانِ بِهِجَاءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمِيْنَ . فَإِنْ قِيْلَ : فَفِي الْحَدِيْثِ الآخَرِ : مَنْ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَهُوَ آمِنٌ . فَكَيْفَ قَتَلَهُ وَهُوَ مُتَعَلِّقٌ بِالأَسْتَارِ؟ فَالْجَوَابُ أَنَّهُ لَمْ يَدْخُلْ فِي الأَمَانِ بل استثناه هو وبن أَبِي سَرْحٍ وَالْقَيْنَتَيْنِ وَأَمَرَ بِقَتْلِهِ ←←←←←←

( **نوټ** : نبي علیه السلام چې د فتح مکې په وخت مکې معظمې ته راداخلیدو نو اول یې په سَرباندې جنګي توپۍ وه ، بیا یې دا لرې کړه او په سَرباندې توره پګړۍ اُووهله ) . (١)

# نبي علیه السلام د ګستاخِ رسول د وژلو د پاره حضرت خالد بن ولید رضي الله عنه وَراولیږل

١ . په احادیثو کې راځي چې یو سړي به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته کنځلې کولی ( او د دوی په شان کې به یې ګستاخي کوله ) نو نبي علیه السلام صحابه کرامو ته اوفرمایل : مَنْ يَكْفِينِيْ عَدُوِّيْ ؟

---

←←← وَإِنْ وُجِدَ مُتَعَلِّقًا بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ كَمَا جَاءَ مُصَرَّحًا بِهِ فِيْ أَحَادِيثَ أُخَرَ . وَقِيْلَ لِأَنَّهُ مِمَّنْ لَمْ يَفِ بِالشَّرْطِ بَلْ قَاتَلَ بَعْدَ ذَلِكَ . وَفِيْ هَذَا الْحَدِيْثِ حُجَّةٌ لِمَالِكٍ رَحِمَهُ اللهُ وَالشَّافِعِيِّ رَحِمَهُ اللهُ وَمُوَافِقِيْهِمَا فِيْ جَوَازِ إِقَامَةِ الْحُدُوْدِ وَالْقِصَاصِ فِيْ حَرَمِ مَكَّةَ . وَقَالَ أَبُوْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللهُ لَا يَجُوْزُ . وَتَأَوَّلُوْا هَذَا الْحَدِيْثَ عَلَى أَنَّهُ قَتَلَهُ فِي السَّاعَةِ الَّتِيْ أُبِيْحَتْ لَهُ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج ٩ ص ١٣١ بَابُ جَوَازِ دُخُوْلِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ .

قَالَ الطِّيْبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ: وَكَانَ قَدِ ارْتَدَّ عَنِ الْإِسْلَامِ ، وَقَتَلَ مُسْلِمًا كَانَ يَخْدِمُهُ وَاتَّخَذَ جَارِيَتَيْنِ تُغَنِّيَانِ بِهَجْوِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَصْحَابِهِ الْكِرَامِ وَأَحْكَامِ الْإِسْلَامِ . فَأَمَرَ بِقَتْلِهِ يَعْنِيْ قِصَاصًا . وَيُعْلَمُ مِنْهُ أَنَّ الْحَرَمَ لَا يَمْنَعُ مِنْ إِقَامَةِ الْحُدُوْدِ عَلَى مَنْ جَنَى خَارِجَهُ وَالْتَجَأَ إِلَيْهِ . أَقُوْلُ : اَلظَّاهِرُ أَنَّهُ إِنَّمَا قَتَلَهُ لِارْتِدَادِهِ انْفِرَادًا . أَوْ مَعَ انْضِمَامِ قَتْلِ النَّفْسِ ، وَلَوْ سُلِّمَ أَنَّهُ قَتَلَهُ قِصَاصًا يُحْمَلُ عَلَى أَنَّهُ أَجَازَ ذَلِكَ لَهُ فِيْ تِلْكَ السَّاعَةِ ، وَمِمَّا يَدُلُّ عَلَى أَنَّ قَتْلَهُ لَمْ يَكُنْ لِلْقِصَاصِ عَدَمُ وُجُوْدِ شُرُوْطِهِ مِنَ الْمُطَالَبَةِ الدَّعْوَى وَالشَّهَادَةِ . مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح ج ٥ ص ١٨٦٦ في تشريح حديث ٢٧١٨ كِتَابُ الْمَنَاسِكِ بَابُ حَرَمِ مَكَّةَ .

(١) قَوْلُهُ ( أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ مَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ وَعَلَى رَأْسِهِ مِغْفَرٌ ) . وَفِيْ رِوَايَةٍ : وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ . وَفِيْ رِوَايَةٍ : خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ . قَالَ الْقَاضِيْ : وَجْهُ الْجَمْعِ بَيْنَهُمَا أَنَّ أَوَّلَ دُخُوْلِهِ كَانَ عَلَى رَأْسِهِ الْمِغْفَرُ ثُمَّ بَعْدَ ذَلِكَ كَانَ عَلَى رَأْسِهِ الْعِمَامَةُ بَعْدَ إِزَالَةِ الْمِغْفَرِ بِدَلِيْلِ قَوْلِهِ خَطَبَ النَّاسَ وَعَلَيْهِ عِمَامَةٌ سَوْدَاءُ لِأَنَّ الْخُطْبَةَ إِنَّمَا كَانَتْ عِنْدَ بَابِ الْكَعْبَةِ بَعْدَ تَمَامِ فَتْحِ مَكَّةَ . شرح النووي على مسلم ( المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج ) ج ٩ ص ١٣١ باب جَوَازِ دُخُوْلِ مَكَّةَ بِغَيْرِ إِحْرَامٍ .

Scanned with CamScanner

څوک به زما ددې دښمن نه زما د پاره کافي شي؟ (يعنې څوک به هغه قتل کړي؟)

حضرت خالد بن وليد ﷺ اوفرمايل: چې زه به دده د پاره کافي شم.

فَبَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَتَلَهُ.

نو رسولُ الله صلى الله عليه وسلم حضرت خالد بن وليد ﷺ لره د هغه پسې وراُوليږل او هغه يې قتل کړو. (١)

## نبي عليه السلام د گستاخِ رسول د وژلو د پاره حضرت زبير ﷺ وَراُوليږل

په احاديثو کې راځي چې يو سړي رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته کنځلې کولې، نو نبي عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل:

مَنْ يَكْفِينِيْ عَدُوِّيْ؟

څوک به زما ددې دُشمن نه زما د پاره کافي شي؟ (چې هغه قتل کړي)

حضرت زبير ﷺ اوفرمايل چې زه به يې قتل کړم.

نو حضرت زبير ﷺ د هغه سره مقابله اوکړه او هغه يې قتل کړو. (٢)

---

(١) وَفِي حَدِيْثٍ آخَرَ: أَنَّ رَجُلًا كَانَ يَسُبُّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَنْ يَكْفِيْنِيْ عَدُوِّيْ؟ فَقَالَ خَالِدٌ ﷺ: أَنَا. فَبَعَثَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَتَلَهُ. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٢٨٨ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاةُ والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِن تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةِ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصلاة والسلام. فتاوى السبكي ج ٢ ص ٥٧٣ ط. دار المعرفة بيروت لبنان

(٢) وَذَكَرَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبَّهُ رَجُلٌ. فَقَالَ: مَنْ يَكْفِيْنِيْ عَدُوِّيْ؟ فَقَالَ الزُّبَيْرُ ﷺ: أَنَا. فَبَارَزَهُ فَقَتَلَهُ الزُّبَيْرُ ﷺ. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٢٨٩ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاةُ والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِن تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةِ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصلاة والسلام.

Scanned with CamScanner

# په نبي عليه السلام باندې دروغ جوړونکي د وژلو د پاره

## حضرت علي ﷺ او حضرت زبير ﷺ ليږل

په احاديثو کې راځي چې يو سړي به په نبي عليه السلام باندې دروغ جوړول (يعنى داسې دروغ خبرې به يې نبي عليه السلام طرف ته منسوب کولې چې په دې کې به د پيغمبر عليه السلام سپکاوې راتلو).

فَبَعَثَ عَلِيًّا ﷺ وَالزُّبَيْرَ ﷺ إِلَيْهِ لِيَقْتُلَاهُ.

نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغه پسې حضرت زبير ﷺ او حضرت علي ﷺ وراوليږل، د دې د پاره چې هغه قتل کړي.(١)

## د نورو گستاخانو وژل

همدارنگې نورو کومو کافرانو به چې نبي عليه السلام ته ضرر رسول، يا به يې ورته کنځلې کولې، يا به يې د دوی په شان کې گستاخي کوله لکه نضر بن حارث، عقبه بن ابي معيط يا ددينه علاوه نور کافران نو رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوی د وژلو حکم کړې وُ. بيا چا چې په دوی کې اسلام قبول کړې وُ هغه يې معاف کړل او نور يې ټول قتل کړل.

عقبه بن ابي معيط کافر چې کله وژلې شو نو هغه پوښتنه اوکړه چې: زه ولې وژلې شم؟ نو نبي عليه السلام هغه ته اوفرمايل:

بِكُفْرِكَ وَافْتِرَائِكَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ته د خپل کُفر او په رسول الله ﷺ (يعنى ما باندې) دروغ جوړولو سره وژلې

---

(١) ذَكَرَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: أَنَّ رَجُلًا كَذَبَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ عَلِيًّا ﷺ وَالزُّبَيْرَ ﷺ إِلَيْهِ لِيَقْتُلَاهُ. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٤٨٩ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاةُ والسَّلام الْبَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصلاة والسلام.

(كَذَبَ) هنا معناها افترى كلاما كاذبا فيه تنقيص.

Scanned with CamScanner

شي. (١)

## د نبي عليه السلام گستاخي کوونکې زنانه قتلول

١ . په احاديثو کې راځي چې يوې ښځې نبي عليه السلام ته کنځلې کولې ، پيغمبر عليه السلام صحابه کرامو ته اوفرمايل :

مَنْ يَكْفِينِيْ عَدُوِّيْ؟

څوک به زما ددې دُشمن نه زما د پاره کافي شي ؟ (چې دا قتل کړي) .

نو حضرت خالد بن وليد رضي الله عنه د هغې د وژلو پسې ورغی او هغه يې قتل کړه . (٢)

٢ . په احاديثو کې راځي چې يوه يهودنړه ښځه وه ، هغې به نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته کنځلې کولې ، او د دوی په شان کې به يې گستاخي کوله ، نو يو کس ددې مرۍ خپه کړه (يعنی په مرۍ يې ورله زور اوکړو) تر دې چې هغه يې قتل کړه .

فَأَبْطَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا .

نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ددې يهودنړې وينه باطل (ضائع) اوگرځوله ( چې

---

(١) وَكَذٰلِكَ أَمَرَ بِقَتْلِ جَمَاعَةٍ مِمَّنْ كَانَ يُؤْذِيْهِ مِنَ الْكُفَّارِ وَيَسُبُّهُ، كَالنَّضْرِ بْنِ الْحَارِثِ، وَعُقْبَةَ بْنِ أَبِيْ مُعَيْطٍ وَعَهِدَ بِقَتْلِ جَمَاعَةٍ مِنْهُمْ قَبْلَ الْفَتْحِ وَبَعْدَهُ فَقُتِلُوْا إِلَّا مَنْ بَادَرَ بِإِسْلَامِهِ قَبْلَ الْقُدْرَةِ عليه. وَقَدْ رَوَى الْبَزَّارُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ عُقْبَةَ بْنَ أَبِيْ مُعَيْطٍ نَادَى : يَا مَعَاشِرَ قريش ! مالي أُقتل من بينكم صبرا ! فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : بِكُفْرِكَ وَافْتِرَائِكَ عَلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٣٨٨ ، و ص ٣٨٩ القسم الرابع في تعرف وُجوهِ الأَحْكَامِ فِيمَن تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصَّلاة والسلام .

(٢) ذَكَرَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ : أَنَّ امْرَأَةً كَانَتْ تَسُبُّهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: مَنْ يَكْفِيْنِيْ عَدُوِّيْ؟ فَخَرَجَ إِلَيْهَا خَالِدُ بْنُ الْوَلِيْدِ فَقَتَلَهَا . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٣٨٩ القسم الرابع في تعرف وُجوهِ الأَحْكَامِ فِيمَن تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصَّلاة والسلام .

Scanned with CamScanner

ددې قصاص به نشي اخيستلى ) . (١)

٣ . حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د خَطمه قبيلې يوې زَنانه د نبي عليه السلام هَجوه بيانوله (يعنى د دوى ګستاخي يې کوله) .
پيغمبر عليه السلام صحابه کرامو ته او فرمايل :

مَنْ لِيْ بِهَا؟ څوک به زما د پاره ددينه کافي شي ( يعنى څوک به دا اُووژني ؟ )
نو د هغې د قوم يو کس راپاڅيد او وې فرمايل :

أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ . اې د الله رسوله زه به د هغې د پاره کافي شم .
پس دا ورپاڅيد ، هغې ته ورغى ، او هغه يې قتل کړه . او بيا يې نبي عليه السلام ته ددې د وژلو خبر ورکړو ... (٢)

( **نوټ** : ددې ګستاخې زَنانه نوم عصماء بنت مروان وُ ، او کوم صحابي چې دا قتل کړې وه د هغه نوم عُمَيْر بن عَدِيْ رضي الله عنه وُ ) . (٣)

---

(١) عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ يَهُوْدِيَّةً كَانَتْ تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَقَعُ فِيْهِ، فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتَّى مَاتَتْ. فَأَبْطَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَمَهَا . سنن ابي داؤد كِتَابُ الحُدُودِ بَابُ الحُكْمِ فِيمَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٤٣٦٢ . السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٣٣٧٦ ، و رقم الحديث ١٨٧٠٩ . مشكاة المصابيح رقم الحديث ٣٥٥٠ (١٨) .

(٢) وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : هَجَتِ امْرَأَةٌ مِنْ خَطْمَةَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : مَنْ لِيْ بِهَا ؟ . فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ قَوْمِهَا : أَنَا يَا رَسُوْلَ اللهِ . فَنَهَضَ . فَقَتَلَهَا . فَأَخْبَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: لَا يَنْتَطِحُ فِيهَا عنزان . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٤٩٠ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أو عابه عليه الصلاة والسلام .

(٣) خطمة: اسم قبيلة، أبناء سعد بن ثعلبة، وخطمة من الانصار بنو عبد الله بن مالك بن أوس وهذه المرأة هي عصماء بنت مروان من بني أمية، والذي قتلها عمير بن عدي ابن فراشة بن أبيه ←←←←

٤ . امام واقدي رحمه الله او نورو علماؤ دا واقعه په تفصیل سره ذکر کړی چي :

یوه زَنانه وه نوم یې عصماء بنت مروان وُ ، دې به نبي علیه السلام ته ضرر رسول ، په اسلام کې به یې عیبونه راویستل ، او په اشعارو کې به یې د پیغمبر علیه السلام خلاف نور خلق راپارول .

یو صحابي " عُمَیْر بْن عَدِيٍّ ﷺ " چې ددینه خبر شو ( کوم چې د نبي علیه السلام سره په بدر کې وُ ) نو هغه په ځان باندې دا نذر اُومنل چې که زه مدینې منوّرې ته واپس شم نو دا ګستاخه زَنانه به ضرور قتلوم .

کله چې دا صحابي مدینې منورې ته راغی نو د شپې ددې زَنانه کور ته ورغی توره یې د هغې په خېټه کې ننویسته او شا طرف ته یې ورنه اُوویسته ، او قتل یې کړه .

حضرت عُمَیر ﷺ د سهر مونځ د نبي علیه السلام پسې اوکړو .

کله چې د مانځه نه فارغ شو نو حضرت عُمَیر ﷺ یې اُولید ، پوښتنه یې ورنه اوکړه :

أَقَتَلْتَ بِنْتَ مَرْوَانَ ؟ آیا تا عصماء بنت مروان قتل کړی ؟

دا صحابي فرمایي چې ما ورته ووېل : آو ، اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې په تاسو قربان شي هغه ما قتل کړی .

حضرت عُمَیر ﷺ سره څه یره محسوسه شوه ، د نبي علیه السلام نه یې پوښتنه اوکړه :

هَلْ عَلَيَّ فِيْ ذٰلِكَ شَيْءٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ ؟

اې د الله رسوله ! آیا ددې په قتلولو سره باندې په ما باندې څه شته ؟

---

←←← الخطمي وكان أعمى. وهو امام قومه وقارئهم دخل عليها وهي ترضع ولدها فنحاه عنها ثم أغمد سيفه في بطنها حتى أخرجه من ظهرها.

( لَا يَنْتَطِحُ فِيهَا عنزان ) مثل ضربة رسول الله صلّى الله عليه وسلم للامر الذي يقع من غير خلف فيه.. والعنزان لا ينتطحان وانما يتشامان ثم يفترقان. حاشيه الشفا .

( لا ينتطح فيها عنزان ) : معناه أن شأن قتلها هين، لا يكون فيه طلب ثأر ولا اختلاف. حاشيه مغازي الواقدي ج١ ص١٧٣ .

Scanned with CamScanner

نبي علیه السلام ورته اوفرمایل : نه ، په تا باندې هیڅ نشته .

حضرت عُمَیر ﷺ فرمایي چې نبي علیه السلام گیر چاپیره ناست صحابه کرامو ته اوفرمایل :

إِذَا أَحْبَبْتُمْ أَنْ تَنْظُرُوْا إِلَى رَجُلٍ نَصَرَ اللهَ وَرَسُوْلَهُ بِالْغَيْبِ، فَانْظُرُوْا إِلَى عُمَيْرِ بْنِ عَدِيٍّ .

که چیرته تاسو دا خوښوي چې داسې یو سړي ته اوگورئ ، چې هغه د نه لیدلو باوجود بیاهم د الله او د هغه د رسول مدد کړی نو تاسو عُمیر بن عدي ته اوگورئ .

(چونکه حضرت عُمیر ﷺ په دواړو سترگو باندې نابینا وُ )

نو حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل : تاسو دې اَعمیٰ ( نابینا ) ته اوگورئ چې د الله تعالی په اطاعت کې لاړو (او گستاخه یې قتل کړه ) .

نبي علیه السلام اوفرمایل :

لَا تَقُلِ الْأَعْمَى، وَلَكِنَّهُ الْبَصِيْرُ .

ده ته اعمی ( نابینا ) مه وایه ، بلکه دا بَصِیر ( بِینا ) دی ( ځکه خو یې داسې غټه کارنامه اوکړه ) .

کله چې حضرت عُمیر ﷺ د نبي علیه السلام د مجلس نه پاڅید او کور ته روان شو نو په لاره کې ددې زَنانه ځامن او نور خاندان د هغه زَنانه په دفن کولو باندې مصروف وو ، کله چې هغوی حضرت عُمیر ﷺ اُولید نو دده نه یې پوښتنه اوکړه :

يَا عُمَيْرُ ! أَنْتَ قَتَلْتَهَا؟

اې عُمیر ! آیا دا زَنانه تا قتل کړی ؟

ده ورته وویل : آو ، دا ما قتل کړی ، تاسو ټول چې څه کولې شی هغه اوکړي ، ستاسو لاس خلاص :

فَوَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ ، لَوْ قُلْتُمْ بِأَجْمَعِكُمْ مَا قَالَتْ لَضَرَبْتُكُمْ بِسَيْفِيْ هَذَا حَتَّى أَمُوْتَ أَوْ أَقْتُلَكُمْ.

زما دې په هغه ذات باندې قسَم وي چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده که چیرته تاسو

ټولو هم هغه خبره کړې وی کومه چې دې زنانه کړې وه (یعنی که تاسو ټولو د نبي علیه السلام په شان کې ګستاخي کړې وی) نو ما به تاسو هم په دې خپله توره باندې وهلي وَیٔ تر دې چې یا به زه شهید شوې ووم او یا به مې تاسو ټول قتل کړي وَی.(١)

---

(١) ذِكْرُ سَرِيَّةِ قَتْلِ عَصْمَاءَ بِنْتِ مَرْوَانَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِيهِ، أَنّ عَصْمَاءَ بِنْتَ مَرْوَانَ مِنْ بَنِي أُمَيّةَ بْنِ زَيْدٍ، كَانَتْ تَحْتَ يَزِيدَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حِصْنٍ الْخَطْمِيّ، وَكَانَتْ تُؤْذِي النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ، وَتَعِيبُ الْإِسْلَامَ. وَتُحَرّضُ عَلَى النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ .... قَالَ عُمَيْرُ بْنُ عَدِيّ بْنِ خَرَشَةَ بْنِ أُمية الخطمي حين بلغه قولها وَتَحْرِيضُهَا: اَللّهُمّ، إنّ لك عَلَيّ نَذْرًا لَئِنْ رَدَدْت رَسُولَ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إلَى الْمَدِينَةِ لَأَقْتُلَنّهَا . وَرَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَوْمَئِذٍ بِبَدْرٍ. فَلَمّا رَجَعَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ من بدر جَاءَهَا عُمَيْرُ بْنُ عَدِيّ فِي جَوْفِ اللّيْلِ حَتّى دَخَلَ عَلَيْهَا فِي بَيْتِهَا، وَحَوْلَهَا نَفَرٌ مِنْ وَلَدِهَا نِيَامٌ، مِنْهُمْ مَنْ تُرْضِعُهُ فِي صَدْرِهَا، فَجَسّهَا بِيَدِهِ، فَوَجَدَ الصّبِيّ تُرْضِعُهُ فَنَحّاهُ عَنْهَا، ثُمّ وَضَعَ سَيْفَهُ عَلَى صَدْرِهَا حَتّى أَنْفَذَهُ مِنْ ظَهْرِهَا، ثُمّ خَرَجَ حَتّى صَلّى الصّبْحَ مَعَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ بِالْمَدِينَةِ. فَلَمّا انْصَرَفَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ نَظَرَ إلَى عُمَيْرٍ فَقَالَ: أَقَتَلْت بِنْتَ مَرْوَانَ؟ قَالَ: نَعَمْ بِأَبِي أَنْتَ يَا رَسُولَ الله. وخشي عمير أن يكون فتات عَلَى النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ بِقَتْلِهَا فَقَالَ: هَلْ عَلَيّ فِي ذَلِكَ شَيْءٌ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: لَا يَنْتَطِحُ فِيهَا عَنْزَانِ. فَإِنّ أَوّلَ مَا سَمِعْت هَذِهِ الْكَلِمَةَ مِنَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ. قَالَ عُمَيْرٌ: فَالْتَفَتَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إلَى مَنْ حَوْلَهُ فَقَالَ: إذَا أَحْبَبْتُمْ أَنْ تَنْظُرُوا إلَى رَجُلٍ نَصَرَ اللهَ وَرَسُولَهُ بِالْغَيْبِ، فَانْظُرُوا إلَى عُمَيْرِ بْنِ عَدِيّ. فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: انْظُرُوا إلَى هَذَا الْأَعْمَى الّذِي تَشَدّدَ (تسرى) فِي طَاعَةِ اللهِ. فَقَالَ: لَا تَقُلْ الْأَعْمَى، وَلَكِنّهُ الْبَصِيرُ! فَلَمّا رَجَعَ عُمَيْرٌ مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَجَدَ بَنِيهَا فِي جَمَاعَةٍ يَدْفِنُونَهَا، فَأَقْبَلُوا إلَيْهِ حِينَ رَأَوْهُ مُقْبِلًا مِنَ الْمَدِينَةِ، فَقَالُوا: يَا عُمَيْرُ، أَنْتَ قَتَلْتهَا؟ فَقَالَ: نَعَمْ. فكيدوني جميعا ثم لا تنظرون، فَوَالّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ قُلْتُمْ بِأَجْمَعِكُمْ مَا قَالَتْ لَضَرَبْتُكُمْ بِسَيْفِي هَذَا حَتّى أَمُوتَ أَوْ أَقْتُلَكُمْ. فيومئذ ظهر الإسلام فِي بَنِي خَطْمَةَ، وَكَانَ مِنْهُمْ رِجَالٌ يَسْتَخْفُونَ بِالْإِسْلَامِ خَوْفًا مِنْ قَوْمِهِمْ .... حَدّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ قَتْلُ عَصْمَاءَ لِخَمْسِ لَيَالٍ بَقِينَ مِنْ رَمَضَانَ، مَرْجِعَ النّبِيّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ مِنْ بَدْرٍ، عَلَى رَأْسِ تِسْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا. مغازي الواقدي ج١ ص ١٧٢ بدر القتال ذكر سَرِيّةِ قَتْلِ عَصْمَاءَ بِنْتِ مَرْوَانَ

الصارم المسلول على شاتم الرسول لابن تيميه ج ١ ص ٩٥ المسألة الأولى: أن من سب النبي صلى الله عليه وسلم من مسلم أو كافر فإنه يجب قتله. وفاء الوفاء بأخبار دار المصطفى ج ١ ص ٢١٣ السنة الثالثة من الهجرة

## د نبي علیه السلام په ګستاخي کولو سره یو سړي خپل پلار اووژل ، نو پیغمبر علیه السلام هغه ته هیڅ او نه ویل

په احادیثو کې راځي چې یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ورته وې فرمایل :

یارَسُوْلَ اللهِ ! سَمِعْتُ أَبِي يَقُوْلُ فِيْكَ قَوْلًا قَبِيْحًا فَقَتَلْتُهُ .

اې د الله رسوله ! ما دخپل پلار نه واوریدل چې هغه ستاسو په باره کې بې کاره خبرې کولې (یعنی ستاسو ګستاخي یې کوله) ، پس ما هغه لره قتل کړو .

په پیغمبر علیه السلام باندې دا خبره ګرانه تمام نه شوه .

(یعنی دې کس ته یې د پلار په قتل کولو باندې څه اُو نه ویل ، دا ځکه چې د ګستاخِ رسول سزا همدا قتلول دي) . (۱)

## د نبي علیه السلام په ګستاخي کولو سره یو کس خپله اُمِ وَلده اووژله

په ابوداؤد شریف او نورو ډیرو د احادیثو په کتابونو کې دا واقعه ذکر ده چې (د نبي علیه السلام په زمانه کې) د یو نابینا کس خپله اُمِّ وَلده وه (۲) دې به رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته کنځلې کولې ، او نورې ډیرې بَدې ردې خبرې به یې ورپسې کولې .

دې کس به دا خپله اُمِّ ولده ددینه منع کوله او رټله به یې خو لیکن دا به نه منع کیدله .

یوه شپه دې وینځې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم پسې خبرې او کنځلې شروع کړې نو دې نابینا کس خَنجر راواخیست ، ددې خپلې اُمِّ ولدې په خېټه باندې یې کیښود ، بیا

---

(۱) وَرَوَى ابْنُ قَانِعٍ : أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللهِ ! سَمِعْتُ أَبِي يَقُوْلُ فِيْكَ قَوْلًا قَبِيْحًا فَقَتَلْتُهُ . فَلَمْ يَشُقَّ ذَلِكَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج۲ ص ۲۸۹ القسم الرابع في تعرف وُجوهِ الأَحكامِ فِيمَن تَنَقَّصَهُ أَو سَبَّهُ عَلَيهِ الصَّلاة والسَّلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِن تَعرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عَابَهُ عليه الصلاة والسلام .

(۲) اُمِّ ولده دیته وایې چې د یو کس خپله وینځه وي ، ددینه ددې مالِک بچې پیدا شوي وي ، او دې مالِک ددې بچو دنسب دعوی کړې وي .

يې په دې خَنجر باندې تکيه اُولږوله ( زُور يې پرې اوکړو چې په دې سره دا خنجر ددې وينځې په خېټه کې ننوت ) او دا يې قتل کړه ....

سهر ددې واقعې تذکره رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته اوشوه ، دوی خلق راجمع کړل، (چې کله ټول خلق راغلل) نو نبي عليه السلام اوفرمايل :

أَنْشُدُ اللهَ رَجُلًا فَعَلَ مَا فَعَلَ لِي عَلَيْهِ حَقٌّ إِلَّا قَامَ .

زه هغه سړي ته قسَم ورکوم چا چې په خپل ځان باندې زما حق گنړلو سره دا کار کړې دی چې هغه دې پاځي .

نو هغه نابينا کس پاڅيد ، نبي عليه السلام طرف ته راروان شو ، د يَرې د وجې يې خپې لړزيدی او د خلقو په څټونو يې خپې اَړولی ، تر دې چې د پيغمبر عليه السلام مخې ته کيناست ، او وې فرمايل :

يَا رَسُولَ اللهِ ! أَنَا صَاحِبُهَا، كَانَتْ تَشْتُمُكَ، وَتَقَعُ فِيكَ. فَأَنْهَاهَا فَلَا تَنْتَهِي ، وَأَزْجُرُهَا. فَلَا تَنْزَجِرُ، وَلِي مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ، وَكَانَتْ بِي رَفِيقَةً. فَلَمَّا كَانَ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتُمُكَ، وَتَقَعُ فِيكَ. فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِي بَطْنِهَا، وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا .

اې د اَلله رسوله ! زه د هغه مقتولې ښځې ملگرې يم ، هغې به تاسو ته کنځلې کولی او بَدې ردې خبرې به يې درپسې کولی ، ما به ددينه منع کوله او رټله خو هغه به نه منع کيده ، زما د هغې نه د ملغلرو په شان دوه ښائسته بچي دي ، هغه زما ( د ژوند ) ډيره ښه ملگرې وه خو تېره شپه چې کله هغې تاسو ته کنځل شروع کړل او د تاسو پسې يې بَدې ردې خبرې شروع کړی نو ما خَنجر راواخيست ، د هغې په خېټه باندې مې کيښود ، بيا مې په خنجر باندې تکيه اُولږوله ( او زُور مې ورکړو ) ، تر دې چې ما هغه قتل کړه .

نبي عليه السلام ټول خلقو ته اوفرمايل : أَلَا اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ .

(اې خلقو ! ) خبردار ، تاسو گواه اُوسئ چې ددې (گستاخې) ښځې وينه ضائع ده (ددې قصاص به نشي اخيستلی) . (١)

(١) عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنَا ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، أَنَّ أَعْمَى كَانَتْ لَهُ أُمُّ وَلَدٍ ←←←←←←←←←

**فائده** : ددې واقعې نه معلومه شوه چې نبي علیه السلام ته په کنځلو کولو سره انسان مرتد کیږي، او په اتفاق د علماؤ سره دا سړې واجبُ القتل دی.(۱)

## دوه کشرانو صحابه کرامو "ګستاخِ رسول" "ابوجهل" لره قتل کړو

ابوجهل د اسلام غټ دشمن ؤ، نبي علیه السلام ته به یې کنځلې او رَدې بَدې خبرې کولې، الله ﷻ دا د کشرانو صحابه کرامو په لاس باندې په غزوه بَدر کې مردار کړو.

د ابوجهل د قتلولو واقعه په بخاري شریف او مسلم شریف کې داسې ذکر ده:

حضرت عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه فرمایي چې په غزوه بدر کې زه (د مسلمانانو) په صف کې (د جنګ د پاره) ولاړ وُوم، (مخامخ راته کافرانو د جنګ صفونه جوړ کړي وو او د هغوی مشري ابوجهل کوله)، ما چې کله خپل خي طرف او چَپ طرف ته اوکتل نو زما

←←←← تَشْتُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقَعُ فِيهِ، فَيَنْهَاهَا، فَلَا تَنْتَهِي، وَيَزْجُرُهَا فَلَا تَنْزَجِرُ، قَالَ: فَلَمَّا كَانَتْ ذَاتَ لَيْلَةٍ، جَعَلَتْ تَقَعُ فِي النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَشْتُمُهُ، فَأَخَذَ الْمِغْوَلَ فَوَضَعَهُ فِي بَطْنِهَا، وَاتَّكَأَ عَلَيْهَا فَقَتَلَهَا، فَوَقَعَ بَيْنَ رِجْلَيْهَا طِفْلٌ، فَلَطَخَتْ مَا هُنَاكَ بِالدَّمِ، فَلَمَّا أَصْبَحَ ذُكِرَ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجَمَعَ النَّاسَ فَقَالَ: «أَنْشُدُ اللهَ رَجُلًا فَعَلَ مَا فَعَلَ لِي عَلَيْهِ حَقٌّ إِلَّا قَامَ»، فَقَامَ الْأَعْمَى يَتَخَطَّى النَّاسَ وَهُوَ يَتَزَلْزَلُ حَتَّى قَعَدَ بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَنَا صَاحِبُهَا، كَانَتْ تَشْتُمُكَ، وَتَقَعُ فِيكَ، فَأَنْهَاهَا فَلَا تَنْتَهِي، وَأَزْجُرُهَا، فَلَا تَنْزَجِرُ، وَلِي مِنْهَا ابْنَانِ مِثْلُ اللُّؤْلُؤَتَيْنِ، وَكَانَتْ بِي رَفِيقَةً، فَلَمَّا كَانَ الْبَارِحَةَ جَعَلَتْ تَشْتُمُكَ، وَتَقَعُ فِيكَ، فَأَخَذْتُ الْمِغْوَلَ فَوَضَعْتُهُ فِي بَطْنِهَا، وَاتَّكَأْتُ عَلَيْهَا حَتَّى قَتَلْتُهَا. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَا اشْهَدُوا أَنَّ دَمَهَا هَدَرٌ». سنن ابي داود كِتَاب الْحُدُودِ بَابُ الْحُكْمِ فِيمَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٤٣٦١ قال الالباني: صحيح. السنن الكبرى للنسائي رقم الحديث ٣٥١٩. المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم الحديث ٨٠٤٤ وقال الحاكم: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ عَلَى شَرْطِ مُسْلِمٍ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ، ووافقه الذهبي. سنن الدارقطني رقم الحديث ٣١٩٤. و رقم الحديث ٤٥٠٣. السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٣٣٧٥. المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ١١٩٨٤. الشفا ج٢ ص ٢٩١.

(۱) وفيه بيان ان ساب النبي صلى الله عليه وسلم مقتول وذلك أن السب منها لرسول الله صلى الله عليه وسلم ارتداد عن الدين ولا أعلم أحداً من المسلمين اختلف في وجوب قتله. معالم السنن شرح سنن ابي داود للخطابي ج٣ ص ٢٩٦ كتاب الحدود ومن باب من سب النبي صلى الله عليه وسلم.

دواړه طرفته د انصارو دوه کشران هلکان وو ، ما آرزو اوکړه چې " کاش زه د دوه قوي کسانو په مينځ کې وی " ، په دې دَوران کې په دوی کې يو کس زه اُوتومبلم (يعنی اشاره يې راته اوکړه ) او پوښتنه يې رانه اوکړه :

يَا عَمِّ ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ؟

اې تره ! آيا ته ابو جهل پيژنې ؟

ما ورته وويل : آو . ليکن اې وراره ! ستا د هغه سره څه کار دی ؟ هغه راته وويل : ماته دا معلومه شوی چې هغه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته کنځل کوي ، په هغه ذات مې دې قسَم وي چې د هغه په قبضه کې زما ساه ده که چيرته زه هغه اُوګورم نو تر هغې پورې به ورنه جدا نشم چې په مونږ کې د چا نيټه مخکې پوره وي هغه مړ شوې نه وي .

عبدالرحمن بن عوف ﷺ فرمايي چې زه ديته ډير په تعجب کې شوم (چې په دومره کشر هلک کې دومره زياته بهادري او حوصله ده ) .

بيا زه دې بل کس اُوتومبلم (يعنی اشاره يې راته اوکړه ) او همدغه شان پوښتنه يې رانه اوکړه (څنګه چې رانه هغه بل هلک کړې وه ) .

يو څو مِنټه نه وو تير شوي چې ما ابوجهل اُوليد چې د کافرانو په لښکر کې ګرځيدو (خپل ملګري يې د جنګ د پاره تيارول ) ، نو ما دې دواړو هلکانو ته وويل :

أَلَا إِنَّ هٰذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِيْ سَأَلْتُمَانِيْ .

دا ستاسو هغه کس دی د کوم په باره کې چې تاسو دواړو د مانه پوښتنه کړې وه .

دواړو توري راأوويستی ، وَرمنده يې کړل او هغه يې په توره باندې اُووهل ، تر دې چې قتل يې کړو .

بيا دواړه رسولُ الله صلی الله عليه وسلم ته راغلل او د ابوجهل د قتلولو خبر يې ورکړو .

نبي عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

أَيُّكُمَا قَتَلَهُ ؟ په تاسو دواړو کې ابوجهل له چا قتل کړو ؟

په دواړو کې هر يو ويل چې ما قتل کړې دی .

پيغمبر عليه السلام ورنه پوښتنه اوکړه :

Scanned with CamScanner

هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا؟

یـ تاسو خپلې تورې د وینې نه صفا کړې دي ؟

دوی ووېل : نه. نبي علیه السلام د دواړو تورو ته اُوکتل بیا یې اوفرمایل :
تاسو دواړو ابوجهل لره قتل کړې دی . او د ابوجهل جنګي سامان ( کوم چې په مالِ غنیمت کې حاصل شوی دا ) به مُعَاذ بن عَمرو بن جَموح ته ملاویږي .
دا دواړه هلکان مُعَاذ بن عفراء او مُعَاذ بن عَمرو بن جَموح وو . (۱)

( **نوټ** : ابوجهل لره اصلاً مُعَاذ بن عَمرو بن جَموح قتل کړې وُ نو شرعي لحاظ سره ابوجهل د ساز و سامان حق د همده جوړیدو ځکه خو نبي علیه السلام ده ته ورکړو ، خو چونکه مُعَاذ بن عفراء هم ورسره شریک وُ نو ځکه پیغمبر علیه السلام دده د زړه خوشحالولو د پاره اوفرمایل چې تاسو دواړو هغه قتل کړې دی ) . (۲)

---

(۱) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ ﷺ قَالَ: بَيْنَا أَنَا وَاقِفٌ فِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ. فَنَظَرْتُ عَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي، فَإِذَا أَنَا بِغُلَامَيْنِ مِنَ الْأَنْصَارِ حَدِيثَةٍ أَسْنَانُهُمَا. تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ بَيْنَ أَضْلَعَ مِنْهُمَا. فَغَمَزَنِي أَحَدُهُمَا فَقَالَ: يَا عَمِّ! هَلْ تَعْرِفُ أَبَا جَهْلٍ؟ قُلْتُ: نَعَمْ. مَا حَاجَتُكَ إِلَيْهِ يَا ابْنَ أَخِي؟ قَالَ: أُخْبِرْتُ أَنَّهُ يَسُبُّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَئِنْ رَأَيْتُهُ لَا يُفَارِقُ سَوَادِي سَوَادَهُ حَتَّى يَمُوتَ الْأَعْجَلُ مِنَّا. فَتَعَجَّبْتُ لِذَلِكَ. فَغَمَزَنِي الْآخَرُ. فَقَالَ لِي مِثْلَهَا. فَلَمْ أَنْشَبْ أَنْ نَظَرْتُ إِلَى أَبِي جَهْلٍ يَجُولُ فِي النَّاسِ. قُلْتُ: أَلَا إِنَّ هَذَا صَاحِبُكُمَا الَّذِي سَأَلْتُمَانِي. فَابْتَدَرَاهُ بِسَيْفَيْهِمَا. فَضَرَبَاهُ حَتَّى قَتَلَاهُ. ثُمَّ انْصَرَفَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَخْبَرَاهُ. فَقَالَ: « أَيُّكُمَا قَتَلَهُ؟ ». قَالَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا: أَنَا قَتَلْتُهُ. فَقَالَ: « هَلْ مَسَحْتُمَا سَيْفَيْكُمَا؟ ». قَالَا: لَا. فَنَظَرَ فِي السَّيْفَيْنِ. فَقَالَ: « كِلَاكُمَا قَتَلَهُ. سَلَبُهُ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ». وَكَانَا مُعَاذَ ابْنَ عَفْرَاءَ. وَمُعَاذَ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ. صحيح البخاري كِتَابُ فَرْضِ الْخُمُسِ بَابُ مَنْ لَمْ يُخَمِّسِ الْأَسْلَابَ. وَمَنْ قَتَلَ قَتِيلًا فَلَهُ سَلَبُهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يُخَمِّسَ... رقم الحديث ٣١٤١ ، صحيح مسلم كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابُ اسْتِحْقَاقِ الْقَاتِلِ سَلَبَ الْقَتِيلِ رقم الحديث ٤٢ ( ١٧٥٢ ) .

(۲) فَقَالَ: « كِلَاكُمَا قَتَلَهُ. سَلَبُهُ لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ » اِخْتَلَفَ الْعُلَمَاءُ فِي مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ فَقَالَ أَصْحَابُنَا اِشْتَرَكَ هَذَانِ الرَّجُلَانِ فِي جِرَاحَتِهِ لَكِنَّ مُعَاذَ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ ثَخَنَهُ أَوَّلًا ←←←←←

Scanned with CamScanner

د بخاري شريف په څنې نورو احاديثو کې راځي چې ابوجهل لره د عفراء ( زنانه ) دوارو ځامنو قتل کړې ؤ (کوم چې دواړه وروڼه وو ) .(١)

د دوارو مور يوه وه چې نوم يې "عَفراء" وه ، خو پلاران يې بدل بدل وو ، د يو هلک نوم مُعاذ بن عَفراء ؤ ( دا مور طرف ته منسوب دی ) . او د بل هلک نوم مُعاذ بن عَمرو بن جَموح ؤ (دا پلار طرف ته منسوب دی) .(٢)

بعضې علماؤ ددې دوارو هلکانو نومونه مُعاذ او مُعَوِّذ ذکر کړي .(٣)

---

←←← فَاسْتَحَقَّ السَّلَبَ وَإِنَّمَا قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كلا كما قَتَلَهُ تَطْيِيبًا لِقَلْبِ الْآخَرِ مِنْ حَيْثُ إِنَّ لَهُ مُشَارَكَةً فِي قَتْلِهِ وَ إِلَّا فَالْقَتْلُ الشَّرْعِيُّ الَّذِي يَتَعَلَّقُ بِهِ اسْتِحْقَاقُ السَّلَبِ وَهُوَ الْإِثْخَانُ وَ إِخْرَاجُهُ عَنْ كَوْنِهِ مُتَمَنِّعًا إِنَّمَا وُجِدَ مِنْ مُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ . فَلِهَذَا قَضَى لَهُ بِالسَّلَبِ . قَالُوا : وَإِنَّمَا أَخَذَ السَّيْفَيْنِ لِيَسْتَدِلَّ بِهِمَا عَلَى حَقِيقَةِ كَيْفِيَّةِ قَتْلِهِمَا فَعَلِمَ أَنَّ بن الْجَمُوحِ أَثْخَنَهُ ثُمَّ شَارَكَهُ الثَّانِي بَعْدَ ذَلِكَ وَبَعْدَ اسْتِحْقَاقِهِ السَّلَبَ فَلَمْ يَكُنْ لَهُ حَقٌّ فِي السَّلَبِ . هَذَا مَذْهَبُ أَصْحَابِنَا فِي مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ . شرح النووي على مسلم (المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج) ج ١٢ ص ٦٢ بَاب اسْتِحْقَاقِ الْقَاتِلِ سَلَبَ الْقَتِيلِ.

(وَقَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَلَبِهِ) أَيْ: بِمَسْلُوبِ أَبِي جَهْلٍ (لِمُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ) لِأَنَّهُ أَثْخَنَهُ بِالْجِرَاحَةِ أَوَّلًا . فَاسْتَحَقَّ السَّلَبَ. ثُمَّ شَارَكَهُ الثَّانِي. ثُمَّ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷺ وَجَدَهُ وَبِهِ رَمَقٌ. فَحَزَّ رَأْسَهُ . مرقاة المفاتيح ج٦ ص٢٥٩٨ بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا

(١) قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَوْفٍ ﷺ : إِنِّي لَفِي الصَّفِّ يَوْمَ بَدْرٍ إِذِ الْتَفَتُّ فَإِذَا عَنْ يَمِينِي وَعَنْ يَسَارِي فَتَيَانِ حَدِيثَا السِّنِّ. فَكَأَنِّي لَمْ آمَنْ بِمَكَانِهِمَا، إِذْ قَالَ لِي أَحَدُهُمَا سِرًّا مِنْ صَاحِبِهِ: يَا عَمِّ ! أَرِنِي أَبَا جَهْلٍ. فَقُلْتُ: يَا ابْنَ أَخِي ، وَمَا تَصْنَعُ بِهِ ؟ قَالَ: عَاهَدْتُ اللهَ إِنْ رَأَيْتُهُ أَنْ أَقْتُلَهُ أَوْ أَمُوتَ دُونَهُ . فَقَالَ لِي الْآخَرُ سِرًّا مِنْ صَاحِبِهِ مِثْلَهُ. قَالَ: فَمَا سَرَّنِي أَنِّي بَيْنَ رَجُلَيْنِ مَكَانَهُمَا. فَأَشَرْتُ لَهُمَا إِلَيْهِ. فَشَدَّا عَلَيْهِ مِثْلَ الصَّقْرَيْنِ حَتَّى ضَرَبَاهُ . وَهُمَا ابْنَا عَفْرَاءَ . صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ فَضْلِ مَنْ شَهِدَ بَدْرًا رقم الحديث ٣٩٨٨ .

(٢) (وَالرَّجُلَانِ) أَيْ: الْغُلَامَانِ (مُعَاذُ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ، وَمُعَاذُ ابْنُ عَفْرَاءَ) : هِيَ أُمُّهُ وَهُمَا أَخَوَانِ أُمُّهُمَا وَاحِدٌ وَأَبُوهُمَا مُخْتَلِفٌ. مرقاة المفاتيح ج٦ ص٢٥٩٨ بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا

(٣) (وَهُمَا) أَيْ: الغلامان الْمَذْكُورَان ( ابْنَا عَفْرَاءَ) مُعَاذ ومُعَوِّذ . عمدة القاري شرح صحيح البخاري ج ١٧ ص ٩٨ في تشريح حديث ٣٩٨٨ .

Scanned with CamScanner

بهر حال ، دې دوه هلکانو ابوجهل لره په توره باندې اُووهل ، خو تر اوسه پورې د ابوجهل نه ساه نه وه وتلې ، د جنګ ختميدو نه روستو حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ ورغی او سرېې ورنه غوڅ کړو .(۱)

## د لاس غوڅيدو نه پس بيا تر آخره پورې جنګيدل

پاس واقعه ذکر شوه چې دوه کشرانو صحابه کرامو ګستاخِ رسول " ابوجهل " لره مردار کړو ، په دې کې مُعاذ بن عَمرو بن جَموح ﷺ بيا غټه قرباني دا اوکړه چې ددهٔ د لاس پريکيدو نه پس ده بيا هم تر آخره پورې جهاد اوکړو .

حضرت مُعاذ بن عَمرو بن جَموح ﷺ خپله دا واقعه داسې بيانوي : چې په جنګِ بدر کې زهٔ د ابوجهل قتلولو پسې ورغلم ، کله مې چې موقع پيدا کړه نو حمله مې ورباندې اوکړه ، خپه مې ورله د پنډۍ په مينځ کې کټ کړه ، په دې وخت کې د هغه ځوي " عِکرمه بن ابي جهل ( چې تر اوسه مسلمان شوې نهٔ ، ده ) په ما باندې د تورې ګوزار اوکړو ، زما اُوږه يې اُووهله ، زما لاس مکمل غوڅ شو خو صرف پُوستکې يې پاتې شو ، زهٔ د هغه ځای نه راديخوا شوم ، لاس زما د بدن پورې زوړند وُ خو بيا هم زهٔ ټوله ورځ د کافرانو سره اُوجنګيدم . کله چې د لاس زوړنديدلو او راښکلو زهٔ په تکليف کړم ( چې ددې سره په

(۱) عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ يَنْظُرُ مَا صَنَعَ أَبُو جَهْلٍ». فَانْطَلَقَ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷺ فَوَجَدَهُ قَدْ ضَرَبَهُ ابْنَا عَفْرَاءَ حَتَّى بَرَدَ. قَالَ: آأَنْتَ أَبُو جَهْلٍ؟ قَالَ: فَأَخَذَ بِلِحْيَتِهِ، قَالَ: وَهَلْ فَوْقَ رَجُلٍ قَتَلْتُمُوهُ، أَوْ رَجُلٍ قَتَلَهُ قَوْمُهُ قَالَ أَحْمَدُ بْنُ يُونُسَ: «أَنْتَ أَبُو جَهْلٍ». صحيح البخاري كِتَابُ المَغَازِي بَابُ قَتْلِ أَبِي جَهْلٍ رقم الحديث ۳۹٦۲ ، و رقم الحديث ۳۹٦۳ ، و رقم الحديث ۴۰۲۰ ، صحيح مسلم رقم الحديث ۱۱۸(۱۸۰۰)

قَالَ الملاعلي قاري رحمه الله: وَذُكِرَ فِي صَحِيحِ الْبُخَارِيِّ فِي حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ: أَنَّ الَّذِي ضَرَبَهُ ابْنُ عَفْرَاءَ، وَفِي رِوَايَةٍ أَنَّ ابْنَيْ عَفْرَاءَ ضَرَبَاهُ حَتَّى بَرَدَ، وَذَكَرَ غَيْرُهُ أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ ﷺ هُوَ الَّذِي أَجْهَزَ وَأَخَذَ رَأْسَهُ. قَالَ الشَّيْخُ: يُحْمَلُ هَذَا عَلَى أَنَّ الثَّلَاثَةَ اشْتَرَكُوا فِي قَتْلِهِ. فَكَانَ إِثْخَانُهُ مِنْ مُعَاذِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْجَمُوحِ، وَجَاءَ ابْنُ مَسْعُودٍ ﷺ بَعْدَ ذَلِكَ وَفِيهِ رَمَقٌ فَحَزَّ رَأْسَهُ . مرقاة المفاتيح ج٦ ص ۲۵۹۸ بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا

Scanned with CamScanner

جنګ کولو کې کمزورتيا راتله) نو ما په دې زورَند لاس باندې خپله خپه کيښوده او په زُور سره مې راښکلو ، دا مې د بدن نه جدا کړو ( او ټوله ورځ په دې حالت کې اُوجنګيدم ) . (١)

## د عَبۡدُ الله بۡنُ سَعۡدِ بۡنِ أَبِي سَرۡحٍ په سَمدست نه قتل کولو سره نبي عليه السلام صحابه کرامو ته تنبيه ورکړه

نبي عليه السلام د فتح مکې په وخت د څلورو سړو او دوه ښځو د قتل کولو حکم کړې وُ ، په دې کې يو عبدالله بن سعد ابن ابي سرح هم وُ ، ده اول ايمان راوړې وُ ، او د نبي عليه السلام کاتب وُ ، خو بيا واپس مرتد شو د کفارو سره ملګرې شو ، او نبي عليه السلام ته يې ضرر اُورسول ، نو پيغمبر عليه السلام دده د وژلو حکم هم صحابه کرامو ته کړې وُ ، خو آخر ده ايمان راوړو . (٢)

په ابوداؤد شريف کې دا واقعه ذکر ده چې د فتح مکې په وخت عبدالله بن سعد ابن ابي سرح د حضرت عثمان ﷺ سره پټ شو ، حضرت عثمان ﷺ دا نبي عليه السلام ته راوست او ورته وې فرمايل :

يَا رَسُولَ اللهِ ! بَايِعْ عَبۡدَ اللهِ .

اې د الله رسوله ! د عبدالله نه بيعت واخله .

---

(١) عَنۡ مُعَاذِ بۡنِ عَمۡرٍو ﷺ ، قَالَ : جَعَلۡتُ أَبَا جَهۡلٍ يَوۡمَ بَدۡرٍ مِنۡ شَأۡنِي ، فَلَمَّا أَمۡكَنَنِي ، حَمَلۡتُ عَلَيۡهِ ، فَضَرَبۡتُهُ ، فَقَطَعۡتُ قَدَمَهُ بِنِصۡفِ سَاقِهِ ، وَضَرَبَنِي ابۡنُهُ عِكۡرِمَةُ بۡنُ أَبِي جَهۡلٍ عَلَى عَاتِقِي ، فَطَرَحَ يَدِي ، وَبَقِيَتۡ مُعَلَّقَةً بِجِلۡدَةٍ بِجَنۡبِي ، وَأَجۡهَضَنِي عَنۡهَا الۡقِتَالُ ، فَقَاتَلۡتُ عَامَّةَ يَوۡمِي ، وَإِنِّي لَأَسۡحَبُهَا خَلۡفِي ، فَلَمَّا آذَتۡنِي وَضَعۡتُ قَدَمِي عَلَيۡهَا ، ثُمَّ تَمَطَّأۡتُ عَلَيۡهَا حَتَّى طَرَحۡتُهَا . سير اعلام النبلاء ج١ ص ٢٥٠ ، وذكره ايضا ابن هشام ١ / ٦٣٤

... وَمُعَاذٌ قَتَلَ أَبَا جَهۡلٍ ، وَقَطَعَ عِكۡرِمَةُ بۡنُ أَبِي جَهۡلٍ يَدَهُ ... المستدرك على الصحيحين للحاكم رقم ٥٧٩٢ .

(٢) عَنِ ابۡنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا قَالَ : كَانَ عَبۡدُ اللهِ بۡنُ سَعۡدِ بۡنِ أَبِي سَرۡحٍ يَكۡتُبُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ ، فَأَزَلَّهُ الشَّيۡطَانُ ، فَلَحِقَ بِالۡكُفَّارِ ، فَأَمَرَ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ أَنۡ يُقۡتَلَ يَوۡمَ الۡفَتۡحِ ، فَاسۡتَجَارَ لَهُ عُثۡمَانُ بۡنُ عَفَّانَ ﷺ ، فَأَجَارَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ " . سنن ابي داؤد كِتَابُ الۡحُدُودِ بَابُ الۡحُكۡمِ فِيمَنۡ ارۡتَدَّ رقم الحديث ٤٣٥٨ .

Scanned with CamScanner

پيغمبر عليه السلام خپل سَر مبارک راپورته کړو او عبدالله ته يې درې (٣) پيرې اوکتل، او هره پيره به يې د عبدالله د بيعت نه انکار کولو. د دريم ځل نه پس يې د عبدالله نه بيعت قبول کړو.

بيا نبي عليه السلام خپلو صحابه کرامو ته متوجّه شو او ورته وې فرمايل:

أَمَا كَانَ فِيكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ يَقُومُ إِلَى هَذَا حَيْثُ رَآنِي كَفَفْتُ يَدِي عَنْ بَيْعَتِهِ، فَيَقْتُلُهُ؟

آيا په تاسو کې داسې هوښيار سړې نه ؤ چې کله هغه زه اُوليدم چې ما د عبدالله د بيعت نه انکار اوکړو چې هغه ده ته راپاڅيدلې وی او دا يې وژلې وی؟

صحابه کرامو ورته اوفرمايل: اې د الله رسوله مونږ ته معلومه نه وه چې ستاسو په زړه کې څه دي؟ آيا تاسو مونږ ته په سترګو باندې اشاره ولې اونکړه چې مونږ دا وژلې وی؟

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل:

إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ.

هيڅ يو پيغمبر ته دا مناسب ندي چې هغه د سترګو خيانت اوکړي. (١)

**فائده**: ددې واقعې نه معلومه شوه چې عبدالله بن سعد ابن ابي سرح د مرتد کيدو نه پس اګر چې د بيعت کولو د پاره حضرت عثمان رضي الله عنه نبي عليهُ السلام ته راوست خو پيغمبر عليه السلام دده نه په بيعت کولو کې تاخير کولو ددې د پاره چې يو صحابي راپاڅي او دا اُووژني خو صحابه کرامو چونکه زړه وَرتيا نه شوه کولی چې د نبي عليه السلام مخې ته ناست کس اُووژني، آخر پيغمبر عليه السلام دده بيعت قبول کړو او صحابه کرامو

---

(١) عَنْ سَعْدٍ رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ اِخْتَبَأَ عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ عِنْدَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رضي الله عنه، فَجَاءَ بِهِ حَتَّى أَوْقَفَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ! بَايِعْ عَبْدَ اللهِ. فَرَفَعَ رَأْسَهُ، فَنَظَرَ إِلَيْهِ ثَلَاثًا، كُلُّ ذَلِكَ يَأْبَى، فَبَايَعَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: «أَمَا كَانَ فِيكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ يَقُومُ إِلَى هَذَا حَيْثُ رَآنِي كَفَفْتُ يَدِي عَنْ بَيْعَتِهِ، فَيَقْتُلُهُ؟» فَقَالُوا: مَا نَدْرِي يَا رَسُولَ اللهِ مَا فِي نَفْسِكَ، أَلَا أَوْمَأْتَ إِلَيْنَا بِعَيْنِكَ؟ قَالَ: «إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ». سنن ابی داؤد كِتَابُ الْحُدُودِ بَابُ الْحُكْمِ فِيمَنْ ارْتَدَّ رقم الحديث ٤٣٥٩. قال الالباني: صحيح. المعجم الاوسط رقم الحديث ٦٥٧٧، المعجم الكبير رقم الحديث ٥٥٢٩. السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٣٢٧٧.

Scanned with CamScanner

ته يې تنبيه ورکړه چې په کار ده چې تاسو دا وژلې وی.

( **نوټ** : د فتح مکې په وخت چې نبي عليه السلام د کومو کسانو د وژلو حکم کړې ؤ په هغې کې ځنې قتل شو او ځنو ايمان راوړو.

په وژل شوو کسانو کې يو ابن خطل ؤ چې د هغه د وژل کيدو واقعه مخکې تيره شوی.

او دويم مَقِيس بن صَبَابه هم ؤ، دا هم مرتد ؤ، او د نبي عليه السلام په شان کې يې ګستاخي کوله، دده په باره کې هم نبي عليه السلام د قتل کولو حکم صادر کړې ؤ، خلقو دا په بازار کې راتينګ کړو او هملته يې قتل کړو ). (١)

## د حضرت ابوبکر صديق ﷛ په نزد هم د ګستاخِ رسول سزا قتل وه

حضرت ابوبَرزه ﷛ فرمايي چې يو سړي حضرت ابوبکر صديق ﷛ ته سختې خبرې اوکړې، حضرت ابوبکر صديق ﷛ ډير غصه شو.

(١) عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ فَتْحِ مَكَّةَ أَمَّنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلَّا أَرْبَعَةَ نَفَرٍ وَامْرَأَتَيْنِ، وَقَالَ: « اُقْتُلُوهُمْ وَإِنْ وَجَدْتُمُوهُمْ مُتَعَلِّقِينَ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ » عِكْرِمَةُ بْنُ أَبِي جَهْلٍ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ خَطَلٍ، وَمَقِيسُ بْنُ صُبَابَةَ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ. فَأَمَّا عَبْدُ اللهِ بْنُ خَطَلٍ فَأُدْرِكَ وَهُوَ مُتَعَلِّقٌ بِأَسْتَارِ الْكَعْبَةِ فَاسْتَبَقَ إِلَيْهِ سَعِيدُ بْنُ حُرَيْثٍ وَعَمَّارُ بْنُ يَاسِرٍ فَسَبَقَ سَعِيدٌ عَمَّارًا وَكَانَ أَشَبَّ الرَّجُلَيْنِ فَقَتَلَهُ، وَأَمَّا مَقِيسُ بْنُ صُبَابَةَ فَأَدْرَكَهُ النَّاسُ فِي السُّوقِ فَقَتَلُوهُ. وَأَمَّا عِكْرِمَةُ فَرَكِبَ الْبَحْرَ فَأَصَابَتْهُمْ عَاصِفٌ، فَقَالَ أَصْحَابُ السَّفِينَةِ أَخْلِصُوا فَإِنَّ آلِهَتَكُمْ لَا تُغْنِي عَنْكُمْ شَيْئًا هَاهُنَا. فَقَالَ عِكْرِمَةُ: وَاللهِ لَئِنْ لَمْ يُنَجِّنِي فِي الْبَحْرِ إِلَّا الْإِخْلَاصُ مَا يُنَجِّينِي فِي الْبَرِّ غَيْرُهُ. اللَّهُمَّ إِنَّ لَكَ عَلَيَّ عَهْدًا إِنْ أَنْتَ عَافَيْتَنِي مِمَّا أَنَا فِيهِ أَنْ آتِيَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَضَعَ يَدِي فِي يَدِهِ، فَلَأَجِدَنَّهُ عَفُوًّا كَرِيمًا. فَجَاءَ فَأَسْلَمَ. وَأَمَّا عَبْدُ اللهِ بْنُ سَعْدِ بْنِ أَبِي سَرْحٍ، فَإِنَّهُ اخْتَبَأَ عِنْدَ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ ﷛. فَلَمَّا دَعَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ إِلَى الْبَيْعَةِ جَاءَ بِهِ حَتَّى أَوْقَفَهُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ. يَا رَسُولَ اللهِ بَايِعْ عَبْدَ اللهِ. فَرَفَعَ رَأْسَهُ فَنَظَرَ إِلَيْهِ ثَلَاثًا كُلَّ ذَلِكَ يَأْبَى. فَبَايَعَهُ بَعْدَ ثَلَاثٍ، ثُمَّ أَقْبَلَ عَلَى أَصْحَابِهِ. فَقَالَ: «مَا كَانَ فِيكُمْ رَجُلٌ رَشِيدٌ يَقُومُ إِلَى هَذَا حَيْثُ رَآنِي كَفَفْتُ يَدِي عَنْ بَيْعَتِهِ فَيَقْتُلُهُ؟» قَالُوا: مَا يُدْرِينَا يَا رَسُولَ اللهِ مَا فِي نَفْسِكَ هَلَّا أَوْمَأْتَ إِلَيْنَا بِعَيْنِكَ؟ قَالَ: «إِنَّهُ لَا يَنْبَغِي لِنَبِيٍّ أَنْ تَكُونَ لَهُ خَائِنَةُ الْأَعْيُنِ». السنن الكبرى للنسائي كِتَابُ الْمُحَارَبَةِ الْحُكْمُ فِي الْمُرْتَدِّ رقم الحديث ٣٥١٦.

Scanned with CamScanner

حضرت ابوبَرزه رضی الله عنه فرمايي چې ما حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه ته وويل :

أَلَا أَضْرِبُ عُنُقَهُ؟ آيا زه دده څټ په توره اُو نه وهم ؟

نو حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه زه منع کړم او راته وې ويل :

مَا هِيَ لِأَحَدٍ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه پس بل چاته په تېزو خبرو کولو سره به څوک نشي قتلولی .(١)

په يو روايت کې داسې دي چې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه حضرت ابوبَرزه رضی الله عنه ته اوفرمايل :

لَا ، وَاللهِ ، مَا كَانَتْ لِبَشَرٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

نه ، ته دا مه قتلوه ، قسم په الله چې د نبي عليه السلام نه پس بل چاته په رَدو بدو خبرو باندې به څوک نشي قتلولی ( صرف چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ګستاخي اوکړي نو هغه به قتلولې شي ) . (٢)

---

(١) عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الْأَسْلَمِيِّ رضی الله عنه ، قَالَ: أَغْلَظَ رَجُلٌ لِأَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رضی الله عنه ، قَالَ: فَقَالَ أَبُو بَرْزَةَ رضی الله عنه : أَلَا أَضْرِبُ عُنُقَهُ؟ قَالَ: فَانْتَهَرَهُ وَقَالَ: « مَا هِيَ لِأَحَدٍ بَعْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » . مسند احمد مخرجا رقم الحديث ٥٤ ، و رقم الحديث ٦١ ، المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٨٠٤٦ .

(٢) عَنْ أَبِي بَرْزَةَ ، قَالَ: كُنْتُ عِنْدَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، فَتَغَيَّظَ عَلَى رَجُلٍ ، فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ ، فَقُلْتُ: تَأْذَنُ لِي يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَضْرِبُ عُنُقَهُ ؟ قَالَ: فَأَذْهَبَتْ كَلِمَتِي غَضَبَهُ ، فَقَامَ ، فَدَخَلَ ، فَأَرْسَلَ إِلَيَّ ، فَقَالَ: مَا الَّذِي قُلْتَ آنِفًا ؟ قُلْتُ : ائْذَنْ لِي أَضْرِبُ عُنُقَهُ ، قَالَ: أَكُنْتَ فَاعِلًا لَوْ أَمَرْتُكَ ؟ قُلْتُ : نَعَمْ ، قَالَ: « لَا وَاللهِ ، مَا كَانَتْ لِبَشَرٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ » قَالَ أَبُو دَاوُدَ: هَذَا لَفْظُ يَزِيدَ ، قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: أَيْ لَمْ يَكُنْ لِأَبِي بَكْرٍ أَنْ يَقْتُلَ رَجُلًا إِلَّا بِإِحْدَى الثَّلَاثِ الَّتِي قَالَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «كُفْرٌ بَعْدَ إِيمَانٍ ، أَوْ زِنًا بَعْدَ إِحْصَانٍ ، أَوْ قَتْلُ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ ، وَكَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَقْتُلَ » . سنن ابی داؤد كِتَاب الْحُدُودِ بَابُ الْحُكْمِ فِيمَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ٤٣٦٣ قال الالباني : صحيح . المستدرک على الصحيحين للحاکم رقم الحديث ٨٠٤٥ وقال الحاکم : صَحِيحُ الْإِسْنَادِ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ . و وافقه الذهبي . سنن النسائي رقم الحديث ٤٠٧٥ .

Scanned with CamScanner

ددې حديث نه ائمه وُ اِستدلال کړی چې څوک نبي عليه السلام ته کنځل اوکړي يا د هغوی په شان کې ګستاخي اوکړي نو هغه به قتلولې شي. (١)

## د عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد هم د ګستاخِ رسول سزا قتل وه

عُمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ چې کله اميرُ المؤمنين وُ ، نو ده ته د کوفې عامِل دا خط رااوليږل او د هغه چا په باره کې يې ورسره مشوره کوله چې هغه حضرت عُمر رضي الله عنه ته کنځل کړې وی ، نو عُمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللَّهُ ورته په جواب کې اوليکل :

که يو مسلمان بل چا ته کنځل اوکړي نو په دې سره دده قتل کول حلال ندي .

**إِلَّا رَجُلًا سَبَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . فَمَنْ سَبَّهُ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ .**

مګر که يو کس رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کنځل اوکړي نو په دې سره دده وِينه تويول حلال دي . (يعنى نبي عليه السلام ته په کنځل کولو سره به انسان قتلولې شي) . (٢)

---

(١) فَاسْتَدَلَّ الْأَئِمَّةُ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ عَلٰى قَتْلِ مَنْ أَغْضَبَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكُلِّ مَا أَغْضَبَهُ. أَوْ آذَاهُ . أَوْ سَبَّهُ . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٤٩٢ القسم الرابع في تعرف وُجوهِ الأَحكامِ فِيمَن تَنَقَّصَهُ أَو سَبَّهُ عَلَيهِ الصَّلاة والسَّلام اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نَقص مِن تَعرِيضٍ أَو نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةِ في إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَو عابه عليه الصلاة والسلام .

(...قَالَ: لَا وَاللهِ مَا كَانَتْ لِبَشَرٍ بَعْدَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) فَهٰذَا الْحَدِيْثُ يَدُلُّ عَلٰى أَنَّ إِغْضَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْجِبُ الْقَتْلَ دُوْنَ غَيْرِهِ مِنَ النَّاسِ. وَكَذٰلِكَ أَذَاهُ يُوْجِبُ الْقَتْلَ دُوْنَ غَيْرِهِ مِنَ النَّاسِ بِشَرْطِ أَنْ يَكُوْنَ أَذَاهُ مَقْصُوْدًا . وَسَوَاءٌ أَكَانَ الْأَذٰى خَفِيْفًا أَمْ غَيْرَ خَفِيْفٍ فَلَا شَيْءَ مِنْ قَصْدِ أَذَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَمَلٌ بَلْ كُلُّهُ كُفْرٌ مُوْجِبٌ لِلْقَتْلِ ؛ لِلْحَدِيْثِ الَّذِيْ قَالَ « مَنْ يَكْفِيْنِيْ عَدُوِّيْ » فَابْتَدَرَ لَهُ خَالِدٌ وَهُوَ حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ وَالْأَشْهَرُ أَنَّهُ كُفْرٌ لِلْآيَةِ الْكَرِيْمَةِ . فتاوى السبكي ج ٢ ص ٥٨٤ فصل سبّ النبيّ

(٢) وَمِنْ ذٰلِكَ كِتَابُ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيْزِ إِلٰى عَامِلِهِ بِالْكُوْفَةِ: وَقَدِ اسْتَشَارَهُ فِيْ قَتْلِ رَجُلٍ سَبَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ. فَكَتَبَ إِلَيْهِ عمر رَحِمَهُ اللَّهُ : إِنَّهُ لَا يَحِلُّ قَتْلُ امْرِءٍ مُسْلِمٍ بِسَبِّ أَحَدٍ مِنَ النَّاسِ إِلَّا رَجُلًا سَبَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَمَنْ سَبَّهُ فَقَدْ حَلَّ دَمُهُ . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٤٩٢ القسم الرابع في تعرف وُجوهِ الأَحكامِ فِيمَن تَنَقَّصَهُ أَو سَبَّهُ عَلَيهِ الصَّلاة والسَّلام اَلْبَابُ الْأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نَقص مِن تَعرِيضٍ أَو نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةِ في إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَو عابه عليه الصلاة والسلام .

Scanned with CamScanner

## د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد هم د گستاخِ رسول سزا قتل ده

هارون رشيد بادشاه د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ نه پوښتنه اوکړه چې يو کس نبي عليه السلام ته کنځل کړي نو ماته د عراق څه خلقو دا فتوىٰ راکړه چې دې کنځل کوونکي ته دې په سزا کې کوړې ورکړې شي.

امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ چې دا خبره واوريده نو سخت غصه شو ، او هارون رشيد بادشاه ته يې وويل :

يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! مَا بَقَاءُ الْأُمَّةِ بَعْدَ شَتْمِ نَبِيِّهَا ؟ مَنْ شَتَمَ الْأَنْبِيَاءَ قُتِلَ وَمَنْ شَتَمَ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُلِدَ.

اې اميرالمؤمنين ! چې کله د يو اُمت نبي ته کنځل اوشي نو بيا د دې اُمت په باقي پاتې کيدلو کې څه خير دی ؟ ( اصل فتوىٰ داده : ) څوک چې انبياء کرامو ته کنځل اوکړي نو هغه به قتلولې شي ، او څوک چې صحابه کرامو ته کنځل اوکړي نو هغه ته به کوړې ورکولې شي. (۱)

( **نوټ** : هارون رشيد بادشاه ته چې کومو خلقو اول فتوی ورکړې وه " چې څوک نبي عليه السلام ته کنځل اوکړي نو هغه ته به په سزا کې کوړې ورکولې شي " هغه بې عِلمه خلق وو ، يا يې د خپلو خواهشاتو نه دا خبره کړې ، گني د عراق د ټولو علماؤ بلکه د ټول اُمتِ مسلمه په دې باندې اجماع ده چې څوک نبي عليه السلام ته کنځل اوکړي د هغه سزا قتلول دي ) . (۲)

---

(۱) وَسَأَلَ الرَّشِيدُ مَالِكًا فِي رَجُلٍ شَتَمَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَذَكَرَ لَهُ أَنَّ فُقَهَاءَ الْعِرَاقِ أَفْتَوْهُ بِجِلْدِهِ، فَغَضِبَ مَالِكٌ رَحِمَهُ اللّٰهُ وَقَالَ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ ! مَا بَقَاءُ الْأُمَّةِ بَعْدَ شَتْمِ نَبِيِّهَا ؟! مَنْ شَتَمَ الْأَنْبِيَاءَ قُتِلَ وَمَنْ شَتَمَ أَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جُلِدَ. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج۲ ص ۴۹۲ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الْأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ البَابُ الْأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نَقْصٌ مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّة فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عَابَه عليه الصلاة والسلام .

(۲) قَالَ الْقَاضِي أَبُو الْفَضْلِ: كَذَا وَقَعَ فِي هَذِهِ الْحِكَايَةِ رَوَاهَا غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ مَنَاقِبِ مَالِكٍ ←←←←

Scanned with CamScanner

## په هره زمانه کې چې چا د نبي علیه السلام ګستاخي کړې نو د هغه وخت فقهاؤ د هغه په قتل باندې فتوی ورکړې

که مونږ خپل اسلامي تاریخ اوګورو نو دا به راته واضحه شي چې په هره زمانه کې چا د نبي علیه السلام ګستاخي کړې نو د هغه وخت فقهاؤ د هغه د قتلولو فتوی ورکړې ، او حکومتِ وقت هغه ګستاخ مردار کړې دی.

په اندلس کې ابن حاتِم د نبي علیه السلام په شان کې ګستاخي اوکړه نو د اندلس ټولو فقهاؤ د هغه د قتلولو فتوی ورکړه ، او هغه قتل کړې شو .

همدغه شان په قیروان کې ابراهیم غزاري د پیغمبر علیه السلام په شان کې ګستاخي اوکړه نو د قیروان ټولو فقهاؤ د هغه د قتلولو فتوی ورکړه ، نو هغه په چړو باندې اُووهلې شو ، بیا اَلبته په سُولی باندې رازوړند کړې شو ، بیا د سُولی نه راښکته کړې شو او په اُور باندې اُوسوزولې شو . مؤرِّخینو لیکلي چې کله یې دا په سُولی باندې اُوخیجول نو د قبلې نه یې مخ واوړید ، ټول خلق پوهه شو چې دا مرتد او کافر دی ، نعره تکبیر یې اوویله . بیا یو سپې راغی او دده نه چې لاندې کومه وینه توی شوې وه هغه یې اُوڅټله .(۱)

---

←←← وَمُؤَلِّفِي أَخْبَارِهِ وَغَيْرِهِمْ. وَلَا أَدْرِي مَنْ هَؤُلَاءِ الْفُقَهَاءُ بِالْعِرَاقِ الَّذِينَ أَفْتَوْا الرَّشِيدَ بِمَا ذُكِرَ . وَقَدْ ذَكَرْنَا مَذْهَبَ الْعِرَاقِيِّينَ بِقَتْلِهِ ، وَلَعَلَّهُمْ مِمَّنْ لَمْ يُشْهَرْ بِعِلْمٍ ، أَوْ مَنْ لَا يُوثَقُ بِفَتْوَاهُ ، أَوْ يَمِيلُ بِهِ هَوَاهُ . أَوْ يَكُونُ مَا قَالَهُ يُحْمَلُ عَلَى غَيْرِ السَّبِّ ، فَيَكُونُ الْخِلَافُ هَلْ هُوَ سَبٌّ أَوْ غَيْرُ سب ، أو يكون رجع وتاب عن سَبِّهِ فَلَمْ يَقْتُلْهُ لِمَالِكٍ عَلَى أَصْلِهِ وَ إِلَّا فَالْإِجْمَاعُ عَلَى قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ كَمَا قَدَّمْنَاهُ . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج۲ ص ۴۹۲ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصلاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِن تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الحُجَّةِ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصلاة والسلام .

(۱) وَأَفْتَى فُقَهَاءُ الْأَنْدَلُسِ بِقَتْلِ ابْنِ حَاتِمٍ الْمُتَفَقِّهِ الطُّلَيْطِلِيِّ وَصَلْبِهِ بِمَا شُهِدَ عَلَيْهِ بِهِ مِنَ اسْتِخْفَافِهِ بِحَقِّ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَتَسْمِيَتِهِ إِيَّاهُ أَثْنَاءَ مُنَاظَرَتِهِ بِالْيَتِيمِ وَخَتَنِ حيذرة ، وَزَعْمِهِ أَنَّ زُهْدَهُ لَمْ يَكُنْ قَصْدًا ، وَلَوْ قَدَرَ عَلَى الطَّيِّبَاتِ أَكَلَهَا . إِلَى أَشْبَاهٍ لِهَذَا . وَأَفْتَى فُقَهَاءُ الْقَيْرَوَانِ وَأَصْحَابُ سُحْنُونٍ بِقَتْلِ إِبْرَاهِيمَ الغزاري ، وَكَانَ شَاعِرًا مُتَفَنِّنًا فِي كَثِيرٍ مِنَ الْعُلُومِ ، وَكَانَ مِمَّنْ يَحْضُرُ مَجْلِسَ ←←←←←←←←

## حاجي مانک رَحِمَهُ اللّٰه یو گستاخِ رسول قادیانۍ مردار کړو نو بیا ورته په هره شپه په خُوب کې د نبي علیه السلام زیارت نصیب کیدو

د سِندھ په علاقه کې یو قادیانۍ وُ ، هغه د نبي علیه السلام په شان کې گستاخي اوکړه، نو هلته یو عاشقِ رسول وُ ، نوم یې حاجي مانک رَحِمَهُ اللّٰه وُ ، هغه دا قادیانۍ مردار کړو ، ( اگر چې دا د اسلامي اصولو موافق کار کړې وُ خو په هغه وخت اسلامي حکومت نه وُ او د انگریزانو زیرِ اثر وُ نو ) حاجي مانک رَحِمَهُ اللّٰه اُونیول شو او تهانړې ته وړې ورل شو .

دده نه حکومت پوښتنه اوکړه چې دادې ولې اُووژل ؟ ده ورته وویل چې ده د نبي علیه السلام په شان کې گستاخي کړې وه نو ما ځکه مردار کړو .

بهر حال ، حکومت حاجي صاحب په تهانړه کې واچول .

چونکه تهانړه دار سیّد وُ ، او دده بي بي هم د سیّد لور وه ، نېکه ښځه وه ، د شپې په خوب کې د تهانړه دار دې بي بي ته د نبي علیه السلام زیارت نصیب شو ، نبي علیه السلام ورته فرمایي :

لورې ! ستا کور ته زما میلمه راغلې دی د هغه د خوراک اِنتظام ستا په ذمه باندې دی .

•دا بي بي چې راویښه شوه نو حیرانه وه چې د نبي علیه السلام میلمه څوک دی ؟

خپل خاوند یې د خوب نه راپاڅول او واقعه یې ورته بیان کړه ، خاوند یې ورته وویل چې حاجي مانک رَحِمَهُ اللّٰه په پیغمبر علیه السلام باندې غیرت کړې دی قادیانۍ یې مردار کړی او هغه زمونږ په دې تهانړه کې بندي دی .

---

←←← القَاضِي أَبِي العَبَّاسِ بْنِ طَالِبٍ لِلْمُنَاظَرَةِ. فَرُفِعَتْ عَلَيْهِ أُمُورٌ مُنْكَرَةٌ مِنْ هَذَا البَابِ فِي الإِسْتِهْزَاءِ بِاللهِ وَأَنْبِيَائِهِ وَنَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَحْضَرَ لَهُ القَاضِي يَحْيَى بْنَ عُمَرَ وَغَيْرَهُ مِنَ الفُقَهَاءِ وَأَمَرَ بِقَتْلِهِ وَصَلْبِهِ فَطُعِنَ بِالسِّكِّينِ وَصُلِبَ مُنَكَّسًا. ثُمَّ أُنْزِلَ وَأُحْرِقَ بِالنَّارِ . وَحَكَى بَعْضُ المُؤَرِّخِينَ أَنَّهُ لَمَّا رُفِعَتْ خَشَبَتُهُ وَزَالَتْ عَنْهَا الأَيْدِي اسْتَدَارَتْ وَحَوَّلَتْهُ عَنِ القِبْلَةِ. فَكَانَ آيَةً لِلْجَمِيعِ وَكَبَّرَ النَّاسُ وَجَاءَ كَلْبٌ فَوَلَغَ فِي دَمِهِ. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٣٨١ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصلاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نَقصٌ مِن تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفَصْلُ الأَوَّلُ الحُكْمُ الشَّرْعِيُّ فِيمَنْ سَبَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ تَنَقَّصَهُ

Scanned with CamScanner

نو بيا دوی د حاجي صاحب ډير عزت کولو ( خو چونکه دا د بَره نه د حکومت په قبضه کې وُ نو دې تهانړه دار ډير څه نه شو کولی ).

د حاجي صاحب مقدّمه ( کېس ) په عدالت کې شروع شوه ، مولانا محمد علي جالندهري رَحِمَهُ اللهُ عدالت ته لاړ ، هلته ورته وکيلانو وويل :

مولانا صاحب ! تاسو حاجي صاحب ته اُوواييئ چې خپل بيان بدل کړي ( يعنی دا دې اُووايي چې قادياني ما ندې وژلی ) نو بيا حاجي صاحب بچ کيدې شي ؛ ځکه په هغه موقع باندې څوک ګواهان نه وو چې دده خلاف ګواهي اوکړي.

مولانا صاحب راغی او حاجي مانک رَحِمَهُ اللهُ ته يې وويل :

حاجي صاحب ! د وکيلانو رای داده چې تاسو خپل بيان بدل کړئ .

په دې اَوريدو سره د حاجي صاحب په سترګو کې اُوښکې راغلی او وې ويل :

مولانا صاحب ! که دا بل څوک وی نو ما هغه ته دا راز نه بيانول خو چونکه تاسو عالِم يَې نو زه درته حقيقت بيانوم ، هغه دا چې :

ما ډير حجونه او ډيرې عُمرې کړي ، ډير طوافونه مې کړي ، ډيرې وظيفې او خېراتونه مې کړي ، د ډيرو علماؤ مجلس ته تللې يم ، ما به د هر عالِم نه دا پوښتنه کوله چې تاسو ماته داسې يوه وظيفه اُوښايئ چې په هغې سره ماته په خُوب کې د نبي عليه السلام زيارت نصيب شي خو ماته به په خوب کې د پيغمبر عليه السلام زيارت نه نصيب کيدلو ، خو د کله نه مې چې قادياني د نبي عليه السلام د ګستاخۍ کولو په وجه وژلی او زه دې جېل ته راورل شوې يم نو په هره شپه مې په خُوب کې د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زيارت نصيب کيږي ، نو زه څنګه خپل بيان بدل کړم او اِنکار اوکړم ؟

## غازي عِلم الدين شهيد رَحِمَهُ اللهُ يو ګستاخِ رسول هندو مردار کړو نو بيا په خُوب کې ورته بار بار د نبي عليه السلام زيارت نصيب کيدو

يو هندو چې نوم يې " راجپال " وُ ، ده يو کتاب اوليکل ، په هغې کتاب کې يې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په شان کې ګستاخي اوکړه نو غازي عِلم الدين رَحِمَهُ اللهُ ورغی او هغه يې مردار کړو ، بيا دا د هغه وخت انګريز حکومت اُونيولو ، د ميانوالي په جېل کې يې

Scanned with CamScanner

بَندي كړو ، او د پانسۍ ( يعنى شهيد كولو ) حكم يې ورباندې اوكړو . ( بيا بې دِينه حكومت دا شهيد كړو ) .

ددې جېل مشر هندو وُ هغه روستو بيا يو عالِم ته د غازي عِلم الدين شهيد رَحِمَهُ اللهُ واقعه بيانوله : چې كله د غازي شهيد رحمه الله آخري شپه وه ، په صبا باندې حكومت شهيد كولو نو زه د شپې جېل ته راغلم ، دا چې په كومه تياره كمره كې اُوده وُ په هغې كې به ناڅاپه رڼا خوَره شوه او ټوله كمره به روښانه شوه . نو زه دې غازي شهيد رَحِمَهُ اللهُ ته راغلم هغه مې د خوب نه راپاڅول او پوښتنه مې ورنه اوكړه چې : آيا دتا سره څه بِتَري يا بله رڼا شته ؟ هغه وويل : هيڅ راسره نشته .

هغه واپس اُوده شو ، بيا همدغه شان كمره رُوښانه شوه .

چې كله درې (٣) پيرې مسلسل په دې كمره كې رڼا خوَره شوه نو ما د جېل دروازه كلاوُ كړه هغه ته ورغلم ، هغه مې په تندي باندې بُكل ( چَپ ) كړو او پوښتنه مې ورنه اوكړه :

اې عِلم الدين ! د الله د پاره ماته اُووايه چې دا په دې تياره كمره كې دا رڼا ولې پيدا كيږي ؟

هغه راته ووېل : تاته معلومه ده چې دا نن شپه زما د ژوند آخِري شپه ده ، په ما باندې حكومت صبا د پانسۍ حكم كړې دى ، خو چې كله زما سترګې پټې شي نو په خوب كې محمّد رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ماته تشريف راوړي او راته فرمايي چې :

عِلم الدين ! خفه كيږه مه ، صبا روژه اُونيسه ، روژه ماتې به اِن شاء الله دواړه يو ځاى په حوضِ كوثر باندې كوو ( نو دا رڼا ددې په وجه ده چې كله په خوب كې ماته نبي عليه السلام راشي نو د هغې په وجه دا غونډه كمره مُنوّره او مُعَطّره شي ) .(١)

غازي عِلم الدين شهيد رَحِمَهُ اللهُ ته الله تعالى د گستاخِ رسول په وژلو سره په دُنيا كې هم دومره عزت وركړو چې كله دا په ٣١ اكتوبر ١٩٢٩ء باندې شهيد كړې شو نو د لاهور په تاريخ كې د ټولو نه غټه جنازه دده وه ، تقريبًا شپږ لكه ( ٦٠٠٠٠٠ ) مسلمانانو دده په جنازه كې شِركت اوكړو ، دده جنازه قاري شمس الدين خطيبِ مسجد وزير خان اوكړه ، مولانا

---

(١) خطبات شاهين ختم نبوت ص ١١٣ .

دیدار شاه رَحِمَهُ اللهُ او علامه اقبال رَحِمَهُ اللهُ دواړو دا په قبر کې په خپلو لاسونو باندې کیښود غازي عِلم الدین شهید رَحِمَهُ اللهُ چونکه د یو لوهار ځوي ؤ نو علامه اقبال په دې موقع باندې اوفرمایل: دې د لوهار ځوي د مونږ ټولو تعلیم یافته خلقو نه نمبر وې وړلو.

## عقل او قیاس هم دا وایي چې "گستاخِ رسول دې قتل کړې شي"

عقل او قِیاس هم دا وایي چې " گستاخِ رسول دې قتل شي " ځکه څوک چې نبي علیه السلام ته کنځل کوي، یا د دوی گستاخي کوي نو دا علامه ددې ده چې ددې کس په زړه کې کُفر پټ دی، دغه وجه ده چې ټولو علماؤ په ده باندې د مرتد حکم کړی، او د اِرتداد په وجه به قتلولې شي.

بل دا چې که یو کس عام مسلمان ته کنځل اوکړي نو په دې سره ده ته سزا ورکولې شي نو د نبي علیه السلام مقام خو ډیر اُوچت دی، څوک چې دوی ته کنځل اوکړي نو دا به قتلولې شي. (۱)

---

(۱) وَيَدُلُّ عَلَى قَتْلِهِ مِنْ جِهَةِ النَّظَرِ وَالِاعْتِبَارِ أَنّ من سبه وتنقصه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَدْ ظَهَرَتْ عَلَامَةُ مرض قلبه، وبرهان سرطويته وكفره، ولهذا حَكَمَ لَهُ كَثِيرٌ مِنَ الْعُلَمَاءِ بِالرِّدَّةِ. وَهِيَ رِوَايَةُ الشَّامِيِّينَ عَنْ مَالِكٍ وَالْأَوْزَاعِيِّ. وَقَوْلُ الثَّوْرِيِّ وَأَبِي حَنِيفَةَ وَالْكُوفِيِّينَ. وَالْقَوْلُ الْآخَرُ: «أَنَّهُ دَلِيلٌ عَلَى الْكُفْرِ فَيُقْتَلُ حَدًّا، وَإِنْ لَمْ يُحْكَمْ لَهُ بِالْكُفْرِ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مُتَمَادِيًا عَلَى قَوْلِهِ غَيْرَ مُنْكِرٍ لَهُ، وَلَا مُقْلِعٍ عَنْهُ. فَهَذَا كَافِرٌ». وَقَوْلُهُ إِمَّا صَرِيحُ كُفْرٍ كَالتَّكْذِيبِ ونحوه، أو من كلمات الاستهزاء والذم. فَاعْتِرَافُهُ بِهَا، وَتَرْكُ تَوْبَتِهِ عَنْهَا، دَلِيلُ اسْتِحْلَالِهِ لِذَلِكَ، وَهُوَ كُفْرٌ أَيْضًا. فَهَذَا كَافِرٌ بِلَا خِلَافٍ. قَالَ اللهُ تَعَالَى فِي مِثْلِهِ: ﴿يَحْلِفُونَ بِاللهِ مَا قَالُوا، وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوا بَعْدَ إِسْلَامِهِمْ﴾ سورة التوبة آية ۷٦ وَقَدْ قِيلَ: إِنَّ قَائِلَ مِثْلِ هَذَا إِنْ كَانَ مُسْتَتِرًا بِهِ أَنَّ حُكْمَهُ حُكْمُ الزِّنْدِيقِ يقتل، ولأنه قد غيّر دينه. وَقَدْ قَالَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ غَيَّرَ دِينَهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَهُ.» وَلِأَنَّ لِحُكْمِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحُرْمَةِ مَزِيَّةً عَلَى أُمَّتِهِ، وَسَابُّ الْحُرِّ مِنْ أُمَّتِهِ يُحَدُّ. فَكَانَتِ الْعُقُوبَةُ لِمَنْ سَبَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْقَتْلَ لِعَظِيمِ قَدْرِهِ وَشُفُوفِ مَنْزِلَتِهِ عَلَى غيره. الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج۲ ص ۲۹۳ القسم الرابع في تعرف وجوه الأحكام فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصلاة والسلام الْبَابُ الْأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثاني الْحُجَّةُ فِي إِيجَابِ قَتْلِ مَنْ سَبَّهُ أَوْ عابه عليه الصلاة والسلام.

## حضرت عمر رضی الله عنه هغه کس قتل کړو چې د نبي علیه السلام په فیصله باندې راضي نه ؤ

صحابه کرامو د رسول الله صلی الله علیه وسلم معمولي گستاخي هم نه برداشت کوله ، بلکه حضرت عُمر رضی الله عنه دومره غیرَتي صحابي ؤ چې یو ځل نبي علیه السلام د دوه کسانو په مینځ کې یوه فیصله اوکړه ، په دې کې دې یو کس وویل چې زه په دې فیصله باندې راضي نه یم او حضرت عُمر رضی الله عنه ته دا فیصله وَړورو ، هغه چې ورغلل او واقعه یې ورته بیان کړه ، هغه ته چې معلومه شوه چې نبي علیه السلام د دوی په مینځ کې فیصله کړې خو دا یو کس یې نه مني ، نو کور ته ننوت ، توره یې رااُوویسته او چا چې دا فیصله نه منله د هغه سَریې په توره باندې اووهل .

په تفاسیرو کې دا واقعه په پوره تفصیل سره ذکر ده . (١)

---

(١) عَنْ أَبِي الأَسْوَدِ، قَالَ: اِخْتَصَمَ رَجُلَانِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى الله علیه وسلم فقضى بینهما. فقال المقضي عَلَيْهِ: رُدَّنَا إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «نَعَمْ» . انطلقا إليه. فلما أتيا إليه. فقال الرَّجُلُ: يَا ابْنَ الْخَطَّابِ ! قَضَى لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى هٰذَا. فقال: ردنا إلى عمر بن الخطاب، فردنا إليك: فقال: أكذاك ؟ قال: نَعَمْ. فَقَالَ عُمَرُ رضی الله عنه : مَكَانَكُمَا حَتَّى أَخْرُجَ إِلَيْكُمَا فأقضي بينكما. فخرج إليهما مُشْتَمِلًا عَلَى سَيْفِهِ فَضَرَبَ الَّذِيْ قَالَ: رُدَّنَا إلى عمر فقتله، وأدبر الآخر فأتى إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ، قَتَلَ عُمَرُ وَاللهِ صَاحِبِيْ، وَلَوْلَا أَنِّيْ أَعْجَزْتُهُ لَقَتَلَنِيْ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَا كُنْتُ أَظُنُّ أَنْ يَجْتَرِئَ عُمَرُ عَلَى قَتْلِ مُؤْمِنٍ » فَأَنْزَلَ اللهُ ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ حَتَّى يُحَكِّمُوْكَ ﴾ الآية. فهدر دم ذلك الرجل وبرىء عُمَرُ مِنْ قَتْلِهِ .

قَالَ الْحَافِظُ أَبُوْ إِسْحَاقَ إِبْرَاهِيْمُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ فِيْ تَفْسِيْرِهِ : ... أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى لِلْمُحِقِّ عَلَى الْمُبْطِلِ، فَقَالَ الْمَقْضِيُّ عَلَيْهِ: لَا أَرْضَى، فَقَالَ صَاحِبُهُ: فَمَا تُرِيْدُ ؟ قَالَ: أَنْ تَذْهَبَ إِلَى أَبِيْ بَكْرٍ الصِّدِّيْقِ رضی الله عنه ، فَذَهَبَا إِلَيْهِ، فَقَالَ الَّذِيْ قُضِيَ لَهُ: قَدِ اخْتَصَمْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم، فقضى لي، فقال أبو بكر رضی الله عنه : أَنْتُمَا عَلَى مَا قَضَى بِهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَبَى صَاحِبُهُ أَنْ يرضى، فقال: نأتي عمر بن الخطاب، فَقَالَ الْمَقْضِيُّ لَهُ: قَدِ اخْتَصَمْنَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَضَى لِيْ عَلَيْهِ، فَأَبَى ←←←←

## د نبي علیه السلام عاشقان د خپل سَر قربانولو ته تیار وو خو پیغمبر علیه السلام ته یې معمولي تکلیف رسیدل نه برداشت کول

د نبي علیه السلام عاشقان داسې وو چې د خپل سَر قربانولو ته تیار وو خو پیغمبر علیه السلام ته یې معمولي تکلیف رسیدل نه برداشت کول.

ددې په باره کې درته د عبرت نه ډکه واقعه رانقل کوم:

## د حضرت زید بن دَثِنه ﷺ واقعه

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت عاصم بن ثابت ﷺ په مشرۍ کې یوه "سریه" ولیږله چې په هغې کې حضرت خُبیب ﷺ او حضرت زید بن دَثِنه ﷺ هم وو.

په یو ځای کې کافرانو وریاندې حمله وکړه، څه کسان شهیدان شو، او څه یې ژوندي اونیول. د حضرت خُبیب ﷺ د شهادت واقعه خو په بخاري شریف کِتَابُ الْمَغَازِيْ کې په تفصیل سره ذکر ده (١)

---

←←← أن يرضى. فسأله عمر بن الخطاب ﷺ فَقَالَ كَذَلِكَ. فَدَخَلَ عُمَرُ ﷺ مَنْزِلَهُ وَخَرَجَ وَالسَّيْفُ فِيْ يَدِهِ قَدْ سَلَّهُ. فَضَرَبَ بِهِ رَأْسَ الذي أبى أن يرضى فقتله. فأنزل ﴿ فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴾ الآية. تفسير ابن كثير (تفسير القرآن العظيم) ج٢ ص٣٠٨ سورة النساء في تفسير آية ٦٥. تفسير الثعلبي (الكشف والبيان عن تفسير القرآن) ج٣ ص ٣٣٠ سورة النساء في تفسير آية ٦٥.

(١) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: «بَعَثَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً عَيْنًا، وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عَاصِمَ بْنَ ثَابِتٍ» وَهُوَ جَدُّ عَاصِمِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. فَانْطَلَقُوْا حَتَّى إِذَا كَانَ بَيْنَ عُسْفَانَ وَمَكَّةَ ذُكِرُوْا لِحَيٍّ مِنْ هُذَيْلٍ يُقَالُ لَهُمْ: بَنُوْ لَحْيَانَ. فَتَبِعُوْهُمْ بِقَرِيْبٍ مِنْ مِائَةِ رَامٍ. فَاقْتَصُّوْا آثَارَهُمْ حَتَّى أَتَوْا مَنْزِلًا نَزَلُوْهُ. فَوَجَدُوْا فِيْهِ نَوَى تَمْرٍ تَزَوَّدُوْهُ مِنَ الْمَدِيْنَةِ. فَقَالُوْا: هَذَا تَمْرُ يَثْرِبَ. فَتَبِعُوْا آثَارَهُمْ حَتَّى لَحِقُوْهُمْ. فَلَمَّا انْتَهَى عَاصِمٌ وَأَصْحَابُهُ لَجَئُوْا إِلَى فَدْفَدٍ، وَجَاءَ الْقَوْمُ فَأَحَاطُوْا بِهِمْ. فَقَالُوْا: لَكُمُ الْعَهْدُ وَالْمِيْثَاقُ إِنْ نَزَلْتُمْ إِلَيْنَا. أَنْ لَا نَقْتُلَ مِنْكُمْ رَجُلًا. فَقَالَ عَاصِمٌ: أَمَّا أَنَا فَلَا أَنْزِلُ فِيْ ذِمَّةِ كَافِرٍ. اَللّٰهُمَّ أَخْبِرْ عَنَّا نَبِيَّكَ. فَقَاتَلُوْهُمْ حَتَّى قَتَلُوْا عَاصِمًا فِيْ سَبْعَةِ نَفَرٍ بِالنَّبْلِ، وَبَقِيَ خُبَيْبٌ وَزَيْدٌ وَرَجُلٌ آخَرُ. فَأَعْطَوْهُمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ. فَلَمَّا أَعْطَوْهُمُ الْعَهْدَ وَالْمِيْثَاقَ نَزَلُوْا إِلَيْهِمْ. فَلَمَّا اسْتَمْكَنُوْا مِنْهُمْ حَلُّوْا أَوْتَارَ قِسِيِّهِمْ. فَرَبَطُوْهُمْ بِهَا. فَقَالَ الرَّجُلُ الثَّالِثُ ←←←←

او د حضرت زيد بن دَثِنه ﷺ د شهادات واقعه مفسرينو او نورو كتابونو په تفصيل سره ذكر كړي ، زه صرف مطلبي ځاى ورنه رانقل كوم :

كله چې حضرت زيد بن دَثِنه رضي الله عنه د شهيد كولو د پاره مقامِ تَنعيم ته راوستې شو ، او قريش هم د تماشې د پاره راغلي وو ، ابوسفيان چې تر اوسه پورې يې اسلام نه وُ راوړى ، راغى او حضرت زيد ﷺ ته يې وويل :

أَنْشُدُكَ اللهُ يَا زَيْدُ أَتُحِبُّ أَنَّ مُحَمَّدًا عِنْدَنَا الْآنَ بِمَكَانِكَ نَضْرِبُ عُنُقَهُ وَأَنْتَ فِي أَهْلِكَ؟

اې زيده ! زه تاته په الله قسَم دركوم چې آيا ستا دا خوښه ده چې اوس ستا په ځاى باندې د مونږ سره محمد (صلى الله عليه وسلم) وى ، مونږ (نعوذُ بالله) د هغه څټ وهلې وى ، او ته (په آرام سره) په خپل كور كې ناست وى ؟

---

←←← الَّذِي مَعَهُمَا: هَذَا أَوَّلُ الْغَدْرِ، فَأَبَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَجَرَّرُوهُ وَعَالَجُوهُ عَلَى أَنْ يَصْحَبَهُمْ فَلَمْ يَفْعَلْ فَقَتَلُوهُ، وَانْطَلَقُوا بِخُبَيْبٍ، وَزَيْدٍ حَتَّى بَاعُوهُمَا بِمَكَّةَ. فَاشْتَرَى خُبَيْبًا بَنُو الْحَارِثِ بْنِ عَامِرِ بْنِ نَوْفَلٍ، وَكَانَ خُبَيْبٌ هُوَ قَتَلَ الْحَارِثَ يَوْمَ بَدْرٍ. فَمَكَثَ عِنْدَهُمْ أَسِيرًا. حَتَّى إِذَا أَجْمَعُوا قَتْلَهُ، اسْتَعَارَ مُوسَى مِنْ بَعْضِ بَنَاتِ الْحَارِثِ لِيَسْتَحِدَّ بِهَا فَأَعَارَتْهُ، قَالَتْ: فَغَفَلْتُ عَنْ صَبِيٍّ لِي، فَدَرَجَ إِلَيْهِ حَتَّى أَتَاهُ فَوَضَعَهُ عَلَى فَخِذِهِ، فَلَمَّا رَأَيْتُهُ فَزِعْتُ فَزْعَةً عَرَفَ ذَاكَ مِنِّي وَفِي يَدِهِ الْمُوسَى، فَقَالَ: أَتَخْشَيْنَ أَنْ أَقْتُلَهُ؟ مَا كُنْتُ لِأَفْعَلَ ذَاكِ إِنْ شَاءَ اللهُ، وَكَانَتْ تَقُولُ: مَا رَأَيْتُ أَسِيرًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ خُبَيْبٍ، لَقَدْ رَأَيْتُهُ يَأْكُلُ مِنْ قِطْفِ عِنَبٍ وَمَا بِمَكَّةَ يَوْمَئِذٍ ثَمَرَةٌ، وَإِنَّهُ لَمُوثَقٌ فِي الْحَدِيدِ، وَمَا كَانَ إِلَّا رِزْقٌ رَزَقَهُ اللهُ، فَخَرَجُوا بِهِ مِنَ الْحَرَمِ لِيَقْتُلُوهُ، فَقَالَ: دَعُونِي أُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: لَوْلَا أَنْ تَرَوْا أَنَّ مَا بِي جَزَعٌ مِنَ الْمَوْتِ لَزِدْتُ، فَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الرَّكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْقَتْلِ هُوَ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ أَحْصِهِمْ عَدَدًا، ثُمَّ قَالَ:

مَا أُبَالِي حِينَ أُقْتَلُ مُسْلِمًا ✡ عَلَى أَيِّ شِقٍّ كَانَ لِلَّهِ مَصْرَعِي

وَذَلِكَ فِي ذَاتِ الْإِلَهِ وَإِنْ يَشَأْ ✡ يُبَارِكْ عَلَى أَوْصَالِ شِلْوٍ مُمَزَّعِ

ثُمَّ قَامَ إِلَيْهِ عُقْبَةُ بْنُ الْحَارِثِ فَقَتَلَهُ، وَبَعَثَتْ قُرَيْشٌ إِلَى عَاصِمٍ لِيُؤْتَوْا بِشَيْءٍ مِنْ جَسَدِهِ يَعْرِفُونَهُ، وَكَانَ عَاصِمٌ قَتَلَ عَظِيمًا مِنْ عُظَمَائِهِمْ يَوْمَ بَدْرٍ، فَبَعَثَ اللهُ عَلَيْهِ مِثْلَ الظُّلَّةِ مِنَ الدَّبْرِ، فَحَمَتْهُ مِنْ رُسُلِهِمْ، فَلَمْ يَقْدِرُوا مِنْهُ عَلَى شَيْءٍ. صحيح البخاري كِتَابُ الْمَغَازِي بَابُ غَزْوَةِ الرَّجِيعِ رقم الحديث ٤٠٨٦ ، و رقم الحديث ٣٠٤٥ كِتَابُ الْجِهَادِ وَالسِّيَرِ بَابٌ: هَلْ يَسْتَأْسِرُ الرَّجُلُ وَمَنْ لَمْ يَسْتَأْسِرْ، وَمَنْ رَكَعَ رَكْعَتَيْنِ عِنْدَ الْقَتْلِ .

Scanned with CamScanner

د حضرت زید بن دَثِنه ﷺ په زړه کې چونکه د پیغمبر علیه السلام سره د خپل ځان نه هم ډیره مینه وه نو په دې خبره آوریدو ډیر غصه شو ، او ډیر عجیبه جواب یې ورکړو :

وَاللهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآنَ فِي مَكَانِهِ الَّذِي هُوَ فِيهِ تُصِيبُهُ شَوْكَةٌ تُؤْذِيهِ وَأَنَا جَالِسٌ فِي أَهْلِيْ .

قسَم په الله ، زما دا هم نه ده خوښه چې زه دې په کور کې ناست یم او نبي علیه السلام چې اوس په کوم ځای کې دی هلته دې د هغوی په خپو کې معمولي غوندې آزغې لاړ شي .

ابو سفیان چې دا خبره واوریده نو وې ویل :

مَا رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ أَحَدًا كَحُبِّ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا .

ما تر اوسه داسې خلق نه دي لیدلي چې د یو چا سره دومره ډیر محبت کوي څومره محبت چې د محمد ( ﷺ ) صحابه د محمد ( صلی الله علیه وسلم ) سره کوي .

( یعنی د نبي علیه السلام صحابه د خپل پیغمبر سره د هر چا نه ډیره مینه کوي ) . (١)

## د نبي علیه السلام په دفاع کې د خپل ځان پرواه نه کول

په غزوه اُحد کې د څه اِجتهادي غلطی په وجه ( چې د نبي علیه السلام د حکم په منلو کې څه کوتاهي شوې وه ) مسلمانانو ته سخت تکلیف اُورسید ، اویا ( ٧٠ ) مسلمانان شهیدان

(١) ... وَأَمَّا زَيْدُ بْنُ الدَّثِنَةِ فَابْتَاعَهُ صَفْوَانُ بْنُ أُمَيَّةَ لِيَقْتُلَهُ بِأَبِيهِ أُمَيَّةَ بْنِ خَلَفٍ . فَبَعَثَهُ مَعَ مَوْلًى لَهُ يُسَمَّى نِسْطَاسَ إِلَى التَّنْعِيمِ لِيَقْتُلَهُ بِأَبِيهِ . وَاجْتَمَعَ مَعَهُ رَهْطٌ مِنْ قُرَيْشٍ فِيهِمْ أَبُوسُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ . فَقَالَ لَهُ أَبُوسُفْيَانَ حِينَ قُدِّمَ لِيُقْتَلَ : أَنْشُدُكَ اللهَ يَا زَيْدُ أَتُحِبُّ أَنَّ مُحَمَّدًا عِنْدَنَا الْآنَ بِمَكَانِكَ نَضْرِبُ عُنُقَهُ وَأَنْتَ فِي أَهْلِكَ ؟ فَقَالَ : وَاللهِ مَا أُحِبُّ أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْآنَ فِي مَكَانِهِ الَّذِي هُوَ فِيهِ تُصِيبُهُ شَوْكَةٌ تُؤْذِيهِ وَأَنَا جَالِسٌ فِي أَهْلِيْ . فَقَالَ أَبُوسُفْيَانَ : مَا رَأَيْتُ مِنَ النَّاسِ أَحَدًا كَحُبِّ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ مُحَمَّدًا . ثُمَّ قَتَلَهُ نِسْطَاسُ . تفسير البغوي سورة البقرة قوله تعالى : وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللهِ . آية ٢٠٧ حديث ٢١٢ . وهكذا ذكر هذه الواقعة في تفسير الخازن سورة البقرة وَإِذَا قِيلَ لَهُ اتَّقِ اللهَ أَخَذَتْهُ الْعِزَّةُ بِالْإِثْمِ فَحَسْبُهُ جَهَنَّمُ وَلَبِئْسَ الْمِهَادُ . آية ٢٠٦ ، سيرة ابن هشام على هامش الروض الانف ج٢ ص ١٦٨ ، ١٦٩ ذكر يوم الرجيع في سنة ثلاث ، وتاريخ الطبري ٢ / ٢١٦ ، كشف الباري كتاب المغازي ص ٢٥٩ .

Scanned with CamScanner

شو ، د پیغمبر علیه السلام غاښونه مبارک په کې شهیدان شو ، سَرِیې زخمي شو ، په مخ مبارک کې یې د اُوسپنې کوندې خَخې شوی ، او کافرانو د هر طرف نه په نبي علیه السلام باندې د تورو او غشو ګوزارونه کول .

صحابه کرام د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دِفاع په خاطر د دوی مخې ته اُودرېدل ، ددې د پاره چې د تورې یا غشي ګوزار په دوی باندې اُو نه لړي ، د هر طرف نه به چې د تورې یا غشي ګوزار راتلو صحابه کرامو به هغه په خپل وجود رامنع کولو ، تر دې پورې چې صرف د نبي علیه السلام د دِفاع په خاطر اووه ( ۷ ) صحابه کرام په مینځ دوه دوه ټوټې شو او شهیدان شو .

حضرت طلحة ﷺ د پیغمبر علیه السلام مخې ته ولاړ ؤ ، هر غشي او ګوزار به په ده لړیدو ، تر دې پورې چې دده په بدن باندې د تورو او غشو اویا ( ۷۰ ) ګوزارونه او زخمونه وو ، او د نبي علیه السلام په دِفاع کې یې د لاس ګوتې کټ شوی . (۱)

په یوه موقع کافرانو په شریکه په نبي علیه السلام حمله وکړه ، پیغمبر علیه السلام وفرمایل : څوک به زما دِفاع وکړي ؟ حضرت زیاد بن سکن ﷺ پنځه ( ۵ ) انصار صحابه کرام د ځان سره ملګري کړل ، او د پیغمبر علیه السلام د دِفاع د پاره وړ وړاندې شو ، او په پوره بهادرۍ سره یې مقابله وکړه ، تر دې پورې چې پنځه واړه شهیدان شو . (۲)

## حضرت عَمرو بن العاص ﷺ چې د عیسایانو نه د نبي علیه السلام په باره کې معمولي د بې اَدبۍ خبره واوریده نو سخت غصه شو

حضرت عَمرو بن العاص ﷺ چې کله د مصر حاکم ؤ نو ده ته یو ځل د عیسایانو د مشرانو یو وفد راغی ، خبرې یې ورسره کولی ، د خبرو په دَوران کې د عیسانانو د خُلې نه معمولي د بې آدبۍ خبره رااُووته ، هغوی لا تر اوسه خبره پوره کړې نه وه چې ده ورته

(۱) سیرت مصطفی لمولانا ادریس کاالدهلوي ج۲ ص ۲۱۰ ، خطبات حضرت شیخ (محمد حسن جان المدني شهید رحمه الله) ص ۱۵۳ .

(۲) سیرت النبي لعلامه شبلي نعماني رحمه الله ج۱ ص ۲۳۸ .

وویل: چُپ ذلیلانو . هغوی یې خاموش کړل ، توره یې راواخیسته او د ډیرې غصې نه یې مخ تک سُور شو ، اِراده یې اوکړه چې د ټولو نه سرونه په توره باندې اُووهي . خو هغوی سمدست معافي اوغوښته او عُذر یې پیش کړو چې زمونږ مقصد دا نه وُ .

بیا ورته حضرت عَمرو بن العاص ﷺ وویل : تاسو سخت بَدتهذیبه او ګستاخ خلق یَی ، زړه مې غواړي چې تاسو ټول قتل کړم ، آیا تاسو ته دا پته نشته چې مونږ د خپل پیغمبر سره څومره مِینه لرو ؟ که چیرته زمونږ اَولاد زمونږ مخې ته ټوټې ټوټې شي یا زمونږ مال ټول لوټ شي یا زمونږ بدن ټوټې ټوټې شي نو دا ټولې خبرې مونږ ته منظور دي خو د خپل پیغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " په شان کې معمولي د سپکاوي خبره اَوریدل مونږ ته ممکن نده ، مونږ خپل کنړیدل برداشت کولې شو خو د نبي علیه السلام په شان کې معمولې نامناسب خبره اَوریدل نه شو برداشت کولی . . . .

( دا اُوږده واقعه ده ، بیا په آخر کې هغه د عیسایانو مشران د حضرت عَمرو بن العاص ﷺ د اخلاقو نه دومره متأثره شو چې هغوی ټولو اِیمان راوړو) . (۱)

## چې چا د نبي علیه السلام په شان کې ګستاخي کړی نو الله تعالی پخپله د هغې دِفاع کړی

په دُنیا کې چې چا هم د محمّدٌ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ګستاخي یا کمې کړی نو الله تعالی پخپله ددې دِفاع کړی ، په قرآن کریم کې ځای په ځای ددې نمونې ذکر دي :

## الله تعالی ابولهب لره تر قیامته پورې ذلیل کړو

په بخاري شریف او مسلم شریف کې دا حدیث ذکر دی چې یوه ورځ رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د صفا غوندۍ ته اُوخت ، او د قریشو خلقو ته یې دا آواز اوکړو :

یَا صَبَاحَاهْ . اې خلقو ! د سهر په وخت د دُښمن د حملې نه خبردار شئ .

ټول قریش راجمع شو ، پوښتنه یې اوکړه : څه خبره ده ؟

(۱) هفت روزه ختم نبوت جولائی ۱۹۹۰ ء . گستاخ رسول کی سزا بزبان مصطفیٰ ص ۱۵ .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل : دا راته اُووايئ چې که چيرته زه تاسو ته دا خبر درکړم چې دُښمن راغلي دی او په تاسو باندې د سهر يا ماښام حمله کوي نو آيا تاسو به زما تصديق اوکړئ؟

ټولو ورته وويل چې آو ( مونږ ستا تصديق کوو ) . نو پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل :

فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ .

زه تاسو د يو سخت عذاب نه يَروم کوم چې په تاسو باندې ( د کُفر او شِرک په وجه ) راتلونکې دی .

ابولهب په دې موقع باندې نبي عليه السلام ته اوويل :

تَبًّا لَكَ، أَلِهٰذَا جَمَعْتَنَا؟

(نَعُوذُبِالله ، ددې ترجمه داده : ) هلاک شې ، آيا تا مونږ ددې د پاره راجمع کړي وو؟

(او د پيغمبر عليه السلام د ويشتلو د پاره يې يو کاڼړې راپورته کړو . چونکه ابولهب د نبي کريم صلى الله عليه وسلم په شان کې ګستاخي اوکړه ) .

نو الله تعالى په قرآن کريم کې سورة اللّهب رانازل کړو :

﴿ تَبَّتْ يَدَآ أَبِي لَهَبٍ وَّتَبَّ ﴾.

هلاک دې شي دواړه لاسونه د ابولهب ، او هلاک هم شو .

(دا مکمل سورة د ابولهب په مذمت باندې لږيدلې دی ) . (١)

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: صَعِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّفَا ذَاتَ يَوْمٍ، فَقَالَ: «يَا صَبَاحَاهْ»، فَاجْتَمَعَتْ إِلَيْهِ قُرَيْشٌ، قَالُوا: مَا لَكَ؟ قَالَ: «أَرَأَيْتُمْ لَوْ أَخْبَرْتُكُمْ أَنَّ العَدُوَّ يُصَبِّحُكُمْ أَوْ يُمَسِّيكُمْ، أَمَا كُنْتُمْ تُصَدِّقُونِي؟» قَالُوا: بَلَى، قَالَ: «فَإِنِّي نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ» فَقَالَ أَبُو لَهَبٍ: تَبًّا لَكَ، أَلِهَذَا جَمَعْتَنَا؟ فَأَنْزَلَ اللهُ: {تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ} [ المسد : ١] . صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ قَوْلِهِ: {إِنْ هُوَ إِلَّا نَذِيرٌ لَكُمْ بَيْنَ يَدَيْ عَذَابٍ شَدِيدٍ} [ سبا آية ٤٦] رقم الحديث ٤٨٠١ و رقم الحديث ٤٩٧١ ، و رقم الحديث ٤٩٧٢ . صحيح مسلم كِتَابُ الْإِيمَانَ بَابٌ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ} [ الشعراء آية ٢١٤] رقم الحديث ٣٥٥(٢٠٨). ←←←←←

**عبرت** : ابولهب د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په شان کې ګستاخي اوکړه نو الله تعالی تر قیامته پورې ذلیله کړو .

## مشرکینِ مکه الله تعالی ذلیل کړل

د سورة الکوثر په شانِ نزول کې مفسّرینو لیکلي چې کله د نبي علیه السلام ځوي قاسم (یا ابراهیم) په ماشوم والي کې وفات شو نو د مکې مشرکانو به پیغمبر علیه السلام ته د اَبتَر پیغور ورکولو .

( اَبتَر هغه چاته وایي چې د هغه نارینه اَولاد نه وي ، په پښتو ژبه کې ورته میرات وایي )

بیا خاصکر عاص بن وائل کافر خو په دې پیغور ورکولو کې ډیر پیش پیش ؤ ، دده د وراندې به چې چا د پیغمبر علیه السلام تذکره اوکړه نو ده به ویل چې :

دا پریږدئ ځکه دا هسې هم اَبتَر (میرات) دی ، کله چې دا وفات شي نو دده نوم و نِشان به ختم شي .

د مکې مشرکانو د حضور صلى الله عليه وسلم په شان کې ګستاخي کوله نو الله تعالی ددې په جواب کې سورة الکوثر نازل کړو ، په دې سورة کې یې پیغمبر علیه السلام ته تسلي ورکړه او په آخر کې یې ورته دا اُوفرمایل :

﴿ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾ .(۱)

---

←←← «يَا صَبَاحَاهْ» . دا کلِمه هغه وخت ویلې شيْ چې کله د سهر په وخت د دُښمن د حملې یَره وي او خلق د هغې د پاره راخبرولې شي .

(يَا صَبَاحَاهْ) : كلمة تقال للإشعار بإغارة العدو لأن الغالب في الإغارة أن تكون وقت الصباح كما يقولها من أصابه شيء مكروه للاستغاثة . تعليق مصطفى البغا على صحيح البخاري

( يَا صَبَاحَاهْ ) : كَلِمَةٌ يَقُولُهَا الْمُسْتَغِيثُ، وَأَصْلُهَا إِذَا صَاحُوا لِلْغَارَةِ ؛ لِأَنَّهُمْ أَكْثَرَ مَا يُغِيرُونَ عِنْدَ الصَّبَاحِ فَكَأَنَّ الْمُسْتَغِيثَ يَقُولُ : قَدْ غَشِيَنَا الْعَدُوُّ، وَقِيلَ: هُوَ نِدَاءُ الْمُقَاتِلِ عِنْدَ الصَّبَاحِ يَعْنِي: قَدْ جَاءَ وَقْتُ الصَّبَاحِ فَتَهَيَّئُوا لِلْقِتَالِ. مرقاة المفاتيح كِتَابُ الْجِهَادِ بَابُ قِسْمَةِ الْغَنَائِمِ وَالْغُلُولِ فِيهَا ج ٦ ص ۲۵۷۲

(۱) الکوثر آیة ۳ .

Scanned with CamScanner

ترجمه : ( اې پیغمبره ! ) بیشکه ستا دښمن به اَبتَر ( بې نوم و بې نِشانه او ذلیله ) وي .(١)

او یقیني ددې کافرانو نوم هیڅوک په اَدب سره نه اَخلي ، د دوی جَرړه ختمه شوه ، او د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نوم مبارک په ټوله دُنیا کې په عزت سره اخیستلې شي ، او دا سلسله به تر قیامته پورې جاري وي .

## د سورة الضحى په نازلیدو سره نبي علیه السلام ته تسلي

مُفسّرینو د سورة الضّحی ډیر شانِ نزول بیان کړي ، او ټول په خپل ځای باندې صحیح دي . یو ځل څو ورځې نبي علیه السلام ته وَحي رانغله نو د مکې مشرکانو پیغمبر علیه السلام ته دا پېغور ورکولو چې :

" الله تعالی دا پریخې دی او دده نه خفه شوې دی "

نو الله ﷻ پیغمبر علیه السلام ته د تسلی او د مشرکانو ذلیله کولو د پاره سورة الضّحی نازل کړو ، په دې سورة کې الله تعالی د قسَم کولو نه پس اوفرمایل :

---

(١) د سورة الکوثر په شان نزول کې علماؤ مختلف قولونه ذکر کړي : قَوْلُهُ تَعَالَىٰ : ( إِنَّ شَانِئَكَ ) عَدُوَّكَ وَمُبْغِضَكَ ( هُوَ الْأَبْتَرُ ) هُوَ الْأَقَلُّ الْأَذَلُّ الْمُنْقَطِعُ دَابِرُهُ . نَزَلَتْ فِي الْعَاصِ بْنِ وَائِلٍ السَّهْمِيِّ . وَذَلِكَ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى الله علیه وسلم یخرج من الْمَسْجِدِ وَهُوَ يَدْخُلُ فَالْتَقَيَا عِنْدَ بَابِ بَنِي سَهْمٍ وَتَحَدَّثَا . وَأُنَاسٌ مِنْ صَنَادِيدِ قُرَيْشٍ جُلُوسٌ فِي المسجد فَلَمَّا دَخَلَ الْعَاصُ قَالُوا لَهُ : من ذا الَّذِي كُنْتَ تَتَحَدَّثُ مَعَهُ ؟ قَالَ ذَلِكَ الْأَبْتَرُ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . وَكَانَ قَدْ تُوُفِّيَ ابْنٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَدِيجَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا .

وَذَكَرَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ عَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ قَالَ : كَانَ الْعَاصُ بْنُ وَائِلٍ إِذَا ذُكِرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ دعوه لنا فَإِنَّهُ رَجُلٌ أَبْتَرُ ، لَا عَقِبَ لَهُ فَإِذَا هَلَكَ انْقَطَعَ ذِكْرُهُ ، فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى هَذِهِ السُّورَةَ .

وَقَالَ عِكْرِمَةُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما : نَزَلَتْ فِي كَعْبِ بْنِ الْأَشْرَفِ وَجَمَاعَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ . وَذَلِكَ أَنَّهُ لما قَدِمَ كَعْبٌ مَكَّةَ قَالَتْ لَهُ قُرَيْشٌ : نَحْنُ أَهْلُ السِّقَايَةِ وَالسِّدَانَةِ ، وَأَنْتَ سَيِّدُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ فَنَحْنُ خَيْرٌ أَمْ هَذَا الصُّنْبُورُ الْمُنْبَتِرُ مِنْ قَوْمِهِ ؟ فَقَالَ : بَلْ أَنْتُمْ خَيْرٌ مِنْهُ ، فَنَزَلَتْ : ﴿ أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ أُوتُوا نَصِيبًا مِنَ الْكِتَابِ يُؤْمِنُونَ بِالْجِبْتِ وَالطَّاغُوتِ ﴾ [النساء : ٥١] الآيَةَ . وَنَزَلَ فِي الَّذِينَ قَالُوا إِنَّهُ أَبْتَرُ . ( إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ) : أَيِ الْمُنْقَطِعُ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ تفسير البغوي (معالم التنزیل في تفسیر القرآن) ج ٥ ص ٣١٦ سورة الکوثر . و تفسیر معارف القرآن .

﴿ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى ﴾ . (١)

ترجمه : (اې پیغمبره !) ته خپل رب نه پرېښې یې او نه درنه خفه شوې دی . (٢)

## عبدالله بن اُبي بن سلول او دده منافقین ملګري الله تعالی ذلیل کړل

مشهور منافق " عبدالله بن اُبي بن سَلول " او دده نور منافقینو ملګرو به د نبي علیه السلام پورې ټوقې کولې نو الله تعالی د دوی د ذلیله کولو د پاره پوره سورة المنافقون نازل کړو ، او په دې سورة کې الله ﷻ د نبي علیه السلام دفاع داسې اوکړه :

﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الْمُنَافِقِينَ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ (٣)

---

(١) الضحی آیة ٣ .

(٢) د سورة الضحی یو څو شان نزوله درته ذکر کوم : جُندُبَ بنَ سُفيَانَ قَالَ اشتَكَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَلَم يَقُم لَيلَتَينِ أَو ثَلَاثًا فَجَاءَتِ امرَأَةٌ فَقَالَت. يَا مُحَمَّدُ ! إِنِّي لَأَرجُو أَن يَكُونَ شَيطَانُكَ قَد تَرَكَكَ لَم أَرَهُ قَرِبَكَ مُنذُ لَيلَتَينِ أَو ثَلَاثٍ. فَأَنزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ وَالضُّحَى ۝ وَاللَّيلِ إِذَا سَجَى ۝ مَا وَدَّعَكَ رَبُّكَ وَمَا قَلَى ﴾

وَقِيلَ: إِنَّ المَرأَةَ الَّتِي قَالَت ذَلِكَ أُمُّ جَمِيلٍ امرَأَةُ أَبِي لَهَبٍ.

وَقَالَ المُفَسِّرُونَ: سَأَلَتِ اليَهُودُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَن ذِي القَرنَينِ وَأَصحَابِ الكَهفِ وَعَنِ الرُّوحِ فَقَالَ: «سَأُخبِرُكُم غَدًا» . وَلَم يَقُل: إِن شَاءَ اللهُ. فَاحتَبَسَ عَنهُ الوَحيُ.

وَقَالَ زَيدُ بنُ أَسلَمَ: كَانَ سَبَبُ احتِبَاسِ جِبرِيلَ علیه السلام عنه كان جروا في بيته. فلما نزل عَاتَبَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَلَى إِبطَائِهِ. فَقَالَ: «إِنَّا لَا نَدخُلُ بَيتًا فِيهِ كَلبٌ أَو صُورَةٌ».

وَاختَلَفُوا فِي مُدَّةِ احتِبَاسِ الوَحيِ عَنهُ. فَقَالَ ابنُ جُرَيجٍ: اِثنَا عَشَرَ يَومًا وَقَالَ ابن عَبَّاسٍ رضي الله عنهما: خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا. وَقَالَ مُقَاتِلٌ: أَربَعُونَ يَومًا.

قال المفسرون: فَقَالَ المُشرِكُونَ: إِنَّ مُحَمَّدًا وَدَّعَهُ رَبُّهُ وَقَلَاهُ. فَأَنزَلَ اللهُ تَعَالَى هَذِهِ السُّورَةَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ: «يَا جِبرِيلُ ! مَا جِئتَ حَتَّى اشتَقتُ إِلَيكَ» . فَقَالَ جِبرِيلُ: «إِنِّي كُنتُ أَشَدَّ شَوقًا إِلَيكَ. وَلَكِنِّي عَبدٌ مَأمُورٌ» . فَأَنزَلَ: ﴿ وَمَا نَتَنَزَّلُ إِلَّا بِأَمرِ رَبِّكَ ﴾ [ مريم آية ٦٤ ] . تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج ٥ ص ٢٦٥ سورة الضحی .

(٣) المنافقون آية ٨ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: او عزت خو صرف د الله، د هغه د رسول، او مؤمنانو د پاره دی، خو منافقان (په دې خبره) نه پوهيږي.

کله چې منافقينو د الله تعالی، د هغه د آيتونو، او د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم پورې توقې کولې، او د دوی په شان کې يې ګستاخي کوله نو الله ﷻ د دوی دا منافقت راښکاره کړو او دوی يې رَسواء کړل.

الله رب العزت نبي عليه السلام ته فرمايي:

﴿ قُلْ اَبِاللهِ وَاٰيٰتِهٖ وَرَسُوْلِهٖ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُوْنَ ۝ لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ﴾.(١)

ترجمه: (اې پيغمبره!) ته دوی ته اُووايه چې آيا تاسو په الله، د هغه په آيتونو، او د هغه د رسول پورې توقې کوئ؟ اوس عُذرونه (بَهانې) مه جوړوئ، تاسو (ظاهري) اِيمان راوړو نه پس کافر شوي يَی.(٢)

بلکه چې کله هم کافرانو په نبي عليه السلام باندې څه اعتراض کړی نو الله تعالی د هغې بهترين جواب ورکړی. په قرآن کريم کې ذکر دي:

﴿ وَلَا يَاْتُوْنَكَ بِمَثَلٍ اِلَّا جِئْنٰكَ بِالْحَقِّ وَاَحْسَنَ تَفْسِيْرًا ﴾.(٣)

ترجمه: او (اې پيغمبره!) چې کله هم دا مشرکين (د دِين د بُطلان د پاره) يو مثال

---

(١) التوبة آية ٦٥، ٦٦.

(٢) قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُوْلُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ ... ﴾. وَسَبَبُ نُزُوْلِ هٰذِهِ الْآيَةِ عَلَى مَا قَالَ الْكَلْبِيُّ وَمُقَاتِلٌ وَقَتَادَةُ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَسِيْرُ فِي غَزْوَةِ تَبُوْكَ وَبَيْنَ يَدَيْهِ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ مِنَ الْمُنَافِقِيْنَ اِثْنَانِ يَسْتَهْزِئَانِ بِالْقُرْآنِ وَالرَّسُوْلِ، وَالثَّالِثُ يَضْحَكُ. قِيْلَ: كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: إِنَّ مُحَمَّدًا يَزْعُمُ أَنَّهُ يَغْلِبُ الرُّوْمَ وَيَفْتَحُ مَدَائِنَهُمْ مَا أَبْعَدَهُ مِنْ ذٰلِكَ.

وَقِيْلَ: كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ: إِنَّ مُحَمَّدًا يَزْعُمُ أَنَّهُ نَزَلَ فِي أَصْحَابِنَا الْمُقِيْمِيْنَ بِالْمَدِيْنَةِ قُرْآنٌ، وَإِنَّمَا هُوَ قَوْلُهُ وَكَلَامُهُ. فَأَطْلَعَ اللهُ نَبِيَّهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ذٰلِكَ فَقَالَ: احْبِسُوْا عَلَيَّ الرَّكْبَ. فَدَعَاهُمْ وَقَالَ لَهُمْ: قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا. فَقَالُوْا: إِنَّمَا كُنَّا نَخُوْضُ وَنَلْعَبُ، أَيْ كُنَّا نَتَحَدَّثُ وَنَخُوْضُ فِي الْكَلَامِ كَمَا يَفْعَلُ الرَّكْبُ لِقَطْعِ الطَّرِيْقِ بِالحديث واللعب. تفسير البغوي ج ٢ ص ٣٦٦ سورة التوبة آية ٦٥.

(٣) الفرقان آية ٣٣.

Scanned with CamScanner

(شبهه) راوړي نو مونږ تا ته د هغې حق جواب او ښه وضاحت راوړو. (۱)

## د نبي ﷺ په شان کې د ګستاخي کوونکو پنځو کافرانو بدترين انجام

په مکه معظمه کې پنځه سرداران وو چې نبي عليه السلام ته به يې ډير ضرر رسول، د پيغمبر عليه السلام او قرآن کريم سپکاوې به يې کولو ، نبي عليه السلام ورته خبرې اوکړې، په يو شواروز ( يعنې څليريشت ګنټو ) کې دننه دننه الله تعالی ټول هلاک کړل.

( هغه پنځه کسان دا وو : عاص بن وائل سهمي ، حارث بن قيس سهمي ، اسود بن مطّلب ، وليد بن مغيره مخزومي ، اسود بن عبديغوث )

عاص بن وائل سهمي غر ته په چکر باندې روان ؤ په لاره کې څه شي اُوچيچل او همله مردار شو.

حارث بن قيس سهمي ماهي اُوخوړ نو داسې تندې راواخيست چې مسلسل يې اُوبه څکلې خو تنده يې نه ختميده ، دومره ډيرې اوبه يې اُوڅکلی چې خېټه يې اُوشليده ، د مرګ په وخت يې ويل :

قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ. زه د محمد (ﷺ) رب قتل کړم.

اسود بن مطّلب ته نبي عليه السلام خبرې اوکړې چې الله تعالی دې دا په سترګو باندې ړوند کړي ، نو حضرت جبريل عليه السلام د هغه په مخ باندې يوه شنه پاڼه وراُوويشته چې په دې سره د هغه سترګې ړندې شوې . د مرګ په وخت ده هم ويل :

قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ. زه د محمد (ﷺ) رب قتل کړم.

وليد بن مغيره مخزومي په لاره تيريدو ، هلته په لاره کې يو کس غشي نمر ته اچولي وو ده په هغې باندې خپه کيښوده ، يو غشي دده په رګ کې ننوت او د هغې نه مړ شو.

اسود بن عبديغوث د کور نه بهر اُوتې ؤ ، په لاره کې ګرمې سوزونکې هوا راګير کړو ،

---

(۱) {وَلَا يَأْتُوْنَكَ} يَا مُحَمَّدُ يَعْنِيْ: هَؤُلَاءِ الْمُشْرِكِيْنَ، {بِمَثَلٍ} يَضْرِبُوْنَهُ فِيْ إِبْطَالِ أَمْرِكَ {إِلَّا جِئْنَاكَ بِالْحَقِّ} يَعْنِيْ بِمَا تَرُدُّ بِهِ مَا جَاءُوْا بِهِ مِنَ الْمَثَلِ وَتُبْطِلُهُ. فَسُمِّيَ مَا يُوْرِدُوْنَ مِنَ الشُّبَهِ مَثَلًا وَسُمِّيَ مَا يَدْفَعُ بِهِ الشُّبَهَ حَقًّا. {وَأَحْسَنَ تَفْسِيْرًا} أَيْ: بَيَانًا وَتَفْصِيْلًا وَ"التَّفْسِيْرُ": تَفْعِيْلٌ، مِنَ الْفَسْرِ، وَهُوَ كَشْفُ مَا قَدْ غُطِّيَ. تفسير البغوي ص ۸۳ سورة الفرقان آية ۳۳.

Scanned with CamScanner

چې په دې سره يې رنګ د حبشيانو په شان تک تور شو ، کور ته راغی نو د خپل کور خلقو نه پيژندلو ، د کور نه يې بهر رااوويست ، دروازه يې ورپسې رابنده کړه ، د دروازې نه بهر يې چغې وهلې او مړ شو ، د مرګ په وخت ده هم ويل :

قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ. زه د محمد (ﷺ) رب قتل کړم.

دا پنځه واړه ګستاخان الله تعالى د يو بل نه په مختلف مرګونو سره هلاک کړل . (١)

---

(١) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسْتَخْفِيًا سِنِيْنَ لَا يُظْهِرُ شَيْئًا مِمَّا أَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ حَتَّى نَزَلَتْ: ﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ﴾ يَعْنِيْ أَظْهِرْ أَمْرَكَ بِمَكَّةَ فَقَدْ أَهْلَكَ اللهُ الْمُسْتَهْزِئِيْنَ بِكَ وَبِالْقُرْآنِ . وَهُمْ خَمْسَةُ رَهْطٍ . فَأَتَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِهٰذِهِ الْآيَةِ قَالَ: فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَاهُمْ أَحْيَاءً بَعْدُ كُلَّهُمْ فَأُهْلِكُوْا فِيْ يَوْمٍ وَاحِدٍ وَلَيْلَةٍ فَمِنْهُمُ الْعَاصُ بْنُ وَائِلٍ السَّهْمِيُّ خَرَجَ يَوْمَهُ ذٰلِكَ فِيْ يَوْمٍ مَطِيْرٍ فَخَرَجَ عَلَى رَاحِلَتِهِ يَسِيْرُ وَابْنٌ لَهُ يَتَنَزَّهُ وَيَتَغَدَّى. فَنَزَلَ شِعْبًا مِنْ تِلْكَ الشِّعَابِ فَلَمَّا وَضَعَ قَدَمَهُ عَلَى الْأَرْضِ قَالَ: لُدِغْتُ . فَطَلَبُوْا فَلَمْ يَجِدُوْا شَيْئًا وَانْتَفَخَتْ رِجْلُهُ حَتَّى صَارَتْ مِثْلَ عُنُقِ الْبَعِيْرِ فَمَاتَ مَكَانَهُ. وَمِنْهُمُ الْحَارِثُ بْنُ قَيْسٍ السَّهْمِيُّ أَكَلَ حُوْتًا مَالِحًا. وَيُقَالُ طَرِيًّا. فَأَصَابَهُ عَلَيْهِ عَطَشٌ فَلَمْ يَزَلْ يَشْرَبُ عَلَيْهِ الْمَاءَ حَتَّى انْقَدَّ عَلَيْهِ بَطْنُهُ فَمَاتَ . وَهُوَ يَقُوْلُ: قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ . وَمِنْهُمُ الْأَسْوَدُ بْنُ الْمُطَّلِبِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الْعُزَّى كَانَ لَهُ ابْنٌ يُقَالُ لَهُ زَمْعَةُ وَأَبَرُّ شَيْءٍ بِهِ وَكَانَ إِذَا خَرَجَ قَالَ: أَسِيْرُ كَذَا وَكَذَا ذَاهِبًا وَأَسِيْرُ مُقْبِلًا كَذَا وَكَذَا فَلَا يَخْرِمُ مَا يَقُوْلُ لِأَبِيْهِ . قَالَ: فَكَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ دَعَا عَلَى الْأَسْوَدِ أَنْ يَعْمَى بَصَرُهُ وَأَنْ يَثْكَلَ وَلَدَهُ قَالَ: فَأَتَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بِوَرَقَةٍ خَضْرَاءَ فَرَمَاهُ بِهَا فَذَهَبَ بَصَرُهُ قَالَ: وَخَرَجَ فِي الْيَوْمِ الَّذِيْ وَاعَدَهُ فِيْهِ ابْنُهُ وَمَعَهُ غُلَامٌ لَهُ فَأَتَاهُ جِبْرِيْلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَهُوَ قَاعِدٌ فِيْ أَصْلِ شَجَرَةٍ فَجَعَلَ يَنْطَحُ بِرَأْسِهِ وَيَضْرِبُ وَجْهَهُ بِالشَّوْكِ فَاسْتَغَاثَ بِغُلَامِهِ فَقَالَ لَهُ غُلَامُهُ: مَا أَرَى أَحَدًا يَصْنَعُ بِكَ شَيْئًا غَيْرَ نَفْسِكَ حَتَّى مَاتَ وَكَانَ يَقُوْلُ: قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ . وَكَانَ يُقَالُ إِنَّهُ بَقِيَ حَتَّى قُتِلَ وَلَدُهُ يَوْمَ بَدْرٍ وَأَثْكَلَهُ ثُمَّ مَاتَ . وَمِنْهُمُ الْوَلِيْدُ بْنُ الْمُغِيْرَةِ الْمَخْزُوْمِيُّ مَرَّ عَلَى النَّبْلِ لِرَجُلٍ مِنْ بَنِيْ خُزَاعَةَ قَدْ رَاشَهَا وَقَدْ جَعَلَهَا فِي الشَّمْسِ فَوَطِئَهَا فَانْكَسَرَتْ فَتَعَلَّقَ بِهِ سَهْمٌ مِنْهَا فَأَصَابَ أَكْحَلَهُ فَقَتَلَهُ . وَمِنْهُمُ الْأَسْوَدُ بْنُ عَبْدِ يَغُوْثَ خَرَجَ مِنْ أَهْلِهِ فَأَصَابَهُ السَّمُوْمُ فَاسْوَدَّ حَتَّى عَادَ حَبَشِيًّا فَأَتَى أَهْلَهُ فَلَمْ يَعْرِفُوْهُ فَأَغْلَقُوْا دُوْنَهُ الْبَابَ حَتَّى مَاتَ وَهُوَ يَقُوْلُ: قَتَلَنِيْ رَبُّ مُحَمَّدٍ . فَقَتَلَهُمُ اللهُ جَمِيْعًا كُلَّ رَجُلٍ بِغَيْرِ قِتْلِ صَاحِبِهِ فَأَظْهَرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَهُ وَأَعْلَنَهُ بِمَكَّةَ . دلائل النبوة لابي نعيم الاصبهاني ج١ ص ٢٧٠ رقم ٢٠٣ اَلْفَصْلُ السَّادِسَ عَشَرَ اَلْفَصْلُ الْعِشْرُوْنَ فِيْ ذِكْرِ مَا دَارَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْمُشْرِكِيْنَ لَمَّا أَظْهَرَ الدَّعْوَةَ. السيرة النبوية لابن هشام ج٢ ص٤٠٨ ، و ٤١٠ . تفسير القرطبي ج١٠ ص ٦١ .

دا واقعه په نورو طریقو سره هم نقل شوې. (١)

## عُتیبه ته د نبي علیه السلام په ګستاخۍ سره سخته سزا ملاؤ شوه

هبار بن اسودَ دا واقعه بیانوي چې یو ځل ابولهب او د هغه ځوي "عُتَیبه" شام ته د تللو اراده اوکړه، ما هم ورسره د تللو اراده اوکړه.

د تللو نه مخکې د ابولهب ځوي "عُتَیبه" ووېل: قسَم په الله، زه محمد (ﷺ) ته ورځم او هغه ته د خپل رب په باره کې تکلیف ورَسوم.

نو عُتَیبه ورغی، د نبي علیه السلام د وړاندې یې د څه آیتونو نه اِنکار اوکړو (او د نبي علیه السلام په شان کې یې ګستاخي اوکړه).

---

(١) عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ قَالَ: خَمْسَةُ نَفَرٍ مِنْ قَوْمِهِ كَانُوا ذَوِي أَسْنَانٍ وَشَرَفٍ فِي قَوْمِهِمْ فَمِنْهُمُ الْأَسْوَدُ بْنُ الْمُطَّلِبِ بْنِ أَسَدٍ أَبُو زَمْعَةَ دَعَا عَلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا كَانَ يَبْلُغُهُ مِنْ أَذَاهُ وَاسْتِهْزَائِهِ فَقَالَ: اَللّٰهُمَّ أَعْمِ بَصَرَهُ وَأَثْكِلْهُ وَلَدَهُ وَالْأَسْوَدُ بْنُ عَبْدِ يَغُوثَ بْنِ وَهْبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ زُهْرَةَ، وَالْوَلِيدُ بْنُ الْمُغِيرَةِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرَةَ بْنِ مَخْزُومٍ، وَالْعَاصُ بْنُ وَائِلِ بْنِ هِشَامِ بْنِ سَعْدِ بْنِ سَهْلٍ، وَالْحَارِثُ بْنُ الطُّلَاطِلَةِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ عَمْرِو بْنِ مَلْكَانَ قَالَ: فَلَمَّا تَمَادَوْا فِي الشَّرِّ وَأَكْثَرُوا بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْإِسْتِهْزَاءَ أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: {فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ إِنَّا كَفَيْنَاكَ الْمُسْتَهْزِئِينَ الَّذِينَ يَجْعَلُونَ مَعَ اللهِ إِلٰهًا آخَرَ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ}.

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ أَنَّ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَطُوفُ بِالْبَيْتِ فَقَامَ وَأَقَامَ رَسُولُ اللهِ إِلَى جَنْبِهِ فَمَرَّ بِهِ الْأَسْوَدُ بْنُ الْمُطَّلِبِ فَرَمَى فِي وَجْهِهِ وَرَقَةً خَضْرَاءَ فَعَمِيَ، وَمَرَّ بِهِ الْأَسْوَدُ بْنُ عَبْدِ يَغُوثَ فَأَشَارَ إِلَى بَطْنِهِ فَاسْتَسْقَى بَطْنُهُ فَمَاتَ مِنْهُ حَبَنًا، وَمَرَّ بِهِ الْوَلِيدُ بْنُ الْمُغِيرَةِ فَأَشَارَ إِلَى جُرْحٍ بِأَسْفَلِ كَعْبِ رِجْلِهِ وَكَانَ أَصَابَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ بِسِنِينَ وَهُوَ يَجُرُّ سَبَلَتَهُ وَذٰلِكَ أَنَّهُ مَرَّ بِرَجُلٍ مِنْ خُزَاعَةَ يَرِيشُ نَبْلًا لَهُ فَتَعَلَّقَ سَهْمٌ مِنْ نَبْلِهِ فِي إِزَارِهِ فَخَدَشَهُ ذٰلِكَ الْخَدْشُ وَلَيْسَ بِشَيْءٍ فَلَمَّا أَشَارَ إِلَيْهِ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ انْتَقَضَ بِهِ ذٰلِكَ الْخَدْشُ فَقَتَلَهُ، وَمَرَّ بِهِ الْعَاصُ بْنُ وَائِلٍ فَأَشَارَ إِلَى أَخْمَصِ رِجْلِهِ فَخَرَجَ عَلَى حِمَارٍ لَهُ يُرِيدُ الطَّائِفَ فَرَبَضَ بِهِ حِمَارُهُ عَلَى شِبْرِقَةٍ فَدَخَلَتْ فِي أَخْمَصِ رِجْلِهِ مِنْهَا شَوْكَةٌ فَقَتَلَتْهُ، وَمَرَّ بِهِ الْحَارِثُ بْنُ الطُّلَاطِلَةِ الْخُزَاعِيُّ فَأَشَارَ إِلَى رَأْسِهِ فَامْتَخَضَ قَيْحًا فَقَتَلَهُ. دلائل النبوة لابی نعيم الاصبهانی ج١ ص٢٦٨ و ص٢٦٩ رقم ٢٠١، و٢٠٢ الفصل السادس عشر الفصل العشرون في ذكر ما دار بينه وبين المشركين لما أظهر الدعوة.

پیغمبر علیه السلام ورته دا ښېرې اوکړی:

اَللّٰهُمَّ ابۡعَثۡ عَلَيۡهِ كَلۡبًا مِّنۡ كِلَابِكَ.

اې الله! په ده باندې د خپلو سپو نه یو سپې رااولیږه (چې دا هلاک کړي).

"عُتَیبه" واپس خپل پلار ابولهب ته راغی، ابولهب ورنه پوښتنه اوکړه: اې بچیه! تا محمد (ﷺ) ته څه وویل: ده ورته وویل:

ما د هغه الله نه انکار اوکړو د کوم چې هغه عبادت کولو.

ابولهب ورنه پوښتنه اوکړه: هغه درته څه وویل: ده ورته وویل: هغه راته دا ښېرې اوکړی: اَللّٰهُمَّ ابۡعَثۡ عَلَيۡهِ كَلۡبًا مِّنۡ كِلَابِكَ.

اې الله! دَه ته د خپلو سپو نه یو سپې رااولیږه (چې دا هلاک کړي).

ابولهب ورته وویل: اې بچیه! قسم په الله، د محمد (ﷺ) ښېرې لږې، اوس ما سره ستا په باره کې یَره ده.

هبار بن اسود وایي چې مونږ ټول شام ته روان شو، په تللو تللو کې داسې یوې علاقې ته اُورسیدو چې هلته ډیر زیات زمري وو، په مونږ باندې شپه راغله، مونږ د یو راهب عبادت خانې ته ورغلو، راهب راته وویل:

اې عرب مسافرو! تاسو دلته ولې ښکته شوی، دا خو د زمرو ځای دی.

ابولهب مونږ ته وویل: اې خلقو! تاسو زما مرتبه پیژنی؟ مونږ ورته وویل: آو.

ابولهب وویل:

إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ دَعَا عَلَى ابْنِيْ دَعْوَةً وَاللّٰهِ مَا آمَنُهَا عَلَيْهِ. فَاجْمَعُوْا مَتَاعَكُمْ إِلَى هٰذِهِ الصَّوْمَعَةِ، ثُمَّ افْرِشُوْا لِابْنِيْ عُتَيْبَةَ ثُمَّ افْرِشُوْا حَوْلَهُ.

بیشکه محمد (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) زما ځوی ته ښېرې کړي، قسم په الله، زه په ده باندې ویریږم، لهذا تاسو ټول خپل اسباب دې عبادت خانې ته راجمع کړئ، ددې د پاسه زما ځوي د پاره بِستره واچوئ، او تاسو ټول ددینه ګیر چاپیره خپلې بِسترې واچوئ.

هبار ابن اسود وایي چې مونږ ټولو خپل آسباب راجمع کړو، اُوچت ځای مو جوړ کړو، بیا مو د هغې د پاسه عُتَیبه له بِستره واچوله، عُتَیبه د هغې د پاسه څملاست، او مونږ ټول

د هغې نه ګير چاپيره څملاستو ، ابولهب هم د مونږ سره ښکته ملاست وُ .
د شپې زمرې راغی ، زمونږ د ټولو مخونه يې بُوئ کړل ، خو هيچا ته يې څه اُو نه ويل ، بيا زمري ټوپ اُووهل او پاس اسباب ته وَر اُوخت ، د عُتيبه مخ يې بُوئ کړو ، بيا وريانډې زمري سخته حمله اوکړه تر دې چې سَر يې ورنه پريکړو ، عُتيبه چغې وهلې ، صرف دا يې وويل چې : زما توره راورئ زمرې دی. نوريې هيڅ اُو نه ويل .
مونږ ټولو وَرټوپ کړل ، خو زمري اُوتختيد . د عُتيبه سَريې مکمل شلولې وُ .
ابولهب ووېل :
قَدْ عَرَفْتُ وَاللهِ مَا كَانَ لِيَنْقَلِبَ مِنْ دَعْوَةِ مُحَمَّدٍ .
قسَم په الله ، ماته معلومه وه چې د محمد (ﷺ) خبرې نه رَد کيږي . (١)

---

(١) عَنْ هَبَّارِ بْنِ الْأَسْوَدِ قَالَ : كَانَ أَبُو لَهَبٍ وَابْنُهُ عُتَيْبَةُ قَدْ تَجَهَّزَا إِلَى الشَّامِ وَتَجَهَّزْتُ مَعَهُمَا. فَقَالَ ابْنُهُ عُتَيْبَةُ: وَاللهِ لَأَنْطَلِقَنَّ إِلَيْهِ فَلَأُوذِيَنَّهُ فِي رَبِّهِ . فَانْطَلَقَ حَتَّى أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ ! هُوَ يَكْفُرُ بِالَّذِي دَنَا فَتَدَلَّى فَكَانَ قَابَ قَوْسَيْنِ أَوْ أَدْنَى . فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اَللّٰهُمَّ ابْعَثْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِنْ كِلَابِكَ . ثُمَّ انْصَرَفَ عَنْهُ فَرَجَعَ إِلَيْهِ فَقَالَ: أَيْ بُنَيَّ ! مَا قُلْتَ لَهُ ؟ قَالَ : كَفَرْتُ بِإِلٰهِهِ الَّذِي يَعْبُدُ . قَالَ : فَمَاذَا قَالَ لَكَ ؟ قَالَ : قَالَ : اَللّٰهُمَّ ابْعَثْ عَلَيْهِ كَلْبًا مِنْ كِلَابِكَ . فَقَالَ: أَيْ بُنَيَّ ، وَاللهِ مَا آمَنُ عَلَيْكَ دَعْوَةَ مُحَمَّدٍ. قَالَ: فَسِرْنَا حَتَّى نَزَلْنَا الشَّرَاةَ وَهِيَ مَأْسَدَةٌ فَنَزَلْنَا إِلَى صَوْمَعَةِ رَاهِبٍ فَقَالَ : يَا مَعْشَرَ الْعَرَبِ ! مَا أَنْزَلَكُمْ هٰذِهِ الْبِلَادَ وَإِنَّهَا مَسْرَحُ الضَّيْغَمِ؟ فَقَالَ لَنَا أَبُو لَهَبٍ: إِنَّكُمْ قَدْ عَرَفْتُمْ حَقِّي ؟ قُلْنَا: أَجَلْ يَا أَبَا لَهَبٍ . فَقَالَ: إِنَّ مُحَمَّدًا قَدْ دَعَا عَلَى ابْنِي دَعْوَةً وَاللهِ مَا آمَنُهَا عَلَيْهِ . فَاجْمَعُوا مَتَاعَكُمْ إِلَى هٰذِهِ الصَّوْمَعَةِ . ثُمَّ افْرِشُوا لِابْنِي عُتَيْبَةَ ثُمَّ افْرِشُوا حَوْلَهُ قَالَ : فَفَعَلْنَا جَمَعْنَا الْمَتَاعَ حَتَّى ارْتَفَعَ ثُمَّ فَرَشْنَا لَهُ عَلَيْهِ . وَفَرَشْنَا حَوْلَهُ فَبِتْنَا نَحْنُ حَوْلَهُ وَأَبُو لَهَبٍ مَعَنَا أَسْفَلَ وَبَاتَ هُوَ فَوْقَ الْمَتَاعِ . فَجَاءَ الْأَسَدُ فَشَمَّ وُجُوهَنَا. فَلَمَّا لَمْ يَجِدْ مَا يُرِيدُ تَقَبَّضَ ثُمَّ وَثَبَ فَإِذَا هُوَ فَوْقَ الْمَتَاعِ فَجَاءَ الْأَسَدُ فَشَمَّ وَجْهَهُ ثُمَّ هَزَمَهُ هَزْمَةً فَفَضَخَ رَأْسَهُ . فَقَالَ : سَيْفِي يَا كَلْبُ لَمْ يَقْدِرْ عَلَيَّ غَيْرَ ذٰلِكَ وَوَثَبْنَا فَانْطَلَقَ الْأَسَدُ وَقَدْ فَضَخَ رَأْسَهُ. فَقَالَ لَهُ أَبُو لَهَبٍ: قَدْ عَرَفْتُ وَاللهِ مَا كَانَ لِيَنْقَلِبَ مِنْ دَعْوَةِ مُحَمَّدٍ . دلائل النبوة لأبي نعيم الأصبهاني ج١ ص٤٥٣ رقم ٣٨٠ . تاريخ دمشق لابن عساكر ج٣٨ ص٣٠٢ عتبة بن عبد العزى أبي لهب .

دا واقعه داسې هم نقل ده : عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: لَمَّا تَلَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ←←←←

حافظ ابن عساکر رحمه الله دا واقعه داسې هم رانقل کړې چې: د ابولهب دوه ځامنو ته نبي عليه السلام دوه لورانې ورکړې وې خو تر اوسه یې واده کړې نه وې، کله چې نبي عليه السلام ته نبوّت ملاؤ شو او سورة اللهب نازل شو نو ابولهب ځامنو ته وویل چې د محمد (ﷺ) لورانو له طلاق ورکړئ، نو دواړو طلاق ورکړو.

بیا عُتَیبه پیغمبر عليه السلام ته راغی او د دوی قمیص یې اُوشلول.

نبي عليه السلام ورته دا خبرې اوکړې:

أَما إِنِّي أَسْأَلُ اللهَ أَنْ يُسَلِّطَ عَلَيْكَ كَلْبَهُ.

زه د الله تعالی نه دا سوال کوم چې په تا باندې خپل سپې مسلّط کړي (او تا هلاک کړي)

بیا عُتَیبه شام ته د تجارت د پاره لاړ، هلته په " زرقاء " مقام کې شپې تیرولو ته بنکته شو، د شپې زمري راغلل او د دوی ګیر چاپیره ګرځیدل، عُتَیبه به مسلسل ویل: هائ، په ما باندې مور بُوره شه قسم په الله دا زمري به ما خوري ځکه محمد (ﷺ) ما ته خبرې کړې دي.

دا د خلقو په مینځ کې پروت ؤ، زمري ورټوپ کړل، دده سر یې اُوچکول او مردار یې کړو. (١)

---

←←← {وَالنَّجْمِ إِذَا هَوَى} [النجم : ١] قَالَ عُتَيْبَةُ بْنُ أَبِي لَهَبٍ: كَفَرْتُ بِرَبِّ النَّجْمِ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: سَلَّطَ اللهُ عَلَيْكَ كَلْبًا مِنْ كِلَابِهِ. قَالَ: فَحَدَّثَنِي مُوسَى بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: خَرَجَ عُتَيْبَةُ مَعَ أَصْحَابِهِ فِي عِيرٍ إِلَى الشَّامِ حَتَّى إِذَا كَانُوا بِالشَّامِ فزأر الْأَسَدُ فَجَعَلَتْ فَرَائِصُهُ تَرْعَدُ فَقِيلَ لَهُ: مِنْ أَيِّ شَيْءٍ تَرْعَدُ؟ فَوَاللهِ مَا نَحْنُ وَأَنْتَ إِلَّا سَوَاءٌ. فَقَالَ: إِنَّ مُحَمَّدًا دَعَا عَلَيَّ. لَا وَاللهِ مَا أَظَلَّتِ السَّمَاءُ عَلَى ذِي لَهْجَةٍ أَصْدَقَ مِنْ مُحَمَّدٍ. ثُمَّ وَضَعُوا الْعَشَاءَ فَلَمْ يُدْخِلْ يَدَهُ فِيهِ ثُمَّ جَاءَ النَّوْمُ فَحَاطُوهُ بِمَتَاعِهِمْ وَوَسَّطُوهُ بَيْنَهُمْ وَنَامُوا فَجَاءَهُمُ الْأَسَدُ يَهْمِسُ يَسْتَنْشِقُ رُءُوسَهُمْ رَجُلًا رَجُلًا حَتَّى انْتَهَى إِلَيْهِ فَضَغَمَهُ ضَغْمَةً كَانَتْ إِيَّاهَا فَفَزِعَ وَهُوَ بِآخِرِ رَمَقٍ وَهُوَ يَقُولُ: أَلَمْ أَقُلْ لَكُمْ إِنَّ مُحَمَّدًا أَصْدَقُ النَّاسِ؟ وَمَاتَ. دلائل النبوة لأبي نعيم الأصبهاني ج١ ص ٤٥٧ رقم ٣٨٣

(١) عن قتادة قال وتزوج أم كلثوم ابنة رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عتيبة بن عبد العزى أبي لهب فلم يبن بها حتى بعث النبي (صلى الله عليه وسلم) وكانت رقية ابنة النبي (صلى الله عليه وسلم) ←←←←

Scanned with CamScanner

## حَکَم بن ابي العاص ته د ګستاخۍ په وجه سزا

حَکَم بن ابي العاص کافر به د نبي عليه السلام په شان کې ګستاخي کوله ، پيغمبر عليه السلام ورته خبرې اوکړې چې :

اې الله ! دا چې په کوم ځای کې ولاړ دی په ده باندې زلزله راوله .

دې خبرو سره سمدست په هغه ځای باندې زلزله راغله په کوم ځای چې حَکَم بن ابي العاص کافر ولاړ وُ . (١)

## د نبي عليه السلام د شهيد کولو سازش کوونکي الله تعالی ذليل مردار کړل

اَرېد بن قَيس او عامر بن طُفيل دواړه مدينې منوّرې ته راغلل ، او د نبي عليه السلام د قتلولو سازش يې جوړ کړې وُ ، خو الله تعالی د نبي عليه السلام حفاظت اوکړو .

کله چې دوی واپس خپلو کورونو ته روان شو نو په لاره کې الله تعالی په اَرېد بن قَيس باندې آسماني تَندر رااُوغورځول او دا يې هلاک کړو .

---

←←← عند أخيه عتبة بن عبد العزى أبي لهب . فلما أنزل الله تعالى " تبت يدا أبي لهب " قال أبو لهب لإبنيه عتيبة وعتبة رأسي من رأسيكما حرام إن لم تطلقا ابنتي محمد . وسأل النبي (صلى الله عليه وسلم) عتبة طلاق رقية وسألته رقية ذلك . فقال له أمه وهي حمالة الحطب : طلقها يا بني فإنها قد صبت . فطلقها وطلق عتيبة أم كلثوم وجاء إلى النبي (صلى الله عليه وسلم) حين فارق أم كلثوم وقال : كفرتُ بدينك وفارقت أبنتك لا تحبني ولا أحبك ثم سطا عليه فشق قميص النبي (صلى الله عليه وسلم) ، وهو خارج نحو الشام تاجرا فقال رسول الله (صلى الله عليه وسلم) أما إني أسأل الله أن يسلط عليك كلبه . فخرج في تجر من قريش حتى نزلوا بمكان من الشام يقال له الزرقاء ليلا فأطاف بهم الأسد تلك الليلة فجعل عتيبة يقول: يا ويل أمي هو والله آكلي كما دعا محمد علي أقاتلي ابن أبي كبشة وهو بمكة وأنا بالشام . فعدا عليه الأسد من بين القوم فأخذ برأسه وضغمه ضغمة فذغه . فتزوج عثمان بن عفان رقية فتوفيت عنده ولم تلد له . تاريخ دمشق لابن عساكر ج ٣٨ ص ٣٠٢ عتبة بن عبد العزى أبي لهب

(١) جَعَلَ الْحَكَمُ بْنُ أَبِي الْعَاصِ يَغْمِزُ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ. «اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ بِهِ وَزَغَ مَكَانَهُ» وَالْوَزَغُ الْإِرْتِعَاشُ . معجم الصحابة ابو الحسين عبد الباقي بن قانع ج ٣ ص ١٩٦ هِنْدُ بْنُ أَبِي هَالَةَ التَّمِيمِيُّ.

عامر بن طفيل په لاره باندې ځانله روان وو ، په لاره کې دده په مرۍ کې د طاعون غټه دانه راأوخته ، د اوښ د پاسه سُور چې مردار شو او ښکته راأوغورځيد .
نو کور ته د رسيدلو نه مخکې دواړه الله تعالى په بَدترين مرګ سره مردار کړل . (١)

---

(١) پوره واقعه داسې ده : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : أَنَّ أَرْبَدَ بْنَ قَيْسِ بْنِ جُزَيِّ بْنِ خَالِدِ بْنِ جَعْفَرِ بْنِ كِلَابٍ، وَعَامِرَ بْنَ الطُّفَيْلِ بْنِ مَالِكٍ، قَدِمَا الْمَدِينَةَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْتَهَيَا إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ جَالِسٌ فَجَلَسَا بَيْنَ يَدَيْهِ، فَقَالَ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ: يَا مُحَمَّدُ! مَا تَجْعَلُ لِي إِنْ أَسْلَمْتُ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَكَ مَا لِلْمُسْلِمِينَ، وَعَلَيْكَ مَا عَلَيْهِمْ » ، قَالَ عَامِرُ بْنُ الطُّفَيْلِ: أَتَجْعَلُ لِيَ الْأَمْرَ إِنْ أَسْلَمْتُ مِنْ بَعْدِكَ؟ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَيْسَ ذَلِكَ لَكَ وَلَا لِقَوْمِكَ، وَلَكِنْ لَكَ أَعِنَّةُ الْخَيْلِ » . قَالَ: أَنَا الْآنَ فِي أَعِنَّةِ خَيْلِ نَجْدٍ، اجْعَلْ لِيَ الْوَبَرَ وَلَكَ الْمَدَرُ، قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا » . فَلَمَّا قَامَ مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَامِرٌ: أَمَا وَاللهِ لَأَمْلَأَنَّهَا عَلَيْكَ خَيْلًا وَرِجَالًا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « يَمْنَعُكَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ » فَلَمَّا خَرَجَ عَامِرٌ وَأَرْبَدُ قَالَ عَامِرٌ: يَا أَرْبَدُ! إِنِّي أَنَا أَشْغَلُ عَنْكَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَدِيثِ فَاضْرِبْهُ بِالسَّيْفِ. فَإِنَّ النَّاسَ إِذَا قَتَلْتَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَزِيدُوا عَلَى أَنْ يَرْضَوْا بِالدِّيَةِ وَيَكْرَهُوا الْحَرْبَ. فَسَنُعْطِيهِمُ الدِّيَةَ. قَالَ أَرْبَدُ: أَفْعَلُ. فَأَقْبَلَا رَاجِعَيْنِ إِلَيْهِ. فَقَالَ عَامِرٌ: يَا مُحَمَّدُ! قُمْ مَعِي أُكَلِّمْكَ . فَقَامَ مَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَلَيَا إِلَى الْجِدَارِ، وَوَقَفَ مَعَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَلِّمُهُ، وَسَلَّ أَرْبَدُ السَّيْفَ. فَلَمَّا وَضَعَ يَدَهُ عَلَى سَيْفِهِ يَبِسَتْ عَلَى قَوَامِ السَّيْفِ، فَلَمْ يَسْتَطِعْ سَلَّ السَّيْفِ. فَأَبْطَأَ أَرْبَدُ عَلَى عَامِرٍ بِالضَّرْبِ، فَالْتَفَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَى أَرْبَدَ وَمَا يَصْنَعُ. فَانْصَرَفَ عَنْهُمَا. فَلَمَّا خَرَجَ عَامِرٌ وَأَرْبَدُ مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا كَانَا بِالْحَرَّةِ حَرَّةِ وَاقِمٍ نَزَلَا. فَخَرَجَ إِلَيْهِمَا سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ وَأُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، فَقَالَا: اشْخَصَا يَا عَدُوَّيِ اللهِ، لَعَنَكُمَا اللهُ. قَالَ عَامِرٌ: مَنْ هَذَا يَا سَعْدُ؟ قَالَ: هَذَا أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ الْكَاتِبُ، قَالَ: فَخَرَجْنَا حَتَّى إِذَا كَانَ بِالرَّقْمِ أَرْسَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أَرْبَدَ صَاعِقَةً فَقَتَلَتْهُ. وَخَرَجَ عَامِرٌ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالْحَرِيمِ ثُمَّ أَرْسَلَ اللهُ عَلَيْهِ قُرْحَةً فَأَخَذَتْهُ فَأَدْرَكَهُ اللَّيْلُ فِي بَيْتِ امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي سَلُولَ. فَجَعَلَ يَمَسُّ قُرْحَتَهُ فِي حَلْقِهِ، وَيَقُولُ: غُدَّةٌ كَغُدَّةِ الْجَمَلِ، فِي بَيْتِ سَلُولِيَّةٍ، يَرْغَبُ أَنْ يَمُوتَ فِي بَيْتِهَا. ثُمَّ رَكِبَ فَرَسَهُ. فَأَحْضَرَهُ حَتَّى مَاتَ عَلَيْهِ رَاجِعًا. فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ فِيهِمَا {اللهُ يَعْلَمُ مَا تَحْمِلُ كُلُّ أُنْثَى وَمَا تَغِيضُ الْأَرْحَامُ} [الرعد: ٨] إِلَى قَوْلِهِ {مَا لَهُمْ مِنْ دُونِهِ مِنْ وَالٍ} [الرعد: ١١] قَالَ: الْمُعَقِّبَاتُ مِنْ أَمْرِ اللهِ يَحْفَظُونَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ثُمَّ ذَكَرَ أَرْبَدَ وَمَا قَتَلَهُ بِهِ، قَالَ: {هُوَ الَّذِي يُرِيكُمُ الْبَرْقَ خَوْفًا وَطَمَعًا} [الرعد: ١٢] إِلَى قَوْلِهِ {وَهُوَ شَدِيدُ الْمِحَالِ} [الرعد: ١٣] . الأحاديث الطوال للطبراني ج١ ص ٢٦٩ حَدِيثُ عَامِرِ بْنِ الطُّفَيْلِ وَأَرْبَدَ بْنِ قَيْسٍ. المعجم الكبير للطبراني رقم ١٠٧٦٠ . تفسير ابن كثير ٢/ ٦٦٦ .

## د نبي علیه السلام د روضې گستاخي کوونکي باندې د الله ﷻ عذاب

د عُمر بن عبد العزیز رَحِمَهُ الله په دَور کې چې کله د مسجدِ نبوي تعمیر کیدلو نو ګلکارانو چې کله د نبي علیه السلام د رَوضې دیوال اُوغورځول نو په دې وخت کې په مسجد نبوي کې نور مسلمانان نه وو صرف د رُوم ګلکارانو په کې کار کولو ، په دې کې یو ګلکار ووېل :

اَلَا اَبُوْلُ عَلٰى قَبْرِ نَبِيِّهِمْ ؟

آیا زه د مسلمانانو د پیغمبر په قبر باندې تَشې متیازې اوکړم ؟

نو ده د نبي علیه السلام په قبر مبارک باندې د تَشو متیازو کولو اِراده اوکړه ، نورو ملګرو ددینه منع کړو خو دا منع نه شو .

کله چې دا وررَوان شو نو ناڅاپه د پورته نه دده په سَر باندې یو غټ کاڼړی رااُوغورځید مازغه یې ټول خواره واره شو .

په دغه ځای کې چې کوم عیسائي ګلکاران وو هغوی چې دا اُولید نو بعضو په کې په هماغه ځای کې اِیمان راوړو .(۱)

## په پټه باندې د نبي علیه السلام روضې مبارکې ته سُرنګ ویستونکي کسان الله تعالی ذلیل کړل

سلطان نورالدین زنګي رحمه الله ډیر زړه وَر بادشاه تېر شوی ، دده د زړه ورتیا د وجې نه د یورپ ډیر بهادران لړزیدل ، دا دعیسایانو سره په صلیبي جنګونو کې مشغول ؤ (د صلیبي جنګونو دَور د ۱۰۹۹ء نه تر ۱۱۸۷ء پورې ؤ) .

دا یو ځل په شام کې ؤ ، یوه شپه ده د تهجدو مونځ اوکړو ، اُوده شو ، په خوب کې یې د

(۱) .... قال: فبينما أولئك العمال يعملون في المسجد إذ خلا لهم المسجد . فقال بعض أولئك العمال من الروم: ألا أبول على قبر نبيهم فتهيأ لذلك فنهاه أصحابه، فلما همّ أن يفعل اقتلع فألقى على رأسه. فانتثر دماغه. فأسلم بعض أولئك النصارى وفاء الوفاء باخبار دار المصطفى ج۲ ص ۹۳ الفصل السادس عشر في زيادة الوليد بن عبد الملك على يد عمر بن عبد العزيز

Scanned with CamScanner

رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ملاقات اوشو ، نبي عليه السلام دوه شين سترګو (د پیشو دسترګو په شان سترګو واله ) کسانو طرفته اشاره اوکړه او سلطان نورالدين ته يې

وويل : نَجِّنِيْ اَلْقِذْنِيْ مِنْ هٰذَيْنِ.

ماته نجات راکړه او ما ددې دوه کسانو نه خلاص کړه .

سلطان نورالدين د يَرې په حالت کې راپاڅيد ، حيران شو ، اَودس يې اوکړو ، نوافل يې اوکړل ، او اُوده شو .

چې څنګه يې سترګې پټې شوی نو هماغه شان خُوب يې بيا اوليد ، راپاڅېد بيا يې اودس اوکړو او نوافل يې اوکړل ، چې اُوده شو نو هماغه شان خوب يې په دريم ځل هم اوليد .

راپاڅېد او وې ويل : اوس ماته د خوب کولو ګنجائش نشته ، په همدغه وخت کې يې خپل وزير جمال الدين اصفهاني رااُوغوښت او ټوله واقعه يې ورته بيان کړه ، وزير ورته وويل : حِصاريږه مه ، بلکه فوراً مديني منورې ته لاړ شه ، چاته دا خوب مه بيانوه ، داسې معلوميږي چې په مدينه منوره کې ضرور څه واقعه راپېښه شوی ، خو ته په تېزئ سره ځان مديني منورې ته اورسوه .

سلطان دځان سره د مجلسِ شورٰی شل (٢٠) کسان او دوه سوه (٢٠٠) سپاهيان روان کړل ، ډير جواهرات ئې هم د ځان سره واخيست ، په شپه او ورځ سفر کولو سره ئې په تېزو اوښانو باندې په شپاړسو (١٦) ورځو کې ځان د شام نه مديني منورې ته اورسول .

په دغه زمانه کې عرب د سلطان نورالدين د آثر لاندې راغلي وو ، د بادشاه په ناڅاپه راتلو سره مديني منورې واله خلق حېران شو ، د مديني اَمير دده نه د ناڅاپه راتلو پوښتنه اوکړه ، بادشاه صرف ده ته ټوله واقعه بيان کړه (چې په خوب کې مې درې پېرې پيغمبر عليه السلام اوليد او راته وې فرمايل : نَجِّنِيْ اَلْقِذْنِيْ مِنْ هٰذَيْنِ )

. د مديني امير بادشاه ته وويل : که ته دا دوه کسان پيژندې شې نو زه به د مديني منورې ټول خلق د اِنعام ورکولو په بَهانه راجمع کړم او هر کس به ستا مخې ته تيريږي او ته به انعام ورکوی .

(ده ورته وويل صحيح ده ) عام اعلان اوشو چې سلطان د ټولې مديني منوّرې خلقو ته

انعام ورکوي ، هر کس دې خامخا راشي ، د بادشاه د لاس نه دې انعام حاصل کړي .
هر کس د انعام په لالچ کې راغی ، چې کوم کس ته به سلطان انعام ورکول نو هغه ته به یې په ډیر ژوَر نظر کتل ، تردې چې د مدینې منورې ټول خلق ختم شو ، خو نبي علیه السلام چې په خوب کې کومو دوه کسان طرفته اشاره کړې وه هغه کسان دده مخې ته رانغلل .
سلطان حېران وُ ، د مدینې منورې د امیر او خلقو نه یې پوښتنه اوکړه چې بل څوک خو د انعام اخیستلو نه پاتې ندی ؟
خادمینو ورته وویل : بادشاه سلامت ! صرف دوه اهل مغرِب (یعنې د رُوم او سیدونکي کسان ) پاتې دي چې هغه ډیر نېکان ، دینداره او عبادت گزاره دي ، په جنّتُ البقیع کې خلقو ته اُوبه ورکوي ، گوشه نشین دي ، د چاسره یې څه تعلقات نشته .
سلطان هغه هم راواغوښت ، چې څنگه ده ته رامخامخ شو نو ده اوپېژندل چې دا هماغه کسان دي کومو ته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم اشاره کړې وه او ما ته یې فرمایلي وُ چې ددې دوه کسانو نه ما ته خلاصې او نجات راکړه .
سلطان د تفتیش نه مخکې دوي ته څه ویل مناسب او نه گڼړل ، مصافحه یې ورسره اوکړه ، په عزت یې کېنول ، بیا سلطان د دوی سره حُجرې ته لاړ ، د دوی په حجره کې په زمکه باندې یو معمولي چټائي غوړېدلې وه ، په چاخته کې یو قرآن کریم او د وعظ او نصیحت څه کتابونه پراته وو ، سلطان نورالدین زنگي رحمه الله ډیر حېران شو ، چې یا الله ! دا څه معامله ده ؟ دلته خو هیڅ شی د خطرې نشته ، مایوسه شو . چې کله راواپس کیدو نو د چیټایي لاندې یو څیز دده په خپې ایخودلو سره اوخوزید ، چې چټائي یې پورته کړه نو یوه تخته وه ، تخته یې چې پورته کړه نو یو لوي سُرنگ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم روضې مبارکې طرفته وهل شوې وُ .
سلطان پوهه شو فورًا یې دواړه اونیول ، دوي نه یې تحقیق اوکړو ، دوي د خپل جرم اقرار اوکړو ، چې مونږ د روم عیسایان یو ، مونږ ته عیسایي بادشاه ډیر مال راکړې دی ، او د ډیرو اِنعاماتو وعده یې راسره کړې ده ، مونږ خپل شکل د حاجیانو په شان جوړ کړې دی ، دلته ددې دپاره راغلي یو چې د نبي علیه السلام جسد مبارک ددې ځای نه اوباسو ، روم ته یې ویسو ، ددې دپاره چې د مسلمانانو دا مرکز او د دوي اتفاق ختم شي ، مونږ چې دلته

راغلو نو خلقو ته مو دا ظاهره کړه چې زمونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مینه ده ، ځان مو ورته دینداره ښکاره کړو ، دوي ته مو وویل :

مونږ د نبي علیه السلام سره د محبت په وجه خپل وطن پریخی او دلته ددې دپاره راغلي یو چې د پیغمبر علیه السلام د قبر مبارک سره نژدې مقیم شو ، د مدینې منورې خلقو چې زمونږ دا ظاهري مینه او دینداري اولیده نو دُهوکه شو ، مونږ ته یې د روضې مبارکې سره متصل حجره راکړه ، مونږ په پټه سره روضې مبارکی طرفته سُرنګ وهل شروع کړو ، ټوله شپه به مو سُرنګ وهل ، سهر وختي به مو د څرمنې په دوه تېلو کې خاوره واچوله ، جنت البقیع طرفته به د فاتحې په بَهانه لاړو ، هلته به مو خاوره ځای په ځای واچوله ، بیا به واپس راغلو ، د ورځې به ددې خوا او شاه قجورو په باغونو او قباء کې ګرځیدو ، خلقو ته به مو اُوبه ورکولی ، د ډېرو کلونو د محنت نه پس نن مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم روضې مبارکی ته رسیدلي وو.

( ویلې شي چې په کومه شپه دا سُرنګ د نبي علیه السلام روضې مبارکې ته رسیدو واله ۇ په دغه شپه باندې سخت باران ، ګرزار ، تندرونه ، طوفان او سخته زلزله راغله چې ددې په وجه خلق په سخته یَره کې مبتلاء شو )

سلطان نورالدین زنګي رحمه الله چې دا واقعه واوریده نو سخت یې اوژړل ، او په همدغه وخت یې د حجرې مخې ته ددې دواړو لعینانو سرونه د تنُ نه جُدا کړل ، بیا یې سجده د شکر اوکړه.

بیا یې د روضی مبارکې نه ګېر چاپیره دومره ډوب خندق اوکنیست چې اُوبه په کې رااُووتی ، بیا یې رصاص (سیسه ) ویلې کړه او د خندق د بیخ نه یې تر دزمکی د سَر پوری دا ټوله فاصله د رصاص نه ډکه کړه ، ددې دپاره چې آئنده څوک بیا داسې کار اونه کړي . (۱)

## د نبي علیه السلام د ګستاخۍ په وجه د میرزا قادیاني او د هغه د ملګرو بَدترین اَنجام

میرزا غلام احمد قادیاني که یو طرف ته د نبوّت دعوٰی کړې وه نو بل طرف ته یې په خپلو

---

(۱) حکمت و نصیحت کے حیرت انگیز واقعات ص ۲۰۰

Scanned with CamScanner

کتابونو کې زمونږ د پیغمبر " محمد رّسولُ الله ﷺ " او د صحابه کرامو ګستاخي هم کړی .

همدارنګې د هغه ملګرو هم د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم ګستاخي کوله نو الله تعالی دوی ټول په دُنیا کې هم رَسواء کړل ، او په آخرت کې خو به یې هسې هم سخته سزا وي .

د عبرت د پاره درته د یو څو قادیانانو آخري انجام ذکر کوم :

**د میرزا قادیاني خطرناک مرګ** : میرزا قادیاني خوراک کولو ، د خوراک په دَوران کې ورباندې اَلټۍ او دَستونه اُولږیده ، لیټرین له لاړ ، د دواړو لارو نه یې ګندګي روانه وه ، آخر په همدې ګندګۍ کې وراُوغورځید او هملته په لیټرین ( ټټۍ ) کې دَننه مردار شو .

**د ظفرالله قادیاني خطرناک مرګ** : د قادیانو په مشرانو کې یو کس ظفر الله هم وُ ، دا هم چې کله مړ کیدو نو د خُلې نه یې ګندګي روانه وه ، او د اُودس ماتي په شان سخته بَدبُوئي ورنه تلله ، نورو قادیانانو ده ته په ورتللو باندې پابندي اُولږوله ، ددې د پاره چې هسې نه خلق دا اُویني او د قادیانیت نه توبه اُوباسي .

ډاکټرانو ډیر کوشش اوکړو چې دده د خُلې ګندګي بنده کړي خو نه بندیده ، په همدې ذِلّت حالت کې مردار شو ، د مرګ نه پس یې هم د خُلې نه ګندګي تلله ، آخر ډاکټرانو ډیر مالوچ دده په مرۍ کې کیښودل چې دا ګندګي راوتل بند شي خو هغه چونکه د الله ﷻ عذاب وُ نو په دې سره هم بنده نه شوه .

**د حکیم نورالدین قادیاني خطرناک مرګ** : حکیم نورالدین د میرزاقادیاني خلیفه وُ ، ټول عُمر یې د قادیاني په حق کې تقریرونه کول ، خو الله تعالی په آخر کې ذلیل کړو :

یوه ورځ دا په آس باندې سُور وُ ، چیرته تللو ، د آس نه رااُوغورځید ، خپه یې ماته او زخمي شوه ، د خپې زخم یې جوړ نه شو ، او مکمل بې کاره شو ، په دې دوران کې یې ښځه د بل چا سره اُوتخیده ، څوان څوي ورله بل قادیاني قتل کړو ، په آخر عُمر کې دده ژبه بنده شوه ، مخ یې مَسخ شو ، او په همدې ذِلّت حالت کې مردار شو .

**د یو قادیاني په قبر کې اور لږیدل** : په ډیره غازي خان آله آباد کلي کې یو قادیانې ماسټر اُوسیدلو ، همیشه به یې د قادیانیت تبلیغ کولو ، او د ختم نبوت نه منکر وُ .

Scanned with CamScanner

کله چې دا مړ شو نو قادیانانو په پټه باندې دا د مسلمانانو په هدیره کې خَخ کړو . کله چې مسلمانان ورباندې خبر شو نو دوی احتجاج اوکړو او حکومت ته یې وویل چې دا د مسلمانانو د مقبرې نه اُوباسئ ، آخر قادیانان مجبور شو ددې ځای نه یې لرې کړو او په بل ځای کې یې دفن کړو ، د دَفن کولو نه پس دهغه په قبر کې سخت اُور اُولږید ، تر د درې ورځو پورې دا اُور لږیدلې وُ ، آخر قبر په دیر دَرز سره اُوشلید او په هغه ځای کې لویه کنده جوړه شوه. خلق د لرې لرې نه د عبرت د پاره راتلل ، او دا یې په خپلو سترګو باندې کتلو .

**د یو قادیاني مړي نه سخته بَدبوئي تلل** : په ضلع ډیره غازي خان تونسه کې یو قادیانې مړ شو ، قادیانانو دا په پټه باندې د مسلمانانو د یو جُمات په صِحن کې خَخ کړو . مسلمانان چې خبر شو نو احتجاج یې اوکړو ، آخر قادیانان مجبور شو دا قبر یې رااُوسپړل چې بل ځای ته یې ویسي ، چې څنګه یې قبر کلاؤ کړو نو سخته بَدبُوئي ورنه راخوَره شوه ، دومره تېزه بَدبُوئي وه چې په هغه ځای کې موجود ټولو خلقو باندې سَرونه اُوګرځیدل .

قادیانانو دا مړې د خپل یو کور په صِحن کې دفن کړو . یو څو ورځې پس په دې کورِ کې داسې بَدبُوئي پیدا شوه چې په هغې کې اُوسیدل مشکل شو ، د هغه کور خلق مجبور شو قبر یې رااُوسپړل چې چیرته لرې یې خَخ کړي ، نو چې څنګه یې قبر کلاؤ کړو داسې تېزه بَدبوئي ورنه راپورته شوه چې په میلونو میلونو لرې خلقو محسوس کړه ، او څو ورځې دا بَدبوئي موجود وه ، په دې عبرت ناکه واقعه لیدلو سره ډیر قادیانان واپس مسلمانان شو .

**په قبر کې د یو قادیاني مړي مخ د قبلې نه اُوړیدل** : په ضلع خوشاب آدهي کوټ کې یو قادیانې اُوسیدو ، نوم یې امام الدین وُ ، هغه د مسلمانانو د یَرې نه په ظاهره باندې د قادیانیت نه توبه اُوویسته ، خو په زړه کې یې هماغه شان د قادیانیت سره مِینه وه ، او پټ منافق وُ ، د مسلمانانو جاسوسي به یې کوله . لیکن مسلمانانو ته دده دا پټ حالت نه وُ معلوم . کله چې دا مړ شو نو مسلمانانو دده جنازه اوکړه ، بیا یې چې کله په قبر کې کیښودو نو یو عالِم قبر ته ورښکته شو او دده مخ یې قبلې طرف ته واړول . ناګهانه په تېزې جَټکې سره دده مخ د قبلې نه بل طرف ته رااُوګرځید .

دې عالِم دا ګمان اوکړو چې کښې دا زما خپې سره اُولږید ځکه یې مخ د قبلې نه راتاؤ شو نو دوباره یې دده مخ قبلې طرف ته واړول . بیا هم په تېزې جَټکې سره دده مخ د قبلې نه

دیخوا راواوړېد .

دا عالِم وایي چې ما په دریم ځل دده مخ قبلې طرف ته واړول خو بیا هم دده مخ سمدست د قبلې نه رااوګرځید .

پس زه پوهه شوم چې دې کس مسلمانانو ته د دُهوکې ورکولو د پاره په ظاهره باندې د قادیانیت نه توبه ویستې وه خو په زړه کې هماغه شان قادیانې وُ ځکه یې مخ د قبلې نه راوړي ، نو ما دا همدغه شان پرېخود .

ددې واقعاتو نه معلومه شوه چې چا د نبي علیه السلام په شان کې ګستاخي کړې نو الله تعالی هغه ذلیل کړې دی . (۱)

## دا حادیثو نه منکِر کافر دی

په دې ځای کې ضِمنًا په دې مسئله هم ځان پوهه کړئ چې څوک احادیث حجت نه ګڼي ، او د احادیثو نه مُنکر وي نو داسړې کافر دی . (۲)

ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث هم وَحي ده (خو دا وَحي خَفي او غیر مَتلو ده ) ، الله تعالی فرمایي :

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾ . (۳)

ترجمه : دا پیغمبر د خپل خواهشِ نفس نه خبرې نه کوي (بلکه) د دوی هره خبره وَحي ده چې په دوی نازلولې شي . لهذا که یو کس عقیدتًا د حقارت په وجه د احادیثو نه اِنکار کوي نو په دې سره دا سړې کافر کیږي . (۴)

---

(۱) ناقابل یقین سچے واقعات ص ۲۲۷ قادیانیوں کا عبرت ناک انجام کے واقعات .

(۲) قال الله تعالی : ﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى . إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى﴾ الایة . وفی الهندیة : مَنْ قَرَأَ حَدِيثًا مِنْ أَحَادِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَجُلٌ: هنه روز خلیشها خوانـد قَالَ: إِنْ أَضَافَ ذَلِكَ إِلَى الْقَارِئِ لَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُنْظَرُ إِنْ كَانَ حَدِيثًا يَتَعَلَّقُ بِالدِّيْنِ وَأَحْكَامِ الشَّرْعِ يَكْفُرُ . الفتاوی الهندیة ج۲ ص ۲۶۶ احکام المرتدین منها ما یتعلق بالانبیاء علیهم الصلاة والسلام ، فتاوی فریدیه ج۱ ص ۱۱۴ .

(۳) النجم آیة ۳ ، ۴ .

(۴) لما فی الهندیة : وَمَنْ أَنْكَرَ الْمُتَوَاتِرَ فَقَدْ كَفَرَ . وَمَنْ أَنْكَرَ الْمَشْهُوْرَ يَكْفُرُ عِنْدَ الْبَعْضِ ←←←←

علماؤ تر دې پورې ليکلي : چې څوک په احاديثو باندې تنقيد کوي او صحاحِ ستهٔ ته جَعلي داستانونه ، يا ګند بَلا وايي نو داسې کس مُلحِد او زنديق دی. او داسې کس چونکه مُنکرِ حديث دی لهذا دده تعظيم او تکريم کول د دِين توهين او د کُفر خوروونکي سره امداد کول دي. لهذا د مسلمان د پاره ددينه ځان ساتل لازمي دي.(۱)

خلاصه دا چې د چا دا عقيده وي چې د احاديثو ټوله ذخيره د اِعتبار قابله او معتبره نه ده نو دا کُفري عقيده ده ، په دې سره دا سړې د اِسلام نه اُوځي.(۲)

## د نبي عليه السلام د سُنتو توهين کول کُفر دی

چې کله په دليل شرعي سره ديو کار متعلق دا معلومه شي چې دا سُنت دی نو بيا دداسې سُنتو توهين کول ، يا اِستهزاء او ټوقې ورپورې کول کُفر دی.(۳)

---

←←← وَقَالَ عِيسَى بْنُ أَبَانَ: يُضَلَّلُ وَلَا يُكَفَّرُ، وَهُوَ الصَّحِيحُ وَمَنْ أَنْكَرَ خَبَرَ الْوَاحِدِ لَا يَكْفُرُ غَيْرَ أَنَّهُ يَأْثَمُ بِتَرْكِ الْقَبُوْلِ هٰكَذَا فِي الظَّهِيْرِيَّةِ. الفتاوى الهندية ج۲ ص ۲٦۵ الباب التاسع احكام المرتدين.

قال العلامة ملا علي القاري رحمه الله : وفى المحيط من قال لفقيه يذكر شيئًا من العلم او يُروى حديثًا صحيحا (اى ثابتًا لاموضوعًا) هذا ليس بشيء .... كفر. شرح الفقه الاكبر ص ۱۷۵ الفصل فى العلم والعلماء. و مثله فى فتاوى دارالعلوم ديوبند ج۱۲ ص ۴۳۰ احكام المرتدين ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۲۱٦.

(۱) فتاوى فريديه ج۱ ص ۱۰۰.

(۲) وفى البزازية على هامش الهندية : إذا استخف بسنة او حديث من احاديثه عليه السلام كفر. وفى الهندية : مَن أنكر المتواتر فقد كفر وَمَنْ أَنْكَرَ الْمُتَوَاتِرَ فَقَدْ كَفَرَ، وَمَنْ أَنْكَرَ الْمَشْهُورَ يَكْفُرُ عِنْدَ الْبَعْضِ، وَقَالَ عِيسَى بْنُ أَبَانَ: يُضَلَّلُ وَلَا يُكَفَّرُ، وَهُوَ الصَّحِيحُ. الهندية ج۲ ص ۲۱۵ ، فتاوى عثمانية لمولانا تقي عثماني دامت بركاتهم العالية ج۱ ص ۷۷ فصل في كلمات الكفر و افعال الكفر.

(۳) لما قال فى الهندية : در روزِ عاشوراء يكے را گويند كه سُرمه درين روز سُنت است؛ او گويد كارِ زنان ومخنثان بود كافر گردد. الفتاوى الهندية ج۲ ص ۲٦۵ الباب التاسع احكام المرتدين

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : بَلْ بِالْمُوَاظَبَةِ عَلَى تَرْكِ سُنَّةٍ اسْتِخْفَافًا بِهَا بِسَبَبِ أَنَّهُ فَعَلَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زِيَادَةً أَوْ اسْتِقْبَاحُهَا كَمَنْ اسْتَقْبَحَ مِنْ آخَرَ جَعْلَ بَعْضِ الْعِمَامَةِ تَحْتَ حَلْقِهِ أَوْ إِحْفَاءَ شَارِبِهِ. رد المحتار ج۴ ص ۲۲۲ باب المرتد ومثله في شرح الفقه الاكبر ص ۱۵۲ استحلال المعصية صغيرة .... كفر ، فتاوى حقانيه ج۱ ص ۱۲٦.

## د نبي ﷺ د احاديثو توهين كوونكي كس بدترين انجام

چا چې د نبي عليه السلام د احاديثو توهين كړى نو الله تعالى هغه ته په دې دُنيا كې هم سخته سزا وركړى. ددې په باره كې درته يو څو واقعات رانقل كوم:

## د أحاديثو د استهزاء په وجه دواړه خپې أوچيدل او شليدل

امام ابوداؤد سجستاني رحمه الله يوه واقعه رانقل كړى چې د احاديثو زده كوونكو طالبانو كې يو طالب دير خواهش پَرسته، بې حَياء، او مُتكبّره وُ، ده د نبي كريم ﷺ دا حديث مبارك واوريد: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ. (١)

بيشكه فرښتې د طالب العلم د پاره خپلې وزرې غوړوي (يعنى دده دوراندې عاجزي او تواضع كوي (٢)) ځكه فرښتې د هغه كار په كولو خوشحاله وي كوم چې دا طالب العلم طلب كوي (يعنى د علم په زده كولو دا فرښتې خوشحاله وي).

نو دې مُتكبّره كس په خپلو څپلو كې ميخونه ټك وهل (اود ميخونو تېره سرونه يې لاندې طرف ته راوست)، او د اِستهزاء په طور يې وويل:

أُرِيدُ أَنْ أَطَأَ أَجْنِحَةَ الْمَلَائِكَةِ.

زه اِراده لرم چې د فرښتو وزرې په دې ميخونو سره پائمال او ماتې كړم.

نو الله تعالى ده ته دا سزا وركړه چې دده په خپو باندې خوَرونكې خطرناكه بيماري أولږيده. (٣)

---

(١) سنن الترمذي رقم الحديث ٣٥٣٥ باب فضل التوبة والاستغفار وما ذكر من رحمة الله بعباده، وحديث ٢٦٨٢، ابوداؤد حديث ١٢٦١، ابن ماجه حدث ٢٢٣، الآداب للبيهقي حديث ٨٦٢، شرح السنّة للبغوي ١/ ٢٧٧.

(٢) لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا: اي تخضع وتتواضع. قرطبي ج ١ ص ٣٣٠..

(٣) وروي عن ابي داؤد السجستاني أنه قال: كان في أصحاب الحديث رجل خليع فسمع حديث النبي صلى الله عليه وسلم: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَتَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ فجعل في نعليه مسامير من حديد، وقال: أُرِيدُ أَنْ أَطَأَ أَجْنِحَةَ الْمَلَائِكَةِ. فأصابته الآكلة في رجليه. نزهة الناظرين فى الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢۴٨ كتاب تلاوة القرآن. ٢۴٩.

Scanned with CamScanner

❁ امام نووي رحمه الله ذکر کړي ، چې یحیٰ ساجي رحمه الله فرمایي : یو ځل مونږ څه ملګري د بَصرې په یوه کوڅه کې د یو لوي مُحدِّث عالِم ملاقات ته تللو ، مونږ په تېزۍ مزل کولو ، د مونږ سره یو بې پَرواه بې دینه کس هم ملګرې وُ ، هغه د اِستهزاء په طور وویل

إِرْفَعُوْا أَرْجُلَكُمْ عَنْ أَجْنِحَةِ الْمَلَائِكَةِ لَاتَكْسِرُوْنَهَا.

تاسو خپل قدمونه د فرښتو د وَزرو نه پورته کړئ ، هسې نه چې د هغوی وزرې ماتې نه کړې.

ګویا ده د پیغمبر علیه السلام ددې حدیث پورې اِستهزاء اوکړه :

نو الله ﷻ ده ته دا سزا ورکړه چې ځای په ځای یې خپې اُوچې شوی ، او را اُوغورځید.(١)

## د حدیث د اِستهزاء په وجه بدترین انجام

علماؤ یوه واقعه رانقل کړې چې یو بِدعتي سړي د نبي کریم ﷺ دا حدیث مبارک واورید چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :

إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟ (٢)

په تاسو کې چې کله یو کس د خوب نه راپاڅي نو هغه دې خپل لاس لوخي ته نه داخلوي ، تر دې پورې چې دې دا لاس اُووینځي ( نو بیا خبر دی د لوخي نه په لاس اُوبه راخیستې شي)

(١) و روی النووي رحمه الله عن ابي يحيٰى الساجي قال : كنّا نمشي في أزقة البصرة الى باب بعض المحدّثين فأسرعنا المشي . وكان معنا رجلٌ ماجن متهم في دينه فقال : إِرْفَعُوْا أَرْجُلَكُمْ عَنْ أَجْنِحَةِ الْمَلَائِكَةِ لَاتَكْسِرُوْنَهَا كالمستهزئ ، فما زال من موضعه حتّى جفت رِجلاه و سقط . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ۲۴۸ كتاب تلاوة القرآن . ۲۴۹ .

(٢) صحيح مسلم بَابُ كَرَاهَةِ غَمْسِ الْمُتَوَضِّئِ وَغَيْرِهِ يَدَهُ الْمَشْكُوكَ فِي نَجَاسَتِهَا فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ غَسْلِهَا ثَلَاثًا رقم الحديث ۲۷۸ .
وفي رواية : إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يُدْخِلْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، فَإِنَّ أَحَدَكُمْ لَا يَدْرِي أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ، أَوْ أَيْنَ كَانَتْ تَطُوفُ يَدُهُ . سنن ابی داؤد بَابُ فِي الرَّجُلِ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ قَبْلَ أَنْ يَغْسِلَهَا رقم الحديث ۱۰۵ .

Scanned with CamScanner

ځکه ده ته دا پته نشته چې دده لاس چيرته شپه تيره کړې ؟

( ځکه اِمکان شته چې دده لاس د ګندګۍ ځای سره لږيدلې وي ، نو که اوس د راپاڅيدو نه پس بغير د وينځلو نه لاس لوښي ته داخل کړي نو اُوبه ورسره ګنده کيږي ) .

دې بِدعتي کس چې دا حديث واوريد نو د اِستهزاء په طور يې د نبي عليه السلام د حديث په مقابله کې وويل :

ماته دا پته وي چې په بِستره کې زما لاس چيرته شپه تيروي .

( چونکه د نبي عليه السلام په حديث کې ذکر دي : فَإِنَّهُ لَا يَدْرِيْ أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟

دا سړی نه پوهيږي چې دده لاس چيرته شپه تيروي ؟ نو دې بدعتي د اِستهزاء په طور وويل : ماته دا پته وي چې د شپې په بِستره کې زما لاس چيرته شپه تيروي ، نو الله ﷻ ده ته داسې سزا ورکړه چې : )

فَأَصْبَحَ وَقَدْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِيْ دُبُرِهِ إِلَى ذِرَاعِهِ . (١)

کله چې سهَر دا سړی راپاڅيد نو خپل لاس يې په دُبره (يعنی شاته حِصه) کې تر څنګل پورې داخل کړې وُ .

## د مسواک د اِستهزاء په وجه بدترين انجام

اِمام نووي رحمه الله په کتاب البستان کې يوه واقعه رانقل کړې چې زمونږ په دې زمانه کې يوه واقعه پېښه شوې ، هغه داچې : يو کس وُ ، هغه به د علماؤ او نيکانو سره سخت بُغض لرل ، او د دوی متعلق يې ډيره بَده عقيده لرله .

خو ددې کس يو ځوي وُ چې ډير نيک انسان وُ ، د علماؤ سره يې ښه تعلق او اِعتقاد لرل .

يوه ورځ ددې بَدبخته سړي دا نيک ځوي د خپل شيخ او اُستاذ ملاقات له تللې وُ ( هغه

(١) وحكي أن بعض المبتدعين سمع قول النبي صلى الله عليه وسلم : إِذَا اسْتَيْقَظَ أَحَدُكُمْ مِنْ نَوْمِهِ، فَلَا يَغْمِسْ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ حَتَّى يَغْسِلَهَا ثَلَاثًا. فَإِنَّهُ لَا يَدْرِيْ أَيْنَ بَاتَتْ يَدُهُ ؟ قال ذلك المبتدع كالمستهزئ : أَنَا أَدْرِيْ أَيْنَ بَاتَتْ يَدِيْ فِي الْفِرَاشِ . فَأَصْبَحَ وَقَدْ أَدْخَلَ يَدَهُ فِيْ دُبُرِهِ إِلَى ذِرَاعِهِ . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٣٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٣٩ .

ورله په تُحفه کې مسواک ورکړو ) ، کله چې دا واپس راغی ، او خپل دې پلار ورسره مسواک اُولید ، نو د اِستهزاء او سپکاوي په طوریې دې ځوي ته وویل :

مَا أَعْطَاکَ شَیْخُکَ ؟ تاته خپل شیخ (او اُستاذ) څه درکړل ؟

ده ورته وویل : مسواک یې راکړو . دې پلار ورنه مسواک واخیست ، او ددې د سپکاوي په خاطر یې دا مسواک په خپله دُبره (یعنی شاته حصه) کې ووهل .

څه لږه موده پس ددې بَدبخته انسان د شاته حصې نه د ماهي په شکل یو څیز راپریوَت (یعنی دده نه پیدا شو) ، هغې څیز دې کس له ټک ورکړو ، ده هغه اُوژل ، فی الحال یا دوه ورځې پس ورپسې دا کس هم وفات شو . الله ﷻ دې مونږ ټول د داسې ذِلت نه اُوساتي . (۱)

همدغه شان واقعه علامه ابن کثیر رحمه الله په خپل کتاب البدایة والنهایة کې هم نقل کړې چې په بصره کې یو کس وُ ، ابوسلام نوم یې وُ ، ډیر بې باکه او بې غیرته سړې وُ ، یو کرَت دده د وړاندې د مسواک فضائل او فوائد بیان شو ، نو ده د ډیرې غصې د وجې قسَم اوکړو چې زه به دا مسواک په خپله دُبره کې وَهم .

دې بَدبخت چې کله دا کار اوکړو نو الله رب العزت ده ته د نبي علیه السلام د یو سُنت عمل یعنی د مسواک د بې حرمتۍ په وجه دا سَزا ورکړه چې تقریبًا نهه میاشتې پس دده په خېټه کې دَرد پیدا شو ، ناڅاپه دده د شا د لارې (یعنی دُبر) نه د مَږې په شان داسې ځنګلي څیز پیدا شو چې څلور یې خپې وی ، یو لویشت او څلور ګوتو په اَندازه یې لکۍ وه ، د ماهي په شان یې سَر وُ ، او مخې ته یې څلور غابښونه راوتي وو .

---

(۱) قال النووي رحمه الله في كتاب البستان بعد أن ذكر هذه الحكايات . ومن هذا المعنى ما وجد في زماننا هذا وتواترت به الأخبار و ثبت عند القضاة أن رجلًا في قرية من بلاد بصرى في أوائل سنة خمس وستين وستمائة كان سيء الاعتقاد في أهل الخير ، وله ابنٌ يحسن الاعتقاد فيهم . فجاء ابنه من عند شيخ له صالح ومعه سواک . فقال له : ما أعطاک شیخک ؟ مستهزئا فقال : هذا السواک . فأخذ منه و أُدخله في دُبره إحتقارًا له . فبقي مدة . ثم ولد ذلک الرجل الذي أدخل السواک في دبره جروا قريب الشبه بالسمكة فقتله ومات الرجل فی الحال او بعد يومين . عافانا الله من بلائه . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الانبياء والصالحين ص ٢٤٨ كتاب تلاوة القرآن . ٢٤٩ .

د پیدا کیدو سره دې ځناور یو څو چغې اوکړې، چې په دې سره ددې کس لور راغله، او هغې دا ځناور مړ کړو . دې کس وویل چې دې ځناور ماله ټک راکړو او دغنه په خېټه کې یې زما کولمې شلولې دي، درې ورځې پس دا کس هم ورپسې مړ شو . ددې واقعې مُشاهده ډیرو خلقو کړې وه . (۱)

## په حدیث کې دشک کوونکي کس بدترین اَنجام

ابن منده اصفهاني رحمه الله چې د علمِ حدیث لوي امام دی او بې شمیره کتابونه یې لیکلي دي ، دې وايي چې زه یو ځل شام کې یو مُحدِث ( د احادیثواستاذ ) ته د علم حاصلولو دپاره لاړم ، کله چې هغه ته ورغلم نو ما اولید چې هغه په خپل مخ باندې یوه پَرده اچولې وه ، او احادیث یې بیانول .

ابن منده رحمه الله وايي چې کله ما دا اولید نو زه حیران شوم چې په دې مخ یې دا پَرده ولې اچولې ده ؟ کله چې هغه د احادیثو دَرس ختم کړو ، او هغه ته پته اولېیده چې ابن منده راغلي دی ، نو زه یې را اوغوښتم ، او راته وې ویل چې اې ابن منده ! تاته پته شته چې ما په دې خپل مخ باندې دا پَرده ولې اچولې ده ؟

ماورته وویل : ماته هیڅ پته نشته . هغه راته وویل : چې یوه ورځ زه د یو مشر استاذ ( شیخ الحدیث ) په درس کې ناست ووم ، هغه د پیغمبر علیه السلام احادیث بیانول ، کله چې هغه دې حدیث ته راأورسیده چې نبي علیه السلام فرمايي :

أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنْ رُكُوعٍ أَوْ سُجُودٍ قَبْلَ الإِمَامِ أَنْ يَجْعَلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ أَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُورَتَهُ صُورَةَ حِمَارٍ . (۲)

کوم کس چې په تاسو کې د اِمام نه مخکې سَر رااوچتوي نو آیا هغه د الله ﷻ نه نه ویریږي چې الله ﷻ دده سَر د خره اوګرځوي ، یا دده صورت په شان د صورت د خره اوګرځوي ؟

(۱) البداية والنهاية ج۳ ص ۲۰۷ ، فضائل مسواک ص ۵۰ ، مثالي فکر أنګيز واقعات و لطائف ص ۷۲ .

(۲) اخرجه البخاري في الاذان باب ۵۳ ، ومسلم في الصلاة حديث ۱۱۵ ، ۱۱٦ ، ۱۱۹ . وابوداود في الصلاة باب ۷۵ ، والترمذي في الجمعة باب ۵٦ ، والنسائي في الامامة باب ۳۸ ، وابن ماجه في الامامة باب ۴۱ الترغيب والترهيب ج۱ ص ۱۹۷ الترهيب من رفع المأموم رأسه قبل الامام في الركوع والسجود .

Scanned with CamScanner

دې مُحدِّث وويل : چې کله ما دا حديث واوريد ، نو زما په زړه کې شک پيدا شو : چې دا څنګه کيدې شي چې د يو انسان سَر د خره اوګرځي ؟
نو چې د شپې اُوده شوم ، او سهر راپاڅيدم نو زما سَر د خره ګرځيدلې و .
د هغې نه روستو ما هيچاته خپل سَر نه دې ښکاره کړې ، اګر چې طالبانو ته احاديث بيانوم خو هر وخت مې په خپل سَر باندې پَرده اچولې وي .
خو اې ابن منده ! ته راته لوي عالِم معلوميږې ، زه تاته قسَم درکوم چې تر څو پورې زه ژوندې يم ته به هيچاته دا حال نه وايې ، او چې کله زه وفات شم نو بيا خلقو ته دا ووايه چې : خبردار ! د احاديثو آوريدو په وخت په ډير آدب کينئ ، او په احاديثو کې هيڅ قِسمه شک و شُبه مه کوئ ( ګني الله ﷻ به ډيره سخته سزا درکړي ) .
ابن منده وايي چې ما ورسره دا کلکه وعده وکړه چې ستا تر ژوند پورې به هيچاته دا حال نه وايم ، نو هغه د خپل مخ نه پرده لرې کړه ، ما اوليد چې لاندې بدن يې د انسانۆ ، او سَر يې د خرهٔ . (۱)

**فايده** : قدرمنو ! تاسو واوريد چې د پيغمبر ﷺ په يو حديث کې يې شک اوکړو نو الله رب العزت ورته په دُنيا کې د عبرت د پاره سزا ورکړه .

# په مؤمن باندې د ټولو نه زيات حق د نبي عليه السلام دی

په مُؤمِن باندې د خپل ځان په نسبت د نبي عليه السلام حق زيات دی .
په قرآن کريم کې هم الله رب العزت دا خبره واضحه کړی چې په مؤمنانو باندې د خپل ځان ، مور او پلار ، او نورو انسانانو په نسبت د ټولو نه زيات حق د رسولُ الله صلی الله عليه وسلم دی .
الله رب العزت فرمايي :
﴿ اَلنَّبِيُّ اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ ﴾ . (۲)

(۱) عبرت الګيز واقعات ص ۱۴۰ .
(۲) الاحزاب آية ٦ .

Scanned with CamScanner

ترجمه: نبي (عليه السلام) په مؤمنانو باندې د دوی د ځانونو نه هم ډير حق لري. (١)

د بخاري شريف حديث دی پيغمبر عليه الصلوة و السلام فرمايي:

مَا مِنْ مُؤْمِنٍ إِلَّا وَ أَنَا أَوْلَى النَّاسِ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، إِقْرَءُوا إِنْ شِئْتُمْ: ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ﴾. (٢)

هر يو مؤمن ته په دُنيا او آخرت دواړو کې زه د ټولو انسانانو نه زيات أولى او أقرب يم، که غواړئ نو ددې تصديق د پاره دا قرآني آيت اولولئ. ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِيْنَ .. ﴾.....

ځکه انسان کله د فائدې کار کوي او کله بيا د نقصان کار هم کوي چې دده د پاره د ضرر او مصيبت سبب اوګرځي، خو د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم تعليمات سراسر دده د پاره نفع مند او فائده مند دي. (٣)

## په ګستاخِ رسول باندې يو سپي حمله اوکړه او مرداريې کړو

د هلاکو خان په دَور کې د منګولو يو سردار عيسائيت قبول کړو، ده ددې د پاره يو غټ پروګرام جوړ کړو او ډير خلق يې راغوښتي وو، په دې موقع باندې يو عيسائي پادري راروان ؤ ده د نبي عليه السلام په شان کې د ګستاخۍ څه خبرې اوکړې، په دې ځای کې يو ښکارۍ سپی هم پروت ؤ، هغه په دې عيسائي باندې حمله اوکړه، خلقو دا سپی لرې کړو او دا عيسائي پادري يې ورنه خلاص کړو.

---

(١) قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَى ﴾ اى اَحَقُّ. فَلَهُ اَنْ يحكُمَ فيهم بما يشاءُ. قال ابنُ عبّاس: إذا دَعَاهُمْ إلى شَيْءٍ، و دَعَتْهُمْ أَنفُسُهم الى شَيْءٍ كانَتْ طاعتُه اولى من طاعةِ أنفسِهم. وهذا صحيح. فإنّ أنفُسَهُمْ تَدعُوهم إلى ما فيه هلاكُهم. والرّسولُ عليه السلام يَدْعُوهُمْ الى ما فيه نَجَاتُهُمْ. تفسير زاد المسير ج٣ ص ٤٤٨. يقول ابن القيم رحمه الله في كلام له عن قوله تعالى: ﴿ اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ ﴾ وهو دليل على أنّ مَنْ لم يكنِ الرّسولُ اولى به من نفسه فليس من المؤمنين. بدائع التفسير الجامع لتفسير ابن القيم ٣ / ٤٢٢، الطريق الى الجنة ص ١٨٩.

(٢) صحيح البخاري كِتَابُ تَفْسِيرِ القُرْآنِ بَابُ { اَلنَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ } [الاحزاب آية ٦] رقم ٤٧٨١.

(٣) معارف القرآن سورة الاحزاب في تفسير آية ٦.

يو کس دې پادري ته ووېل تا چونکه د پيغمبر عليه السلام په شان کې د ګستاخۍ الفاظ ووېل نو ځکه درباندې دې سپي حمله اوکړه .

دې عيسائي پادري ورته ووېل : زه راروان ووم دې سپي په ماباندې ګمان اوکړو چې ګني دا ما وهي نو ځکه يې د خپل ځان بچ کولو د پاره په ما حمله اوکړه .

دې عيسائي پادري دوباره د نبي عليه السلام په شان کې د ګستاخۍ خبرې شروع کړې ، نو دې سپي دوباره رامنډه کړه او ددې عيسائي پادري په مرۍ باندې يې ځله اُولړوله ، په تېزو غاښونو سره يې مسلسل دده مرۍ شلوله تردې چې دا يې مردار کړو .

په دې مجلس کې د منګولو څلويښت زره ( ٤٠٠٠٠ ) کسان ناست وو دوی ټولو په همدې ځای باندې اِيمان راوړو .

سبحان الله ، يو سپي چې د نبي عليه السلام په شان کې د ګستاخۍ خبره واوريده نو سمدستی يې په هغه ګستاخ باندې حمله اوکړه او ځای په ځای يې مردار کړو .

## افسوس . چې د اسلامي ملکونو حاکمان نن د غفلت په خوب اُوده دي

ډېر د افسوس مقام دی چې نن يو ځل بيا کافران ( يهود او نصارٰی ) زمونږ د محبوب پيغمبر خاتمُ النّبيّين محمد رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم په شان کې ګستاخي کوي :

کله د هغوی کارټون جوړوي ، کله د هغوی په شان کې نازيبا الفاظ استعمالوي ، او کله د قرآن کريم بې حُرمتي کوي خو بيا هم د اسلامي ملکونو حاکمان د غفلت په خوب اُوده دي ، او هيڅ اسلامي غيرت په کې نه راپيدا کېږي .

آيا زمونږ اسلامي او ايماني غيرت دومره ختم شوی چې کافران د نبي عليه السلام په شان کې ګستاخي کوي او زمونږ وِينه په جُوش کې نه راځي ؟

بيا ډېره د افسوس خبره داده چې که يو طرف ته د اسلامي ملکونو حاکمان بُزدله شوي خو بل طرف ته بيا بعضې مسلمانان د هماغه کافرانو په شان خپل شکل و صورت جوړوي (يعنې ګيره خَروي ، پينټ پَتلون او ټائي اچوي ، په غم ښادۍ او د ژوند په نورو طريقو کې د همدغه ګستاخانو کافرانو پيروي کوي ، حالانکه د مسلمانانو خپل شکل و صورت او د ژوند تېرولو خپلې اسلامي طريقې شته .

Scanned with CamScanner

نو که مونږ ځان ته يقيني د پيغمبر عليه السلام عاشقان وايو نو په کار ده چې د ژوند په هر اړخ کې د خپل محبوب پيغمبر ، خاتَمُ الانبياء محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم پيروي اوکړو ، او د غير مسلمو د طريقو نه ځان اوساتو .

## د يو اعتراض جواب

مخکې په تفصيل سره دا خبره ذکر شوه چې څوک نبي عليه السلام ته کنځل اوکړي يا د دوی په شان کې گستاخي اوکړي او دا توبه اُو نه باسي نو داسې کس واجبُ القتل دی.

**اعتراض** : اوس که څوک دا اعتراض اوکړي چې يهوديانو خو نبي عليه السلام ته ضرر رسول بلکه خبرې يې ورته کولی " چې د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ په ځای به يې ورته اَلسَّامُ عَلَيْكُمْ ويل " ، همدارنگې نورو منافقينو هم نبي عليه السلام ته ضرر رسول نو بيا ولې پيغمبر عليه السلام دوی قتل نه کړل ؟

**جواب** : ددې اعتراض جواب دادی چې د اسلام په ابتدائي دَور کې نبي عليه السلام ډيره نرمي کوله ددې د پاره چې د خلقو د اسلام سره مِينه پيدا شي ، بيا خاصکر د يهوديانو سختې خبرې يې د همدې مقصد د پاره برداشت کولی ، او صحابه کرامو ته هم نبي عليه السلام دا هدايت کړې وُ چې د خلقو سره نرمي کوئ ، په قرآن کريم کې هم په ابتدائي دَور کې نبي عليه السلام ته د عفوې او دَرگُزر حکم شوې وُ خو چې کله اسلام ته الله تعالی غلبه ورکړه نو بيا به چې چا د نبي عليه السلام يا ديني احکاماتو سپکاوې اوکړو نو د هغه د قتلولو حکم ورته شوې وُ . دغه وجه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د ډيرو گستاخانو يهوديانو د قتلولو حکم اوکړو . او هغوی يې مردار کړل.

او منافقينو ته چې رسولُ الله صلی الله عليه وسلم څه نه ويل نو دا ځکه چې منافقت خو د دوی په زړونو کې پټ وُ او اسلام خو فيصله په ظاهر باندې کوي.

دويم دا چې کله به منافقين اونيول شول نو هغوی به قَسمونه کول چې مونږ خو د نبي عليه السلام په شان کې د گستاخۍ خبره نده کړې.

دريم دا چې نبي عليه السلام د منافقينو په بعضو خبرو باندې صبر ددې د وجې کولو

Scanned with CamScanner

چې کيدې شي دا خلق ددې خپل منافقت نه توبه اُوباسي او صحيح مسلمانان شي، همدغه وجه چې روستو ډيرو منافقانو توبه اُوويسته او ريښتيني مؤمنان شو.

اوس زمونږ د پاره دا حکم دی چې څوک رسول الله صلی الله عليه وسلم ته (نعوذُ باِللهِ) کنځل اوکړي يا د دوی په شان کې ګستاخي اوکړي نو هغه به قتلولې شي.(١)

---

(١) قاضي عياض رحمه الله په " الشفاء " کې دا اعتراض او جواب په پوره تفصيل سره ذکر کړی:

فَإِنْ قُلْتَ: فَلِمَ لَمْ يَقْتُلِ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم اليهودي الذي قال لَهُ: السَّامُ عَلَيْكُمْ وَهَذَا دُعَاءٌ عَلَيْهِ؟، وَلَا قَتَلَ الْآخَرَ الَّذِي قَالَ لَهُ: إِنَّ هَذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا أُرِيدَ بِهَا وَجْهُ اللهِ، وَقَدْ تَأَذَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذَلِكَ، وَقَالَ: «قَدْ أُوذِيَ مُوسَى بِأَكْثَرَ مِنْ هَذَا فَصَبَرَ»؟ وَلَا قَتَلَ الْمُنَافِقِينَ الَّذِينَ كَانُوا يُؤْذُونَهُ فِي أَكْثَرِ الْأَحْيَانِ؟ فَاعْلَمْ وَفَّقَنَا اللهُ وَإِيَّاكَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَوَّلَ الْإِسْلَامِ يَسْتَأْلِفُ عَلَيْهِ النَّاسَ وَيُمِيلُ قلوبهم إليه، ويحبب إليهم الإيمان ويزينه في قلوبهم، ويداريهم ويقول لأصحابه: إنما بعثتم ميسرين ولم تبعثوا منفرين ويقول «يَسِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا». وَيَقُولُ: لَا يَتَحَدَّثُ النَّاسُ أَنَّ مُحَمَّدًا يَقْتُلُ أَصْحَابَهُ. وَكَانَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُدَارِي الْكُفَّارَ وَالْمُنَافِقِينَ وَيُجْمِلُ صُحْبَتَهُمْ، وَيُغْضِي عَنْهُمْ، وَيَحْتَمِلُ مِنْ أَذَاهُمْ، وَيَصْبِرُ عَلَى جَفَائِهِمْ، مَا لَا يَجُوزُ لَنَا الْيَوْمَ الصَّبْرُ لَهُمْ عَلَيْهِ، وَكَانَ يُرْفِقُهُمْ بِالْعَطَاءِ وَالْإِحْسَانِ، وَبِذَلِكَ أَمَرَهُ اللهُ تَعَالَى. فَقَالَ تَعَالَى: «وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلَى خَائِنَةٍ مِنْهُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِنْهُمْ. فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاصْفَحْ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ» سورة المائدة آية ١٥. وَقَالَ تَعَالَى «ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ. فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ» سورة فصلت آية ٣٥. وَذَلِكَ لِحَاجَةِ النَّاسِ لِلتَّأَلُّفِ أَوَّلَ الْإِسْلَامِ، وَجَمْعِ الْكَلِمَةِ عَلَيْهِ.

فَلَمَّا اسْتَقَرَّ وَأَظْهَرَهُ اللهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ قَتَلَ مَنْ قَدَرَ عَلَيْهِ وَاشْتَهَرَ أَمْرُهُ كَفِعْلِهِ بِابْنِ خَطَلٍ وَمَنْ عَهِدَ بِقَتْلِهِ يَوْمَ الْفَتْحِ، وَمَنْ أَمْكَنَهُ قَتْلُهُ غِيلَةً مِنْ يَهُودَ وَغَيْرِهِمْ، أَوْ غَلَبَةً مِمَّنْ لَمْ يَنْظِمْهُ قَبْلُ سِلْكُ صُحْبَتِهِ، وَالْانْخِرَاطِ فِي جُمْلَةِ مُظْهِرِي الْإِيمَانِ بِهِ مِمَّنْ كَانَ يُؤْذِيهِ، كَابْنِ الْأَشْرَفِ وَأَبِي رافع والنضر وعقبة. وكذلك هدر دم جماعة سواهم ككعب بن زهير، وَابْنِ الزِّبَعْرَى، وَغَيْرِهِمَا مِمَّنْ آذَاهُ حَتَّى أَلْقَوْا بِأَيْدِيهِمْ وَلَقُوهُ مُسْلِمِينَ.

وَبَوَاطِنُ الْمُنَافِقِينَ مُسْتَتِرَةٌ وَحُكْمُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الظَّاهِرِ. وَأَكْثَرُ تِلْكَ الْكَلِمَاتِ إِنَّمَا كَانَ يَقُولُهَا الْقَائِلُ مِنْهُمْ خُفْيَةً، وَمَعَ أَمْثَالِهِ وَيَحْلِفُونَ عَلَيْهَا إِذَا نُمِيَتْ وَيُنْكِرُونَهَا، وَيَحْلِفُونَ بِاللهِ مَا قَالُوا وَلَقَدْ قَالُوا كَلِمَةَ الْكُفْرِ. وَكَانَ مَعَ هَذَا يَطْمَعُ فِي فَيْئَتِهِمْ، وَرُجُوعِهِمْ إِلَى الْإِسْلَامِ وَتَوْبَتِهِمْ. فَيَصْبِرُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى هَنَاتِهِمْ وَجَفْوَتِهِمْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ. حَتَّى فَاءَ كَثِيرٌ مِنْهُمْ بَاطِنًا كَمَا فَاءَ ظَاهِرًا ←←←←←

Scanned with CamScanner

## د الله ﷻ په شان کې ګستاخي کوونکې کس کافر او مرتد دی

فقهاؤ ليکلي چې څوک د الله تعالى په ذات او صفاتو کې ، يا د هغه په آوامِرو او نواهيو کې ګستاخانه الفاظ استعمال کړي نو په دې سره دا سړی کافر او مرتد کيږي ، که واده يې کړې وي نو ښځه وريانديې طلاقيږي.

خو که دا کس توبه اُوباسي نو توبه يې قبليږي ، که واده يې کړې وي نو تجديد د نکاح به هم کوي.(١)

## د الله ﷻ په شان کې ګستاخي کوونکي باندې آسماني تندر رااُوغورځيد

حضرت انس ﷺ فرمايي چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم په خپلو صحابهٔ وُ کې يو صحابي د مشرکينو يو سرکشه سردار ته وراُوليږل ، ددې د پاره چې هغه سردار الله ﷻ طرف ته رااُوبلي (او د اسلام دعوت ورکړي).

هغه مشرک دې صحابه ته ووېل :

هٰذَا الْإِلٰهُ الَّذِيْ تَدْعُوْ إِلَيْهِ مِنْ ذَهَبٍ هُوَ أَوْ مِنْ فِضَّةٍ أَوْ مِنْ نُحَاسٍ؟

دې کوم الله طرف ته چې ته بلل کوی آيا دا د سَروزرو دی ، که د سپينو زرو دی او که د

---

←←← وَأَخْلَصَ سِرًّا كَمَا أَظْهَرَ جَهْرًا. وَنَفَعَ اللهُ بَعْدُ بِكَثِيْرٍ مِنْهُمْ. وَقَامَ مِنْهُمْ لِلدِّيْنِ وُزَرَاءُ وَأَعْوَانٌ وحماة وأنصار كما جاءت به الأخبار. وَبِهٰذَا أَجَابَ بَعْضُ أَئِمَّتِنَا رَحِمَهُمُ اللهُ عَنْ هذا السؤال . الشفا بتعريف حقوق المصطفى ج٢ ص ٢٩٦ القسم الرابع في تعرف وُجُوهِ الأَحْكَامِ فِيمَنْ تَنَقَّصَهُ أَوْ سَبَّهُ عَلَيْهِ الصَّلَاة والسلام البَابُ الأَوَّلُ فِي بَيَانِ مَا هُوَ فِي حَقِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَبٌّ أَوْ نقص مِنْ تَعْرِيضٍ أَوْ نَصٍّ الفصل الثالث أسباب عفو النبيّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَعْضِ مَنْ آذاهُ

(١) يَكْفُرُ إِذَا وَصَفَ اللهَ تَعَالَى بِمَا لَا يَلِيْقُ بِهِ ، أَوْ سَخِرَ بِاسْمٍ مِنْ أَسْمَائِهِ. أَوْ بِأَمْرٍ مِنْ أَوَامِرِهِ. أَوْ نُكِرَ وَعْدَهُ وَوَعِيْدَهُ. أَوْ جَعَلَ لَهُ شَرِيْكًا. أَوْ وَلَدًا ، أَوْ زَوْجَةً . أَوْ نَسَبَهُ إِلَى الْجَهْلِ . أَوِ الْعَجْزِ. أَوِ النَّقْصِ . وَيَكْفُرُ بِقَوْلِهِ يَجُوْزُ أَنْ يَفْعَلَ اللهُ تَعَالَى فِعْلًا لَا حِكْمَةَ فِيْهِ . وَيَكْفُرُ إِنِ اعْتَقَدَ أَنَّ اللهَ تَعَالَى يَرْضَى بِالْكُفْرِ كَذَا فِي الْبَحْرِ الرَّائِقِ . الفتاوى الهندية كِتَابُ السِّيَرِ البَابُ التَّاسِعُ فِي أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّيْنَ مطلب فِي مُوجِبَاتُ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ ج ٢ ص ٢٥٨ . البحر الرائق ج ٥ ص ١٢٠ احكام المرتدين . ومثله في خلاصة الفتاوى ج٤ ص ٣٨٣ كتاب الفاظ الكفر الفصل الثاني . فتاوى حقانيه ج ١ ص ١٣٧ كتاب العقائد والايمانيات .

Scanned with CamScanner

تانبي دى ؟ (نَعُوذُ بِاللهِ مِنْ ذَلِكَ)

په دې صحابي باندې دا خبره ډيره بده اُولږيده ، رسولُ الله صلى الله عليه وسلم ته واپس راغى ، او دوى ته يې ددې خبر ورکړو .

نبي عليه السلام ورته اوفرمايل :

اِرْجِعْ إِلَيْهِ . واپس هغه ته ورشه (او الله ﷻ طرف ته يې رااُوبله) .

دا صحابي هغه مشرک ته دوباره ورغى ، او هغه يې الله ﷻ طرف ته رااُوبلل ، هغه مشرک ورته بيا هماغه مخکينى خبره اوکړه .

داصحابي واپس نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغى ، او ددې خبر يې ورکړو ، پيغمبر عليه السلام ورته بيا اوفرمايل :

اِرْجِعْ إِلَيْهِ . واپس هغه ته ورشه (او الله ﷻ طرف ته يې رااُوبله) .

نو دا صحابي ورغى ، هغه يې الله ﷻ طرف ته رااُوبلل ، هغه ورته بيا هم هماغه شان مخکينى خبره اوکړه .

دا صحابي ورنه واپس راروان شو ، دا تر اوسه پورې په لاره کې وُ ، ده ته پته نه وه ، الله تعالى په هغه مشرک باندې آسماني تَندر راګوزار کړو (او هغه يې هلاک کړو) .

کله چې دا صحابي نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغى نو پيغمبر عليه السلام ورته اوفرمايل : إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَهْلَكَ صَاحِبَكَ .

الله تعالى هغه کس هلاک کړو کوم ته چې ته ورغلې وې . (او د الله ﷻ په شان کې يې ګستاخي کوله) .

او په رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې دا آيت نازل شو :

﴿ وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ ﴾ . (١)

ترجمه : او الله تعالى راليږي تَندر ، بيا چاته يې چې اُوغواړي په هغه يې ورغورځوي . (٢)

---

(١) الرعد آية ١٣ .

(٢) عَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه . قَالَ : أَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِهِ إِلَى ←←←←

# د غونډ تقرير خلاصه

د غونډ تقرير خلاصه دا راُووته چې څوک د نبي کريم صلی الله عليه وسلم په شان کې گستاخي اوکړي ، يا ورته کنځل اوکړي نو داسې کس کافر او مرتد دی ، دداسې مرتد سزا داده چې که دا توبه اُو نه باسي نو دا به د اِرتداد په وجه قتلولې شي ، او په دې باندې د ټول امتِ مسلمه د فقهاؤ او علماؤ اتفاق دی .

دداسې مرتد د پاره په قرآن کريم او احاديثو کې سختې سزاگانې ذکر شوي ، په داسې کس باندې په دُنيا او آخرت دواړو کې د الله تعالی لعنت راوريږي .

پيغمبر عليه السلام پخپله د کعب بن اشرف يهودي ، ابورافع يهودي ، ابن خطل او نورو ډيرو گستاخانو د وژلو د پاره صحابه کرام ورليږلي او هغوی يې هملته د اِرتداد په وجه مردار کړي دي .

تر دې چې کومو زَنانهٔ به د نبي عليه السلام په شان کې گستاخي کوله نو صحابه کرامو هغه زَنانه هم قتل کړي .

بلکه يو کس خپل پلار صرف په دې وجه قتل کړې ؤ چې هغه به د پيغمبر عليه السلام په شان کې گستاخي کوله خو نبي عليه السلام دې کس ته هيڅ اُو نه ويل .

همدغه شان يو کس خپله اُمِّ ولده د همدې گستاخی په وجه وژلې وه نو نبي عليه السلام هغه ته هم هيڅ اُو نه ويل .

←←← وَرَأْسٍ مِنْ رُءُوسِ الْمُشْرِكِينَ يَدْعُوهُ إِلَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ . فَقَالَ الْمُشْرِكُ: هَذَا الْإِلَهُ الَّذِي تَدْعُونِي إِلَيْهِ مِنْ ذَهَبٍ هُوَ أَوْ مِنْ فِضَّةٍ أَوْ مِنْ نُحَاسٍ؟ فَتَعَاظَمَ مَقَالَتُهُ فِي صَدْرِ رَسُولِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَجَعَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ: «ارْجِعْ إِلَيْهِ» فَرَجَعَ إِلَيْهِ. فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ. فَرَجَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ: «ارْجِعْ إِلَيْهِ»، فَرَجَعَ إِلَيْهِ. فَقَالَ لَهُ مِثْلَ ذَلِكَ. فَأَنْزَلَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ صَاعِقَةً مِنَ السَّمَاءِ. وَرَسُولُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الطَّرِيقِ لَا يَدْرِي . فَرَجَعَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَهْلَكَ صَاحِبَكَ . وَأُنْزِلَ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: {وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ} [الرعد: ١٣] الآية . اسناده صحيح . دلائل النبوة للبيهقي ج ٦ ص ٢٨٣ . السنن الكبرى للنسائي كِتَابُ التَّفْسِيرِ قَوْلُهُ تَعَالَى: {وَيُرْسِلُ الصَّوَاعِقَ فَيُصِيبُ بِهَا مَنْ يَشَاءُ} [الرعد:] رقم ١١١٩٥ . مسند ابي يعلى رقم ٣٣٤١ . المعجم الاوسط رقم ٢٦٠٢ . السنة لابن ابي عاصم رقم ٦٩٢ .

ابوجهل لره هم دوه کشرانو صحابه کرامو د همدې ګستاخۍ په وجه قتل کړې وُ.
د صحابه کرامو، تابعینو، او تبع تابعینو په نزد هم د ګستاخِ رسول ﷺ سزا قتل وه. بلکه په هره زمانه کې چې چا هم د پیغمبر علیه السلام په شان کې ګستاخي کړې نو د هغه وخت علماؤ او فقهاؤ په اتفاق سره د هغه د قتلولو حکم ورکړی.
او کوم مسلمان چې د نبي علیه السلام سره د محبت په خاطر کوم ګستاخِ رسول وژلی نو الله تعالی داسې مسلمان ته په دُنیا او آخرت دواړو کې عزت ورکړی.
صحابه کرامو به که د چانه د نبي علیه السلام په شان کې معمولي د بې آدبۍ خبره واوریده نو سخت به غصه کیدل تر دې چې د هغه کس د قتلولو اِراده به یې اوکړه.
او که د چا نه به یې د نبي علیه السلام په شان کې د ګستاخۍ خبره واوریده نو بیا خو به یې سمدست دغه ګستاخِ رسول وژلو.
بلکه صحابه کرام رضي الله عنهم د خپل سَر قربانولو ته تیار وو خو د پیغمبر علیه السلام په شان کې یې معمولي د بې آدبۍ خبره نه شوه برداشت کولی.
په دُنیا کې چې چا د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په شان کې ګستاخي کړې نو الله تعالی پخپله د هغې دِفاع کړې:
که ابولهب، یا عُتَیبه، یا مشرکینِ مکه، یا عبدالله بن اُبَيّ بن سلول یا نورو کافرانو د پیغمبر علیه السلام په شان کې ګستاخي کړې نو الله تعالی دوی ته په دُنیا کې هم سخته سزا ورکړې او په آخرت کې به یې هسې هم سخته سزا وي.
همدغه شان میرزا قادیاني او د هغه ملګري هم الله تعالی د نبي علیه السلام د ګستاخۍ په وجه ذلیل کړي.
تر دې چې که چا د نبي علیه السلام د احادیثو او سُنتو سپکاوې کړې نو الله تعالی داسې خلق په دُنیا کې هم ذلیل کړي او په خطرناک مرګ سره یې مردار کړي.
لکه څرنګې چې انسان د پیغمبر علیه السلام په ګستاخۍ سره مرتد او کافر ګرځي نو همدغه شان که څوک د الله ﷻ په ذات، او صفاتو متعلق د ګستاخۍ خبره اوکړي نو په دې سره هم دا انسان مرتد او کافر ګرځي.
لهذا مسلمان ته په کار دي چې پخپله هم د نبي علیه السلام په شان کې د بې آدبۍ خبره

Scanned with CamScanner

اونکړي ، او بل چا ته هم دا اجازه ورنکړي چې د پیغمبر علیه السلام په شان کې د گستاخۍ خبره اوکړي .

## دُعا

الله تعالی دې مونږ ټول د نبي علیه السلام د گستاخۍ او بې آدبۍ نه اُوساتي .

ربِّ کریم دې زمونږ د ټولو په زړونو کې د خپل محبوب پیغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " سره مینه او محبت پیدا کړي .

پروردِگارِ عالَم دې مونږ ټولو ته د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په نقشِ قدم باندې د تللو توفیق او په دې باندې استقامت را نصیب کړي .

آمِیْن یَارَبَّ العَالَمِیْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِیْنَ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ﴾

البقرة آية ۲۵۳.

# نبي علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کې افضل دی

تاليف

آبُوالشَّمْس مولانا نُورُالْهُدٰی عُفِيَ عَنْهُ

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِيْنُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ وَنُؤْمِنُ بِهِ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ . وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَه . وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْکَ لَهُ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَنَبِيَّنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُه .

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ قَالَ اللّٰهُ تَبَارَکَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْآنِ الْمَجِيْدِ وَالْفُرْقَانِ الْحَمِيْدِ :

﴿ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ﴾ (١)

وَ قَالَ تعالى : ﴿ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾ . (٢)

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَنَا قَائِدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَلَا فَخْرَ ، وَ اَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ وَلَا فَخْرَ ، وَاَنَا اَوَّلُ شَافِعٍ وَمُشَفَّعٍ وَلَا فَخْرَ . (٣)

---

(١) البقرة آية ٢٥٣.

(٢) التوبة آية ١٢٨.

(٣) مشكاة المصابيح كتاب الفَضَائِلِ وَالشَّمَائِل بَابُ فَضَائِلِ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ الفَصْلُ الثَّانِي رقم الحديث ٥٧٦٤ (٢٦) . سنن الدارمي بَابُ مَا أُعْطِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْفَضْلِ رقم الحديث ٥٠ . اسناده جيد. المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ١٧٠ ، مجمع الزوائد رقم الحديث ١٣٩٢٤ بابُ عِظم قدره صلى الله عليه وسلم ، كنزالعمال رقم الحديث ٣١٨٨٣ ، ورقم الحديث ٣٢٠٥٥.

وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : اَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ وَلَا فَخْرَ ، وَاَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الْاَرْضُ ، وَاَوَّلُ شَافِعٍ ، وَ اَوَّلُ مُشَفَّعٍ . صحيح ابن حبان كِتَابُ التَّارِيخِ بَابُ بَدْءِ الْخَلْقِ ذِكْرُ الْخَبَرِ الْمُصَرِّحِ بِأَنَّ هَذَا الْقَوْلَ إِنَّمَا زَجَرَ عَنْهُ رقم الحديث ٦٢٣٢ ، إسناده صحيح على شرط الصحيح ، مسند احمد مُسْنَدُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث ١٠٩٨٧ ، سنن ابن ماجه كتاب الزهد بَابُ ذِكْرِ الشَّفَاعَةِ رقم ٤٣٠٨ ، المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ٣٩٩ ، شعب الايمان رقم الحديث ١٣٠٨

وَقَالَ عَلَيْهِ السَّلَامُ .... أَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّيْنَ، وَأَكْرَمُ النَّبِيِّيْنَ عَلَى اللهِ، وَأَحَبُّ الْمَخْلُوقِيْنَ إِلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ... (۱)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِيْمُ .

# نبي عليه السلام په ټولو پیغمبرانو کې افضل دی

زما خوږو قدرمنو او عزت مندو مسلمانانو ورونو ! الله رب العزت د انسانانو د هدایت د پاره پیغمبران رالیږلي، ددې د پاره چې دوی د الله ﷻ پیغام خلقو ته اُورسوي، بیا یې په دې پیغمبرانو کې بعضو ته په بعضو نورو باندې فضیلت ورکړی، زمونږ پیغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " په ټولو انبیاء کرامو کې افضل دی.

په قرآن کریم کې ذکر دي، الله تعالی فرمایي :

﴿ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ اللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ﴾ (۲)

ترجمه : دا (ټول) پیغمران (داسې دي چې) مونږ په دوی کې بعضو ته په بعضو باندې فضیلت ورکړی، ځنې په دوی کې داسې دي چې الله تعالی ورسره خبرې کړي، او چا له یې (نورې) درجې اُوچتې کړي.

## د امام رازي رَحِمَهُ اللهُ قول

امام رازي رَحِمَهُ اللهُ په تفسیر کبیر کې لیکلي : " په دې باندې د اُمت اجماع ده چې بعضې انبیاء کرام د بعضو نه افضل دي، او محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د ټولو انبیاء کرامو نه افضل دی ".

بیا امام رازي رَحِمَهُ اللهُ ددې خبرې د ثبوت د پاره د قرآن کریم او احادیثو نه نورلس (۱۹) دلائل ذکر کړي.

(زه درته د هغه دلائلو خلاصه رانقل کوم :)

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني رقم الحديث ۲۶۷۵، المعجم الاوسط للطبراني رقم الحديث ۶۵۴۰، مجمع الزوائد رقم الحديث ۱۳۹۶۷ بابٌ في فضل اهل البيت رضي الله عنهم.

(۲) البقرة آية ۲۵۳.

Scanned with CamScanner

# اول دليل : نبي عليه السلام رَحْمَةً لِلْعَالَمِيْن دی

اول دليل دا دی چي الله تعالی د نبي عليه السلام په باره کي فرمايي :

﴿ وَمَآ أَرْسَلْنٰكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعٰلَمِيْنَ ﴾ (١)

ترجمه : او مونږ ته د ټولو عالمونو د پاره رحمت ليږلی یې .

نو چي کله نبي عليه السلام د ټولو عالمونو د پاره رحمت دی نو لازمي خبره ده چي د ټولو عالمونو نه به افضل هم وي . (٢)

( ددي خبري څه تفصيل درته بيانوم : )

## د کائناتو هر څيز ته د نبي عليه السلام د رحمت نه فائده رسيدلی

پاس آيت ذکر شو چي نبي عليه السلام د ټولو عالمونو د پاره رحمت دی .

او دا يقيني خبره ده چي د کائناتو هر څيز ته د نبي عليه السلام د رحمت نه فائده رسيدلی :

هغه دا چي مسلمانانو ته هدايت نصيب شوی ، منافقين د قتلولو نه په آمن شوي ، او د کافرانو په عذاب کي تاخير راغلي ؤ ( ځکه کافرانو ته دا معلومه وه چي څوک د پيغمبر عليه السلام تکذيب اوکړي نو په هغه باندي سمدست عذاب راځي خو د نبي عليه السلام په برکت په دغه عذاب کي تاخير راغلي ؤ ) . (٣)

---

(١) الانبياء آية ١٠٧.

(٢) اَلْمَسْأَلَةُ الرَّابِعَةُ: أَجْمَعَتِ الْأُمَّةُ عَلَى أَنَّ بَعْضَ الْأَنْبِيَاءِ أَفْضَلُ مِنْ بَعْضٍ، وَعَلَى أَنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ مِنَ الْكُلِّ. وَيَدُلُّ عَلَيْهِ وُجُوهٌ أَحَدُهَا : قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ [ الانبياء آية ١٠٧ ] فَلَمَّا كَانَ رَحْمَةً لِكُلِّ الْعَالَمِيْنَ لَزِمَ أَنْ يَكُوْنَ أَفْضَلَ مِنْ كُلِّ الْعَالَمِيْنَ . التفسير الكبير ( مفاتيح الغيب ) ج٦ ص ٥٢١ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

(٣) قَالَ اللهُ تعالى : ﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ اي لجميع الخلق للمؤمنين بالهداية . وللمنافقين بالأمان من القتل ، وللكافرين بتأخير العذاب ، ولأنهم عرفوا ما أصاب غيرهم من الأمم المكذبة . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٣١ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾ ، قَالَ ابْنُ زَيْدٍ: يَعْنِي رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِيْنَ خَاصَّةً فَهُوَ رَحْمَةٌ لَهُمْ . وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : هُوَ عَامٌّ فِي حَقِّ مَنْ آمَنَ وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ ، فَمَنْ آمَنَ فَهُوَ رَحْمَةٌ لَهُ فِي الدُّنْيَا ←←←←

Scanned with CamScanner

## حضرت جبریل علیه السلام ته د نبي علیه السلام د رحمت نه فائده

یو ځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم د حضرت جبریل علیه السلام نه پوښتنه اوکړه :

هَلْ أَصَابَكَ مِنْ هَذِهِ الرَّحْمَةِ شَيْءٌ ؟

آیا تاته ( زما ) د دې رحمت نه فائده دررسیدلې ده ؟

حضرت جبریل علیه السلام جواب ورکړو : آو ، زه به مخکې په خپل آخري انجام ( یعنی آخرې خاتمې ) باندې یریدم ( چې زما چیرته د اِبلیس په شان حشر اُونشي ) خو اوس زه ( ستاسو په وجه ) د دینه په اَمن شوم ؛ دا ځکه چې ( تاسو ته د وَحي راوړو په وجه ) الله تعالی زما صفت داسې بیان کړی :

﴿ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ ۝ مُطَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴾ .(١)

ترجمه : ( دا جبرئیل ) د طاقت واله دی ، د عرش واله ( الله ﷻ ) سره د لوی مرتبې خاوند دی ، خبره یې منلې شي ، ( او ) د هغه ځای اَمانتدار دی .

( نو ستاسو د رحمت نه ماته د غه فائده رارسیدلی ) .(٢)

---

وَالْآخِرَةِ، وَمَنْ لَمْ يُؤْمِنْ فَهُوَ رَحْمَةٌ لَهُ فِي الدُّنْيَا بِتَأْخِيرِ الْعَذَابِ عَنْهُمْ وَرَفْعِ الْمَسْخِ وَالْخَسْفِ وَالْإِسْتِئْصَالِ عَنْهُمْ، وَقَدْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّمَا أَنَا رَحْمَةٌ مُهْدَاةٌ " . تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ج٥ ص ٣٥٩ سورة الانبياء في تشريح آية ١٠٧ . ط . دار طيبة للنشر والتوزيع

قوله عز وجل: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ ﴾ يعني: وما بعثناك يا محمد إلا رحمة للعالمين. يعني: نعمة للجن والإنس. ويقال: لِلْعَالَمِينَ أي لجميع الخلق. لأن الناس كانوا ثلاثة أصناف: مؤمن، وكافر، ومنافق. وكان رحمة للمؤمنين، حيث هداهم طريق الجنة، ورحمة للمنافقين، حيث أمنوا القتل، ورحمة للكافرين بتأخير العذاب. تفسير السمرقندي ( بحر العلوم ) ج٢ ص ٤٢٥ .

(١) التكوير آية ٢٠ .

(٢) وحكي أن النبيّ صلّى الله عليه وسلّم قال لجبريل عليه السلام : هَلْ أَصَابَكَ مِنْ هَذِهِ الرَّحْمَةِ شَيْءٌ؟ قال نعم : كنت أخشى العاقبة فأمنت لثناء الله عز وجل عليّ بقوله : ﴿ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ . طَاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴾ . [التكوير آية ٢٠] . نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٣١ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم ←←←←

# د نبي علیه السلام په وفات کیدو سره د یو ځوان په عبادت کې کوشش شروع کول

ثابت بناني رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې یو ځوان وُ ، ډیر ښه لباس به یې اغوستلو او د خوشحالۍ ژوند یې تیرول ، خو کله چې نبي علیه السلام وفات شو نو دې ځوان په عبادت کولو کې ډیر کوشش شروع کړو .

چا دده نه پوښتنه اوکړه : که چیرته تا دومره عبادت د نبي علیه السلام په ژوند کې کړې وی نو د هغوی به په تا باندې سترګې یَخې شوې وی .

ده ورته وویل : مخکې زما د پاره ( د الله ﷻ د عذاب نه د بچ کیدو د پاره ) دوه آمانه وو خو د نبي علیه السلام په وفات کیدو سره یو آمان ختم شو اوس صرف یو آمان پاتې دی ( نو ځکه په عبادت کې ډیر کوشش کوم ) .

هغه دوه آمانه مخکې دا وو : یو د نبي علیه السلام ذات مبارک ، او دویم استغفار ویل . الله تعالی فرمایي :

﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ۚ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُوْنَ ﴾ .(١)

ترجمه : او الله تعالی دوی ته عذاب نه ورکوي تر څو پورې چې ( اې پیغمبره ) تاسو

---

←←←←← وذكر في الخبر: أن النبيّ صلّى الله عليه وسلّم قال لجبريل عليه السلام: يقول الله عز وجل: ﴿ وَما أَرْسَلْناكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعالَمِينَ ﴾ . فهل أصابك من هذه الرحمة ؟ قال: نعم أصابني من هذه الرحمة. أني كنت أخشى عاقبة الأمر. فآمنت بك لثناء أثنى الله تعالى علي بقوله عز وجل: ﴿ ذِي قُوَّةٍ عِنْدَ ذِي الْعَرْشِ مَكِينٍ مُطاعٍ ثَمَّ أَمِينٍ ﴾ [التكوير آية ٢٠] . تفسير السمرقندي ( بحر العلوم ) ج٢ ص ٤٤٥ . نظم الدرر في تناسب الآيات والسور ج٧ ص ٦٦ .

لما نزلت : {وَمَآ أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ} [الأنبياء: ١٠٧] سأل سيدنا رسول الله جبريل عليه السلام: أما لك من هذه الرحمة شيء يا أخي جبريل؟ فقال: نعم. كنت أخشى سوء العاقبة كإبليس. فلما أنزل الله عليك قوله: {ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي العرش مَكِينٍ} [ التكوير: ٢٠ ] أمنتُ العاقبة. فتلك هي الرحمة التي نالتني . تفسير الشعراوي محمد متولي الشعراوي ج١٧ ص١٠٦٨٣ الشعراء في تفسير آية ١٩٢ .

(١) الانفال آية ٣٣ .

Scanned with CamScanner

په دوی کې موجود یې، او الله تعالی دوی ته عذاب نه ورکوي چې تر څو پورې دوی استغفار وايي.

دې ځوان وویل: اوس خو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شوې دی نو (د الله ﷻ د عذاب نه) صرف یو آمان پاتې دی چې هغه استغفار ویل (او په عبادت کې ډیر کوشش کول) دي.(١)

بعضې علماؤ لیکلي چې تر څو پورې رسول الله صلی الله علیه وسلم ژوندې وُ نو د دوی په برکت په دې اُمت باندې عذاب نه راتلو، نو د دوی ذات مبارک ددې اُمت د پاره لوی آمان وُ، همدغه شان چې کله د نبي علیه السلام سُنت ژوندي وي نو دا هم آمان دی، په دې اُمت باندې به مجموعي عذاب نه راځي، خو چې کله د پیغمبر علیه السلام په سُنتو باندې عمل پریخودې شي نو بیا به په دې اُمت کې فِتنې، اِختلافات او بِدعات پیدا کیږي.(٢)

ددې اول دلیل خلاصه دا راأووته چې نبي علیه السلام د ټول عالَم د پاره رحمت دی، او د کائناتو هر څیز ته د نبي علیه السلام د رحمت نه فائده رسیدلې. نو لازمي خبره ده چې پیغمبر علیه السلام به په ټولو عالَمونو کې افضل هم وي.

## دویم دلیل: الله تعالی د نبي علیه السلام نوم اُوچت کړی

د نبي علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کې د افضل کیدو دویم دلیل دا دی چې الله تعالی

---

(١) قال ثابت البناني رَحِمَهُ اللهُ: كان شاب على عهد رسولُ الله صلى الله عليه وسلم يلبس ويتزين. فلما مات النبي صلى الله عليه وسلم اجتهد الشاب وشمر في العبادة. فقيل له: لوفعلت هذا في حياة رسولُ الله صلى الله عليه وسلم لقرت عيناه بك. فقال: كان لي أمانان فمضى أحدهما فلم يبق إلا الآخر قال الله تعالى: ﴿ وَمَا كَانَ اللهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنتَ فِيهِمْ وَمَا كَانَ اللهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴾. وقد مات رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلم يبق إلا الإستغفار والإجتهاد. نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٣١ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم

(٢) وقال بعضهم: الرسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هو الأمان الأعظم ما عاش. وما دامت سنته باقية فهو باق. فإذا أميتت سنته فانتظروا البلاء والفتن. نزهة الناظرين في الاخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٣١ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم

Scanned with CamScanner

نبي کريم ﷺ ته فرمايي :

﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ . (١)

ترجمه : او مونږ ستا ذِکر ( نوم ) اُوچت کړو .

همدارنګې الله تعالى د محمد صلى الله عليه وسلم نوم د خپل نوم سره په کلِمه شهادت، آذان ، او تشهّد کې يو ځای ذکر کړی. نورو انبياء کرامو ته دا فضيلت حاصل نه دی . (٢)

## دريم دليل : الله جل جلاله د نبي عليه السلام اطاعت د خپل اِطاعت سره پيوست کړی

دريم دليل دادی چې الله تعالى د نبي عليه السلام اِطاعت د خپل اِطاعت سره پيوست کړی . فرمايي :

---

(١) الانشراح آية ٤ .

(٢) اَلْحُجَّةُ الثَّانِيَةُ: قَوْلُهُ تَعَالَى: ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ فَقِيلَ فِيهِ لِأَنَّهُ قَرَنَ ذِكْرَ مُحَمَّدٍ بِذِكْرِهِ فِي كَلِمَةِ الشَّهَادَةِ وَفِي الْأَذَانِ وَفِي التَّشَهُّدِ وَلَمْ يَكُنْ ذِكْرُ سَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ كَذَلِكَ . التفسير الكبير ( مفاتيح الغيب ) ج٦ ص ٥٢١ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣ .

{ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ } بِأَنْ تُذْكَرَ مَعَ ذِكْرِي فِي الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ وَالتَّشَهُّدِ وَالْخُطْبَةِ وَغَيْرِهَا . تفسير الجلالين

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ قال: قال الله تعالى: « إِذَا ذُكِرْتُ ذُكِرْتَ مَعِي » . وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ: ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ إِذَا ذُكِرْتُ ذُكِرْتَ. وَقَالَ عَطَاءٌ رَحِمَهُ اللهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : يُرِيدُ الْأَذَانَ وَالْإِقَامَةَ وَالتَّشَهُّدَ وَالْخُطْبَةَ عَلَى الْمَنَابِرِ . وَلَوْ أَنَّ عَبْدًا عَبَدَ اللهَ وَصَدَّقَهُ فِي كُلِّ شَيْءٍ وَلَمْ يَشْهَدْ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ لَمْ يَنْتَفِعْ بِشَيْءٍ، وَكَانَ كَافِرًا. وَقَالَ قَتَادَةُ رَحِمَهُ اللهُ : رَفَعَ اللهُ ذِكْرَهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. فَلَيْسَ خَطِيبٌ وَلَا مُتَشَهِّدٌ وَلَا صَاحِبُ صَلَاةٍ إِلَّا يُنَادِي: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ إِلَّا بِهِ وَلَا تَجُوزُ خُطْبَةٌ إِلَّا بِهِ. وَقَالَ مجاهد: يَعْنِي بِالتَّأْذِينِ. وَفِيهِ يَقُولُ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ رضي الله عنه :

وَضَمَّ الْإِلَهُ اسْمَ النَّبِيِّ مَعَ اسْمِهِ ✿ إِذَا قَالَ فِي الْخَمْسِ الْمُؤَذِّنُ أَشْهَدُ

وَشَقَّ لَهُ مِنِ اسْمِهِ لِيُجِلَّهُ ✿ فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُودٌ وَهَذَا مُحَمَّدُ

تفسير البغوي ( معالم التنزيل في تفسير القرآن ) ج٥ ص ٢٧٣ سورة الشرح آية ٣ .

Scanned with CamScanner

﴿ مَنۡ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ اللّٰهَ ﴾.(١)

ترجمه: څوک چې د پيغمبر (عليه السلام) اِطاعت اوكړي (يعنى د هغه خبره اُومني) نو بيشكه ده د الله تعالى اِطاعت اوكړو.

او الله تعالى د نبي عليه السلام بيعت د خپل بيعت سره پيوست كړى. فرمايي:

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللّٰهَ يَدُ اللّٰهِ فَوۡقَ أَيۡدِيهِمۡ ﴾.(٢)

ترجمه: بيشكه كوم خلق چې د تاسره بيعت كوي نو دوى په حقيقت كې د الله تعالى سره بيعت كوي، د الله تعالى لاس د دوى د لاسونو د پاسه دى.

او الله تعالى د نبي عليه السلام عزت د خپل عزت سره يو ځاى ذكر كړى، فرمايي:

﴿ وَلِلّٰهِ الۡعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ وَلَٰكِنَّ الۡمُنَافِقِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ﴾.(٣)

ترجمه: او عزت خو صرف د الله تعالى، د هغه د رسول، او مؤمنانو د پاره دى، ليكن منافقان نه پوهيږي.

او الله تعالى د نبي عليه السلام رضا د خپلې رضا سره مقارن كړى. فرمايي:

﴿ وَاللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَنۡ يُرۡضُوهُ ﴾.(٤)

ترجمه: او الله او رسول زيات حقدار دي چې دوى يې راضي كړي.

او الله تعالى د نبي عليه السلام حكم منل د خپل حكم منلو سره مقارن كړي. فرمايي:

﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسۡتَجِيبُوا لِلّٰهِ وَلِلرَّسُولِ ﴾.(٥)

ترجمه: اي مؤمنانو! تاسو د الله او د رسول حكم قبول كړئ.(٦)

---

(١) النساء آية ٨٠.

(٢) الفتح آية ١٠.

(٣) المنافقون آية ٨.

(٤) التوبة آية ٦٢.

(٥) الانفال آية ٢٤.

(٦) امام رازي رحمه الله دا خبره داسې ذكر كړى: اَلۡحُجَّةُ الثَّالِثَةُ: أَنَّهُ تَعَالَى قَرَنَ طَاعَتَهُ بِطَاعَتِهِ. ←←←←

## څلورم دلیل : نبي ﷺ ته غټه معجزه قرآن کریم ورکړل شوی

څلورم دلیل دادی چې الله تعالی نبي علیه السلام ته حکم کړی چې ته دې کافرانو ته چیلنج ورکړه چې د قرآن کریم د هر سورة په شان یو سورة جوړ کړي :

﴿ وَإِنْ كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴾ .(١)

ترجمه : او که چیرته ستاسو شک وي په هغه کتاب کې چې مونږ په خپل بنده ( محمد صلی الله علیه وسلم ) باندې نازل کړی نو تاسو هم ددې په شان یو سورة ( جوړ کړې ) راوړئ ، او د الله ﷻ نه بغیر خپل ( ټول ) مددګاران هم راأوغواړئ که چیرته تاسو ( په خپله دعوی کې ) ریښتیني یئ.

اوس په قرآن کریم کې وړوکې سورة "سورةُ الکوثر" دی ، او په دې کې درې ( ۳ ) آیتونه دي . ګویا چې الله تعالی د قرآن کریم په هرو درې آیتونو جوړولو سره چیلنج ورکړی ، او په قرآن کریم کې ټول څه د پاسه شپږ زره آیتونه دي ، ګویا چې قرآن مجید صرف یوه مُعجزه نده بلکه څه د پاسه دوه زره ( ۲۰۰۰ ) معجزې شوی .

اوس راځو دې خبرې ته چې الله تعالی د حضرت موسی علیه السلام شرافت په نهه ( ۹ ) معجزو سره ذکر کړی ، نو چې کله زمونږ پیغمبر محمّد رَسولُ الله صلی الله علیه وسلم ته د قرآن کریم په شکل کې څه د پاسه دوه زره ( ۲۰۰۰ ) معجزې ورکړې شوي نو د دوی شرافت

←←← فَقَالَ: ﴿ مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ ﴾ [ النساء : ٨٠] ، وَبَيْعَتَهُ بِبَيْعَتِهِ فَقَالَ: ﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ ﴾ [الفتح: ١٠] . وَعِزَّتَهُ بِعِزَّتِهِ فَقَالَ: ﴿ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ ﴾ [المنافقون : ٨] . وَرِضَاهُ بِرِضَاهُ فَقَالَ: ﴿ وَاللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَقُّ أَن يُرْضُوهُ ﴾ [ التوبة: ٦٢] وإجابته بإجابته فقال: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ ﴾ [ الأنفال: ٢٤] . التفسير الکبير ج٦ ص ٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣ .

(١) البقرة آية ٢٣ .

به هم د ټولو پیغمبرانو نه زیات وي. (١)

## پنځم دلیل : نبي علیه السلام ته افضل معجزې ورکړل شوي

پنځم دلیل دادی چې الله تعالی زمونږ پیغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم " ته دټولو انبیاء کرامو نه افضل مُعجزې ورکړي، نولازمي خبره ده چې زمونږ پیغمبر به هم د ټولو پیغمبرانو نه افضل وي. (٢)

چونکه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم شان د مخکیني پیغمبرانو په نسبت ډیر اُوچت دی: ځکه دا جامعِ د کمالاتو او فضائلو دی، امامُ الأنبیاء او رحمةٌ للعالمین دی، الله تعالی ورته جِسماني معِراج نصیبه کړی، د قیامت په ورځ د شفاعتِ کُبریٰ حَق یې صرف دوی ته ورکړی. لهذا مخکیني پیغمبرانو ته چې څومره معجزې ورکړې شوې وی د هغې په شان، بلکه د هغې نه بهترینې معجزې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته هم ورکړې شوې وی، ځکه ډیرې داسې معجزې دي چې هغه صِرف د پیغمبر علیه السلام سره خاص دي، دا قِسمه معجزې وړاندیني پیغمبرانو کې هیچاته نه وې وَرکړل شوی. (٣)

---

(١) اَلحُجَّةُ الرَّابِعَةُ: أَنَّ اللهَ تَعَالَى أَمَرَ مُحَمَّدًا بِأَنْ يَتَحَدَّى بِكُلِّ سُورَةٍ مِنَ القُرْآنِ فَقَالَ: ﴿ فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِنْ مِثْلِهِ ﴾ [البقرة: ٢٣] وَأَقْصَرُ السُّوَرِ سُورَةُ الكَوْثَرِ وَهِيَ ثَلَاثُ آيَاتٍ. وَكَانَ اللهُ تَحَدَّاهُمْ بكل ثلاثة آيَاتٍ مِنَ القُرْآنِ. وَلَمَّا كَانَ كُلُّ القُرْآنِ سِتَّةَ آلَافِ آيَةٍ، وَكَذَا آيَةٍ، لَزِمَ أَنْ لَا يَكُونَ مُعْجِزُ القُرْآنِ مُعْجِزًا وَاحِدًا بَلْ يَكُونُ أَلْفَيْ مُعْجِزَةٍ وَأَزْيَدَ. وَإِذَا ثَبَتَ هَذَا فَنَقُولُ: إِنَّ اللهَ سُبْحَانَهُ ذَكَرَ تَشْرِيفَ مُوسَى بِتِسْعِ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ، فَلِأَنْ يَحْصُلَ التَّشْرِيفُ لِمُحَمَّدٍ بِهَذِهِ الآيَاتِ الكَثِيرَةِ كَانَ أَوْلَى. التفسير الكبير ج٦ ص٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

(٢) اَلحُجَّةُ الخَامِسَةُ: أَنَّ مُعْجِزَةَ رَسُولِنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ مِنْ مُعْجِزَاتِ سَائِرِ الأَنْبِيَاءِ فَوَجَبَ أَنْ يَكُونَ رَسُولُنَا أَفْضَلَ مِنْ سَائِرِ الأَنْبِيَاءِ. بَيَانُ الأَوَّلِ: قَوْلُهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ: « القُرْآنُ فِي الكَلَامِ كَآدَمَ فِي المَوْجُودَاتِ » بَيَانُ الثَّانِي أَنَّ الخِلْعَةَ كُلَّمَا كَانَتْ أَشْرَفَ كَانَ صَاحِبُهَا أَكْرَمَ عِنْدَ المَلِكِ. التفسير الكبير ج٦ ص ٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

(٣) حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکلي: وَالمُرَادُ مِنْ إِيرَادِ ما نذكره في هذا الباب، والبينة على ما أعطى الله أَنْبِيَاءَهُ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ مِنَ الآيَاتِ البَيِّنَاتِ. وَالخَوَارِقِ القَاطِعَاتِ. وَالحُجَجِ الوَاضِحَاتِ. ←←←←←←←←

## شپږم دلیل : د نبي علیه السلام معجزه اوس هم باقي پاتې ده

شپږم دلیل دادی چې الله تعالی نبي علیه السلام ته دا کومه مُعجزه " قرآن کریم " ورکړې ددې جنس حروف او آوازونه دي ، حالانکه دا اَعراض دي ، باقي نه پاتې کیږي (یعنی چې کله په حروفو باندې تلفظ اوشي نو دا خو عرَض دی ، سمدست ختم شي) ، او نورو انبیاء کرامو ته چې کومې معجزې ورکړل شوې وی هغه اَعراض نه وو بلکه په خارج کې موجود وو ( لکه د حضرت موسی علیه السلام اَمسا ، د حضرت صالح علیه السلام اُوښه وغیره چې دا په خارج کې موجود وو ).

خو ددې ټولو خبرو باوجود بیا هم الله تعالی د نبي علیه السلام مُعجزه " قرآن کریم " تر قیامته پورې باقي اُوساتله او د نورو انبیاء کرامو معجزې یې ختمې کړې.

( پس معلومه شوه چې نبي علیه السلام په ټولو انبیاء کرامو کې افضل دی ). (١)

## اووم دلیل : په نبي ﷺ کې د ټولو پیغمبرانو صفات موجود وو

اُووم دلیل دادی چې په نبي علیه السلام کې د مخکینې ټولو پیغمبرانو صفات په

---

←←← وَأَنَّ اللهَ جَمَعَ لِعَبْدِهِ وَ رَسُولِهِ سَيِّدِ الْأَنْبِيَاءِ وَخَاتَمِهِمْ مِنْ جَمِيعِ أَنْوَاعِ الْمَحَاسِنِ وَالْآيَاتِ مَعَ مَا اخْتَصَّهُ اللهُ بِهِ مِمَّا لَمْ يُؤْتِ أَحَدًا قَبْلَهُ. كما ذكرنا في خصائصه وشمائله صلى الله عليه وسلم. معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ج١ ص ٣٨٣.

بلکه حافظ ابن کثیر رحمه الله په دې باندې مستقل باب لړولی : " باب معجزات النبي صلى الله عليه وسلم تفوق معجزات الأنبياء السابقين " بیا لیکي : البينة عَلَى ذِكْرِ مُعْجِزَاتٍ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم مماثلة لمعجزات جماعة مّن الأنبياء قبله ، وأعلى منها، خارجة عَمَّا اخْتَصَّ بِهِ مِنَ الْمُعْجِزَاتِ الْعَظِيمَةِ الَّتِي لم يكن لِأَحَدٍ قَبْلَهُ مِنْهُمْ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ . معجزات النبي صلى الله عليه وسلم لابن كثير ص ٣٨١.

(١) اَلْحُجَّةُ السَّادِسَةُ: أَنَّ مُعْجِزَتَهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ هِيَ الْقُرْآنُ وَهِيَ مِنْ جِنْسِ الْحُرُوفِ وَالْأَصْوَاتِ وَهِيَ أَعْرَاضٌ غَيْرُ بَاقِيَةٍ وَسَائِرُ مُعْجِزَاتِ سَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ مِنْ جِنْسِ الْأُمُورِ الْبَاقِيَةِ . ثُمَّ إِنَّهُ سُبْحَانَهُ جَعَلَ مُعْجِزَةَ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَاقِيَةً إِلَى آخِرِ الدَّهْرِ، وَمُعْجِزَاتِ سَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ فَانِيَةً مُنْقَضِيَةً. التفسير الكبير ج٦ ص ٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣.

Scanned with CamScanner

کاملې طريقې سره موجود وو ، نو لازمي خبره ده چې دا به په ټولو انبياء کرامو کې هم افضل وي . (١)

دا خبره ياد ساتئ چې څومره بهترين صفات الله ﷻ بندګانو ته ورکړي دي هغه ټول صفات په نبي کريم صلی الله عليه وسلم کې موجود وو ، او په دوی کې هيڅ عيب نه ؤ . (٢)

حضرت حسان بن ثابت ﷺ د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مدحه کې فرمايي :

خُلِقْتَ مُبَرَّأً مِنْ كُلِّ عَيْبٍ ۞ كَأَنَّكَ قَدْ خُلِقْتَ كَمَا تَشَاءُ

اې پيغمبره ! تاسو د هر عيب او نقصان نه پاک پيدا شوي يې ، ګويا تاسو داسې پيدا شوي يې څنګه چې تاسو غوښتل . (٣)

## د ټولو پيغمبرانو اَخلاق او صفات په نبي عليه السلام کې په کامِلې طريقې سره جَمع وو

که د حضرت نوح ﷺ ژوند اوګورو نو د کفر خِلاف غيض و غضب په کې په نظر راځي .

که د حضرت ابراهيم عليه السلام ژوند اوګورو نو د بُتانو ماتول او شجاعت په کې په نظر راځي .

که د حضرت موسى ﷺ ژوند اوګورو نو د کفارو سره جهاد ، شاهانه نظم و نسق او

(١) اَلْحُجَّةُ السَّابِعَةُ: أَنَّهُ تَعَالَى بَعْدَ مَا حَكَى أَحْوَالَ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ قَالَ: ﴿أُولَٰئِكَ الَّذِينَ هَدَى اللَّهُ فَبِهُدَاهُمُ اقْتَدِهْ﴾ [الانعام : ٩٠] فَأَمَرَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْإِقْتِدَاءِ بِمَنْ قَبْلَهُ. فَإِمَّا أَنْ يُقَالَ: إِنَّهُ كَانَ مَأْمُورًا بِالِاقْتِدَاءِ بِهِمْ فِي أُصُولِ الدِّينِ وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ لِأَنَّهُ تَقْلِيدٌ، أَوْ فِي فُرُوعِ الدِّينِ وَهُوَ غَيْرُ جَائِزٍ، لِأَنَّ شَرْعَهُ نَسَخَ سَائِرَ الشَّرَائِعِ. فَلَمْ يَبْقَ إِلَّا أَنْ يَكُونَ الْمُرَادُ مَحَاسِنَ الْأَخْلَاقِ. فَكَأَنَّهُ سُبْحَانَهُ قَالَ: إِنَّا أَطْلَعْنَاكَ عَلَى أَحْوَالِهِمْ وَسِيَرِهِمْ. فَاخْتَرْ أَنْتَ مِنْهَا أَجْوَدَهَا وَأَحْسَنَهَا وَكُنْ مُقْتَدِيًا بِهِمْ فِي كُلِّهَا. وَهَذَا يَقْتَضِي أَنَّهُ اجْتَمَعَ فِيهِ مِنَ الْخِصَالِ الْمَرْضِيَّةِ مَا كَانَ مُتَفَرِّقًا فِيهِمْ. فَوَجَبَ أَنْ يَكُونَ أَفْضَلَ مِنْهُمْ. التفسير الكبير ج٦ ص ٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣ .

(٢) راجع كتاب الشفاء ج١ ص ٥٣ ، شرح الشفاء ج١ ص ١٥٠ ، ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٢١٨ .

(٣) نفحة العرب ص ٢٤٣ ، فتاوى محموديه ج٣ ص ٢١٩ حاشيه نمبر ١ .

Scanned with CamScanner

اِجتماعي قوانين په کې په نظر راځي .

که د حضرت عيسى ﷺ ژوند اوګورو نو تواضع ، عاجزي ، د عفوې ، دَرګزر او قَناعت تعليم په کې په نظر راځي .

که د حضرت سليمان عليه السلام ژوند اوګورو نو شاهانه آنداز او لوي همتونه په کې په نظر راځي .

که د حضرت ايوب ﷺ ژوند اوګورو نو صبر او شکر په کې په نظر راځي .

که د حضرت يونس ﷺ ژوند اوګورو نو ندامت او اِنابَت الَى الله په کې په نظر راځي .

که د حضرت يوسف ﷺ ژوند اوګورو نو په قيد او بَند کې د حق دعوت ، او پُر جوش تبليغ په کې په نظر راځي .

که د حضرت داوُد ﷺ ژوند اوګورو نو دُعاګانې ، ژړا ، زاري او د الله تعالى حَمد په کې په نظر راځي .

که د حضرت يعقوب ﷺ ژوند اوګورو نو د الله ﷻ نه اُميد او په الله ﷻ باندې توکّل او اعتماد په کې په نظر راځي .

او که د سردارِ دوجهان فخرُ الرّسُل مُحمّدٌ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم ژوند مبارک اوګورو نو په دې کې د ټولو پيغمبرانو اَخلاق او صفات په عمَلي طريقې سره په نظر راځي .

که چيرته په حضرت شعيب ﷺ کې مَعرفت وُ ، په حضرت نوح ﷺ کې شجاعت وُ ، په حضرت ابراهيم ﷺ کې دوستي وه ، د حضرت اسماعيل ﷺ سره شِيرين کلامي وه ، د حضرت اسحاق ﷺ سره رضا وه ، د حضرت صالح ﷺ سره فصاحت وُ ، د حضرت لوط ﷺ سره حِکمت وُ ، د حضرت موسى ﷺ سره سختي وه ، د حضرت ايوب ﷺ سره صبر وُ ، د حضرت يونس ﷺ سره طاعت وُ ، د حضرت يوشع ي سره د جهاد جذبه وه ، د حضرت داوُد ﷺ سره آواز وُ ، د حضرت دانيال ﷺ سره محبت وُ ، د حضرت الياس ﷺ سره وقار وُ ، د حضرت يحيىٰ ﷺ سره پاکدامني وه ، او د حضرت عيسى ﷺ سره

Scanned with CamScanner

زُهد وُ ، نو زمونږ پیغمبر محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم سره دا ټول صفات په کاملې طریقې موجود وو .(١)

ځکه خو الله رب العزت فرمایي :

﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴾ .(٢)

ترجمه : او بیشکه (اې پیغمبره ! ) ته د آخلاقو په اُوچته مرتبه یې .

دغه رنګې د مخکیني پیغمبرانو معجزات هم زمونږ پیغمبر علیه السلام ته ورکړې شوي وو ، یو شاعر وایي :

حسنِ یوسف ، دَمِ عیسیٰ یدِ بیضاء داری ✿ آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری

✿ که یو طرف ته حضرت موسی ﷺ په کوه طور باندې د الله ﷻ سره په راز و نیاز مشغول وُ ، نو بل طرفته محمدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم په غارِ حراء کې د الله ﷻ په عبادت کې مشغول وُ .

✿ که یو طرف ته حضرت موسی ﷺ د مصر نه مدین ته هجرت کړی ، نو بل طرف ته محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د مکې معظمې نه مدینې منوّرې طرف ته هجرت کړی.

✿ که یو طرفته حضرت عیسی ﷺ په کوهِ زیتون باندې وعظ کوونکې وُ ، نو بل طرفته محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د صَفا په غَر باندې قریشو ته وعظ کوونکې وُ .

✿ که یو طرف ته حضرت موسی ﷺ فرعونیانو ته خېرې (بَد دُعا ) کړې چې د بار بار مُعجزو په لیدو یې ایمان نه راوړو ، نو بل طرفته محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم د مکې اووه (٧) سردارانو په حق کې خېرې کړې .

✿ که یو طرفته حضرت عیسی ﷺ خپلو دُشمنانو ته د هدایت دُعا کړی ، نو بل طرف ته په غزوه اُحد کې نبي علیه السلام د هدایت دُعا کړی .

(١) خطبات مدارس لمولانا سید سلیمان ندوي رحمه الله ص ٧٨ .

(٢) القلم آیة ٤ .

Scanned with CamScanner

* که يو طرفته د حضرت سليمان ﷺ سره فوجونه او حکومت ؤ ، نو بل طرفته د فتح مکې په وخت د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم سره فوجونه ، جَندي ، رُعب او حکومت ؤ .

* که يو طرف ته په مِصر کې حضرت يوسف ﷺ په قيد خانه کې ؤ ، نو بل طرفته محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم هم په شعب ابي طالب کې دري ( ۳ ) کاله داسې محصور ؤ چې د خوراک آشياء به هلته نه رسيده . (۱)

## د يو تعليم يافته هندو اِقرار

يو عالِم په خپل کتاب کې ليکلي چې زما يو هندو دوست ؤ ، تعليم يافته ؤ ، يوه ورځ مو څه خبرې کولی ، ما د هغه نه پوښتنه اوکړه چې ته زمونږ د پيغمبر محمّدُ رّسولُ الله صلى الله عليه وسلم په باره کې څه نَظريه لرې ؟

نو هغه راته جواب راکړو : چې زما په نزد ستاسو پيغمبر د دُنيا په ټولو انسانانو کې کامِل ترين انسان ؤ ، ځکه چې ما کله د هغوی ژوند مطالعه کړو نو ماته په يو وخت کې د هغوی په ذاتِ مبارکه کې داسې مُتضاد او مختلف قِسمه صفات او آخلاق په نظر راغلل چې هغه په تاريخ کې تر اوسه پورې په يو انسان کې چيرته هم نه دي جَمع شوي . بيا هغه هندو ځوان ددې تفصيل داسې بيان کړو :

* ستاسو پيغمبر داسې بادشاه ؤ چې ټول مُلک يې په پوره کنټرول او قبضه کې ؤ ، خو بل طرف ته ځان يې هم داسې بې بَسه ګڼل چې خپل ځان يې ټول د الله رب العزت په قبضهٔ قدرت کې ګڼړل .

* داسې دولت مند ؤ چې د مالِ غنيمت خزانې او مالِ و دولت دده دارُالحکومت ته په اُوښانو باندې راروان ؤ ، خو بل طرف ته داسې فقير ؤ چې څو څو مياشتې به د دوی په کور کې اُور بل نه شو ، او وَلږه به يې برداشت کوله .

* داسې سِپه سالار ؤ چې د يو څو صَحابه کرامو په مِلګرتيا يې په زرهاؤ مُسلح فوجونو ته شکست ورکړی ، خو بل طرف ته داسې صُلح خوښوونکې هم ؤ چې د زرهاؤ جان نِثاره

---

(۱) خطبات مدارس لمولانا سيد سليمان ندوي رحمه الله ص ۷۹ .

صحابه کرامو په موجود ګۍ کې يې بيا هم د صُلحې په معاهده باندې دستخط کول .

❁ داسې زړه وَر او بهادر ؤ چې د زَرهاؤ دشمنانو به يې ځان له مقابله کوله ، خو بل طرف ته داسې نرم دِل ؤ چې هيڅ کله يې بې ځايه د يو چا يو قطره وينه هم په خپله نه ده توی کړی .

❁ داسې بهترينو اَخلاقو واله ؤ چې هيڅ کله يې د چا نه ذاتي بَدل نه دې اخيستی ، خو بل طرف ته يې د الله ﷻ د دين د شمنان هيڅ کله معاف کړي نه دي .

❁ داسې تعلق لرونکې ؤ چې د عربو د هريو غريب ، مسکين ، يتيم او کونډې فکر به ورسره ؤ ، خو بل طرف ته د الله جل جلاله په ياد کې داسې ډوب ؤ چې ګويا د هيچا سره يې تعلق نشته .

❁ که يو طرف ته ستاسو پيغمبر يو عظيم مجاهِد ؤ نو بل طرف ته ټوله شپه عبادت کوونکې او زاهِدْ ؤ .

❁ که يو طرف ته د غونډ عربو بادشاه ؤ خو بل طرف ته د قجورې اُونې د ځانګو نه په جوړه شوې تکيه او کمزورې دَرۍ باندې ناست په نظر راتلو .

❁ که يو طرف ته د عربو د اَطرافو نه دومره مالِ غنيمت راتلو چې د مسجدِ نبوي په صحن کې به د مال و دولت اَنبار لږيدلې ؤ خو بل طرف ته په همدغه وخت کې به د دوی په کور کې فقروفاقه او غُربت ؤ .

❁ که يو طرفته به په جهاد کې وينځې او غلامان راتلل او نبي عليه السلام به د خدمت د پاره په مسلمانانو تقسيمول نو بل طرفته په همدغه وخت کې د دوی لور حضرت فاطمه رضي الله عنها داسې حالت کې وه چې په لاسونو او سينه باندې يې د ډيرو کارونو د وجې داغونه جوړ شوي وو .

❁ که يو طرفته نيم عرب د دوی د اِختيار او حکومت لاندې وو خو بل طرف ته په همدغه وخت کې دوی په داسې يو سخت پُوزْکي باندې آرام کولو چې د هغې نښې يې په وجود باندې هم جوړې شوې وی .

۞ که يو طرفته يو عظيم حکومت ورسره ؤ خو بل طرفته په همدغه وخت کې د دوی په کور کې صرف او صرف لړې وَرېشې ، يو مشکيزه او معمولي أسباب موجود وو .

غرض دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې کامِل ، جامع او د عظيم صفاتو مالِک ؤ چې د ژوند د هرې طبقې خلقو د پاره د هدايت يوه نمونه وه .

دې هندو ځوان وويل : چې کله ستاسو په پيغمبر کې داسې عظيم صفات جَمع دي نو ځکه زما په نزد ستاسو پيغمبر د دُنيا په ټولو انسانانو کې کامِل ترين انسان ؤ . (۱)

## اتم دليل : نبي ﷺ تر قيامته پورې ټولو انسانانو او پيريانو د پاره پيغمبر دی

د نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې د افضل کيدو آتم دليل دادی چې رسولُ الله صلى الله عليه وسلم تر قيامته پورې ټولو انسانانو او پيريانو د پاره پيغمبر دی ، په قرآن کريم کې ذکر دي :

﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴾ . (۲)

ترجمه : او ( اې پيغمبره ! ) مونږ ته ټولو خلقو ته زيرې ورکوونکی او ويروونکی ليږلې يې ، ليکن اکثر خلق ( په دې خبره ) نه پوهيږي .

په سورة الاعراف کې ذکر دي ، الله تعالى نبي عليه السلام ته فرمايي :

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾ . (۳)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) ته دوی ته اُووايه چې : اې خلقو ! بيشکه زه تاسو ټولو طرف ته د الله رسول يم .

( همدا مضمون د قرآن کريم په نورو آيتونو کې هم ذکر شوی ) . (۴)

---

(۱) خطبات مدارس لمولانا سيد سليمان ندوي رحمه الله ص ۷۵ .

(۲) سبا آية ۲۸ .

(۳) الاعراف آية ۱۵۸ .

(۴) الله تعالى فرمايي : ﴿ وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا ۚ وَكَفَىٰ بِاللَّهِ شَهِيدًا ﴾ . النساء آية ۷۹ . ←←←←

Scanned with CamScanner

نو اوس چې نبي علیه السلام ټولو انسانانو او پیریانو ته دا دِین رسولی نو لازمي خبره ده چې په دې کې یې مشقّت هم ډیر برداشت کړی . او دا ښکاره خبره ده چې کومو پیغمبرانو د دِین په خوَرولو کې مشقّت ډیر برداشت کړی نو د هغه مرتبه به هم د نورو پیغمبرانو نه ډیره اُوچته وي .

حضرت موسیٰ علیه السلام چې کله الله تعالی بني اسرائیلو ته پیغمبر اولیږلو نو د هغه دشمن صرف فرعون وُ ، او نبي علیه السلام چې کله پیغمبر رااُولیږلې شو نو په دې وخت کې ټوله معاشره خطرناکه ده .

د یو مثال په ذریعه درته دا خبره واضح کوم ، مثلاً ته یو کس ته اُووایې چې :

" ته فلانکي ښار ته لاړ شه ، هلته صرف یو کس قوي او خطرناک دی نور ټول صحیح دي ، خطرناک ندي ، ته هغه یو کس ته دا خبره اُورسوه " . او دا خبره هم داسې وي چې د هغه قوي کس د مزاج خلاف وي .

نو اګر چې په هغه ښار کې صرف یو کس خطرناک وي خو بیا به هم دا سړی هغه ښار ته تللو کې یَره محسوسوي .

او که ته چاته اُووایې چې :

" ته فلاني دَشتې ( صحراء ) ته لاړ شه ، هلته ستا هیڅوک دوست نشته او ټول خلق په کې خطرناک دي ، ته هغوی ته دا خبره اُورسوه " او دا خبره هم د هغوی د طبیعت خلاف وي نو بیا د دې کس د پاره هلته تلل او هغوی ټولو ته دا خبره رسول ډیره سخته وي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چې کله پیغمبري ملاوْ شوه نو په دې وخت هر طرف ته د کُفر تیاره خوَره وه ، بیا نبي علیه السلام ته د الله د طرفه دا حکم وُ چې دا دعوت ټولو

←←← ترجمه : او ( اې پغمبره ! ) مونږ ته د ټولو خلقو د پاره رسول رالیږلې یې ، او په دې خبره باندې الله تعالی د ګواهۍ د پاره کافي دی .

بل ځای فرمايي : ﴿ تَبٰرَكَ الَّذِيْ نَزَّلَ الْفُرْقَانَ عَلٰى عَبْدِهٖ لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرًا ﴾ . الفرقان آية ١ .

ترجمه : ډیر بَابرکت دی هغه ذات چې هغه په خپل بنده ( محمد ﷺ ) باندې د حق او باطل په مینځ کې فرق کوونکې ( قرآن ) نازل کړې دی ؛ د دې د پاره چې دا د ټولو عالمونو د پاره ( د الله ﷻ د عذاب نه ) ویروُونکې شي .

Scanned with CamScanner

انسانانو او پیریانو ته اُورسوه . نودوی ته په دې لاره کې ډیر تکلیفونه اُورسیدل خو بیا یې هم دا دعوت جاري اُوساتل .

په قرآن کریم کې د هغه صحابه کرامو فضیلت بیان شوی کومو چې د فتح مکې نه مخکې د الله تعالی په لارکې خپل مال خرچ کړی او جهاد یې کړی .

دې صحابه کرامو ته په هغه صحابه کرامو باندې ډیر فضیلت حاصل دی کومو چې د فتح مکې نه پس دا کارونه کړي ؛ دا ځکه دې صحابه کرامو په هغه اول وخت کې مشقّت ډیر برداشت کړي وُ .

نو چې کله صحابه کرامو ته د دِین په خاطر مشقّت برداشت کولو په وجه فضیلت ملاؤ شوی پخپله پیغمبر علیه السلام چې ددې دِین د پاره ډیر زیات مشقّتونه او تکلیفونه برداشت کړي نو د دوی فضیلت به په نورو انبیاء کرامو باندې په طریقِ اولی زیات وي . (١)

---

(١) اَلحُجَّةُ الثَّامِنَةُ: أَنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ بُعِثَ إِلَى كُلِّ الخَلْقِ وَذَلِكَ يَقْتَضِي أَنْ تَكُونَ مَشَقَّتُهُ أَكْثَرَ. فَوَجَبَ أَنْ يَكُونَ أَفْضَلَ. أَمَّا إِنَّهُ بُعِثَ إِلَى كُلِّ الخَلْقِ فَلِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ ﴾ . [ سبا : ٢٨] . وَأَمَّا إِنَّ ذَلِكَ يَقْتَضِي أَنْ تَكُونَ مَشَقَّتُهُ أَكْثَرَ فَلِأَنَّهُ كَانَ إِنْسَانًا فَرْدًا مِنْ غَيْرِ مَالٍ وَلَا أَعْوَانٍ وَأَنْصَارٍ. فَإِذَا قَالَ لِجَمِيعِ العَالَمِينَ : يَا أَيُّهَا الكَافِرُونَ صَارَ الكُلُّ أَعْدَاءً لَهُ، وَحِينَئِذٍ يَصِيرُ خَائِفًا مِنَ الكُلِّ. فَكَانَتِ المَشَقَّةُ عَظِيمَةً، وَكَذَلِكَ فَإِنَّ مُوسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمَّا بُعِثَ إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ فَهُوَ مَا كَانَ يَخَافُ أَحَدًا إِلَّا مِنْ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ. وَأَمَّا مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَالكُلُّ كَانُوا أَعْدَاءً لَهُ. يُبَيِّنُ ذَلِكَ أَنَّ إِنْسَانًا لَوْ قِيلَ لَهُ: هَذَا البَلَدُ الخَالِي عَنِ الصَّدِيقِ وَالرَّفِيقِ فِيهِ رَجُلٌ وَاحِدٌ ذُو قُوَّةٍ وَسِلَاحٍ فَاذْهَبْ إِلَيْهِ اليَوْمَ وَحِيدًا وَبَلِّغْ إِلَيْهِ خبرًا يوحشه ويؤذيه، فإنّه قلّما سمحت نَفْسُهُ بِذَلِكَ، مَعَ أَنَّهُ إِنْسَانٌ وَاحِدٌ . وَلَوْ قِيلَ لَهُ: اِذْهَبْ إِلَى بَادِيَةٍ بعيدةٍ ليس فيها أُنس وَلَا صَدِيقٌ، وَبَلِّغْ إِلَى صَاحِبِ البَادِيَةِ كَذَا وَكَذَا مِنَ الأَخْبَارِ المُوحِشَةِ لَشَقَّ ذَلِكَ عَلَى الإِنْسَانِ. أَمَّا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِنَّهُ كَانَ مَأْمُورًا بِأَنْ يَذْهَبَ طُولَ لَيْلِهِ وَنَهَارِهِ فِي كُلِّ عُمُرِهِ إِلَى الجِنِّ وَالإِنْسِ الَّذِينَ لَا عَهْدَ لَهُ بِهِمْ. بَلِ المُعْتَادُ مِنْهُمْ أَنَّهُمْ يُعَادُونَهُ وَيُؤْذُونَهُ وَيَسْتَخِفُّونَهُ. ثُمَّ إِنَّهُ عَلَيْهِ السَّلَامُ لَمْ يَمَلَّ مِنْ هَذِهِ الحَالَةِ وَلَمْ يَتَلَكَّأْ. بَلْ سَارَعَ إِلَيْهَا سَامِعًا مُطِيعًا. فَهَذَا يَقْتَضِي أَنَّهُ تَحَمَّلَ فِي إِظْهَارِ دِينِ اللهِ أَعْظَمَ المَشَاقِّ، وَلِهَذَا قَالَ تَعَالَى: ﴿ لَا يَسْتَوِي مِنْكُمْ مَنْ أَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الفَتْحِ وَقَاتَلَ ﴾ [ الحديد : ١٠] وَمَعْلُومٌ أَنَّ ذَلِكَ البَلَاءَ كَانَ عَلَى الرَّسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَإِذَا عَظُمَ فَضْلُ الصَّحَابَةِ بِسَبَبِ تِلْكَ الشِّدَّةِ فَمَا ظَنُّكَ بِالرَّسُولِ؟ وَإِذَا ثَبَتَ أَنَّ مَشَقَّتَهُ ←←←←←

## نهم دلیل : د نبي علیه السلام دِین په ټولو دِینونو کې افضل دی

د نبي علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کې د افضل کیدو نهم دلیل دادی چې د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم دِین په ټولو دِینونو کې افضل دی نو لازمي خبره ده چې دوی به هم په ټولو انبیاء کرامو کې افضل وي .

د نبي علیه السلام دا دِین په ټولو دِینونو کې ځکه افضل دی چې په دې دِین سره مخکیني ټول دِینونه منسوخ شوي ، اوس به تر قیامته پورې ټول انسانان او پیریان په همدې دِین باندې عمل کوي .

اوس چې څومره ثواب د نېکو اعمالو په وجه دې خلقو ته ورکولې شي نو په دې کې به ورسره پیغمبر علیه السلام هم شریک وي ؛ ځکه ددې دِین بُنیاد پیغمبر علیه السلام ایخې دی .

نو چې کله نبي علیه السلام ته ثواب د نورو انبیاء کرامو نه زیات ملاویږي نو لازمي خبره ده چې ددوی فضیلت به په نورو پیغمبرانو باندې هم زیات وي . (۱)

## لسم دلیل : د نبي ﷺ اُمت د مخکیني ټولو اُمتونو نه افضل دی

لسم دلیل دادی چې د نبي علیه السلام اُمت د مخکیني ټولو اُمتونو نه افضل دی نو لازمي خبره ده چې پخپله پیغمبر علیه السلام به هم د مخکیني ټولو پیغمبرانو نه افضل وي.

اوس دا خبره چې دا اُمت ولې افضل دی ؟ نو دا ځکه چې الله تعالی دې اُمت ته

---

←←←← أَعْظَمُ مِنْ مَشَقَّةِ غَيْرِهِ وَجَبَ أَنْ يَكُونَ فَضْلُهُ أَكْثَرَ مِنْ فَضْلِ غَيْرِهِ. لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: « أَفْضَلُ الْعِبَادَاتِ أَحْمَزُهَا » . التفسير الكبير ج٦ ص ٥٢٢ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣ .

(۱) اَلْحُجَّةُ التَّاسِعَةُ : أَنَّ دِينَ مُحَمَّدٍ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَفْضَلُ الْأَدْيَانِ، فَيَلْزَمُ أَنْ يَكُونَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلَ الْأَنْبِيَاءِ . بَيَانُ الْأَوَّلِ أَنَّهُ تَعَالَى جَعَلَ الْإِسْلَامَ نَاسِخًا لِسَائِرِ الْأَدْيَانِ، وَالنَّاسِخُ يَجِبُ أَنْ يَكُونَ أَفْضَلَ . لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ: « مَنْ سَنَّ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ » . فَلَمَّا كَانَ هَذَا الدِّينُ أَفْضَلَ وَأَكْثَرَ ثَوَابًا، كَانَ وَاضِعُهُ أَكْثَرَ ثَوَابًا مِنْ وَاضِعِي سَائِرِ الْأَدْيَانِ، فَيَلْزَمُ أَنْ يَكُونَ مُحَمَّدٌ عَلَيْهِ السَّلَامُ أَفْضَلَ مِنْ سَائِرِ الْأَنْبِيَاءِ. التفسير الكبير ج٦ ص ٥٢٣ سورة البقرة في تشريح آية ٢٥٣ .

Scanned with CamScanner

" بهترین اُمت " ویلی، فرمایي:

﴿ كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ ﴾. (۱)

ترجمه: تاسو بهترین اُمت یئ، چې د خلقو (د هدایت) د پاره راویستل شوي یئ.

بل دا چې دې اُمت ته دا فضیلت د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم د اِتباع په وجه حاصل شوی، لکه الله تعالی فرمایي:

﴿ قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ ﴾. (۲)

ترجمه: (اې پیغمبره!) ته (خلقو ته) ووایه که چیرته تاسو د الله ﷻ سره په رښتیا محبت کوی (او ددې محبت په وجه دا هم غواړی چې الله ﷻ هم د تاسو سره محبت اوکړي) نو (ددې مقصد حاصلولو د پاره) تاسو زما تابعداري اوکړئ، نو الله به د تاسو سره محبت اوکړي.

(١) لِأَنَّ الظُّلْمَ وَضْعُ الشَّيْءِ فِيْ غَيْرِ مَحَلِّهِ ، وَهُوَ عَامٌّ للكفر ، والكبيرة ، والصغيرة ، وترک الاولى والزلّة ، فيحمل على الآخرين ، لئلا يقادم العقل . فتاوى فريديه ج١ ص ٤٨٣

(٢) والأَنبياء عَلَيْهِم الصَّلاة وَالسَّلام كلهم منزهون عَن الصَّغَائِر والكبائر وَالْكفْر والقبائح وَقد كَانَت مِنْهُم زلات وخطايا . فقه الاكبر ص ٣٧ القَوْل فِي عصمَة الْأَنْبِيَاء

قال ابو محمد علي بن احمد بن حزم الظاهري رَحِمَهُ اللَّهُ : ونقول أَنه يَقع من الْأَنْبِيَاء السَّهْو عَن غير قصد وَيَقَع مِنْهُم أَيْضا قصد الشَّيْء يُرِيدُونَ بِهِ وَجه الله تَعَالَى والتقرب مِنْهُ فيوافق خلاف مُرَاد الله تَعَالَى إِلَّا أَنه تَعَالَى لَا يقرهم على شَيْء من هذَيْن الْوَجْهَيْنِ أصلا بل ينبههم على ذَلِك . الفصل في الملل والأهواء والنحل ابو محمد علي بن احمد بن سعيد بن حزم الأندلسي القرطبي الظاهري ج٤ ص ٢ هَل تعصى الْأَنْبِيَاء عَلَيْهِم الصَّلَاة وَالسَّلَام . ومثله في شرح العقائد النسفي ص ١٣٩ طبع خير كثير . فتاوى حقانيه ج١ ص ١٥١ كتاب العقائد والايمانيات .

(٣) قال الملا علي قاري : اَلْأَنْبِيَاءُ مَعْصُومُوْنَ قَبْلَ النُّبُوَّةِ وَبَعْدَهَا عَنْ كَبَائِرِ الذُّنُوْبِ وَصِغَارِهَا ، وَلَوْ سَهْوًا عَلَى مَا هُوَ الْحَقُّ عِنْدَ الْمُحَقِّقِيْنَ . مرقاة المفاتيح ج١ ص ١٢٧ كِتَابُ الْإِيمَانِ بَابُ الْكَبَائِرِ وَعَلَامَاتِ النِّفَاقِ . ←←←←

Scanned with CamScanner

# حضرت عمر رضي الله عنه د نبي علیه السلام فضائل ذکر کړي

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات نه پس حضرت عُمر رضي الله عنه د دوی څه فضائل ذکر کړي، په هغې کې دا هم دي (چې حضرت عُمر رضي الله عنه ژړل او دا یې فرمایل) :

.... اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي د الله تعالی په نزد ستاسو دومره لوی مقام دی چې تاسو یې په انبیاء کرامو کې آخري نبي رالیږلې یَی، حالانکه الله جل جلاله تاسو په دوی کې اول ذکر کړي یَی، لکه فرمایي :

﴿ وَ إِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُمْ مِيثَاقًا غَلِيظًا ﴾. (١)

ترجمه : او هر کله چې مونږ د ټولو پیغمبرانو نه د دوی وعده واخیسته، او تا نه، نوح علیه السلام نه، ابراهیم علیه السلام نه، موسیٰ علیه السلام نه، عیسی بن مریم علیه السلام نه، او مونږ د دوی ټولو نه پخه وعده واخیسته.

( په دې آیت کې شروع په نبي علیه السلام باندې شوی (٢) ).

---

←←← ملاعلي قاري رحمه الله روستو بل ځای فرمایي : فَإِنَّ الْأَصَحَّ الْمُخْتَارَ عِنْدَ الْمُحَقِّقِينَ أَنَّ الْأَنْبِيَاءَ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ مَعْصُومُونَ قَبْلَ النُّبُوَّةِ وَبَعْدَهَا مِنْ كَبَائِرِ الذُّنُوبِ وَصَغَائِرِهَا عَمْدِهَا وَسَهْوِهَا. مرقاة المفاتیح ج٥ ص ١٧٢٠ كِتَابُ أَسْمَاءِ اللهِ تَعَالَى بَابُ الِاسْتِعَاذَةِ .

سُئِلَ عَمَّنْ يَنْسِبُ إِلَى الْأَنْبِيَاءِ الْفَوَاحِشَ كَعَزْمِهِمْ عَلَى الزِّنَا وَنَحْوِهِ الَّذِي يَقُولُهُ الْحَشْوِيَّةُ فِي يُوسُفَ عَلَيْهِ السَّلَامُ قَالَ: يَكْفُرُ، لِأَنَّهُ شَتْمٌ لَهُمْ وَاسْتِخْفَافٌ بِهِمْ . الفتاوی الهندیة ج٢ ص ٢٦٣ الْبَابُ التَّاسِعُ فِي أَحْكَامِ الْمُرْتَدِّينَ مطلب فِي مُوجِبَاتِ الْكُفْرِ أَنْوَاعٌ مِنْهَا مَا يَتَعَلَّقُ بِالْإِيمَانِ وَالْإِسْلَامِ . فتاوی حقانیه ج١ ص ١٦٩ کتاب العقائد والایمانیات.

(١) الاحزاب آية ٧

(٢) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : « كُنْتُ أَوَّلَ النَّبِيِّينَ فِي الْخَلْقِ وَآخِرَهُمْ فِي الْبَعْثِ » . قَالَ قَتَادَةُ : وَذَلِكَ قَوْلُ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ : ﴿ وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ ﴾ فَبَدَأَ بِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَهُمْ . تفسير البغوي ج ٣ ص ٦١١ سورة الاحزاب في تفسير آية ٧ رقم ١٦٧٩ . تفسير ابن كثير ج٦ ص ٣٨٢ سورة الاحزاب في تفسير آية ٧ . كنزالعمال رقم ٣٢١٢٦ ، مرقاة المفاتيح ج٩ ص ٣٦٨٤ .

Scanned with CamScanner

بیا حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل : اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي د الله تعالی په نزد ستاسو دومره لوي مقام دی چې جهنمیان به په جهنم کې هم دا آرزو اوکړي چې : کاش ، په دُنیا کې دوی ستاسو تابعداري کړې وی .

الله تعالی ددې تذکره داسې کړی :

﴿ يَوْمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمْ فِي النَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيْتَنَآ أَطَعْنَا اللَّهَ وَأَطَعْنَا الرَّسُولَا ﴾ . (١)

ترجمه : په کومه ورځ چې به د کافرانو مخونه په جهنم کې اَړولې راړولې شي ، دوی به وايي : اې کاش ، مونږ (په دُنیا کې) د الله او د رسول اِطاعت کړې وی .

بیا حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل : اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي که الله تعالی حضرت موسیٰ علیه السلام ته دا معجزه ورکړې وه چې هغوی کاڼړې په اَمسا باندې اُووهل نو د هغې نه د اُوبو چینې روانې شوی نو دا دومره د تعجب خبره نده ځکه ډیره عجیبه داده چې ستاسو د ګُتو مبارکو نه د معجزې په طور باندې اُوبه روانې شوې وی .

بیا حضرت عُمر ﷺ اوفرمایل : اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي که الله تعالی حضرت عیسیٰ علیه السلام ته دا معجزه ورکړې وه چې هغه به د الله په حکم سره مړي راژوندي کول نو ددینه ډیره عجیبه معجزه الله تعالی تاسو ته دا درکړې وه چې د چیلۍ وریتې شوې غوښې د تاسو سره خبرې اوکړی " چې ما مه خوره ؛ ځکه په ما کې زهر ګډ شوي " . (٢)

---

(١) الاحزاب آية ٦٦ .

(٢) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ ، قَالَ : كَانَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللهِ يُحَدِّثُ أَنَّ يَهُودِيَّةً ، مِنْ أَهْلِ خَيْبَرَ سَمَّتْ شَاةً مَصْلِيَّةً ثُمَّ أَهْدَتْهَا لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذِّرَاعَ ، فَأَكَلَ مِنْهَا ، وَأَكَلَ رَهْطٌ مِنْ أَصْحَابِهِ مَعَهُ ، ثُمَّ قَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : « ارْفَعُوا أَيْدِيَكُمْ » ، وَأَرْسَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْيَهُودِيَّةِ فَدَعَاهَا ، فَقَالَ لَهَا « أَسَمَمْتِ هَذِهِ الشَّاةَ ؟ » قَالَتِ الْيَهُودِيَّةُ : مَنْ أَخْبَرَكَ ؟ قَالَ « أَخْبَرَتْنِي هَذِهِ فِي يَدِي » لِلذِّرَاعِ ، قَالَتْ : نَعَمْ ، قَالَ « فَمَا أَرَدْتِ إِلَى ذَلِكَ ؟ » قَالَتْ : قُلْتُ : إِنْ كَانَ نَبِيًّا فَلَنْ يَضُرَّهُ ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ نَبِيًّا اسْتَرَحْنَا مِنْهُ ، فَعَفَا عَنْهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ←←←←←←

Scanned with CamScanner

بیا حضرت عُمر رضي الله عنه اوفرمایل : اې د الله رسوله ! زما مور او پلار دې د تاسو نه قربان شي حضرت نوح علیه السلام خپل قوم ته (د ډیر دعوت او د قوم نه منلو په وجه) ښېرې اوکړې ، وې فرمایل :

﴿ رَبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِيْنَ دَيَّارًا ﴾ . (١)

ترجمه : اې زما ربه ! په مخ د زمکه د کافرانو یو اُوسیدونکې هم ژوندې مه پرېږده . (بلکه ټول هلاک کړه) .

اې د الله رسوله ! که چیرته تاسو هم مونږ ته همدغه شان ښېرې کړې وی نو مونږ ټول به هلاک شوي وو ، حالانکه تاسو ته ډیر تکلیفونه دَر رسیدلي ، تاسو په زمکه غورځول شوي یَی ، ستاسو مخ په وِینه رنګ شوی ، ستاسو غاښونه مبارک شهیدان شوي ، خو تاسو بیا هم ښېرې ندي کړي بلکه تاسو خپل قوم ته د مغفرت دُعا کړې :

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِيْ فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ .

اې الله ! زما دې قوم ته مغفرت اوکړه ځکه دوی نه پوهیږي .

بیا حضرت عُمر رضي الله عنه د نبي علیه السلام نور ډیر فضائل هم ذکر کړل . (٢)

←←← وَلَمْ يُعَاقِبْهَا... سنن ابی داؤد کتاب الديات بَابٌ فِيمَنْ سَقَى رَجُلًا سَمًّا أَوْ أَطْعَمَهُ فَمَاتَ أَيُقَادُ مِنْهُ رقم الحديث ٤٥١٠ ، السنن الكبرى للبيهقي رقم الحديث ١٦٠٠٨ ، مشكوة المصابيح باب في المعجزات رقم الحديث ٥٩٣١ .

(١) نوح آية ٢٦ .

(٢) پوره حدیث داسې دی : وروي أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سُمِعَ بَعْدَ مَوْتِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَبْكِيْ وَيَقُوْلُ: بِأَبِيْ أَنْتَ وَأُمِّيْ يا رسول الله لقد كان جذع تخطب الناس عليه فلما كثر الناس اتخذت منبراً لتسمعهم فحن الجذع لفراقك حتى جعلت يدك عليه فسكن فأمتك كانت أولى بالحنين إليك لما فارقتهم ، بأبي أنت وأمي يا رسول الله لقد بلغ من فضيلتك عنده أن جعل طاعتك طاعته . فَقَالَ عَزَّ وَجَلَّ ﴿ من يطع الرسول فقد أطاع الله ﴾ ، بأبي أنت وأمي يا رسول الله لقد بَلَغَ مِنْ فَضِيْلَتِكَ عِنْدَهُ أَنْ أَخْبَرَكَ بِالْعَفْوِ عَنْكَ قَبْلَ أَنْ يُخْبِرَكَ بِالذَّنْبِ فَقَالَ تَعَالَى ﴿ عفا الله عنك لم أذنت لهم ﴾ ، بأبي أنت وأمي يا رسول الله لقد بلغ من فضيلتك عنده أن بعثك آخر الأنبياء وذكرك في أولهم فقال عز وجل ﴿ وإذ أخذنا من النبيين ميثاقهم ومنك ومن نوح وإبراهيم ﴾ الآية . بأبي أنت وأمي يا رسول الله لقد بَلَغَ مِنْ فَضِيْلَتِكَ عِنْدَهُ أَنَّ أَهْلَ النَّارِ يَوَدُّوْنَ أَنْ يَكُوْنُوْا قَدْ أَطَاعُوْكَ وَهُمْ بَيْنَ أطباقها يعذبون يقولون ﴿ يا ليتنا أطعنا الله ←←←←

# په نبي عليه السلام باندې زمکه هم فخر کوي

د نبي عليه السلام دومره لوي شان دی چې د دوی په وجه زمکه هم په آسمان باندې فخر کوي " چې په ما باندې سيّدُ الکائنات محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم پيدا شوی ، په ما باندې ورته نبوّت ملاوْ شوی ، په ما باندې يې دعوت چلولی ، او په ما باندې يې اسلامي شريعت جاري کړې وْ " .(١)

←←← وأطعنا الرسولا ﴾ . بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ لَئِنْ كان موسى بن عمران أعطاه الله حجرًا تنفجر مِنْهُ الْأَنْهَارُ فَمَاذَا بِأَعْجَبَ مِنْ أَصَابِعِكَ حِينَ نَبَعَ مِنْهَا الْمَاءُ صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ لَئِنْ كَانَ سليمان بن داود أَعْطَاهُ اللهُ الرِّيحَ غُدُوُّهَا شَهْرٌ وَرَوَاحُهَا شَهْرٌ فماذا بأعجب من البراق حين سريت عَلَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ السَّابِعَةِ ثُمَّ صَلَّيْتَ الصُّبْحَ مِنْ لَيْلَتِكَ بِالْأَبْطَحِ صَلَّى اللهُ عَلَيْكَ بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ لَئِنْ كَانَ عيسى بن مَرْيَمَ أَعْطَاهُ اللهُ إِحْيَاءَ الْمَوْتَى فَمَاذَا بِأَعْجَبَ مِنَ الشَّاةِ الْمَسْمُومَةِ حِينَ كَلَّمَتْكَ وَهِيَ مَشْوِيَّةٌ فقالت لك الذِّرَاعُ لَا تَأْكُلْنِي فَإِنِّي مَسْمُومَةٌ . بِأَبِي أَنْتَ وأمي يا رسول الله لقد دعا نوح على قومه فقال ﴿ رب لا تذر على الأرض من الكافرين ديارًا ﴾ ولو دعوت علينا بمثلها لهلكنا فلقد وطىء ظهرك وأدمي وجهك وكسرت رباعيتك فأبيت أن تقول إلا خيرًا فقلت: اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ . بأبي أنت وأمي يا رسول الله لقد اتَّبَعَكَ فِي قِلَّةِ سِنِّكَ وَقِصَرِ عُمُرِكَ مَا لَمْ يَتَّبِعْ نُوحًا فِي كَثْرَةِ سِنِّهِ وَطُولِ عُمُرِهِ وَلَقَدْ آمَنَ بِكَ الْكَثِيرُ وَمَا آمَنَ معه إلا القليل . بأبي أنت وأمي يا رسول الله لو لم تجالس إلا كفؤًا لك ما جالستنا ولو لم تنكح إلا كفؤًا لك ما نكحتَ إلينا ولو لم تؤاكل إلا كفؤًا لك ما واكلتنا فلقد والله جالستنا ونكحتَ إلينا وواكلتنا ولبستَ الصُّوفَ وَرَكِبْتَ الْحِمَارَ وَأَرْدَفْتَ خَلْفَكَ وَوَضَعْتَ طَعَامَكَ على الأرض ولعقت أصابعك تواضعًا منك صلى الله عليه وسلم .

إحياء علوم الدين كتاب الأذكار والدعوات فضيلة الصَّلَاةَ عَلَىٰ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم وفضله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ج١ ص ٣١٠ . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٤٠ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم

(١) ومن فضائله صلى الله عليه وسلم : ما روي أنّ الأرض افتخرت على السماء بفضله . قيل : إنّ السماء كانت تفتخر على الأرض قبل مولده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فكانت تقول : إنّ العرش فِيَّ والملائكة والشمس والقمر والنجوم . وأنت خالية عن هذا كله . فكانت السماء لها الفخر على الأرض إلى أنْ ولد نبيّنا صلى الله عليه وسلم فافتخرت الأرض على السماء فقالت : إنْ كان الشمس والقمر والنجوم والملائكة فيك فقد ولد على ظهري نبيٌّ مباركٌ لنور العرش من نوره ، وعلى ظهري مبعثه و دعوته ، على ظهري تستعمل شريعته . فسمع الله مفاخرتها على السماء بنبيِّه محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال : لاجرم حيث افتخرت بحبيبي ←←←←←

Scanned with CamScanner

## مسئله : د نبي عليه السلام د بدن مبارک سره لږيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده

د اهل السنّة والجماعة دا اِجماعي عقيده ده چې په قبرِ اَطهر کې د پيغمبر عليه السلام د بدن مبارک سره لږيدلې خاوره د عرش او کعبې نه هم بهتره ده ، ځکه دا خو يقيني خبره ده چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم په ټولو مخلوقاتو کې افضل دی ، د دوی نه بل هيڅ شی افضل نشته.

او په يو حديث کی دي چې انسان د کومې خاورې نه پيدا شوې وي هم هلته به دفن کيږي. (١)

لهذا ددې حديث په رڼا کې نبي عليه السلام چې اوس په کوم ځای او کومه خاوره کې دفن دی نو د همدې نه پيدا شوې هم دی. اوس چې کله رسولُ الله صلی الله عليه وسلم افضل د مخلوقاتو دی نو لازمي خبره ده چې د کومې خاورې نه پيدا شوی هغه به هم افضل د مخلوقاتو وي.

بل دا چې د قبر دغې خاورې ته چې د نبي عليه السلام د بدن مبارک سره د لږيدلو په وجه

←←←← محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جعلتُ ترابَ شرقِک وغربک طهورا له ولأمته ، و شرقک وغربک مساجد لهم ومصلى . فلذلک قال صلوات الله وسلامه عليه : جعلت لي الأرض مسجدا وطهورا . نزهة الناظرين في الأخبار والآثار المروية عن الأنبياء والصالحين ص ٤١ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم

(١) عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجِنَازَةٍ عِنْدَ قَبْرٍ فَقَالَ: « قَبْرُ مَنْ هَذَا ؟» فَقَالُوا : فُلَانٌ الْحَبَشِيُّ يَا رَسُولَ اللهِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ سِيقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ إِلَى تُرْبَتِهِ الَّتِي مِنْهَا خُلِقَ » . المستدرک على الصحيحين ج١ ص ٥٢١ رقم الحديث ١٣٥٦ . وقال الحاكم : هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحُ الْإِسْنَادِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ. وفاء الوفاء ج١ ص ٣٢ طبع بيروت .

وفي رواية : عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِبَعْضِ نَوَاحِي الْمَدِينَةِ وَإِذَا بِقَبْرٍ يُحْفَرُ فَأَقْبَلَ عَلَيْهِ فَقَالَ : لِمَنْ هَذَا ؟ فَقِيلَ لِرَجُلٍ مِنَ الْحَبَشَةِ فَقَالَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ سِيقَ مِنْ أَرْضِهِ وَسَمَائِهِ حَتَّى دُفِنَ فِي الْأَرْضِ الَّتِي خُلِقَ مِنْهَا . روى الترمذي الحكيم في نوادر الاصول ، نزهة الناظرين... ص ٦١٧ .

کوم سعادت حاصل دی دا سعادت عرش کرسي او کعبې ته نه دی حاصل.

علامه ابن تیمیه رحمه الله هم فرمایي: چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د روضې مبارکې ځای د بیت الله شریف نه هم افضل دی. (١)

**سوال**: که د چا په ذهن کې دا سوال راځي چې د قبر ددې خاورې نسبت نبي علیه السلام طرف ته کیږي، او د عرش، کرسي او کعبې نسبت الله ﷻ طرف ته کیږي. نو بیا څنګه د قبر دا خاوره آفضله شوه؟

**جواب**: د قبر ددې خاورې د پیغمبر علیه السلام د بدن مبارک سره د مُلابست (یو ځای لږیدو) تعلق دی، او د کعبې، عرش او کرسي د الله ﷻ سره د ملابست تعلق نشته، ځکه الله ﷻ د جسم نه پاک دی. لهذا د قبر دا خاوره افضله شوه. (٢)

## که یو سړی د الله ﷻ عبادت کوي خو د نبي علیه السلام د رِسالت تصدیق نه کوي نو دا کافر دی

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم دومره اُوچت شان دی چې په آذان، اِقامت، تشهّد او د جُمعې خطبه کې د الله ﷻ د نوم سره د دوی نوم هم متصل ذکر دی.

تر دې چې که یو کس د الله تعالی پوره عبادت کوي او د الله ﷻ د هرې خبرې تصدیق کوي خو د محمد رّسولُ الله صلی الله علیه وسلم رِسالت نه مني نو ده ته د الله تعالی دا

---

(١) وَالْمَسْجُودُ هُوَاللّٰهُ دُوْنَ الْكَعْبَةِ، وَالتَّوَجُّهُ إِلَيْهَا لَا يَقْتَضِي الْأَفْضَلِيَّةَ. فافهم. فتاوی فریدیه ج١ ص ٣٦٤ باب ما يتعلق بالنبي صلى الله عليه وسلم.

(٢) فلا شك أن مكّة لكونها من الحرم المحترم اجماعًا افضلُ من نفسِ المدينة، ما عدا التربة السكينة. فإنها افضلُ من الكعبة، بل من العرش على ما قاله جماعة. شرح الشفاء ج٢ ص ١٦٢.

قال الراقم (المحدث البنوري) وإنْ شِئْتَ أَنْ تستأنس ذلك بدليلٍ مِنَ السُّنَّةِ فلاحظ إلى حديث رسول الله صلى الله عليه وسلم: "انّ كلّ نفس تدفن في التربة التي خلقت منها". كما رواه الحاكم في مستدركه. معارف السنن ج٣ ص٣٢٣.

عبادت هیڅ فائده نه ورکوي، بلکه دا سړی اوس هم کافر دی. (١)

# د نبي علیه السلام تعظیم کول، او د دوی مرتبه په ټولو مخلوقاتو اوچته ګڼړل

د هر مسلمان د پاره دا ضروري ده چې په زړه کې به يې د رسول الله صلی الله علیه وسلم تعظیم او ادب وي، او د دوی مرتبه به په ټولو مخلوقاتو باندې اوچته ګڼړي.

ددې متعلق درته څه تفصیل بیانوم:

## د پیغمبر علیه السلام تعظیم کوونکي کامیاب دي

١. الله تعالی فرمايي: ﴿ فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ وَعَزَّرُوهُ وَنَصَرُوهُ وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِيَ أُنزِلَ مَعَهُ أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ﴾. (٢)

---

(١) { وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ } بِأَنْ تُذْكَرَ مَعَ ذِكْرِي فِي الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ وَالتَّشَهُّدِ وَالْخُطْبَةِ وَغَيْرِهَا. تفسير الجلالين

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ سَأَلَ جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ قَالَ: قَالَ اللهُ تعالى: «إِذَا ذُكِرْتُ ذُكِرْتَ مَعِي». وَعَنِ الْحَسَنِ قَالَ: ﴿ وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ ﴾ إِذَا ذُكِرْتُ ذُكِرْتَ. وَقَالَ عَطَاءٌ رَحِمَهُ اللهُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: يُرِيدُ الْأَذَانَ وَالْإِقَامَةَ وَالتَّشَهُّدَ وَالْخُطْبَةَ عَلَى الْمَنَابِرِ، وَلَوْ أَنَّ عَبْدًا عَبَدَ اللهَ وَصَدَّقَهُ فِي كُلِّ شَيْءٍ وَلَمْ يَشْهَدْ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ لَمْ يَنْتَفِعْ بِشَيْءٍ، وَكَانَ كَافِرًا. وَقَالَ قَتَادَةُ رَحِمَهُ اللهُ: رَفَعَ اللهُ ذِكْرَهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، فَلَيْسَ خَطِيبٌ وَلَا مُتَشَهِّدٌ وَلَا صَاحِبُ صَلَاةٍ إِلَّا يُنَادِي: أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ. وَقَالَ الضَّحَّاكُ: لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ إِلَّا بِهِ وَلَا تَجُوزُ خُطْبَةٌ إِلَّا بِهِ. وَقَالَ مجاهد: يَعْنِي بِالتَّأْذِينِ، وَفِيهِ يَقُولُ حَسَّانُ بْنُ ثَابِتٍ رضي الله عنه:

وَضَمَّ الْإِلَهُ اسْمَ النَّبِيِّ مَعَ اسْمِهِ ✿ إِذَا قَالَ فِي الْخَمْسِ الْمُؤَذِّنُ أَشْهَدُ

وَشَقَّ لَهُ مِنَ اسْمِهِ لِيُجِلَّهُ ✿ فَذُو الْعَرْشِ مَحْمُودٌ وَهَذَا مُحَمَّدُ

تفسير البغوي (معالم التنزيل في تفسير القرآن) ج٥ ص ٢٧٣ سورة الشرح آية ٣. تفسير الخازن ج٤ ص ٤٤١ سورة الشرح.

(٢) الاعراف آية ١٥٧.

Scanned with CamScanner

ترجمه: پس کومو خلقو چې په نبي علیه السلام باندې اِیمان راوړو، د دوی تعظیم یې اوکړو، د دوی مدد یې اوکړو، او د هغه نُور ( قرآن کریم ) تابعداري یې اوکړه کوم چې دده سره نازل شوی نو همدغه خلق کامیابي موندونکي دي.(١)

٢ . بل ځای الله ﷻ فرمایي:

﴿ إِنَّآ أَرْسَلْنَٰكَ شَٰهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ۞ لِّتُؤْمِنُوا بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ ﴾.(٢)

ترجمه: ( اې پیغمبره ! ) بیشکه مونږ ته ( د قیامت په ورځ په خپل اُمت باندې ) گواه لیږلې یې، دوی ته مو (په دُنیا کې) زیرې ورکوونکی او ( د عذاب نه ) ویروُونکی لیږلې یې. ( اې خلقو ! ) ددې د پاره چې تاسو په الله او د هغه په رسول باندې اِیمان راوړئ، دده مدد اوکړئ، او دده تعظیم اوکړئ.(٣)

## صحابه کرام به د نبي علیه السلام په مجلس کې ډیر په اَدب سره ناست وو

صحابه کرام رضی الله عنهم به چې د نبي علیه السلام په مجلس کې ناست وو نو د ډیر اَدب او تعظیم په وجه به داسې خاموش ناست وو گویا چې د دوی په سَرونو باندې مرغۍ دي.

صحابه کرام رضی الله عنهم پخپله د یو مجلس حالت بیانوي، فرمایي:

.... فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرُ.

پس رسولُ الله صلی الله علیه کیناست، او مونږ هم د هغوی گیرچاپیره داسې ( خاموش)

---

(١) {فَالَّذِينَ آمَنُوا بِهِ} أَيْ: بِمُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. {وَعَزَّرُوهُ} وَقَّرُوهُ، {وَنَصَرُوهُ} عَلَى الْأَعْدَاءِ {وَاتَّبَعُوا النُّورَ الَّذِي أُنْزِلَ مَعَهُ} يَعْنِي: الْقُرْآنَ {أُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ}. تفسير البغوي ج ٣ ص ٢٩٠ سورة الاعراف آية ١٥٧. و تفسير الجلالين.

(٢) الفتح آية ٨، ٩.

(٣) {إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا} عَلَى أُمَّتك فِي الْقِيَامَة {وَمُبَشِّرًا} لَهُمْ فِي الدُّنْيَا {وَنَذِيرًا} مُنْذِرًا مُخَوِّفًا فِيهَا مَنْ عَمِلَ سُوءًا بِالنَّارِ {لِيُؤْمِنُوا بِاللهِ وَرَسُولِهِ} بِالْيَاءِ وَالتَّاء فِيهِ وَفِي الثَّلَاثَة بَعْدَهُ {وَيُعَزِّرُوهُ} يَنْصُرُوهُ وَقُرِئَ بِزَايَيْنِ مَعَ الفوقانية {ويوقروه} يعظموا وضميرها لله أو لرسوله. تفسير الجلالين سورة الفتح آية ٨، ٩.

{وَتُعَزِّرُوهُ} أَيْ تُعِينُوهُ وَتَنْصُرُوهُ، {وَتُوَقِّرُوهُ} تُعَظِّمُوهُ وَتُفَخِّمُوهُ. هَذِهِ الْكِنَايَاتُ رَاجِعَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وهاهنا وَقْفٌ. تفسير البغوي ج ٧ ص ٢٩٩ سورة الفتح آية ٩.

Scanned with CamScanner

کیناستو ګویا چې زمونږ په سَرونو باندې مرغۍ ناستې دي . (۱)

(یعنې مکمل خاموش ناست وو ، هیڅ یو طرف او بل طرف ته نه کتل) . (۲)

## الله تعالی مؤمنان منع کړي وو چې د نبي علیه السلام په مجلس کې په اُوچت آواز سره خبرې اوکړي

الله تعالی مؤمنان د دینه منع کړي وو چې په مجلس کې د نبي علیه السلام په آواز باندې خپل آواز اُوچت کړي ، فرمایي :

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَرْفَعُوا أَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا لَهُ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ . (۳)

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو خپل آوازونه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د آواز د پاسه مه اوچتوئ ، او مه د هغه سره ( داسې ) په زوره خبرې کوئ ، لکه ( څرنګ ) چې تاسو د یو

---

(۱) عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رضي الله عنه ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ. فَانْتَهَيْنَا إِلَى الْقَبْرِ وَلَمَّا يُلْحَدْ. فَجَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَلَسْنَا حَوْلَهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرُ. وَفِي يَدِهِ عُودٌ يَنْكُتُ بِهِ فِي الْأَرْضِ، فَرَفَعَ رَأْسَهُ. فَقَالَ: « إِسْتَعِيذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ » مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثًا ... سنن ابي داؤد كِتَابُ السُّنَّةِ بَابٌ فِي الْمَسْأَلَةِ فِي الْقَبْرِ وَعَذَابِ الْقَبْرِ رقم الحديث ۴۷۵۳ ، مشكاة المصابيح كتاب الجنائز باب مَا يُقَالُ عِنْدَ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ الْفَصْلُ الثَّالِثُ رقم الحديث ۱۶۳۰ . مصنف ابن ابي شيبة رقم الحديث ۱۱۵۲۳ ، و رقم الحديث ۱۲۰۳۲ ، المعجم الاوسط رقم الحديث ۳۴۹۹ ، الترغيب والترهيب للمنذري رقم الحديث ۵۳۹۶ .

(۲) (كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِنَا الطَّيْرَ) قَالَ الطِّيبِيُّ رَحِمَهُ اللهُ : كِنَايَةٌ عَنْ إِطْرَاقِهِمْ رُءُوسَهُمْ. وَسُكُوتِهِمْ، وَعَدَمِ الْتِفَاتِهِمْ يَمِينًا وَشِمَالًا. قَالَ مِيرَكُ: وَالطَّيْرَ بِالنَّصْبِ عَلَى أَنَّهُ اسْمُ كَأَنَّ أَيْ عَلَى رَأْسِ كُلِّ وَاحِدٍ الطَّيْرُ يُرِيدُ صَيْدَهُ فَلَا يَتَحَرَّكُ. وَهَذِهِ كَانَتْ صِفَةَ مَجْلِسِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَكَلَّمَ أَطْرَقَ جُلَسَاؤُهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرُ. يُرِيدُ أَنَّهُمْ يَسْكُتُونَ فَلَا يَتَكَلَّمُونَ وَالطَّيْرُ لَا يَسْقُطُ إِلَّا عَلَى سَاكِنٍ. وَقَالَ الْجَوْهَرِيُّ: قَوْلُهُمْ كَأَنَّ عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرَ إِذَا سَكَنُوا مِنْ هَيْبَتِهِ. وَأَصْلُهُ أَنَّ الْغُرَابَ إِذَا وَقَعَ عَلَى رَأْسِ الْبَعِيرِ فَيَلْتَقِطُ مِنْهُ الْحَلَمَةَ وَالْحَلَمَتَيْنِ. فَلَا يُحَرِّكُ الْبَعِيرُ رَأْسَهُ لِئَلَّا يَنْفِرَ عَنْهُ الْغُرَابُ . مرقاة المفاتيح ج ۳ ص ۱۱۷۶ كتاب الجنائز باب مَا يُقَالُ عِنْدَ مَنْ حَضَرَهُ الْمَوْتُ الْفَصْلُ الثَّالِثُ في تشريح حديث ۱۶۳۰ (۱۵) .

(۳) الحجرات آية ۲ .

بل سره په زوره خبرې کوئ ، هسې نه چې ستاسو ټول عملونه ضائع شي او تاسو پرې خبر هم نه یئ . (١)

٣ . صحابه کرامو به ددې آیت نازلیدو نه پس د پیغمبر علیه السلام سره په ډیر ټیټ آواز باندې خبرې کولې . (٢)

او د کومو صحابه کرامو آوازونه چې ډیر اوچت وو هغوی به ډیر یریدل چې چیرته دا آیت زمونږ په باره کې نه وي نازل شوی ، نو بیا نبي علیه السلام هغوی ته تسلي ورکړه . (٣)

---

(١) ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرْفَعُوٓاْ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِيِّ... ﴾ أَمَرَهُمْ أَنْ يُبَجِّلُوهُ وَيُفَخِّمُوهُ وَلَا يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَهُ، وَلَا يُنَادُونَهُ كَمَا يُنَادِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا، {أَنْ تَحْبَطَ أَعْمَالُكُمْ} لِئَلَّا تَحْبَطَ حَسَنَاتُكُمْ. وَقِيلَ: مَخَافَةَ أَنْ تَحْبَطَ حَسَنَاتُكُمْ. تفسير البغوي ج٧ ص ٣٣٥ الحجرات آية ٢ .

(٢) قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ وَابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا : لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ كَانَ أَبُو بَكْرٍ لَا يُكَلِّمُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا كَأَخِي السِّرَارِ. وَقَالَ ابْنُ الزُّبَيْرِ رضي الله عنه : لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ مَا حَدَّثَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ ذَلِكَ فَيَسْمَعُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَلَامَهُ حَتَّى يَسْتَفْهِمَهُ مِمَّا يَخْفِضُ صَوْتَهُ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَٰتَهُمْ ﴾ يَخْفِضُونَ أَصْوَاتَهُمْ ﴿ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ ﴾ إِجْلَالًا لَهُ، ﴿ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمْتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ ﴾ اخْتَبَرَهَا وَأَخْلَصَهَا كَمَا يُمْتَحَنُ الذَّهَبُ بِالنَّارِ فَيَخْرُجُ خَالِصُهُ، ﴿ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾. تفسير البغوي ج٧ ص٣٣٧ الحجرات آية ٣ .

(٣) عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَرْفَعُوٓاْ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِيِّ ... ﴾ جَلَسَ ثَابِتُ بْنُ قَيْسٍ رضي الله عنه فِي بَيْتِهِ وَقَالَ: أَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ. وَاحْتَبَسَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَسَأَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَعْدَ بْنَ مُعَاذٍ رضي الله عنه فَقَالَ: يَا أَبَا عَمْرٍو ! مَا شَأْنُ ثَابِتٍ أَشْتَكَى ؟ فَقَالَ سَعْدٌ رضي الله عنه : إِنَّهُ لَجَارِي وَمَا عَلِمْتُ لَهُ شَكْوَى، قَالَ: فَأَتَاهُ سَعْدٌ رضي الله عنه فَذَكَرَ لَهُ قَوْلَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ ثَابِتٌ رضي الله عنه : أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ، وَلَقَدْ عَلِمْتُمْ أَنِّي مِنْ أَرْفَعِكُمْ صَوْتًا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَنَا مِنْ أَهْلِ النَّارِ، فَذَكَرَ ذَلِكَ سَعْدٌ رضي الله عنه لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " بَلْ هُوَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ " . صحيح البخاري

وَرُوِيَ أَنَّهُ لَمَّا نَزَلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ قَعَدَ ثَابِتٌ فِي الطَّرِيقِ يَبْكِي، فَمَرَّ بِهِ عَاصِمُ بْنُ عَدِيٍّ رضي الله عنه فَقَالَ: مَا يُبْكِيكَ يَا ثَابِتُ ؟ فَقَالَ: هَذِهِ الْآيَةُ أَتَخَوَّفُ أَنْ تَكُونَ نَزَلَتْ فِيَّ، وَأَنَا رَفِيعُ الصَّوْتِ أَخَافُ أَنْ يُحْبَطَ عَمَلِي، وَأَنْ أَكُونَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ. فَمَضَى عَاصِمٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَلَبَ ثَابِتًا الْبُكَاءُ، فَأَتَى امْرَأَتَهُ ←←←←

Scanned with CamScanner

## امام مالک رَحِمَهُ اللهُ امیرالمؤمنین ''ابوجعفر منصور'' ته په مسجدِ نبوي کې په اوچت آواز باندې خبرو کولو سره تنبِیه ورکړه

یو ځل امیرالمؤمنین ''ابوجعفر منصور'' د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ سره په مسجدِ نبوي کې په څه خبره باندې مناظره کوله، د ابوجعفر سره په دې وخت کې پنځه سوه (۵۰۰) کسان داسې وو چې د هغوی سره توري په لاسونو کې وې.

ابوجعفر منصور به په اوچت آواز سره خبرې کولې. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ورته وویل: اې امیرالمؤمنین! آیا ته په مسجدِ نبوي کې آواز اوچتوې؟ حالانکه الله تعالی مؤمنانو ته د ادب ورکولو د پاره فرمائلي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ اٰمَنُوْا لَا تَرْفَعُوْٓا اَصْوَاتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ النَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوْا لَهٗ بِالْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ اَنْ تَحْبَطَ اَعْمَالُكُمْ وَاَنْتُمْ لَا تَشْعُرُوْنَ ﴾. (۱)

---

←←← جَمِيلَةَ بِنْتَ عَبْدِ اللهِ بْنِ أُبَيِّ سَلُوْلَ. فَقَالَ لَهَا: إِذَا دَخَلْتُ بَيْتَ فَرَسِيْ فَشُدِّيْ عَلَيَّ الضَّبَّةَ بِمِسْمَارٍ، وَقَالَ: لَا أَخْرُجُ حَتَّى يَتَوَفَّانِي اللهُ أَوْ يَرْضَى عَنِّيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَأَتَى عَاصِمٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَخْبَرَهُ خَبَرَهُ. فَقَالَ لَهُ: اِذْهَبْ فَادْعُهُ، فَجَاءَ عَاصِمٌ إِلَى الْمَكَانِ الَّذِيْ رَآهُ فَلَمْ يَجِدْهُ، فَجَاءَ إِلَى أَهْلِهِ فَوَجَدَهُ فِيْ بَيْتِ الْفَرَسِ، فَقَالَ لَهُ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُوْكَ، فَقَالَ: اكْسِرِ الضَّبَّةَ فَكَسَرَهَا، فَأَتَيَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا يُبْكِيْكَ يَا ثَابِتُ؟ فَقَالَ: أَنَا صَيِّتٌ وَأَتَخَوَّفُ أَنْ تَكُوْنَ هٰذِهِ الْآيَةُ نَزَلَتْ فِيَّ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَا تَرْضَى أَنْ تَعِيْشَ حَمِيْدًا وَتُقْتَلَ شَهِيْدًا وَتَدْخُلَ الْجَنَّةَ؟ فَقَالَ: رَضِيْتُ بِبُشْرَى اللهِ وَرَسُوْلِهِ، وَلَا أَرْفَعُ صَوْتِيْ أَبَدًا عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَنْزَلَ اللهُ: {إِنَّ الَّذِيْنَ يَغُضُّوْنَ أَصْوَاتَهُمْ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ}.

قَالَ أَنَسٌ رضي الله عنه: فَكُنَّا نَنْظُرُ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ يَمْشِيْ بَيْنَ أَيْدِيْنَا. فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْيَمَامَةِ فِيْ حَرْبِ مُسَيْلِمَةَ الْكَذَّابِ، رَأَى ثَابِتٌ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ بَعْضَ الْإِنْكِسَارِ وَانْهَزَمَتْ طَائِفَةٌ مِنْهُمْ. فَقَالَ: أُفٍّ لِهٰؤُلَاءِ. ثُمَّ قَالَ ثَابِتٌ لِسَالِمٍ مَوْلَى أَبِيْ حُذَيْفَةَ: مَا كُنَّا نُقَاتِلُ أَعْدَاءَ اللهِ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ هٰذَا. ثُمَّ ثَبَتَا وَقَاتَلَا حَتَّى قُتِلَا. تفسير البغوي ج۷ ص۳۳۵ الحجرات آية ۲.

(۱) الحجرات آية ۲.

Scanned with CamScanner

ترجمه : اې مومنانو ! تاسو خپل آوازونه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم د آواز د پاسه مه اوچتوئ ، او مه د هغه سره ( داسې ) په زوره خبرې کوئ ، لکه ( څرنګ ) چې تاسو د يو بل سره په زوره خبرې کوئ ، هسې نه چې ستاسو ټول عملونه ضائع شي او تاسو پرې خبر هم نه يئ .

او الله تعالی د هغه خلقو مَدحه بيان کړی کومو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په مخکې په ښکته آواز (آدب) سره خبرې کولی . فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللَّهِ أُولَٰئِكَ الَّذِينَ امْتَحَنَ اللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ . (١)

ترجمه : بيشکه کوم خلق چې د الله د رسول د وړاندې خپل آوازونه ښکته ساتي همدا هغه خلق دي چې الله تعالی د دوی زړونه د پرهيزګاری د پاره آزمائيلي دي (يعنی دا خلق مُتّقيان دي) ، د دوی د پاره بَخښنه او لوي آجر دی .

او الله تعالی د هغه خلقو مذمت بيان کړی کومو چې نبي عليه السلام ته د حُجرو (کوټو) شا طرف نه آوازونه کول ، فرمايي :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ . (٢)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) بيشکه کوم خلق چې تاته د حُجرو ( کوټو ) شا طرف نه آوازونه کوي نو په دوی کې اکثر خلق نه پوهيږي . (بې عقله دي) .

بيا امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ او فرمايل :

إِنَّ حُرْمَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيِّتًا كَحُرْمَتِهِ حَيًّا .

بيشکه د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وفات نه پس د دوی تعظيم داسې واجب دی لکه څنګه چې د دوی په ژوند باندې واجب وُ .

نو اميرُ المؤمنين ابو جعفر منصور خپل آواز ښکته کړو .... (٣)

(١) الحجرات آية ٣ .

(٢) الحجرات آية ٤ .

(٣) وحكي أن أمير المؤمنين أبا جعفر المنصور ناظر الإمامَ مالكًا في مسجد رسولِ الله ←←←←←←←←

# اوس هم د نبي عليه السلام د روضې سره په اُوچت آواز خبرې کول، يا د احاديثو بيانيدو په وخت شور کول منع دي

په تفسير قرطبي کې ذکر دي : بعضې علماء وايي چې (اوس هم) د نبي عليه السلام قبر مبارک سره په اُوچت آواز خبرې کول مکروه ( او د آدب خلاف ) دي .

بلکه بعضې اهلِ عِلمو خو دا هم ذکر کړي چې د علماؤ په مجلس کې هم د دوی د تعظيم په وجه په اُوچت آواز خبرې کول منع دي ؛ ځکه دا علماء هم د نبي عليه السلام وارِثان دي .

قاضي ابوبکر بن عَرَبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ ذکر کړي :

حُرْمَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيِّتًا كَحُرْمَتِهِ حَيًّا .

د نبي عليه السلام د وفات نه پس د هغوی تعظيم او آدب داسې واجب دی لکه څنګه چې د هغوی په ژوند مبارک کې واجب وُ .

او په کوم مجلس کې چې د پيغمبر عليه السلام احاديث لوستلې شي نو دا داسې دی لکه د پيغمبر عليه السلام د خُلې مبارکې نه چې آوريدلې شي .

لهذا په کوم مجلس کې چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم احاديث لوستلې شي ددې

---

←←← صلى الله عليه وسلم وكان بين يدى الخليفة في ذلک اليوم خمس مائة سيف . فقال له : مالک يا أمير المؤمنين ترفع صوتک في هذا المسجد فإنّ الله عز وجل أدب قوما فقال : ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَرْفَعُوٓا۟ أَصْوَٰتَكُمْ فَوْقَ صَوْتِ ٱلنَّبِيِّ وَلَا تَجْهَرُوا۟ لَهُۥ بِٱلْقَوْلِ كَجَهْرِ بَعْضِكُمْ لِبَعْضٍ أَن تَحْبَطَ أَعْمَٰلُكُمْ وَأَنتُمْ لَا تَشْعُرُونَ ﴾ الحجرات آية ٢ . ومدح قوما . فقال : ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَغُضُّونَ أَصْوَٰتَهُمْ عِندَ رَسُولِ ٱللَّهِ أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱمْتَحَنَ ٱللَّهُ قُلُوبَهُمْ لِلتَّقْوَىٰ لَهُم مَّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِيمٌ ﴾ الحجرات آية ٣ . و ذمّ قوما . فقال : ﴿ إِنَّ ٱلَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَآءِ ٱلْحُجُرَٰتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾ الحجرات آية ٤ . وَإِنَّ حُرْمَةَ رَسُوْلِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيِّتًا كَحُرْمَتِهِ حَيًّا . قال : فاستكان له الخليفة ، وقال : يا أبا عبدالله أستقبل القبلة و أدعو أم أستقبل رسولَ الله صلى الله عليه وسلم ؟ فقال : و لم تصرف وجهک عنه و هو وسيلتک و وسيلة أبيک آدم ؟ بل استقبله واستشفع به . قال تعالى : ﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓا۟ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُوا۟ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُوا۟ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴾ . النساء آية ٦٤ . نزهة الناظرين ص ٣٦ كتاب فضل النبي صلى الله عليه وسلم .

Scanned with CamScanner

مجلس په خلقو باندې دا واجب دي چې په دې باندې خپل آواز اُوچت نکړي او ددېنه اِعراض اونکړي . او دا داسې واجب دي لکه څرنګې چې د نبي علیه السلام په ژوند کې چې به کله هغوی احادیث بیانول او په صحابه کرامو باندې په اَدب سره د هغې اَوریدل واجب وو .

الله تعالی چې د نبي علیه السلام په مجلس کې د آواز اُوچتولو نه کومه منع کړی دا حکم تر قیامته پورې عام دی ، د هرې زمانې خلقو د پاره دا لازم دي چې په کوم مجلس کې د پیغمبر علیه السلام احادیث بیانیږي په دې مجلس کې شور او بې اَدبي اونکړي .

بل دا چې الله تعالی فرمایي :

﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴾ . (۱)

ترجمه : او کله چې قرآن کریم لوستلې شي نو دیته غوږ کیږدئ (یعنی دا په توجّه سره واورئ) ، او چپ اُوسئ ، ددې د پاره چې په تاسو رحم اوکړې شي .

نو لکه څرنګې چې د قرآن کریم تلاوت ته غوږ ایخودل او په اَدب سره اوریدل لازمي دي نو همدغه شان د رسولُ الله صلی الله علیه وسلم احادیث هم په اَدب سره اَوریدل لازمي دي ؛ ځکه لکه څرنګې چې قرآن کریم وَحي ده نو همدغه شان د نبي علیه السلام احادیث هم وَحي ده ، خو فرق صرف دومره دی چې قرآن کریم وَحي جَلي ده ، او احادیث وَحي خفي ده .

الله تعالی فرمایي :

﴿ وَمَا يَنطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ ﴾ . (۲)

ترجمه : دا پیغمبر د خپل خواهشِ نفس نه خبرې نه کوي (بلکه) د دوی هره خبره وَحي ده چې په دوی نازلولې شي . (۳)

---

(۱) الاعراف آیة ۲۰۴ .

(۲) النجم آیة ۳ ، ۴ .

(۳) وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ رَفْعَ الصَّوْتِ عِنْدَ قَبْرِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ . وَكَرِهَ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ رَفْعَ الصَّوْتِ فِي مَجَالِسِ الْعُلَمَاءِ تَشْرِيفًا لَهُمْ ، إِذْ هُمْ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ . قَالَ الْقَاضِي أَبُو بَكْرِ بْنُ الْعَرَبِيِّ : حُرْمَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيِّتًا كَحُرْمَتِهِ حَيًّا ، وَكَلَامُهُ الْمَأْثُورُ بَعْدَ مَوْتِهِ فِي الرِّفْعَةِ مِثْلُ كَلَامِهِ الْمَسْمُوعِ مِنْ لَفْظِهِ . ←←←←←

Scanned with CamScanner

جلد 4 22

## مؤمنانو ته د نبي عليه السلام د اَدب په باره کې تربيت ورکول

الله تعالى مؤمنان د دينه منع کړي چې نبي عليه السلام ته د عامو انسانانو په شان په نوم (محمد يا احمد) سره آواز اوکړي ، بلکه "د الله نبي" او "د الله رسول" سره ورته آواز په کار دی . فرمايي :

﴿لَا تَجْعَلُوْا دُعَاۗءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاۗءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا ۭ﴾ . (١)

ترجمه : (اې مؤمنانو) تاسو د رسول (ﷺ) بلنه په خپل مينځ کې داسې (معمولي) مه ګڼئ لکه څرنګې چې تاسو په خپل مينځ کې يو بل رابلئ .

يعنې په "يامحمد" سره ورته آواز مه کوئ ، بلکه په ډيرې عاجزۍ او ټيټ آواز سره ورته "يانبيّ الله" او "يارسولَ الله" وايئ . (٢)

## باندېچيانو ته د اَدب تربيت ورکول

د بنوتميم قبيلې څه باندېچيان خلق نبي عليه السلام ته راغلل ، دا د غرمې وخت وُ ، په

←←← فَإِذَا قُرِئَ كَلَامُهُ، وَجَبَ عَلَى كُلِّ حَاضِرٍ أَلَّا يَرْفَعَ صَوْتَهُ عَلَيْهِ، وَلَا يُعْرِضَ عَنْهُ، كَمَا كَانَ يَلْزَمُهُ ذَلِكَ فِي مَجْلِسِهِ عِنْدَ تَلَفُّظِهِ بِهِ. وَقَدْ نَبَّهَ اللهُ سُبْحَانَهُ عَلَى دَوَامِ الْحُرْمَةِ الْمَذْكُورَةِ عَلَى مُرُورِ الْأَزْمِنَةِ بِقَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهُ وَأَنْصِتُوْا﴾ . وَكَلَامُهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْوَحْيِ، وَلَهُ مِنَ الحكمة مثل ما للقرآن، إلا معانيَ مُسْتَثْنَاةً، بَيَانُهَا فِي كُتُبِ الْفِقْهِ. تفسير القرطبي (الجامع لأحكام القرآن) ج١٦ ص ٣٠٧ سورة الحجرات في تشريح آية ٢ .

(١) النور آية ٦٣ .

(٢) {لَا تَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا} بِأَنْ تَقُوْلُوْا "يَا مُحَمَّدُ" بَلْ قُوْلُوْا "يَا نَبِيَّ اللهِ يَا رَسُوْلَ اللهِ" فِي لِيْنٍ وَتَوَاضُعٍ وَخَفْضِ صَوْتٍ. تفسير الجلالين النور آية ٦٣ .

{لَا تَجْعَلُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ بَيْنَكُمْ كَدُعَاءِ بَعْضِكُمْ بَعْضًا} قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا: يَقُوْلُ احْذَرُوْا دُعَاءَ الرَّسُوْلِ عَلَيْكُمْ إِذَا أَسْخَطْتُمُوْهُ . فَإِنَّ دُعَاءَهُ مُوْجِبٌ لِنُزُوْلِ الْبَلَاءِ بِكُمْ لَيْسَ كَدُعَاءِ غَيْرِهِ . وَقَالَ مُجَاهِدٌ وَقَتَادَةُ : لَا تَدْعُوْهُ بِاسْمِهِ كَمَا يَدْعُوْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا: يَا مُحَمَّدُ، يَا عَبْدَ اللهِ. وَلَكِنْ فَخِّمُوْهُ وَشَرِّفُوْهُ، فَقُوْلُوْا: يَا نَبِيَّ اللهِ، يَا رَسُوْلَ اللهِ، فِي لِيْنٍ وَتَوَاضُعٍ . تفسير البغوي ج٦ ص٦٧ سورة النور آية ٦٣ .

Scanned with CamScanner

دې وخت کې پيغمبر عليه السلام په يوه حُجره ( کمره ) کې د غرمې خُوب کولو ، دا باندېچيان خود ژوند په آدابو نه پوهيدل ، نو د بهرنه يې نبي عليه السلام ته دا آوازونه کول:

يَا مُحَمَّدُ اخْرُجْ إِلَيْنَا.

اې محمد ! مونږ ته بهر راووځه.

نو الله تعالى دې باندېچيانو ته د آدب د پاره دا آيتونه نازل کړل ، او وې فرمايل :

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ ﴾. (١)

ترجمه : ( اې پيغمبره ! ) بيشکه کوم خلق چې تاته د حُجرو ( کوټو ) شا طرف نه آوازونه کوي نو په دوی کې اکثر خلق نه پوهيږي . ( بې عقله دي ) . (٢)

په دې آيتونو کې د نبي عليه السلام آدب دا بيان شو چې کله دا په کور کې اُوده وي نو د

(١) الحجرات آية ٤ .

(٢) تفسير معارف القرآن سورة الحجرات .

په تفسير بغوي کې ددې شان نزول داسې ذکر دی : { إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ } قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا : بَعَثَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَرِيَّةً إِلَى بَنِي الْعَنْبَرِ وَأَمَّرَ عَلَيْهِمْ عُيَيْنَةَ بْنَ حِصْنٍ الْفَزَارِيَّ، فَلَمَّا عَلِمُوا أَنَّهُ تَوَجَّهَ نَحْوَهُمْ هَرَبُوا وَتَرَكُوا عِيَالَهُمْ، فَسَبَاهُمْ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنٍ وَقَدِمَ بِهِمْ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَجَاءَ بَعْدَ ذَلِكَ رِجَالُهُمْ يَفْدُونَ الذَّرَارِيَّ، فَقَدِمُوا وَقْتَ الظَّهِيرَةِ، وَوَافَقُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِلًا فِي أَهْلِهِ . فَلَمَّا رَأَتْهُمُ الذَّرَارِيُّ أَجْهَشُوا إِلَى آبَائِهِمْ يبكون، وكان لِكُلِّ امْرَأَةٍ مِنْ نِسَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حُجْرَةٌ، فَعَجِلُوا أَنْ يَخْرُجَ إِلَيْهِمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَجَعَلُوا يُنَادُونَ: يَا مُحَمَّدُ اخْرُجْ إِلَيْنَا . حَتَّى أَيْقَظُوهُ مِنْ نَوْمِهِ. فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ فَقَالُوا : يَا مُحَمَّدُ فَادِنَا عِيَالَنَا ، فَنَزَلَ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ السَّلَامُ فَقَالَ : إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَجْعَلَ بَيْنَكَ وَبَيْنَهُمْ رَجُلًا فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَتَرْضَوْنَ أَنْ يَكُونَ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ سَبْرَةُ بْنُ عَمْرٍو، وَهُوَ عَلَى دِينِكُمْ؟ فَقَالُوا: نَعَمْ. فَقَالَ سَبْرَةُ أَنَا لَا أَحْكُمُ بَيْنَهُمْ إِلَّا وَعَمِّي شَاهِدٌ، وَهُوَ الْأَعْوَرُ بْنُ بَشَامَةَ، فَرَضُوا بِهِ. فَقَالَ الْأَعْوَرُ: أَرَى أَنْ تُفَادِيَ نِصْفَهُمْ وَتُعْتِقَ نِصْفَهُمْ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَدْ رَضِيتُ. فَفَادَى نِصْفَهُمْ وَأَعْتَقَ نِصْفَهُمْ. [فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ محرر من ولد إسماعيل فليعتق] فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: " إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِنْ وَرَاءِ الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ" ، وَصَفَهُمْ بِالْجَهْلِ وَقِلَّةِ الْعَقْلِ . تفسير البغوي ج ٧ ص ٣٣٧ سورة الحجرات آية ٤ .

Scanned with CamScanner

بهر نه ورته آوازونه کول ، يا په نوم باندې ورته آواز کول بې آدبي او بې عقلي ده ، بلکه د دوی د راوتلو پورې اِنتظار په کار دی ، او په نوم باندې ورته آواز ندې په کار، د " الله نبي " او " د الله رسول " ورته ويل پکار دي . (١)

## الله تعالی د نبي عليه السلام د اَدب په خاطر مسلمانان د "رَاعِنَا" لفظ ويلو نه منع کړل

الله جلّ جلاله مؤمنانو ته فرمايي :

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا وَقُوْلُوا انْظُرْنَا ﴾ . (٢)

ترجمه : اې مومنانو تاسو ( د پيغمبر ﷺ خپل ځان طرفته ته رامتوجِّه کولو دپاره ) د " رَاعِنَا " لفظ مه وايئ ، بلکه (ددې په ځای) د " وَانْظُرْنَا " لفظ وايئ .

اګر چې د " رَاعِنَا " او " اُنْظُرْنَا " دواړو معنٰی په عربۍ کې يوه ده ، خو چونکه يهودو دا لفظ د غلط مطلب دپاره استعمالول ، ځکه په عبراني ژبه کې ددې معنی خبرې (بد دُعا) دي .

يا به دې يهوديانو ورسره " ي " پيدا کړه نو "رَاعِيْنَا" به يې ورنه جوړ کړو ، بيا به هم معنٰی غلطه راوته ، دمسلمانانو خو دامطلب نه وُ خو بيا هم الله ﷻ د ظاهري ادب لحاظ ساتلو د وجې مسلمانان د "رَاعِنَا" لفظ ويلو نه منع کړل . (٣)

---

(١) تفسير معارف القرآن سورة الحجرات .

(٢) البقرة آية ١٠٤ .

(٣) تفسير معارف القرآن سورة البقرة آية ١٠٤ .

په تفسير بغوي کې ددې شان نزول داسې ذکر دی : قَوْلُهُ تَعَالَى: { يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا } وَذٰلِكَ أَنَّ الْمُسْلِمِيْنَ كَانُوْا يَقُوْلُوْنَ " رَاعِنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ " مِنَ الْمُرَاعَاةِ أَيْ أَرْعِنَا سَمْعَكَ. أَيْ فَرِّغْ سَمْعَكَ لِكَلَامِنَا. يُقَالُ: أَرْعَى إِلَى الشَّيْءِ، وَرَعَاهُ، وَرَاعَاهُ، أَيْ أَصْغَى إِلَيْهِ وَاسْتَمَعَهُ، وَكَانَتْ هٰذِهِ اللَّفْظَةُ شَيْئًا قَبِيْحًا بِلُغَةِ الْيَهُوْدِ. وَقِيْلَ: كَانَ مَعْنَاهَا عِنْدَهُمْ: إِسْمَعْ لَا سَمِعْتَ. وَقِيْلَ: هِيَ مِنَ الرُّعُوْنَةِ إِذَا أَرَادُوْا أَنْ يُحَمِّقُوْا إِنْسَانًا قَالُوْا لَهُ: ←←←

Scanned with CamScanner

الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعظیم او آدب دومره لحاظ اُوساتل چې د کوم لفظ نه د نبي علیه السلام د بې آدبی شُبهه راتله د هغې د ویلو نه یې هم مسلمانان منع کړل.

## د غونډ تقریر خلاصه

د مکمل تقریر خلاصه دا رااووته چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته الله ﷻ دومره لوي شان ورکړی چې په ټولو انبیاء کرامو کې افضل دی، رَحۡمَةً لِّلۡعَالَمِینَ دی، په ډیرو ځایونو کې الله ﷻ د خپل نوم سره د دوی نوم یو ځای ذکر کړی، د نبي علیه السلام اِطاعت یې د خپل اِطاعت سره پیوست کړی، د قرآن کریم غونډې تر قیامته پورې باقي پاتې کیدونکې معجزه یې ورکړی، د مخکیني ټولو پیغمبرانو نه زیاتې او اَفضلې معجزې یې ورکړي.

په نبي علیه السلام کې د مخکیني ټولو پیغمبرانو صفات په کامِلې طریقې سره موجود وو، تر قیامته پورې ټولو انسانانو او پیریانو د پاره پیغمبر رالیږلې شوی.

د دوی دِین په ټولو دِینونو کې افضل دی، د دوی اُمت د مخکیني ټولو اُمتونو نه افضل دی.

نبي علیه السلام خَاتَمُ النَّبِیِّیۡنَ دی، په دوی باندې د نبوّت تکمیل شوی، د ټولو عالَمونو سردار دی، دوی ته د معرفت او علومو ډیرې خزانې ورکړل شوي.

---

←←← " رَاعِنَا " بِمَعْنَى يَا أَحْمَقُ! . فَلَمَّا سَمِعَ الْيَهُودُ هَذِهِ اللَّفْظَةَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ قَالُوا فِيمَا بَيْنَهُمْ: كُنَّا نَسُبُّ مُحَمَّدًا سِرًّا، فَأَعْلِنُوا بِهِ الْآنَ. فَكَانُوا يَأْتُونَهُ وَيَقُولُونَ: " رَاعِنَا يَا مُحَمَّدُ " . وَيَضْحَكُونَ فِيمَا بَيْنَهُمْ. فَسَمِعَهَا سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ ﷺ فَفَطِنَ لَهَا، وَكَانَ يَعْرِفُ لُغَتَهُمْ. فَقَالَ لِلْيَهُودِ: لَئِنْ سَمِعْتُهَا مِنْ أَحَدِكُمْ يَقُولُهَا لِرَسُولِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَأَضْرِبَنَّ عُنُقَهُ. فَقَالُوا: أَوَلَسْتُمْ تَقُولُونَهَا؟ فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى { لَا تَقُولُوا رَاعِنَا} كَيْلَا يَجِدَ الْيَهُودُ بِذَلِكَ سَبِيلًا إِلَى شَتْمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ {وَقُولُوا انْظُرْنَا} أَيِ انْظُرْ إِلَيْنَا. وَقِيلَ: انْتَظِرْنَا وَتَأَنَّ بِنَا. يُقَالُ: نَظَرْتُ فُلَانًا وَانْتَظَرْتُهُ. وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالَى " ﴿ انْظُرُونَا نَقْتَبِسْ مِنْ نُورِكُمْ ﴾ ( الحديد آية ١٣ ). قَالَ مُجَاهِدٌ: مَعْنَاهَا: فَهِّمْنَاهُ. تفسير البغوي ج١ ص١٣٢ سورة البقرة آية ١٠٤ .

الله تعالی نبي عليه السلام لره خپل حبيب جوړ کړی ، په قرآن کريم کې يې د دوی په عُمر قسَم خوړلی ، د دوی مخکيني او روستوني لغزشونه يې معاف کړي ، او د تعظيم په وجه يې دوی ته په نوم سره خطاب ندې کړی .

ددينه علاوه د نورو ډيرو وجوهاتو په بِناء باندې هم نبي عليه السلام په ټولو پيغمبرانو کې افضل دی .

- حضرت عُمر رضي الله عنه هم د پيغمبر عليه السلام ډير فضائل ذکر کړي .

لهذا د هر مسلمان د پاره دا ضروري ده چې په زړه کې به يې د رسولُ الله صلى الله عليه وسلم تعظيم او اَدب وي ، او د دوی مرتبه به په ټولو مخلوقاتو باندې اُوچته ګڼړي .

صحابه کرام رضي الله عنهم به د حضور صلی الله عليه وسلم په مجلس کې داسې په اَدب او احترام سره ناست وو ګويا چې د دوی په سَرونو باندې مرغۍ ناستې دي .

الله تعالی په قرآن کريم کې هم ځای په ځای مؤمنانو ته د نبي عليه السلام د تعظيم او اَدب حکم کړی ، او د هغه الفاظو ويلو نه يې مسلمانان منع کړي چې په هغې کې د پيغمبر عليه السلام د بې اَدبۍ شبهه راتله .

## دُعا

الله تعالی دې زمونږ په زړونو کې هم د خپل محبوب پيغمبر " محمّدٌ رّسولُ الله صلی الله عليه وسلم " تعظيم او اَدب پيدا کړي .

رَبِّ کريم دې مونږ ټولو ته د نبي عليه السلام په نقشِ قدم باندې د تللو توفيق رانصيب کړي .

پروَردِګارِ عالَم دې د قيامت په ورځ د نبي عليه السلام په لاس مبارک باندې د حوضِ کوثر اُوبه او د دوی شفاعتِ کُبرٰی زمونږ د ټوله نصيبه کړی .

اِلٰهُ العَالَمِيْن دې مونږ ټولو ته تر آخري سَلګۍ پورې د اسلام په دې ښائسته دِين باندې استقامت راکړي .

آمِيْن يَارَبَّ العَالَمِيْن

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِيْن

Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# خوشخبري

ددې پسې به اِن شَاءَ الله پنځم جلد وي ، او دا سلسله به د الله ﷻ په توفيق سره تر يو وخته پورې همداسې جاري وي .

په خپلو خصوصي دُعاګانو کې مو ياد ساتئ

ستاسو ورور :

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ۰۳۰٦ ۵۴۴۷۱۷۴

Scanned with CamScanner

# زما نور تالیفات

ددې موجوده کتاب نه علاوه زما نور تالیفات هم شته :

۱. اِصْلَاحِيْ مُدَلَّلْ تَقْرِيْرُوْنه : دا کتاب په پنځلس جلدونو کې دی ، په پښتو او فارسی کې چاپ شوی ، په مکتبو کې ملاویږي. او څه لږ وخت پس به اِن شَاءَ الله دا مکمل کتاب په اُردو کې هم چاپ شي.

۲. اَلْاَسْئِلَةُ وَالْاَجْوِبَةُ الْفَاضِلَة لِتَشْحِيْذِ الْاَذْهَانِ الْكَامِلَة :

په دې کتاب کې د ذِهن د زیرکتیا د پاره د مختلفو علومو متعلق مُغنٰی سوالات او جوابات دي ، دا کتاب په پښتو ، اُردو او فارسي درې واړو ژبو کې چاپ شوی ، په مکتبو کې پیدا کیږي.

۳ . هر تقریر په مُختلفو ژبو کې : په دې کتاب کې په پنځه واړه ژبو کې تقریرونه دي. دا کتاب هم چاپ شوی ، په مکتبو کې ملاویږي.

ابوالشمس نورالهدا عفی عنه

موبائل نمبر : ٥٤٤٧١٧٤ ٠٣٠٦

Scanned with CamScanner

## اول جلد

۱. د زَنانهوُ د پاره د شرعي پَردې اَهمیت او ثبوت
۲. د زَنانهوُ د پاره د پَردې فضائل او بې پَردگۍ سزاګانې
۳. ښځو د پاره د کور نه د بهر وتلو شرائط او آداب
۴. د پَردې متعلق اعتراضات او د هغې جوابات
۵. د پَردې متعلق ضروري فِقهي مسائل

## دویم جلد

۱. پَردې، ښځې سره خَلوَت او اِختِلاط حرام دی
۲. د بَدنظرۍ سزاګانې او ددینه د بچ کیدو طریقې
۳. د نظر حفاظت کول
۴. د تواضع فضائل او فوائد (ورسره)
د نبي ﷺ، صحابه کراموا و نورو بزرګانو د تواضع واقعات
۵. د جُمعې او اخترونو خُطبې

## دریم جلد

۱. د تقوی فضائل او فوائد
۲. د نبي علیه السلام، صحابه کرامو او نورو بزرګانو د تقوی واقعات
۳. د الله ﷻ د عذاب نه ویریدل (ورسره)
د نبي علیه السلام، صحابه کراموا و نورو بزرګانو د الله ﷻ نه د ویریدو واقعات
۴. د الله ﷻ نه ښه اُمید لرل

## څلورم جلد

۱. د ختمِ نبوت تفصیلي بیان
۲. په دروغه د نبوّت دعولی کوونکو خلقو احوال
۳. ګستاخِ رسول مرتد او کافر دی او سزا یې صرف مرګ دی
۴. نبي علیه السلام په ټولو پیغمبرانو کې افضل دی












Design by: NoorPrinters>+923115561212

# مکتبه اعزازیه

جاده میوند پخته فروشی کابل : 0764857797

Scanned with CamScanner